د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تفسیر

## اتم ټولګی

## (د ديني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

تفسیر
اتم ټولګی
(د ديني مدارسو لپاره)



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# تفسیر شریف

## اتم ټولګی

## (د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

## ليکوالان

- دکتور عبدالصبور فخري
- محمد عارف عطائي

## علمي ايډيټ

- دکتور فضل الهادي وزين

## د ژبې ايډيټ

- محمد قاسم هيله من

## ديني، سياسي او کلتوري کميټه

- فضل الله نيازی
- گل آغا شايق

## إشراف

- دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې رئيس.

بسم الله الرحمن الرحيم



## ملي سرود

| | |
|---|---|
| دا وطن افغانستان دی | دا عزت د هر افغان دی |
| کور د سولې کور د تورې | هر بچی یې قهرمان دی |
| دا وطن د ټولو کور دی | د بلوڅو د ازبکو |
| د پښتون او هزاره وو | د ترکمنو د تاجکو |
| ورسره عرب، گوجر دي | پامیریان، نورستانیان |
| براهوي دي، قزلباش دي | هم ایماق، هم پشه یان |
| دا هیواد به تل ځلیږي | لکه لمر پر شنه اسمان |
| په سینه کې د اسیا به | لکه زړه وي جاویدان |
| نوم د حق مو دی رهبر | وایو الله اکبر وایو الله اکبر |

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی نبیه و رسوله محمد و علی آله و أصحابه أجمعین أما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تیریدو او د ژوندانه په بیلابیلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې، چې د بیا کتلو لپاره ورته ډېره اړتیا موجوده ده، یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقاید او د اسلام د سپېڅلي دین احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پرودګار د وروستني پیغام په توګه به د قیامت تر ورځې پورې د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعلیمي نصاب په تدریجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارف او اسلامي علوموکې دقیقه مطالعه دا څرګندوی چې زموږ د تعلیمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتیاوو او د اسلام د دین له ثوابتو او طبیعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلند تاریخ په درلودلو سره یو وخت د علم او زده کړې یو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې یې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقاید، تفسیر، حدیث، فقه او د فقهې اصولو کې د سلګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ د دې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ځپو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعلیماتو د څومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیانو او ځوانانو په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو دنصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هیواد د ډاډ وړ عالمانو، استاذانو او نامتو ماهرینو ته بلنه ورکړې، چې د تعلیمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زیاتې ګټې اخیستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د تعلیمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونو له کمولو او زیاتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه یې لا واضح او څرګند کړي او د فعالیتونو، ارزونو او مناسبو تمرینونو په زیاتولو یې نور هم پسې بډای کړي.

هیله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت د هیواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاینې وړ زیار، الله تعالی ته د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعلیماتو په ودې او پراختیا کې ګټور پای ته ورسیږي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### درنو استاذانو او ګرانو زده کوونکو!

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا رياست اوسنۍ وضعې او علمي اړتياوو ته په پام دا ويتېله چې د تفسير شريف د مضمون په تاليف او تدريس کې لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

• زده کوونکي بايد له اووم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې په بشپړ قرآن مجيد مرور ولري او پر لنډ تفسير يې ځانونه پوه کړي.

• د تفسير په کتابونو کې د موضوعګانو شومره والی بايد د هر ټولګي له درسي ساعتونو سره سمون ولري.

• د زده کوونکو د سويې کچه دې په پام کې ونيول شي، چې د هر ټولګي درسي کتاب د زده کوونکو د درک وړ وي او لازمه پوهه ترې ترلاسه کړای شي.

د پورته ټکو او د تصويب شويو مفرداتو په رڼا کې لازمه وګڼل شوه په اووم ټولګي کې د قــــرآن مجيد وروستی سپاره په ملي ژبو زده کوونکو ته تدريس شي، ترڅو په لومړي ګام کې د قرآن مجيد د کوچنيو سورتونو لنډه ژباړه او تفسير ياد کړي او د قرآن شريف د تفسير کولو له لارو چارو سره اشنايي پيدا کړي.

وروسته، په اتم ټولګي کې د سپيڅلي قرآن لومړی او دويمه سپاره ترجمه او تفسير شي. دا کتاب هم لکه د اووم ټولګي د تفسير په څير په ملي ژبو ليکل شوی، خو شرحه او تفصيل يې لږ څه زيات دی.

له نهم ټولګي څخه وروسته تر دولسم ټولګي پورې د تاليف ژبه عربي ده. د جلالين شريف د تفسير متن د اساسي کتاب په توګه غوره شوی. سربېره پردې د هر لوست آيتونه په لنډه توګه تفسير او تحليل شوي، چې زده کوونکو ته روښانه پيغام ورسوي. د جلالين‌شريف پر ستونزمنو او ګرانو برخو رڼا اچول شوې او د لوستونو، پوښتنو او کورنۍ دندې په ورزياتولو سره د تفسير د کتابونو بڼې او جوړښت، د اوسنيو درسي کتابونو بڼه غوره کړې ده.

د دې کار لامل دا و چې د تفسير کتاب د درسي نصاب په چوکاټ کې ځای کړل شي، ترڅو استاذان او زده کوونکي خپل ورځني مسؤوليتونه وپېژني او د نظارت او څارنې غړي د تعليمي کال د اونيو په پام کې نيولو سره، په پلان کې د شامل کتاب له پرمختګ څخه ډاډ ترلاسه کړي، چې په دې ډول د پخواني او نوي ميتود تر منځ د وصل کړۍ ټينګه شوې ده.

دا چې پر ټول قرآن مجيد مرور لازم‌ګڼل شوی، له دې امله په دې کتابونو کې زيات تفصيل او اوږدوالي ته اړتيا ونه ليدل شوه. ښاغلو مولفينو زيار ايستلی، ترڅو له لنډيز څخه کار واخلي؛ د بېلابېلو ويناوو او تفسيرونو له يادولو څخه ډډه وکړي او په فقهي احکامو کې يې يوازې د حنفي مذهب په يادولو بسنه کړې ده.

د لوی خدای جل جلاله په مرسته به د دې نوې لارې په غوره کولو سره زده کوونکي هم د قرآن له نحوي، بلاغي او لغوي مسايلو څخه هغومره معلومات تر لاسه کوي، چې جلالين شريف راوړي او هم به په ښه ډول د دې سپېڅلي اسماني کتاب د بلنې پيغامونه، فقهي احکام او برخليک جوړوونکې لارښوونې زده کړي.

هيله لرو چې دا کتاب به نه يوازې په ديني مدرسو کې د تدريس يوه غوره بېلګه وي، بلکې د يو بشپړ او معتبر تفسير په توګه به په هر کور، هره ټولنه او هر فرهنګي مرکز کې د هرچا د ګټې او استفادې وړ وي.

وبالله التوفيق

# د موضوعاتو فهرست


| د لوست شمیر | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| ١ | د اسلام له لومړني عصر څخه وروسته د تفسیر د علم لړۍ | ١ |
| ٢ | د قرآن کریم تعریف | ٣ |
| ٣ | د (الفاتحة) سورت | ٧ |
| ٤ | د (البقرة) سورت | ١١ |
| ٥ | د (البقرة) سورت (١-٥) آیتونه | ١٣ |
| ٦ | د // // (٦-١٠) آیتونه | ١٧ |
| ٧ | د // // (١١-١٦) آیتونه | ٢١ |
| ٨ | د // // (١٧-٢٠) آیتونه | ٢٥ |
| ٩ | د // // (٢١-٢٤) آیتونه | ٢٩ |
| ١٠ | د // // (٢٥-٢٧) آیتونه | ٣٣ |
| ١١ | د // // (٢٨-٣٤) آیتونه | ٣٧ |
| ١٢ | د // // (٣٥-٤١) آیتونه | ٤١ |
| ١٣ | د // // (٤٢-٤٨) آیتونه | ٤٥ |
| ١٤ | د // // (٤٩-٥٤) آیتونه | ٤٩ |
| ١٥ | د // // (٥٥-٦٠) آیتونه | ٥٣ |
| ١٦ | د // // (٦١-٦٢) آیتونه | ٥٧ |
| ١٧ | د // // (٦٣-٦٦) آیتونه | ٦١ |
| ١٨ | د // // (٦٧-٧١) آیتونه | ٦٥ |
| ١٩ | د // // (٧٢-٧٧) آیتونه | ٦٩ |
| ٢٠ | د // // (٧٨-٨٢) آیتونه | ٧٣ |
| ٢١ | د // // (٨٣ - ٨٦) آیتونه | ٧٧ |
| ٢٢ | د // // (٨٧-٨٩) آیتونه | ٨١ |

| د لوست شمېر | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| ۲۳ | د // // (۹۰-۹۲) آیتونه | ۸۵ |
| ۲٤ | د (البقرة) سورت (۹۳- ۹٦) آیتونه | ۸۹ |
| ۲۵ | د // // (۹۷- ۹۸) آیتونه | ۹۳ |
| ۲٦ | د // // (۹۹- ۱۰۱) آیتونه | ۹۷ |
| ۲۷ | د // // (۱۰۲- ۱۰۳) آیتونه | ۱۰۱ |
| ۲۸ | د // // (۱۰٤- ۱۰۵) آیتونه | ۱۰۷ |
| ۲۹ | د // // (۱۰٦- ۱۰۸) آیتونه | ۱۱۱ |
| ۳۰ | د // // (۱۰۹- ۱۱۰) آیتونه | ۱۱۵ |
| ۳۱ | د // // (۱۱۱- ۱۱۳) آیتونه | ۱۱۹ |
| ۳۲ | د // // (۱۱٤- ۱۱٦) آیتونه | ۱۲۳ |
| ۳۳ | د // // (۱۱۷- ۱۲۰) آیتونه | ۱۲۷ |
| ۳٤ | د // // (۱۲۱- ۱۲٤) آیتونه | ۱۳۱ |
| ۳۵ | د // // (۱۲۵- ۱۲۹) آیتونه | ۱۳۵ |
| ۳٦ | د // // (۱۳۰- ۱۳۳) آیتونه | ۱۳۹ |
| ۳۷ | د // // (۱۳٤- ۱۳۸) آیتونه | ۱٤۳ |
| ۳۸ | د // // (۱۳۹- ۱٤۱) آیتونه | ۱٤۷ |
| ۳۹ | د // // (۱٤۲- ۱٤۳) آیتونه | ۱٤۹ |
| ٤۰ | د // // (۱٤٤- ۱٤۷) آیتونه | ۱۵۳ |
| ٤۱ | د // // (۱٤۸- ۱۵۱) آیتونه | ۱۵۷ |
| ٤۲ | د // // (۱۵۲- ۱۵۷) آیتونه | ۱٦۱ |
| ٤۳ | د // // (۱۵۸- ۱٦۳) آیتونه | ۱٦۵ |
| ٤٤ | د // // (۱٦٤- ۱٦۵) آیتونه | ۱٦۹ |

| د لوست شمېر | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| ٤٥ | د // // (١٦٦- ١٧١) آيتونه | ١٧٣ |
| ٤٦ | د // // (١٧٢- ١٧٦) آيتونه | ١٧٩ |
| ٤٧ | د (البقرة) سورت (١٧٧- ١٨٢) آيتونه | ١٨٣ |
| ٤٨ | د // // (١٨٣- ١٨٥) آيتونه | ١٨٧ |
| ٤٩ | د // // (١٨٦- ١٨٨) آيتونه | ١٩١ |
| ٥٠ | د // // (١٨٩- ١٩٣) آيتونه | ١٩٥ |
| ٥١ | د // // (١٩٤- ١٩٦) آيتونه | ١٩٩ |
| ٥٢ | د // // (١٩٧- ٢٠٢) آيتونه | ٢٠٣ |
| ٥٣ | د // // (٢٠٣- ٢٠٦) آيتونه | ٢٠٧ |
| ٥٤ | د // // (٢٠٧- ٢١١) آيتونه | ٢١١ |
| ٥٥ | د // // (٢١٢- ٢١٤) آيتونه | ٢١٥ |
| ٥٦ | د // // (٢١٥- ٢١٨) آيتونه | ٢١٩ |
| ٥٧ | د // // (٢١٩- ٢٢١) آيتونه | ٢٢٣ |
| ٥٨ | د // // (٢٢٢- ٢٢٥) آيتونه | ٣٢٧ |
| ٥٩ | د // // (٢٢٦- ٢٢٨) آيتونه | ٢٣١ |
| ٦٠ | د // // (٢٢٩- ٢٣٠) آيتونه | ٢٣٥ |
| ٦١ | د // // (٢٣١- ٢٣٢) آيتونه | ٢٣٩ |
| ٦٢ | د // // (٢٣٣- ٢٣٤) آيتونه | ٢٤٣ |
| ٦٣ | د // // (٢٣٥- ٢٣٧) آيتونه | ٢٤٧ |
| ٦٤ | د // // (٢٣٨- ٢٤٢) آيتونه | ٢٥١ |
| ٦٥ | د // // (٢٤٣- ٢٤٥) آيتونه | ٢٥٥ |
| ٦٦ | د // // (٢٤٦- ٢٤٨) آيتونه | ٢٥٩ |
| ٦٧ | د // // (٢٤٩- ٢٥٢) آيتونه | ٢٦٣ |

د اووم ټولګي د تفسير کتاب په مقدمه کې مو د تفسير د تعريف، د تفسير د علم د پيل، د صحابه کرامو او تابعينو د مشهورو مفسرينو او د تفسير د علم د ارزښت په اړه لنډ معلومات تر لاسه کړل، دلته به يا د هماغې موضوع په اړه له څو نورو موارد و سره اشنا کيږو:

## د تفسير د علم لړۍ

بشريت د تل لپاره پر الهي هدايت باندې د پوهېدنې لپاره د قرآن کريم سمې زده کړې ته اړتيا لري. دا کار د دې لامل شوی چې ځينې خلك خپل ټول يا ډېر وخت د قرآن کريم زده کړې او تفسير ته وقف کړي. ځينې مفسرين د دې هڅو او زيار په پايله کې شهرت ته رسېدلي دي.

د تابعينو له عصر نه وروسته تر دې مهاله په عربي او نورو ژبو کې د تفسير او د قرآن د علومو په زرګونه کتابونه تأليف شوي دي. دا د الله د وروستي کتاب لپاره د مسلمانانو مخلصانه او ښکاره خدمتونه دي چې تر سره کړي يې دي. په ټوليزه توګه د نړۍ پوهان پر دې يوه خوله دي چې په ټوله نړۍ کې د قرآن عظيم الشان په څېر بل کوم کتاب د بشريت پام ځان ته نه دی اړولای او نه يې په اړه په دې کچې تأليفات، تحقيقات او علمي څېړنې ترسره شوي دي.

د تفسير د مهمو کتابونو له جملې څخه کولای شو د امام طبري تفسير، د شاه پور اسفرايني تفسير، د ميبدي کشف الاسرار تفسير، د زمخشري تفسير کشاف، د امام فخرالدين رازي تفسير کبير، د بيضاوي تفسير، د نسفي تفسير، د ابن کثير تفسير او نورو يادونه وکړو.

### د تفسير ډولونه

د تفسير د علم پر اختيا ته په کتلو سره او د قرآن کريم په معناوو او حقايقو کې د علمي او څېړنيزو ګټو لارو شتون او د مفسرينو بېلا بېلو کړنلارو ته په پام اړولو سره، د تفسير علم په ګڼو ډولونو ويشل کيږي، چې ځينې يې دا سې شرح کوو:

### ۱- تفسير د محتوی او مضمون له پلوه

د تفسير علم د محتوی او مضمون پر بنسټ په دوه ډوله دی: نقلي يا تفسير بالمأثور، او تفسير بالرأي يا د اجتهاد پر بنسټ ولاړ تفسير.

په بالمأثور يا نقلي تفسير کې په صحيح روايت او نقل اعتماد کيږي، چې لاندې ډولونه لري:

* د قرآن تفسير په قرآن سره. * د قرآن تفسير په سنت سره، ځکه سنت د کتاب بيانوونکی دی.

* د قرآن تفسير د صحابه کرامو په روايتونو سره؛ ځکه چې صحابه (رضوان الله عليهم اجمعين) د الله په کتاب تر ټولو ښه پوهيدل. * د قرآن کريم تفسير د لويو تابعينو په وينا وو سره، ځکه دوی خپله زياتره پوهه له صحابه وو څخه اخيستله.

هغه تفسير چې د نقل پر بنسټ ولاړ وي په حقيقت کې د الله د کتاب د تفسير تر ټولو ښه او غوره طريقه ګڼل کيږي، ځکه د قرآن کريم، سنتو او د صحابه وو او تابعينو له وينا وو څخه ګټه اخيستل، د قرآن کريم د نصوصو په پوهه کې مرسته کوي او د قرآن کريم د معناوو په پوهيدنه کې خلك له غلطی او ښويېدنې څخه ژغوري.

د رأيې پر اساس بنا شوی تفسير هغه تفسير دی چې مفسر د معنا د بيانولو په اړه د تفسير اصولو او د عربي ژبې او نورو شرعي علومو د قواعدو په رڼا کې پر خپلې ځانګړې پوهې اعتماد او باور کوي او د خپلې پوهې او نظر پر اساس د قرآن کريم احکام او حکمتونه راباسي.

هغه تفسير چې يوازې (محض) پر رأيه بنا شوی وي او پر کوم اصل ولاړ نه وي، په تفسير بالرأي المذموم يعني

(ناخوښه عقلي تفسير) سره يادېږي، چې د قرآن کريم دا ډول تفسير روا نه دی. خو که چېرته څوک د عربي ژبې د اصولو، د تفسير د اصولو او د شريعت د لارښوونو په دايره کې په دې طريقې سره قرآن کريم تفسير کړي، نو باک نه لري او دې ته تفسير بالرأي المحمود (په ښې او غوره رأيې سره تفسير) ويل کېږي.

## ۲- تفسير د اسلوب او تګلارو له پلوه

تفسير د اسلوب او تګلارو له پلوه په څلورو ډولو وېشل شوی دی: تحليلي تفسير، موضوعي تفسير، اجمالي تفسير او مقايسوي تفسير.

په تحليلي تفسير کې مفسر د قرآني نص هر اړخيز تحليل کوي او د آيت ټول اړخونه تر څېړنې لاندې نيسي.

په موضوعي تفسير کې مفسر د يوې ټاکلې موضوع په اړه قرآني آيتونه راټولوي او په يوې ځانګړې طريقې سره يې شرح او تفسيرکوي. په اجمالي تفسير کې قرآني آيتونه په لنډه، اسانه، عام فهمه او ساده ژبه داسې تفسير کېږي چې ټول خلک ورڅخه ګټه اخيستلای شي. خو په مقايسوي تفسير کې د ټاکلو قرآني آيتونو په اړه د مفسرينو د ويناوو پلټنه، څېړنه او پرتله ترسره کېږي .

## هغه علوم چې مفسر ورته اړتيا لري

د دې لپاره چې قرآن کريم په سمه توګه تفسير شي، نو هر مفسر بايد لاندينيو علومو ته لاس رسي ولري:

دعربي ژبې علوم او د هغې قواعد (نحو، صرف او اشتقاق)، بلاغي علوم (معاني، بيان او بديع)، د فقهې د اصولو علم، د آيت د نزول د اسبابو پېژندنه، د ناسخ او منسوخ پېژندنه، د قرائت د علم پېژندنه او په دغه علم کې له ځانګړې مهارت څخه برخمنتيا.

## د افغانستان علماء او د تفسير علم

زموږ ګران هېواد افغانستان د خپلې ځلاندې لرغونې زمانې او د تاريخي او تمدني وياړنو سره سره ، د يو زيات شمېر سترو قرآن پېژندونکو او د قرآن کريم د نوميالېو مفسرينو او علماوو د روزنې زانګو ده، چې د هغو له ډلې څخه د بلګې په توګه شيخ الاسلام خواجه عبد الله انصاري هروي د (٤٨١) هـ کـا ل متوفي، ابوبکر عتيق سور آبادي هروي د (٤٩٤) هـ کال متوفي، امام فخر الدين رازي د (٦٠٦) هـ کال متوفي، مولانا حسين واعظ کاشفي د (٩١١) هـ کال متوفي، مولانا مراد علي کاموي د (١٢٩٤) هـ کـا ل متوفي او معاصر عالم مولانا سلطان عزيز عزيز او داسې نور يادولای شو.

**فعاليت**

ښاغلی ښوونکی دې د تفسير ډولونه شرح او د مثال په وړاندې کولو سره دې د هر ډول تفسير ارزښت زده کوونکو ته څرګند کړي.

**پوښتنې**

١. تفسير بالمأثور تعريف کړئ.
٢. له تفسير بالرأي څخه مراد څه شی دی او شروط يې کوم دي؟
٣. تفسير د اسلوب له نظره په څو ډولو وېشل شوی دی؟
٤. ځينې هغه علوم چې يو مفسر ورته اړتيا لري، کوم دي؟
٥. د درېو مشهورو تفاسيرو او درېو مشهورو افغاني مفسرينو نومونه واخلئ.

# د قرآن کریم تعریف

قرآن کریم د الله تعالی معجزانه کلام دی چې په خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ باندې دجبرایېل امین (علیه السلام) په واسطه نازل شوی دی، بیا په صحیفو کې لیکل شوی او په تواترسره موږ ته را نقل شوی دی. داسې کتاب دی چې تلاوت یې عبادت دی، د «الفاتحة» په سورت پیل او د «الناس» په سورت ختم شوی دی.

## د قرآن کریم نومونه

قرآن کریم ډېرنومونه لري، چې ټول د هغه په عظمت او لوړې مرتبې دلالت کوي او دا راښیي چې قرآن کریم په مطلقه توگه تر ټولو غوره آسماني کتاب دی.

د قرآن کریم ځینې نومونه دا دي: القرآن، الفرقان، التنزیل، الذکر، الکتاب. په عین حال کې د قرآن کریم ډېرصفتونه را نقل شوي دي؛ لکه: نور، هدی، رحمة، شفاء، موعظة، عزیز، مبارك، بشیر اونذیر چې دا ټول نومونه اوصفتونه په قرآنکریم کې ذکر شوي دي.

## د قرآن کریم د نازلیدو څرنگوالی

د قرآن کریم نازلیدنه په دوو طریقو سره شوې ده چې په لنډه توگه یې شرح کوو:

• قرآن کریم د لومړي ځل لپاره په مجموعي توگه یو ځلې د قدر په شپه (بیت العزت) ته، چې د دنیا په آسمان کې موقعیت لري، نازل شوی دی، لکه څرنگه چې قرآن کریم هم ورته د (القدر) په سورت کې اشاره کړې ده، الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ ژباړه: بیشکه موږ هغه (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

• په تدریجي بڼه د زماني او پېښو له اړتیاوو او غوښتنو سره سم د قرآن کریم نازلېدل، لکه د (العلق) سورت لومړني آیتونه چې د حراء په غار کې په پیغمبر ﷺ باندې نازل شول، قرآن کریم په درویشتو کلونو کې د پیغمبر ﷺ تر وفاته پورې بشپړ شو.

## لومړني او وروستني آيتونه

د قرآنکریم لومړني نازل شوي آيتونه د « العلق» د سورت پنځه لومړي آيتونه دي، چې په دې آيتونو سره د قرآن کریم نزول پیل شوی دی: ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ [العلق: ١].

تر ټولو وروستی نازل شوی آيت دا دی: ﴿وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾ [البقرة: ٢٨١].

## د قرآن کريم تدريجي نازليدل او د هغه حکمتونه

قرآن کريم په لومړي ځل ټول په يو ځلې له لوح محفوظ څخه د دنيا آسمان ته نازل شوی او بيا د درويشتوکلونو په اوږدو کې د زماني او مکاني اړتياوو او احتياجاتو په اساس پر نبي کريمﷺ باندې نازل شوی دی، البته د قرآن کريم په ټوټه، ټوټه نازلېدلو کې ډېر لوی حکمتونه نغښتي دي، چې دلته يې څو حکمتونو ته اشاره کوو:

١. د مشرکانو د ربړونو او ځورونو پر وړاندې د پیغمبرﷺ د زړه ثبات او غښتلتيا.

٢. د وحې د نازلېدو پر مهال په پيغمبر ﷺ باندې لطف اومهرباني.

٣. په تدريجي بڼه د اسلامي تشريعاتو او قوانينو استحکام او ټينګښت.

٤. پر مسلمانانو باندې د قرآن کريم د حفظ او پر هغه د پوهېدلو آساني.

٥. له واقعاتو او حادثاتو سره همغږي او د هرکار د پيښېدو د زمانې او وخت په اړه خبر ورکول.

٦. د قرآن کريم د مصدر اثبات، چې داکتاب د الله تعالی له خوا نازل شوی دی.

## د قرآن کريم جمع کول

قرآن کريم په دوه ډوله راجمع شوی دی: لومړی په سينوکې، هغه داسې چې هرځل به چې آيتونه اوسورتونه را نازلېدل، پيغمبر ﷺ به دغه آيتونه د الله تعالی په ځانګړې اهتمام سره يادول او خپلو اصحابو ته به يې امرکاوه چې د دغو آيتونو په حفظ کې په ټاکلي ځاى کې اهتمام وکړي، نو هغوی به هم په ډېرې پاملرنې سره داکار تر سره کاوه، په دې توګه قرآن کريم په سينوکې جمع شو.

دويم د ليکنې په ډول د هغه جمع کول، حضرت محمد ﷺ يو شمېر صحابه د وحې د ليکونکو په توګه درلودل چې په سينوکې د قرآن له ځای په ځای کېدو څخه وروسته به يې هغه په صحيفو، د ځارويو په پوستکو او ښويو کاڼو باندې ليکه او له ځانونو سره به يې ساته، ترڅو له هېرې او ضايع کېدلو څخه وژغورل شي. د ابوبکرصديقﷺ په زمانه

کې کله چې د قرآن کریم یو زیات شمېر حافظان د مرتدینو پر خلاف جګړو کې په شهادت ورسېدل، نو ټول په دې خبرې رضا شول چې قرآنکریم په یوه مصحف کې راجمع کړي، په دې توګه قرآن کریم د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په امر او د زید بن ثابت (رضي الله عنهما) تر مشرۍ لاندې په یوه مصحف کې جمع او را ټول شو. د دویم ځل لپاره د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې؛ کله چې د عجمو ډېرې سیمې د اسلام په دین مشرفې شوې، خو د عربي ژبې په لهجو په ښه او سمه توګه نه پوهېدل او د قرآن کریم په فهم او تلاوت کې سره مختلف شول، نو دې کار د مسلمانانو خلیفه دې ته وهڅاوه، تر څو ټول قرآنکریم په یوه لهجه (د قریشو په لهجه) راجمع کړي.

## د قرآن کریم اعجاز

الله تعالی هر پیغمبر ته معجزې ورکړې دي، ترڅو د هغه د نبوت رښتینوالی تصدیق کړي. همدارنګه د اسلام ستر پیغمبر ﷺ ته یې هم معجزې ورکړې دي، ترڅو د ده د نبوت رښتینوالی ثابت کړي، چې تر ټولو لویه او غوره معجزه یې قرآن کریم دی.

قرآن کریم له ډېرو لارو خپل اعجاز ثابت کړی دی، قرآنکریم له هغو مشرکانو څخه چې د قرآن کریم په حقانیت یې شک او تردید درلود، غوښتي دي، که چېرې د قرآن کریم په اړه، چې د الله کلام دی، څه شک اوشبهه لرئ، نو د قرآن په څېر او یا د قرآن د یوه کوچني سورت په څېر یو سورت جوړ کړئ او حتي پیریان اوانسانان هم خپلې مرستې ته راوبلئ. البته مشرکینو او د اسلام مخالفینو د نبي کریم ﷺ په زمانه کې او هم وروسته له هغې څخه ډېرې هلې ځلې وکړې، ترڅو د قرآن په څېر یوڅه جوړکړي، خو ټول له ناکامۍ سره مخامخ شول. د دغو مخالفینو د عجز او ناکامۍ لامل دا و چې قرآن کریم د بلاغت او فصاحت له حیثه په ډېرو لوړو پوړیو کې قرار لري او هغوی د بلاغت او فصاحت په لرلو سره، سره بیا هم و نشوای کړای چې د قرآن په څېر کتاب او یا کوم وړوکی سورت جوړ کړي. قرآن کریم د مختلفو لاملونو له کبله یو معجز کتاب دی، چې اعجاز یې له علمي اړخه، د نظم او ژبې د محکموالي له اړخه، د غیبي مسایلو د بیانولو له اړخه، د تاثیر او اغیزې له اړخه، د بشپړ قانون د وضع کولو له اړخه او هم د تجربې او ساینسي علومو له پلوه ثابت شوی دی.

## شان (سبب) نزول څه شی دی؟

د نبي کریم ﷺ په زمانه کې به چې کله کومه واقعه پېښه شوه، نو د هغې په اړه به آیتونه را نازلېدل او یا به څه پوښتنه مطرح کېده په ځواب کې به یې آیتونه راتلل، ډېر قرآني آیتونه د نزول لاملونه لري چې په دې اړه علماوو ځانګړې

او مستقل تألیفات تر سره کړي دي.

### فعالیت

زده کوونکي دې له لاندنیو دوو موضوعګانو څخه د یوې موضوع په اړه خبرې وکړي:

- د هغو مختلفوعلومو په اړه چې له قرآن مجید سره تړاو لري.
- د قرآن مجید په څو پړاوونو کې نازلېدل او د هغه په تدریجي ډول د نزول حکمتونه.

### پوښتنې

۱ـ قرآن کریم تعریف کړئ.

۲ ـ د قرآن کریم ځینې نومونه اوصفتونه بیان کړئ.

۳ ـ قرآن کریم په څو طریقو سره جمع شوی؟ شرح یې کړئ .

٤ ـ له شان نزول څخه مطلب څه شی دی؟

٥ ـ د قرآن کریم د اعجاز په اړه رڼا واچوئ او مختلف اړخونه یې بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

د قرآن کریم د جمع کولو د طریقو په اړه، چې څو ځلې ترسره شو، یوه مقاله ولیکئ چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د (الفاتحة) سورت

بسم الله الرحمن الر حیم

﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ ﴿١﴾ الرَّحْمٰـنِ الرَّحِیمِ ﴿٢﴾ مَـلِكِ یَوْمِ الدِّینِ ﴿٣﴾ إِیَّاكَ نَعْبُدُ وإِیَّاكَ نَسْتَعِینُ ﴿٤﴾
اهدِنَـــا الصِّرَاطَ الْمُستَقِیمَ ﴿٥﴾ صِرَاطَ الَّذِینَ أَنعَمتَ عَلَیهِمْ ﴿٦﴾ غَیرِ المَغضُوبِ عَلَیهِمْ وَلاَ
الضَّالِّینَ ﴿٧﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {الْحَمْدُ} | ټولې ستاینې. | {اهدِنَـا} | موږ ته وښیه. |
| {رَبِّ} | څښتن، پالونکی. | {صِرَاطَ} | لار. |
| {یَوْمِ الدِّینِ} | د جزا ورځ. | {أَنعَمتَ} | تا پېرزوینه کړې. |
| {إِیَّاكَ} | یوازې ستا. | {المَغضُوبِ عَلَیهِمْ} | هغه چې غضب وربانديې شوی. |
| {نَسْتَعِینُ} | مرسته غواړو. | {الضَّالِّینَ} | ګمراهان، لار ورکي. |

## ژباړه

(پیل کوم) په نامه د الله چې ډېر زیات مهربانه او رحم کوونکی دی.

ټولې ستاینې یوازې د کائناتو پالونکي (الله) لره دي. ډېر مهربانه ډېر رحم کوونکی دی. څښتن د جزا د ورځې دی. یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غواړو. وښیه موږ ته نېغه لاره. د هغو لار چې تا پرې پېرزوینه کړې ده. نه (لار) د هغو چې (ستا) غوسه پرې شوې او نه (لار) د هغو چې لار ورکي دي.

## د سورت پېژندنه

د «الفاتحة» مبارك سورت (٧) آیتونه لري او مدیني ته له هجرت نه مخکې نازل شوی، له همدې امله ورته مکي سورت ویل کیږي. د «الفاتحة» په نوم ځکه نومول شوی چې په دې سره د تلاوت له مخې د قرآن کریم افتتاح یا پیل کیږي.

## اجمالي تفسیر

دغه مبارك سورت د الله پاك په ستاینې سره پیل شوی: ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ﴾، په ﴿الْحَمْدُ﴾ کې (ال) د استغراق یا شمول لپاره دی، یعني ټولې ستاینې الله ﷻ لره دي او یوازې همدی یې ورتیا لري، او دا ځکه چې یوازې الله تعالی

خالق، تدبیرونکی او د هر راز نعمتونو ورکوونکی دی.

﴿الْعَالَمِينَ﴾ جمع د (عالَم) ده او (عالم) له الله تعالی پرته هر څيز ته ویل کیږي، عالم ځکه د جمعې په صیغې راغلی ترڅو د (عالَم) هر جنس لکه د پرښتو عالم، د انسانانو عالم او د جنیاتو عالم راونغاړي او پر دې دلالت وکړي چې الله تعالی د ټولو عالمیانو پالونکی دی.

﴿الرَّحْمَـنِ الرَّحِيمِ﴾: په دې آیت کې د الله تعالی له صفاتو څخه دوه صفتونه (رحمن) او (رحیم) بیان شوي دي. دا دواړه صفتونه د (رحمت) له مصدر څخه مشتق شویدي او دواړه پر مبالغه دلالت کوي، یعنې ډېر رحم درلودونکی او ډېر زیات رحم کوونکی دی. د همده رحمت دی چې په دنیا کې هر ساکښ له ډول ډول نعمتونو څخه برخمن دی، د دنیا او آخرت د ټولو نعمتونو او پیرزوینو ورکړه یوازې په همده پورې ځانګړې ده او ځینې علماء وایي: د ﴿الرَّحْمَـنِ﴾ صفت په دنیا کې مسلمانانو او کفارو ټولو ته شامل دی او د ﴿الرَّحِيمِ﴾ صفت په آخرت کې یوازې مسلمانانو پورې ځانګړی دی.

له ﴿رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ څخه وروسته د الله ﷻ دغه دواړه صفتونه د دې لوړ حکمت او راز له مخې یاد شوي چې په ﴿رب العالمين﴾ باندې د الله ﷻ متصف کېدل، په زړونو کې یو ډول ډار او خوف رامنځ ته کوي، ځکه په بندګانو کې څښتن او روزونکی سخت او ظالم هم کېدای شي، نو له دې امله الله ﷻ خپل سپېڅلی ذات د پالونکي او روزونکي تر څنګ په رحم درلودونکی او رحم کوونکی باندې هم متصف کړ، ترڅو بندګان په دې پوه شي چې د الله ﷻ له خوا د دوی د پالنې او روزنې سرچینه د هغه رحمت دی، د همده ﷻ رحمت دی چې له مخې یې دوی پیدا کیږي، د خپل ژوند چارې مخ پر وړاندې وړي، وروسته له مرګ نه به بیا را ژوندي کیږي او پوښتنې به ورنه کیږي. پرته له شکه په دې سره په هغوی کې د الله ﷻ د ستاینې او بندګۍ مینه او رغبت پیدا کیږي او دې ته هڅول کیږي چې خپل ژوند او د ژوند ټول کړه، وړه د احسان او پیرزوینې له مخې سرته ورسوي.

په وروسته آیت کې د الله ﷻ لویي او د هغه قدرت ته اشاره شوې، الله ﷻ فرمایي: ﴿مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ یعنې: الله ﷻ د جزا د ورځې (آخرت) څښتن دی، په دغه ورځ کې له خلکو سره د هغوی د کړنو حساب او بدله یوازې د الله ﷻ په واک کې ده، پرته د ده له سپیڅلي ذات څخه بل هیڅوك په دغه ورځ کې د کوم شي ظاهري او مجازي واک او اختیار نه لري.

په دې ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ مبارك آیت کې په اخلاص سره د الله ﷻ بنده ګۍ او د هغه مرستې ته اشاره شوې ده. د ﴿إِيَّاكَ﴾ کلمه د دواړو فعلونو ﴿نَعْبُدُ﴾ او ﴿نَسْتَعِينُ﴾ نه مخکې یاده شوې، چې د عربي قواعدو له مخې د تخصیص او ځانګړتیا معنی افاده کوي، یعنې: د ژوند په ټولو چارو کې یوازې د الله ﷻ عبادت او بندګي پکار ده

او همدا راز (حقیقي) مرسته باید یوازې له الله ﷻ نه وغوښتل شي، ځکه په مخکینیو آیتونو کې دا جوته شوه چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی، د لوی قدرت څښتن، مهربان او په دنیا او آخرت کې د ټولو نعمتونو ښښونکی یوازې الله ﷻ دی، وروسته دغه آیت راغی ترڅو په دې دلالت وکړي چې باید یوازې د هغه ذات بندګي وشي او له هغه ذات څخه مرسته غوښتل پکار دي چې په یادو صفتونو متصف وي او هغه یوازې الله ﷻ دی.

الله ﷻ ته هغه عبادت د منلو وړ دی چې دوه شرطونه پکې شتون ولري: لومړی دا چې عبادت پرته له ریا یوازې د الله ﷻ د رضایت ترلاسه کولو لپاره وي. دویم دا چې په هغه بڼه ترسره شي چې د رسول الله ﷺ له سنتو او طریقو سره برابر وي.

﴿اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ﴾: په دې مبارک آیت کې له الله ﷻ څخه نېغې او سمې لار ته د رسېدلو غوښتنه شوې. له سمې لار څخه مراد د اسلام ټول عقاید، احکام او اخلاق دي چې که انسان پرې عمل وکړي نو د دواړو جهانو کامیابي او نېکمرغي به ور په برخه شي.

په وروسته آیت کې د هغو کسانو یادونه شوې چې د دغې نېغې لارې لارویان دي، الله ﷻ فرمایي: ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ﴾، یعنې: موږ ته راوښیه لار د هغو کسانو چې تا پرې پېرزوینه کړې ده.

دغه کسان چې د الله ﷻ انعام او پېرزوینه پرې شوې، څلور طایفې دي: پیغمبران، صدیقین (د پیغمبرانو له لارې د الله ﷻ په راغلیو احکامو باندې بې له دلیله باور کوونکي)، صالحین (نېکان) او شهیدان، چې صراحت یې په دې مبارک آیت کې راغلی: ﴿وَمَن يُطِعِ اللّهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَـئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ﴾ [النساء: ٦٩].

بیا د هغو کسانو ذکر شوی چې بد عمله دي، الله ﷻ فرمایي: ﴿غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ﴾، یعنې: موږ د هغو کسانو په لار مه روانه وه چې ستا غوسه ورباندې شوې او ګمراهان دي. له ﴿المَغضُوبِ عَلَيهِمْ﴾ څخه مراد یهودان دي چې د کفر خپلولو او په ځمکه کې د فساد خورولو له امله د الله ﷻ د غوسې او غضب وړ ګرځېدلي دي او له ﴿الضَّالِّينَ﴾ څخه مراد نصرانیان دي چې سمه لار یې قصداً پرېښې او یا د سمې لار په موندلو کې خطا شوې او په ناسمه لار روان دي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، د لوست د آیتونو په رڼا کې لومړۍ ډله دې د الله تعالی د عظمت او لویي او دویمه ډله دې د ښو او بدو صفتونو لرونکو خلکو په هکله خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

پورتني آيتونه ډېرې ګټې لري چې ځينې يې دا دي:

- ☆ د ټولو ستاينو وړ يوازې الله تعالی دی.
- ☆ د الله تعالی د ستاينې د وړتيا سبب د هغه خالقيت، مهرباني، پېرزوينه او د حساب او بدلې څښتن کېدل دي.
- ☆ انسان بايد د الله تعالی ستاينه وکړي.
- ☆ مسلمان بايد د دعا پيل د الله تعالی په ستاينې، پاکی او لويی سره وکړي.
- ☆ بندګي بايد يوازې د الله تعالی وشي.
- ☆ مرسته بايد يوازې له الله تعالی څخه وغوښتل شي.
- ☆ د الله تعالی په احساناتو او پېرزووونو اعتراف کول.
- ☆ انسان بايد د نېکو خلکو په لار روان شي او د بد عملو خلکو له لارې ځان وژغوري.

### پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

(الحمد)، (العالمين)، (الصراط)، (المستقيم)، (الضالين).

٢- د ټولو ستاينو وړ څوک دی؟

٣- د آخرت د ورځې څښتن څوک دی؟

٤- بندګي بايد د چا وشي؟

٥- هغه څلور طايفې چې په قرآن کريم کې د نيغې لارې لارويان بلل شوي، څوک دي؟ نومونه يې واخلئ.

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لوست کې د الله تعالی د يادو شويو صفتونو (رحمن – رحيم) په هکله لنډه مقاله وليکي.

# د ﴿البقرة﴾ سورت

## د سورت پېژندنه

د «البقرة» سورت دوه سوه شپږ اتیا (۲۸۶) آیتونه لري او مدني دی؛ ځکه له هجرت نه وروسته نازل شوی دی.

## د سورت نوم

په روایتونو کې داسې راغلي، چې د بني اسرائیلو په قوم کې یو سړی په پټه ووژل شو او خلکو قاتل نه پېژانده. د قاتل د پېژندلو پر سر د هغوی ترمنځ اختلافات رامنځته شول، یو او بل یې متهم کاوه. خبره دېته ورسېده، چې دوی د خپلې زمانې پیغمبر حضرت موسی عليه السلام ته ورغلل، ترڅو له هغه څخه د قاتل په پېژندلو کې مرسته وغواړي. هغه ته د الله جل جلاله له لوري وحې وشوه، ترڅو خلکو ته ووایي، چې هغوی دې یوه غوا حلاله کړي او د غوا یوه برخه دې د مړي پر جسد ووهي، مړی به په خبرو راشي او خپل قاتل به په ګوته کړي، خویهودانو د دې خبرې په اړه حیرانتیا وښوده او د غوا د ځانګړتیاوو او مشخصاتو په اړه یې پوښتنې پیل کړې. موسی عليه السلام هم دوی ته د غوا صفتونه او ځانګړتیاوې وښودې، خو هغوی به هر ځل د غوا د پېژندلو لپاره د نویو توضیحاتو غوښتنه کوله. په پای کې یې د ښودل شویو صفتونو لرونکې غوا ذبحه کړه او د غوا یوه ټوټه غوښه یې د مړي په جسد باندې ووهله، په دې سره الله تعالی مړی په خبرو راووست او خپل قاتل یې وښود. د دې معجزې په وسیلې سره یهودانو د مړي قاتل وپېژانده، نو د همدې کیسې له کبله دغه سورت هم د «البقرة» په نامه ونومول شو.

## د دې سورت غوره والی

د دې سورت د فضیلت په اړه ډېر حدیثونه راغلي دي. یو حدیث ابوهریره رضي الله عنه روایت کړی، وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لا تجعلوا بیوتکم مقابر، إن الشیطان ینفر من البیت الذي تُقرأ فیه سورة البقرة» ژباړه: له خپلو کورونو څخه قبرونه مه جوړوئ، باوري ده، چې شیطان له هغه کور څخه لرې تښتي، چې په هغه کې د (البقرة) سورت لوستل کېږي.[1]

همدارنګه، په یو بل حدیث کې راغلي دي چې معنا یې داده: هر څیز یوه څوکه لري او د قرآن کریم څوکه د (البقرة) سورت دی. هر څوک چې په خپل کور کې یو ځل د (البقرة) سورت تلاوت کړي، شیطان درې ورځې د هغه کور ته نشي ننوتلی.[2]

## د ﴿البقرة﴾ د سورت لنډیز

د «البقرة» سورت د قرآن کریم له اوږدو سورتونو څخه دی. موږ کولای شو چې د دې سورت ځینې اساسي ټکي مختصراً په لاندې ډول بیان کړو:

١- د اسلامي عقیدې د اصولو (په الله جل جلاله، په پیغمبرانو علیهم السلام، په آسماني کتابونو او د آخرت په ورځ د ایمان) بیانول.

٢- د مؤمنانو، کفارو او منافقینو د صفاتو بیانول.

٣- د انسان د خلقت کیسه، د هغه په اړه د شیطان دریځ، د شیطان او د آدم (علیه السلام) د کار پایله.

٤- د الهي احکامو په وړاندې د بني اسرائیلو مخالفتونه، د الهي نعمتونو په وړاندې د هغوی ناشکري او د خوسي عبادت پیلول.

---

١- دا حدیث شریف مسلم د (کتاب صلاة المسافرین) په باب (استحباب صلاة النافلة فی بیته) کې راوړی دی (١ / ٥٣٩).

٢- دا حدیث ابن حبان او ځینو محدثینو روایت کړی دی.

۵- د یهودو د تکبر او غرور بیانول او له موسی ﷺ نه د هغوی ناسمې او د حیرت وړ پوښتنې او غوښتنې.
٦- د یهودو له خوا د انبیاوو ﷺ وژل کېدل او له الله ﷻ سره د هغوی د ژمنې ماتول چې په هغې سره د لعنت مستحق وګرځېدل.
٧- د ابراهیم ﷺ د کیسې بیانول.
٨- د عباداتو د احکامو بیانول، د اسلامي نظام او اخلاقو د بنسټونو په ګوته کول؛ لکه: (د لمانځه، روژې، زکات، حج او د الله ﷻ په لار کې د جهاد د احکامو بیانول، د میاشتو د بدلېدلو حکمت، د الله ﷻ په لار کې خیرات او صدقه ورکول. پلار، مور او خپلوانو ته وصیت کول، د خیرات او صدقې مستحقین په ګوته کول او له یتیمانو سره ښه چلند).
٩- د کورني نظام د بنسټونو په ګوته کول؛ لکه: (د نکاح، طلاق، رضاعت او عدت د احکامو بیانول).
١٠- د ټولنیزو اړیکو د ټولیزو (عمومي) مسایلو بیان، لکه (د بې ځایه قسم خوړلو، سحر، ناروا قتل، په ناروا د خلکو د مال خوړلو، شرابو، قمار او د حیض پر مهال له مېرمنې سره د جماع کولو د حرمت... او داسې نورو مسایلو د احکامو بیان).
١١- په (آیة الکرسي) کې د عقیدې د بنسټیزو مسایلو بیان.
١٢- د نفس د تزکیې او تربیت د مسایلو په اړه او د قیامت د ستونزمنې ورځې له پېښو څخه د وېرولو بیان.
١٣- د مداینه ( پور ) د آیت په ترڅ کې، د قرض (پور)، شهادت، ګروی او امانت سپارلو په اړه د احکامو بیان.
١٤- په دعا سره د سورت ختمېدل، چې په (توبه، الله ﷻ ته رجوع، له مسلمانو ورونو سره مرسته کول او پر کفارو د برلاسي کېدو) مشتمل دی. د (البقرة) سورت دغو مهمو او ارزښتناکو مطالبو ته په کتلو سره ویلای شو، چې دا سورت د مسلمانانو د ژوندانه بشپړ پروګرام وړاندې کوي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د (البقرة) سورت د فضیلت او په دې نوم باندې د هغه د نومولو په اړه په خپلو منځو کې سره بحث او خبرې وکړي.

**پوښتنې**

١ـ د (البقرة) سورت څو آیتونه لري؟
٢ـ د (البقرة) سورت چېرته نازل شوی دی؟
٣ـ د (البقرة) سورت ولې په دې نوم سره یاد شوی دی؟
٤ـ د البقرة سورت د فضیلت د اثبات لپاره یو دلیل راوړئ.
٥- د البقرة سورت د مطالبو لنډیز په پنځو کرښو کې را په ګوته کړئ.

**کورنۍ دنده**

د البقرة د سورت د بنسټیزو موضوعاتو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱ - ۵) آیتونه

بسم الله الرحمن الر حیم

﴿ الم ﴿۱﴾ ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴿۲﴾ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿۳﴾ والَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معنا

{ذَلِكَ} د اشارې اسم دی، چې د لرې واټن لپاره کارول کېږي؛ په پښتو کې يې معادل: (هغه، هماغه) دی.

{الْكِتَابُ} یعنې قرآن کریم .

{رَيْبَ} شک اوشبهه.

{هُدًى} لارښوونه، هدایت.

{الْغَيْبِ} پوښل شوی، هغه څه چې په سترګو او حواسو سره نشي درک کېدلای.

{يُقِيمُونَ} قایموي، ادا کوي.

{رَزَقْنَاهُمْ} روزي مو ورکړې ده.

{يُنفِقُونَ} لګوي، نفقه کوي.

{أُنزِلَ} نازل کړای شوی.

{يُوقِنُونَ} یقین او باور کوي.

{الْمُفْلِحُونَ} بریالي او کامیاب.

## ژباړه

الف، لام، میم (د مقطعاتو له تورو(حروفو) څخه دي، په مطلب او مقصد يې يوازې الله ﷻ ښه پوهېږي) دا د الله کتاب دی، چې په (حقانیت) کې يې هېڅ شک نشته، د پرهېزګارانو لپاره لارښوونکی دی. د هغو متقیانو لپاره چې په غیبو ایمان لري، لمونځ ادا کوي او څه مو چې ورکړي له هغو څخه صدقه ورکوي او هغه کسان چې ایمان لري (دوی) پرهغه کتاب چې نازل کړای شوی دی تا ته، او پر هغو (کتابونو) چې له تا نه مخکې نازل کړای شوي دي، او د آخرت په ورځ یقین لري، دغه خلک د خپل رب له لوري پر سمه لار دي او همدوی بریالي په مراد رسېدلي دي.

## اجمالي تفسير

دغه سورت د " الم " په تورو (حروفو) پیل شوی دی، هغه حروف چې پرته له کوم ترکیب څخه د ځینو سورتونو په سر کې راغلي دي، د مقطعاتو حروفو په نامه یادېږي؛ ځکه دغه حروف جلا، جلا تلفظ کېږي. د تفسیر زیاتره علماء مقطعات حروف د متشابهاتو له جملې څخه ګڼي، یعني: یوازې الله ﷻ د هغو په مطلب او راز پوهېږي او بس، موږ د هغو په ظاهر ایمان لرو، علم او حقیقت یې الله ﷻ ته سپارو.

د قرآن کریم د سورتونو په پیل کې چې «مقطعات» حروف راغلي دي، هغه په څو ډوله دي: ځینې یې یوازې یو حرف دی، په ځینو ځایونو کې دوه حرفه دي، په ځینو ځایونو کې درې حرفونه دي او په ځینو ځایونو کې څلور او یا پنځه حرفونه دي. په ټولیزه توګه « مقطعات» حروف د قرآن کریم په (۲۹) سورتونو کې راغلي دي.[۱]

په دویم آیت کې د قرآن کریم عظمت ته اشاره شوې ده. الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ ذَلِكَ الْكِتَابُ لاَ رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ (دا داسې کتاب دی، چې په دې کې هېڅ عیب، کمې، شک او تردید نشته، چې دا په حقه د الله له خوا نازل کړای شوی دی، دا کتاب د پرهېزګارانو لپاره د هدایت اساس دی، دهغو خلکو لپاره چې له خپل الله څخه وېرېږي). د« المتقین» دکلمې مفرد « متقي» دی، یعنې پرهیزګار او تقوا لرونکی. «متقي» له « اتقاء» څخه اخیستل شوی، چې د ځان ساتنې په معنا دی، نو «متقیان» د الله تعالی د اوامرو په منلو او د هغه له نواهیو څخه په ډډه کولو، د خپل ځان او الهي عذاب ترمنځ حایل او مانع جوړوي او په دې سره خپل ځان له الهي عذاب څخه ساتي.

د تقوی د ترلاسه کولو لپاره پنځه شیان ضروري دي: ایمان، اطاعت، دګناه پرېښودل، توبه او اخلاص.[۲]

په وروسته آیتونو کې الله تعالی د پرهیزګارانو (متقیانو) صفات بیان کړي دي، چې تر ټولو دمخه په غیبو باندې ایمان لرل دي. لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمایي: ﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ﴾(هغه کسان چې په غیب ایمان لري).

د «غیب» کلمه د محسوس ضد ده، چې د پنځه ګونو حواسو په دایره کې نه راځي، نو د متقیانو لومړی صفت دا دی چې په هغو شیانو ایمان او باور ولري چې د هغوی د حواسو له دایرې څخه بهر وي، لکه: د الله تعالی سپېڅلې ذات، د الله تعالی اسماء او صفات، د هغه ملایکې، جنت، دوزخ او داسې نور.

د متقیانو دویم صفت د لمانځه اداکول دي: ﴿وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ﴾: (اقامة) عربي کلمه ده چې معنا یې په سمه او صحیحه توګه د یو کار ترسره کول دي. دلته د لمانځه له اقامې یا اداکولو څخه مطلب دا دی، چې لمونځ سره

---

۱- - بغوي تفسیر، تفسیر وسیط د طنطاوي.

۲- - بغوي تفسیر، تفسیر وسیط د طنطاوي.

له ټولو ارکانو او آدابو په خشوع او خضوع ادا کړي.
د متقیانو دریم صفت د الله په لار کې د نفقې ورکول دي: ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ په دې معنا چې متقیان خپل مالونه په غوره او نیکو کارونو کې لګوي، له بېوزلو او تنګ لاسو خلکو سره مرسته کوي اوخپله شتمني د خیر په کارونو کې مصرفوي.
د متقیانو څلورم صفت د قرآن کریم او نورو آسماني کتابونو په حقه ګڼل دي. په آیت شریف کې راغلي دي: ﴿والَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ﴾ : (هغوی په هغه څه چې پر تا نازل شوی، او پر هغه څه چې له تا څخه مخکې نازل شوي دي، ایمان لري). په دې آیت کې محمدﷺ ته خطاب شوی دی. یعنې د متقیانو له صفاتو څخه یو دا دی، چې په هغه څه چې پر تا (ای محمده) او په هغه څه چې په پخوانیو پېغمبرانو نازل شوي دي، ایمان لري.
دغه آیت دا را په ګوته کوي، چې د ټولو پېغمبرانو مراد او پیغام یو و او ټولو یوې لار ته دعوت کاوه.
د متقیانو بل صفت د آخرت په ورځ ایمان لرل دي، په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾، یعنې: په دې یقین او باور لري چې د قیامت په ورځ هر انسان د خپلو اعمالو بدله ترلاسه کوي.
«یقین» له «ایقان» څخه اخیستل شوی، یعنې په یو څه داسې علم لرل، چې شک او شبه په کې نه وي. متقیان د آخرت په ورځ داسې کلک ایمان لري چې هېڅ شک او تردید یې په زړونو کې نه راځي. څوک چې د آخرت په ورځ ایمان او یقین ولري، هرو مرو د هغې ورځې لپاره چمتووالی نیسي.
د متقیانو د پنځه ګونو صفاتو له یادولو څخه وروسته الله تعالی فرمایي: ﴿أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾، یعنې: دغه ډله (متقیان) د خپل رب له خوا پر سمه لار روان دي، او یوازې همدغه خلک بریالي دي چې دا په خپله د الله له لوري یو لوی نعمت ګڼل کېږي.
د متقیانو فلاح او نېکمرغي په دې کې ده چې د دنیا او آخرت بریا وربه برخه کیږي، هغوی به په دنیا کې له ځانګړې هوساینې او سکون څخه برخمن وي؛ ځکه هغوی په الله تعالی او د هغه په تقدیر ایمان او باور لري، نو د تنګلاسی پر مهال صبر او د پراخی پر مهال د هغه شکر او مننه پر ځای کوي. د هرکار په تر سره کولو کې هڅه، هاند او په الله تعالی توکل کوي. هغوی هېڅکله هم په خپل ژوند کې نه مایوسه کیږي او په آخرت کې به د الله تعالی له تلپاتې نعمتونو څخه برخمن وي.

### فعالیت

ټولو الهي پېغمبرانو یوې لارې ته دعوت کاوه او د هغوی د دعوت بنسټیز ټکی یو شی و. د دې موضوع په اړه دې زده کوونکي په خپلو کې بحث وکړي او دلایل دې روښانه کړي.

## د لوست ګټې

پورتني آیتونه ډېرې ګټې لري چې ځینې یې دا دي:

- قرآن کریم یو ستر او بې عیبه کتاب دی او د بشریت لپاره یو بشپړ او هر اړخیز لارښود دی.
- متقیان د نورو خلکو په پر تله په آسانی سره کولای شي له قرآن کریم څخه لارښوونه ترلاسه کړي او خپل ژوند پرې روښانه کړي.
- متقي هغه چا ته ویل کېږي چې دغه صفتونه ولري: په غیبو راسخ ایمان ولري، لمونځ ادا کړي، له خپلې شتمنۍ څخه د خیر په کار کې ګټه واخلي، په قرآن کریم او نورو آسماني کتابونو باور ولري او ورسره د آخرت په ورځ هم ایمان ولري.
- الله ﷻ ټولو هغو کسانو ته چې په پورتنیو صفاتو موصوف وي، په دنیا او آخرت کې بریالیتوب ور په برخه کوي.

### پوښتنې

۱- مقطعات حروف څه دي؟

۲- مقطعات حروف په څو ډوله دي؟

۳- قرآن کریم څه ډول کتاب دی؟ او څوک ترې زیاته ګټه اخلي؟

٤- متقي څوک دی؟ د «تقوی» د لاس ته راوړلو لپاره کوم صفات اړین بلل کېږي؟

٥- (غیب) څه ته وایي او ولې په دې نوم سره یاد شوی دی؟

٦- د متقیانو بری او نېکمرغي په څه کې ده؟

### کورنۍ دنده

د لوست په آیتونو کې د ایمان د ځینو ارکانو یادونه شوې ده، د ایمان ارکان په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۶- ۱۰) آیتونه

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾ خَتَمَ اللّهُ عَلَى قُلُوبِهمْ وَعَلَى
سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عظِيمٌ ﴿٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللّهِ وَبِالْيَوْمِ
الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَادِعُونَ اللّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُم وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾
فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّهُ مَرَضاً وَلَهُم عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾﴾

### د ځینوکلمومعنا

{كَفَرُواْ} کافران شوي دي، اسلام يې نه دی منلی.

{سَوَاءٌ} یو شان ده، برابره ده.

{أَنذَرْتَهُمْ} هغوی ووېروې، و يې ډار کړې.

{خَتَمَ اللّهُ} الله مهر لګولی دی.

{أَبْصَارِهِمْ} د هغوی سترګې، د هغوی لید.

{غِشَاوَةٌ} پرده، مانع.

{يُخَادِعُونَ} ټګي او چل کوي.

{مَا يَشْعُرُونَ} شعور نه لري، نه پوهېږي.

{زَادَهُم} هغوی ته يې زيات کړ.

{يَكْذِبُونَ} دروغ وايي.

### ژباړه

يقيناً کوم کسان چې کافران شوي دي، برابره ده پر دوی ( دا خبره) که ته هغوی ووېروې او که يې ونه وېروې، هغوی ایمان نه راوړي. د دوی پر زړونو او غوږونو الله مهر لګولی، د دوی پرسترګو پرده ده او دوی لره ډېر لوی عذاب دی.

له خلکونه ځینې داسې هم شته چې وايي موږ په الله او د آخرت په ورځ ایمان راوړی دی، په داسې حال کې چې دوی مؤمنان نه دي. دوی (په خپل گومان) له الله سره ټګي کوي او له هغو سره چې ایمان یې راوړی دی، حال دا چې دوی ټګي نه کوي مګر له خپلو ځانونو سره او دوی شعور نه لري(نه پوهیږي چې ضرر یې همدوی ته رسیږي). د دوی په زړونو کې (د شك او نفاق) ناروغي ده، نو الله هغه ناروغي دوی لره لاپسې زیاته کړه او دوی ته دردوونکی عذاب مقرر دی په سبب د دې چې دوی به دروغ ویل.

## د آیتونو د نازلیدو لامل

امام طبري په خپل تفسیر کې له ابن عباس (رضي الله عنهما) او کلبي (رحمه الله) څخه نقل کړي دي چې دوه لومړني آیتونه د یهودو د مشرانو، لکه حُیي بن اخطب، کعب بن اشرف او د هغوی د ملګرو په اړه دي.[۱]

## اجمالي تفسیر

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ...﴾ دا آیت د هغو کافرانو په اړه دی چې له محمدﷺ سره یې دښمني درلوده، هغوی په خپل کفر کې دومره سخت وو چې د هغوی وېرول د هغوی پر زړونو باندې هېڅ اغېزه نه لرله. دوی داسې وو لکه چې زړونه یې له تفکر او هوښیارۍ، غوږونه یې له اوریدو او سترګې یې له لیدو څخه ناتوانه وې. له ختم (مهر) څخه مطلب دا دی چې د ایمان روښنایي د هغوی زړونو ته لار نشي پیدا کولی.

«کفر» په لغت کې پټولو ته وايي او په اصطلاح کې کافر هغه چا ته ویل کیږي چې د اسلام پر سپیڅلي دین یې ایمان نه وي راوړی؛ ځکه داسې کسان د الله د قدرتونو او د هغه له نعمتونو څخه د انکار کولو او د اسلام د حقانیت د پټولو له امله کافران بلل کیږي.

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ...﴾ په دې مبارك آیت او وروسته آیت کې د منافقینو حقیقت او صفات داسې بیان شوي دي، چې دوی په ژبه د ایمان دعوی لري خو په حقیقت کې مؤمنان نه دي، هغوی له مسلمانانو سره لمونځ او ځینې اسلامي مناسك ادا کوي، خو د هغوی دا لمونځ او عبادت، په حقیقت کې له زړه څخه نه دی. منافقینو تل هڅه کوله چې د مؤمنانو په صفونو کې ګـــــرکه، فساد، دروغ، نـــــاوړه

---

۱- طبري تفسیر.

تبلیغات او اختلافات را منځته کړي، له همدې امله الله ﷻ د هغوی په اړه داسې فرمايي: ﴿يُخَادِعُونَ اللّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنفُسَهُم وَمَا يَشْعُرُونَ﴾. يعنې: دغه منافقان له الله او مؤمنانو سره ټګي کوي، خو دوی پرته له ځان څخه بل څوک نه غولوي او دوی شعور نه لري.

الله (جل جلاله) د هغوی په حق کې فیصله کوي، او د هغوی هغه برخليك بيانوي، چې دوی ته په انتظار دی؛ لکه په دې آيت کې فرمايي: ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّهُ مَرَضاً وَلَهُم عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾، يعنې: د هغوی په زړونو کې يوه ناروغي ده، چې الله هغه لا پسې زیاته کړه، او کوم دروغ چې هغوی وايي د هغه په بدله کې د هغو لپاره دردوونکی عذاب دی.

د منافقانو په زړونو کې د ناروغۍ له زياتوالي څخه هدف دا دی، چې د هغوی په زړونو کې شک، تردید، نفاق او ډار ډېرېږي. هر څومره چې مسلمانان مخ پر وړاندې ځي او فتوحات کوي، په هماغه کچه د هغوی په زړونو کې نفرت او دښمني زياتېږي.

په حقيقت کې د کفارو په پرتله د منافقينو ضرر ډېر دی، منافقان په اسلامي ټولنه کې دننه اوسيږي او کارونه يې د کفارو دي او د مسلمانانو په ضد پلانونه جوړوي. منافقان په هره زمانه کې شتون لري، د نبي (علیه السلام) په زمانه کې هم منافقان موجود وو او اوس هم شته. بايد له هوښيارۍ څخه کار واخيستل شي، ترڅو دغه ډول خلك زموږ ټولنې ته لار پيدا نه کړي او د لويو ستونزو لامل ونه ګرځي.

**فعالیت**

لاندې دوه موضوعګانې د آزاد بحث په ترڅ کې په ټولګي کې وڅېړئ:

- د نفاق او منافقينو خطرونه .
- پر زړونو باندې د مهر لګولو معنا او مفهوم.

## د لوست ګټې

د لوست له آیتونو څخه ځینې لاندې زده کړې او عبرتونه ترلاسه کولای شو:

- د الهي سنت پر اساس، څوک چې د کینې اوحسد له کبله له حق څخه مخ اړوي او کفر اختیاروي، په پایله کې د هغوی پر زړونو مهر لګیږي او بیا د حق خبره نه مني.
- په هره ټولنه کې منافقان او منافق صفته کسان شته چې باید په ډېرې هوښیارۍ له هغوی سره چلند وشي او ځان ترې وساتل شي.
- د ګمراهانو او منافقانو د ټګۍ پایله او نتیجه په خپله دوی ته رسیږي، لکه چې ویل کیږي: څوک چې بل چا ته کوهی کني په خپله په هغه کې غورځیږي، نو لازمه ده چې مسلمان نورو خلکو ته د ضرر رسولو په فکر کې ونه اوسي او د منافقانو له پیروۍ څخه ځان وژغوري.

### پوښتنې

۱ – لاندې کلمې معنا کړئ:

{کفروا} {سواء} {أنذرتهم} {ختم} {یخادعون} {ألیم}.

۲ – د دې لوست د لومړني او دویم آیت نزول، ځینې مفسرین د چا په اړه ګڼي؟

۳ – د «کفر» لغوي او اصطلاحي معنا بیان کړئ.

٤ – د دې ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّهُ مَرَضاً﴾ آیت مطلب څه دی؟

٥ – په اسلامي ټولنه کې منافقان کوم ناوړه کارونه تر سره کوي؟

### کورنۍ دنده

د منافقینو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې په هغې کې د منافقانو د اوصافو او د اسلام د لومړني عصر د منافقانو د کړو وړو یادونه شوې وي.

## د (البقرة) سورت (۱۱- ۱۶) آيتونه

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ﴿۱۱﴾ أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ
وَلَكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿۱۲﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُواْ أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاء أَلا إِنَّهُمْ
هُمُ السُّفَهَاء وَلَكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿۱۳﴾ وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ قَالُواْ آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْاْ إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُواْ
إِنَّا مَعَكْمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِؤُونَ ﴿۱۴﴾ اللّهُ يَسْتَهْزِىءُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿۱۵﴾ أُوْلَئِكَ
الَّذِينَ اشْتَرُوُاْ الضَّلاَلَةَ بِالْهُدَى فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴿۱۶﴾﴾

### د ځينو کلمو معنا

{مُصْلِحُونَ} اصلاح راوستونکي.

{أَلا} د تنبيه توری دی، د (هوښيار شئ)، (خبر اوسئ) په معنا دی.

{إِنَّهُمْ} إنّ: د تأکيد توری دی چې پر اسميه جمله داخليږي، د (په تحقيق سره، پرته له شکه، په حقيقت کې، قطعا...) په معنا دی.

{إِذَا} هر کله، کله چې.

{قِيلَ} د مجهول صيغه ده، يعني: وويل شي.

{آمِنُواْ} د « آمَنَ» د فعل د امر صيغه ده، يعني: ايمان راوړئ.

{السُّفَهَاء} د (سفيه) جمع ده، بې عقل، ساده. البته منافقينو او کفارو به په دې صفت سره مؤمنان متهم کول.

{لَقُواْ} مخامخ شول، ملاقي شول. دلته يې معنا مضارع ده: (ملاقي شي، مخامخ شي).

{خَلَوْاْ} يوازې شي.

{شَيَاطِينِهِمْ} له دې څخه مطلب د کفارو او منافقينو لارښوونکي او مشران دي.

{مُسْتَهْزِؤُونَ} مفرد يې « مستهزئ» دی، چې د مسخره کوونکي په معنا دی.

{يَمُدُّهُمْ} هغوی ته فرصت ورکوي، هغوی ته وخت ورکوي، هغوی په خپل حال پرېږدي.

{طُغْيَانِهِمْ} د هغوی سرکشي، سرغړونه، له حد څخه تيرى.

{يَعْمَهُونَ} په گمراهۍ کې حيرانه او سرگردانه دي.

## ژباړه

کله چې دې منافقانو ته وويل شي؛ چې په ځمکه کې فساد مه کوئ، نو دوی (په ځواب کې) وايي: چې بېشکه موږ اصلاح کوونکي يو. خبر اوسئ! بيشکه همدوی فساد کوونکي دي، مگر دوی (په خپل فساد) شعور نه لري(نه پوهېږي). کله چې دوی ته وويل شي: چې ايمان راوړئ، لکه چې نورو خلکو ايمان راوړی دی، نو دوی (په ځواب کې) وايي: آيا ايمان راوړو لکه چې ناپوهانو ايمان راوړی دی؟ خبر اوسئ! بېشکه همدوی نا پوهان دي، مگر دوی په خپله ناپوهی نه پوهېږي.کله چې دوی له مؤمنانو سره یوځای شي، نو وايي: (موږ ايمان راوړی دی) او کله چې په گوښه ځای کې له خپلو شيطانانو(مشرانو) سره یوځای شي، نو وايي: بيشکه موږ له تاسې سره يو، بيشکه موږ (په مؤمنانو پورې) مسخرې کوونکي يو. الله دوی ته د دوی د تمسخر او استهزاء سزا ورکوي او دوی ته د دوی په سرکشۍ کې مهلت ورکوي، حال دا چې دوی په خپل کار کې حيران دي. دا هغه کسان دي چې د هدايت په بدل کې يې گمراهي پېرلې(غوره کړې) ده، نو دوی له دې سوداگرۍ څخه هيڅ گټه پورته نه کړه (بلکې زيان يې وکړ) او نه دوی (حق ته) لار موندونکي دي.

## اجمالي تفسير

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ...﴾: الله ﷻ د منافقانو د صفاتو او نښو په اړه چې په تېرو آيتونو کې يې يادونه شوې ده، فرمايي: کله چې منافقينو ته وويل شول چې له خپلو فتنه اچوونکو کارونو څخه لاس په سر شئ، د مسلمانانو په منځ کې تفرقه او نفاق مه را پيدا کوئ، کفارو ته جاسوسي مه کوئ او له بې ځايه پروپاگنډو نه لاس واخلئ، هغوی په ځواب کې وويل: (موږ اصلاح راوستونکي يو)، خو خبر اوسئ چې دوی فسادگر دي، مگر په خپله ناپوهی او جهالت کې پرېوتلي دي او خپل دغه فساد ورته سم او ښه ښکاري چې دا ډېره ستره او غټه تېروتنه ده.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ كَمَا آمَنَ النَّاسُ...﴾: او کله چې له دې منافقې ډلې څخه وغوښتل شي چې په خپل ايمان کې داسې رښتيني شي، لکه مسلمانان چې دي، همدا رنگه د نورو مسلمانانو په څېر له بت پرستۍ څخه لاس واخلي، خو دوی خپل دغه منافقت او شيطانت ښه بولي او رښتيني مسلمانان ناپوهه او کم عقله گڼي او خپل ځانونه ځيرک، پوه او هوښيار بولي او وايي: «آيا موږ داسې ايمان راوړو لکه چې کم عقلانو ايمان راوړی دی».

منافقانو ټولو امورو ته په مادي نظر کتل؛ ځکه خو د بېوزلو او تش لاسو کسانو، لکه: د بلال، عبد الله بن سلام، سلمان او زيد بن حارثه (رضي الله عنهم) او د هغوی په څېر نورو خلکو ايمان راوړل ورته کم عقلي ښکارېده. خو په حقيقت کې دوی په خپله کم عقلان او ناپوهان دي، چې د خپلو نفساني غوښتنو پر اساس يې کفر او نفاق ته ترجيح ورکړې ده، د دنيا په مينه او محبت کې ډوب او آخرت ورنه هېرشوی دی.

﴿وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ قَالُواْ آمَنَّا...﴾: الله تعالی په دې آيتونو کې د منافقانو حالت بيان کړی دی او دهغوی دکړنو

پایلې یې داسې څرګندې کړې دي: کله چې منافقین له رښتینو مسلمانانو سره مخامخ کیږي، ځانونه مسلمان بولي او د ایمانداری او تقوی په اړه خبرې کوي، ترڅو خپلې دنیوي ګټې وساتي او له فئ او غنیمت څخه برخمن شي او یا هم د رښتینو مسلمانانو له خوا چې شمېر یې ورځ په ورځ ډېرېږي، ځان وساتي او د هغوی په وړاندې سپک او حقیر نشي. خو کله چې د کفارو له مشرانو سره یو ځای شي هغوی ته ډاډ ورکوي چې دوی تر اوسه پورې په خپل کفر باقي پاتې دي او په خپله بت پرستی کې یې کوم بدلون نه دی راغلی. له مسلمانانو سره یوازې د دې لپاره ګرځي راګرځي چې په هغوی ملنډې ووهي او بس. د هغوی د ناوړو کړنو په بدل کې الله ﷻ هغوی ته مهلت ورکوي، ترڅو هغوی ښه حیرانه او سرګردانه شي او هغوی ته د مسخرو او ملنډو وهلو سزا ورکوي چې په دنیا کې به سپک او بې عزته وي، نفاق به یې ټولو خلکو ته بر ملا وي او په آخرت کې به ورته د دوزخ اور په انتظار وي.

بیا الله ﷻ په بل آیت کې فرمايي: ﴿أُوْلَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرُوُاْ الضَّلاَلَةَ بِالْهُدَى فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ﴾ یعنې: همدغه کسان دي چې ګمراهي یې د هدایت او لارښوونې په بدل کې اخیستې ده. د خپل راکړې ورکړې په پایله کې دوی څه ګټه نشي ترلاسه کولی او هدایت هم نشي پیدا کولی. په دې مبارک آیت کې د منافقانو کړنې له بې ګټې سوداګری (تجارت) سره تشبیه شوې دي، چې په بشپړه توګه په هغه کې زیان او تاوان نغښتی دی. منافقانو د واقعي ایمان او اسلام پر ځای یوازې په ژبني او لساني اعتراف بسنه (اکتفا) کړې ده چې په هغه کې هېڅ ګټه نشته.دوی لکه څرنګه چې له اخروي ګټو څخه محروم دي په دنیا کې هم له خوارۍ او نفرت پرته بله جزا نه لري، نو له دې امله یې په خپله راکړه ورکړه کې سخت تاوان کړی دی.

**فعالیت**

په لاندنیو موضوعاتو کې د یوې موضوع په اړه بحث او خبرې اترې وکړئ:

۱- د خلکو په منځ کې د ناوړو کړنو ترسره کول، ټولنې او تر سره کوونکي ته د هغې ناوړې پایلې.

۲- له مسلمانانو او کفارو سره د منافق په کړنو کې توپیر(تضاد).

۳- الله تعالی منافقانو ته سزا ورکوي.

## د لوست ګټې

له پورتنیو آیتونو څخه یو شمېر زده کړې او پندونه ترلاسه کیږي، چې کولای شو په لاندې ټکو کې یې په لنډه توګه بیان کړو:

☆ واقعي ایمان هغه دی، چې له ژبني اعتراف سره سره په زړه کې هم پرې تصدیق او باور وشي او عمل هم ورسره

مل وي. هغه ایمان چې د انسان عمل کنټرول نه کړي او خاوند یې له ناوړو کارونو څخه منع نه کړي او ښوکارونو ته یې ونه هڅوي، نو دغه مهال دا ضعیف ایمان دی.

☆ د ځمکې پر مخ هغه مهال اصلاح راتلای شي، چې د ایمان لار غوره کړای شي او له کفر او ګناهونو څخه ډډه وشي.

☆ منافقین تل له الله تعالی سره د دوکې او فریب لاره غوره کوي، دوی تل هڅه کوي چې د مسلمانانو ترمنځ اختلافات رامنځته کړي او باطل افکار او نظریې خپرې کړي، ترڅو د خلکو په ذهنونو کې د دین په اړه شک او تردید پیدا کړي.

☆ هوښیار او عاقل انسان هغه څوک دی چې د اخروي ژوند لپاره هڅه کوي او ناپوه هغه څوک دی چې خپل عقل او هوښیاري په مادیاتو پورې تړي او د الهي تعلیماتو پلي کول ورته ناپوهي ښکاري.

☆ د نېکوکړنو انسان او د نېغې لارې پیروان تل د نېکو خلکو ملګري وي، له هغوی سره د زړه له کومې مینه کوي،خو د دې پرخلاف منافقان له منافقو سره ناسته ولاړه کوي او د نېکو خلکو پر وړاندې دوکې او دسیسې جوړوي.

## پوښتنې

١ – منافقین څرنګه د ځمکې پر مخ فساد کوي؟

٢ – الله تعالی څرنګه د منافقانو دا قول (موږ مصلحین یو) ردوي؟

٣ – منافقانو ولې او له څه امله ربښتیني مسلمانان کم عقله او ناپوهه بلل ؟

٤– له ربښتینو مسلمانانو او د کفارو له مشرانو سره د منافقانو چلند څه توپیر درلود؟

٥ – منافقینو د کوموګټو لاس ته راوړلو لپاره په اسلام تظاهرکاوه؟

٦- قرآن کریم د منافقینو کړنې له څه سره تشبیه کړې دي؟

## کورنۍ دنده

د نفاق ځینې هغه کارونه چې منافقانو به د نبي کریمﷺ په زمانه کې تر سره کول، په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۷ - ۲۰) آیتونه

﴿ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً فَلَمَّا أَضَاءتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ
لاَّ يُبْصِرُونَ ﴿۱۷﴾ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَرْجِعُونَ ﴿۱۸﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاء فِيهِ ظُلُمَاتٌ
وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصْابِعَهُمْ فِي آذَانِهِم مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ واللّهُ مُحِيطٌ بِالْكافِرِينَ ﴿۱۹﴾
يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ كُلَّمَا أَضَاء لَهُم مَّشَوْاْ فِيهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُواْ وَلَوْ شَاء اللّهُ لَذَهَبَ
بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ إِنَّ اللَّه عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۲۰﴾ ﴾

## د ځينوکلمو معنا

{مَثَلُهُمْ} د هغوی حالت او د هغوی مثال.

{اسْتَوْقَدَ} اور يې بل کړی.

{فَلَمَّا} نوکله چې.

{أَضَاءتْ} رڼا کړې، روښانه کړې.

{ذَهَبَ اللّهُ بِنُورِهِمْ} الله له هغوی څخه نور واخلي، رڼا يې مړه کړې.

{صُمٌّ} د (أصم) جمع ده، د کاڼه په معنا ده.

{بُكْمٌ} د (أبكم) جمع ده، د ګونګ په معنا ده.

{عُمْيٌ} د (أعمی) جمع ده، د ړانده په معنا ده.

{كَصَيِّبٍ} د تيز او زورور باران په څېر دی.

{ظُلُمَاتٍ} د (ظلمة) جمع ده، چې د تيارو په معنا ده.

{يَجْعَلُونَ أَصْابِعَهُمْ} خپلې ګوتې ننه باسي.

{الصَّوَاعِقِ} د (صاعقة) جمع ده، هغه اور (بريښنا) ده چې له آسمان څخه د رعد پرمهال ښکته راځي (تندر).

{حَذَرَ الْمَوْتِ} د مرګ له وېرې.

{مُحِيطٌ} احاطه کوونکی، ايساروونکی، له ټولو خواوو څخه چاپېر چې د تېښتې امکان ونه لري.

{يَكَادُ} نژدې دی.

{يَخْطَفُ} له منځه يوسي، اختطاف کړي.

{كُلَّمَا} هر کله چې، هر وخت چې.

{أَضَاء} رڼا کړي.

{أَظْلَمَ} تياره کړي.

## ژباړه

د منافقانو مثال د هغه چاپه څېر دی چې اور یې بل کړی وي، نو کله چې اور د هغه چاپېر ځایونه روښانه کړي، الله د دوی رڼا مړه کړي او دوی په تیارو کې پرېږدي، په داسې حال کې چې هیڅ نهویني. دوی کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي، نو (له ګمراهۍ څخه) بېرته نه راګرځي. یا (د دوی مثال) د هغو کسانو په شان دی چې زوروړغښ څاڅکي باران، چې له آسمانه اوري او تیاره، تندر او برېښنا ورسره وي، راګېر کړی وي، نو دوی د تندر د سخت آواز له امله خپلې ګوتې په خپلو غوږو کې ننه باسي او الله (په خپل علم او قدرت) په کافرانو احاطه کوونکی دی.

نژدې ده چې برېښنا په چټکۍ سره د دوی د سترګو(نور)یوسي، کله چې (برېښنا) دوی ته لار رڼا کړي نو دوی پکې روان شي او کله چې پر دوی تیاره کړي، نوودرېږي او که الله اراده کړې وای خامخابه یې د دوی د اورېدلو (ظاهري قوت) او د لیدلو(ظاهري قوت) زایل کړی وای، بېشکه الله پرهرشي (چې اراده و فرمايي) ښه قادر دی.

## اجمالي تفسیر

﴿ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً... ﴾: په دې آیتونو کې الله د منافقانو د حالت د توضیح لپاره دوه مثالونه راوړي دي: په لومړي مثال کې چې د آیت په لړکې یې یادونه شوې ده، د منافقانو حالت له داسې کسانو سره تشبیه کړی دی چې په توره شپه کې په یوه پراخه دښته کې روان وي، او یو ناڅاپي لاره ورکه کړي. هغوی د لارې د پیدا کولو لپاره اور بلوي او کله چې اور بل شي او د دوی شا او خوا روښانه کړي، نوټول خوشاله شي او مخ پر وړاندې قدم اخلي او کله چې د اور رڼا ختمه شي دوی هم پر خپل ځای ودرېږي، حیرانه او لالهانده پاتې کیږي. منافقان هم دا ډول حالت لري، هغوی په ظاهره د مسلمانانو له وېرې خپل ځانونه مسلمانان ښکاره کوي، ترڅو خپلې شخصي ګټې وساتي، خو له دې امله چې د هغوی په زړونو کې ایمان ځای نه لري، د هغوی موقتي ګټې، هغوی د دنیا له رسوايي او د آخرت له دردناک عذاب سره مخامخ کوي. البته د دوی د مسلمانی دغه تظاهر دوی ته کومه ګټه نه رسوي او ډېر ژر به رسوا شي او کومه موقتي مینه یې چې د مسلمانانو په زړونو کې تر لاسه کړې، هغه به هم ډېر ژر له منځه لاړه شي او دوی به د مسلمانانو په نظر کې خوار او ذلیله وي، او کوم اور یې چې لګولی وو ګواکې هغه مړ شو او دوی په تیاروکې پاتې شول.

﴿ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَرْجِعُونَ﴾: په دې مبارک آیت کې الله تعالی د منافقانو حالت داسې بیانوي، چې هغوی د حق له اورېدلو څخه په دې اندازې ناتوانه دي، ګواکې چې کاڼه دي، د حق د ویلو وړتیا نه لري، ګواکې چې ژبې یې ګونګې دي، سترګې یې دحق لیدلو وړتیا نه لري، ګواکې چې ړندې دي. دا په دې معنی نه ده چې هغوی غوږونه، ژبه او سترګې نه لري، بلکې مطلب دا دی چې هغوی داسې ښکاره کوي چې ګواکې هغوی نه حق اورېدلای دی، نه یې لیدلای دي او نه هم د حق په اړه څه ویلای شي. همدا وجه ده چې دوی د حق په لور کوم ګام نه اخلي او د خیر کار نه ترسره کوي.

﴿ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاء فِيهِ ظُلُمَاتٌ...﴾ دا د منافقانو د حالت دویم مثال دی، په دې کې د منافقانو حالت له داسې کسانو سره تشبیه شوی دی چې په ډېر تیز باران او توره تیاره کې چې ورسره ډېره سخته برېښنا او تالنده هم وي، ایسار شوي وي او دې باران او درزهار په هغوی کې ډېره وېره او ډار رامنځته کړی وي. یعنې له یوې خوا د آسمان

سخت درزهار اوري او له بلې خوا شپه ډېره تياره او هېڅ نه ليدل کېږي، هغوی داسې فکر کوي، چې نور د مرګ خولې ته ورغلي دي او له ډېرې وېرې خپلې ګوتې په غوږونو کې ږدي، ترڅو د تالندي غږ وانه وري، يعنې هغوی هڅه کوي، چې په غوږونو کې د ګوتو په ننباسلو سره مرګ وروسته کړي او ځان ترې خلاص کړي، نو منافقين هم همدې ته ورته دي، هغوی په خپل ځان کې د وېرې احساس کوي. منافقينو وکولای شول، چې د اسلام په ظاهرولو سره خپل ځان او مال وساتي او د مسلمانانو ظاهري ملګرتيا خپله کړي، خو کله چې له الهي وعيد او د منافقينو په اړه له دردناک عذاب څخه خبرېږي، نو په ډېره ويره کې لوېږي او داسې کړنې تر سره کوي، چې ګواکې دوی په دې نه دي پوه شوي.

﴿ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ... ﴾: په دې وروستني مبارک آيت کې الله ﷻ د مخکيني مثال د لا ډېر وضاحت لپاره داسې فرمايي: نژدې ده چې برېښنا د هغوی د سترګو رڼايي له منځه يوسي او بيا داسې فرمايي: هر کله چې برېښنا هغوی ته رڼايي وکړي، نو په رڼا کې روان شي او کله چې د هغوی لار تياره شي، ځای په ځای ودرېږي، که الله تعالی غوښتي وای د هغوی د اورېدو او ليدو توان به يې ترې اخيستی وای، خو الله داسې ونه کړل. الله تعالی د آيت شريف په وروستنی برخه کې فرمايي: يقينا چې الله ﷻ پر هر څه قادر دی، يعنې هېڅ شی د الله تعالی د قدرت له دايرې څخه بهر نه دی.

د دې آيتونو له محتوا څخه دا څرګندېږي، چې منافقان له خپل نفس سره په اخ او ډب او کړاو کې دي، هغوی په داسې حال کې چې د قرآن کريم او د اسلامي لارې په حقانيت باور نه لري، خو د خپلو شخصي ګټو د ترلاسه کولو لپاره او د شرعي تهديد له وېرې مجبورا په ظاهري بڼه خپل ځان اسلام ته منقاد بولي، په ژبه د شهادت کلمه وايي او له کوم ځای څخه چې د مال او غنيمت تمه کېږي، هلته د مسلمانانو په صف کې درېږي، خو کله چې د اسلام په دفاع کې سختي او دنيوي تاوان احساس کړي بيا له جهاد څخه ډډه کوي او په بېلابېلو پلمو ځان د دښمن له مقابلې څخه لرې باسي.

په تېرو آيتونو کې د درې ګونو ډلو (مؤمنانو، کفارو او منافقانو) نښې او صفتونه په ګوته شول چې په هغو کې ديارلس آيتونه يې د منافقانو په اړه وو.

**فعاليت**

د ايمان او صالحو اعمالو په مسأله کې د زړه د اساسي او بنسټيزې ونډې( نقش ) په هکله په ټولګي کې آزاد بحث او مناقشه وکړئ او دا څرګنده کړئ چې په دې مسأله کې، ظاهر ته ډېر اعتبار ورکول کيږي او که باطن ته؟

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې او درسونه چې د پورتنيو آيتونو له تفسير څخه ترلاسه کېږي، په لاندې ډول دي:

☆ الله ﷻ د نورو نعمتونو تر څنګ انسانانو ته ظاهري نعمتونه هم ورښنلي دي، د دغو نعمتونو له ډلې څخه د هغه د بدن غړي دي، چې په غوږونو سره اوري، په ژبه خبرې کوي او په سترګو ليدل کوي.

☆ هر انسان مکلف دی چې خپل حواس د خیر په لاره کې په کار واچوي؛ ځکه چې هغه د دغو حواسو په اړه مسؤولیت لري، ترڅو د خپل بدن غړي په سمه توګه وکاروي، په خپلو غوږونو سره د حق خبرې واوري، په خپله ژبه د حق خبرې وکړي او په خپلو سترګو یوازې حلال او مشروع شیان وګوري.

☆ د سختو او ستونزمنو مفاهیمو د توضیح لپاره د ژوند د واقعي مثالونو د راوړلو مشروعیت، کوم چې له هغې موضوع سره ورته والی ولري، ترڅو معنوي مفاهیم په حسي قالب کې راشي او مخاطب ته ښه څرګند شي.

☆ منافقین هېڅکله پر یو حالت او موقف ټینګ ولاړ نه وي، بلکې هغوی تل د تذبذب او نفسي غوښتنو ښکار وي او هر چیرته چې یې ګټې وي، هلته ځان رسوي.

☆ موږ باید د منافقانو اوصاف وپېژنو او هڅه وکړو، چې د هغوی له صفتونو څخه ځان وژغورو.

☆ د منافقانو ځانګړتیاوې او صفتونه چې د دې درس په ترځ کې مو وپېژندل د هغو خلکو په اړه وو، چې د نبي کریم ﷺ په عصر کې یې ژوند کاوه. الله تعالی د هغوی کفر برملا کړ، چې هغوی په ظاهر کې مسلمانان او په باطن کې کافران دي. که چېرې دا ډول صفتونه په ځینو اوسنیو خلکو کې را څرګند شي، نو سمدلاسه په هغو باندې د کافر اطلاق نشو کولای، البته دا ویلای شو چې په نوموړو کسانو کې د منافقینو ځینې صفتونه شتون لري. لازمه ده، چې له الله تعالی څخه دوی ته هدایت او لارښوونه وغواړو او هغوی ته نصیحت وکړو، ترڅو له دغه ډول ناوړو صفتونو څخه ډډه وکړي.

## پوښتنې

١ – لاندې کلمې معنا کړئ:

**{استوقد} { کصیب} {ظلمات} {رعد} {الصواعق} {یخطف} {أضاء} {مشوا}.**

٢ – الله تعالی په قرآن کریم کې مثالونه د څه لپاره راوړي دي؟

٣ – د یادو شویو مثالونو او د منافقانو د حالت ترمنځ څه ورته والی شتون لري؟

٤ – د دې آیت: ﴿صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ﴾ مطلب څه دی؟ آیا منافقان رښتیا هم کاڼه، ګونګیان او ړانده دي؟

٥– په داسې حال کې چې منافقین ایمان نه لري، نو بیا ولې په ظاهره خپل ځانونه مسلمانان بولي؟

## کورنۍ دنده

قرآن کریم د منافقانو د حالت د بیانولو لپاره دوه مثالونه راوړي دي، د دغو دوو مثالونو وجهې تشبیه ته په اشارې سره او دا چې دا مثالونه د چا په اړه راغلي دي په خپلو کتابچوکې یوه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۱ - ۲۴) آيتونه

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿۲۱﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ
فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ
﴿۲۲﴾ وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ
صَادِقِينَ ﴿۲۳﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿۲۴﴾﴾

## د ځينو کلمو معنا

{اعْبُدُوا} د مخاطب جمعي لپاره د امر فعل دی، يعني: عبادت وکړئ.

{خَلَقَكُمْ} خَلَقَ: د ماضي فعل دی يعني پيدا يې کړ. کُمْ: د مخاطب د جمع ضمير دی. چې د(خَلَقَ) مفعول واقع شوی دی. د دواړو کلمو معنا ده: تاسو يې پيدا کړئ.

{لَعَلَّكُمْ} د (لعلّ) کلمه د نسخې له حروفو څخه ده، چې پر اسميه جمله داخليږي، مبتدا منصوبوي اوخبر مرفوع کوي او د (ښايي(شايد)، ګوندې اوممکن) په معنا راځي.

{فِرَاشاً} هواره او غوړېدلې.

{بِنَاء} چت، کلکه آبادي.

{الثَّمَرَاتِ} ميوې.

{أَندَادا} د (نِد) جمع ده، يعني: ورته، مثل، سيال.

{رَيْبٍ} شک او شبه.

{ عَبْدِنَا } زموږ بنده (دلته تري محمد ﷺ مراد دی).

{ فَأْتُوا } راوړئ، حاضرکړئ.

{شُهَدَاءكُم} ستاسو مرستندويان او مددګاران.

{فَاتَّقُوا النَّارَ} نو له اوره ځانونه وژغورئ، له دوزخه ووېرېږئ.

{وَقُودُهَا} د هغه (دوزخ) د سون مواد.

{أُعِدَّتْ} تيارکړای شوی.

## ژباړه

ای خلکو! د خپل رب عبادت وکړئ، هغه (رب چې) پیدا یې کړئ تاسې او (پیدا کړي یې دي) هغه کسان، چې له تاسې څخه پخوا وو، ښایي چې تاسې خپل ځانونه له عذابه وژغورئ. هغه رب، چې تاسو ته یې ځمکه هواره (فرش) گرځولې ده او (گرځولی یې دی) آسمان چت، او راښکته کړې یې دي له اسمان څخه اوبه او بیا یې په دې (اوبو) سره ستاسې د خوراك لپاره ډول، ډول میوې راوایستلې، نو الله تعالی سره شریکان مه گرځوئ(مه نیسئ)، حال دا چې تاسې پوهیږئ (چې الله شریك نه لري). که چېرې تاسې له هغه قرآن څخه چې موږ پرخپل بنده (محمدﷺ) باندې نازل کړی دی، په شك کې یاست، نوتاسې د دې په څېر یو سورت راوړئ اوله الله نه پرته خپل ټول مرستیالان هم راوبولئ که تاسې په خپله خبره کې (په دې دعوا کې چې دا د انسان کلام دی) رښتیني یاست. نوکه تاسو (دا کار) ونه کړای شو او یقیني ده چې هېڅکله به یې ونشئ کړای، نوله هغه اوره څخه ووېرېږئ چې د هغه خس او خاشاك انسانان او تیږې دي، چې(دا اور) د کافرانو لپاره تیار کړای شوی دی.

## له مخکینیو ایتونو سره د دې ایتونو تړاو

په تېرو شلو آیتونوکې د دریو ډلو کسانوصفتونه او حالتونه ذکرشول: مؤمنان، کافران اومنافقان، البته دځمکې پرمخ ټول انسانان په دې دریو ډلوکې شامل دي. په دې آیتونو کې ټول بشریت ته، چې د مکې مشرکان هم پکې شامل دي، دستور ورکول کېږي چې د یو الله اوامروته غاړه کېږدي او د هغه عبادت وکړي او د بتانوعبادت پرېږدي اوکه د پیغمبرﷺ د رسالت په حقانیت اوڅه چې پرهغه نازل شوي دي، په هغه کې شك اوشبهه لري او قرآن کریم د محمدﷺ له خوا جوړکړای شوی کتاب گڼي، نو باید چې دوی هم د قرآن په څېر یو سورت جوړکړای وای.[۱]

## اجمالي تفسیر

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ...﴾: په دې آیتونوکې د مکې د مشرکانو په گډون ټولو خلکو ته امر شوی دی چې د یو الله عبادت وکړئ. د یو الله عبادت ته بلنه په حقیقت کې د ټولو پیغمبرانو (علیهم السلام) د دعوت مرکزي او اساسي ټکی بلل کیږي، قرآنکریم دې امرته اشاره کوي او دا راپه گوته کوي چې د ټولو پیغمبرانو دنده په اصل کې د یوه الله توحید او عبادت ته د خلکو رابلل دي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾[النحل: ۳۶]، ژباړه: یقیناً موږ په هر امت کې یو پیغمبر ولیږه (ترڅو خلکو ته ووایي) دا چې د الله بنده گي وکړئ او د طاغوت(بتانو) له بندگی څخه ځانونه وژغورئ.

د (عبادت) اصلي معنا عاجزي او بنده گي ده؛ خو په دې آیت کې ترینه د الله وحدانیت، د الله د احکامو منل او د بتانو د عبادت پرېښودل مراد دي چې دې ته تشریعي عبادت وایي. همدارنگه یو بل ډول عبادت هم شته چې د تکویني عبادت په نامه یادیږي اوهغه دا چې د اللهﷻ ټول کاینات او موجودات دنده لري چې د اللهﷻ له تکویني

۱- التفسیر المنیر، د کتور وهبه الزحیلي .

قوانینو سره سم حرکت وکړي.

د «رب» کلمه د پیداکوونکي، مالك اوپالونکي په معنا راغلې ده. دا مبارك آیت خلك د یو الله عبادت ته رابولي او د عبادت پایله او نتیجه هم دوی ته روښانه کوي او هغه دا چې د الله ﷻ عبادت وکړئ، ترڅو د عبادت په پایله کې تقوی او پرهیزګارۍ ته ورسیږئ.

﴿الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً...﴾ الله تعالی ټول انسانان په هغو لویو نعمتونو، چې دوی ته ببښل شوي دي، خبروي چې له خپل عقل څخه کار واخلي او هغه لوی حق چې الله يې پر دوی لري، وپېژني، نوڅکه د ځمکې او آسمان پیدایښت، له آسمانه څخه د رحمت د اوبو نازلولو او د ډول، ډول میوو خلقت ته اشاره کوي، چې کوم قوانین پر دوی حاکم دي او څوك د دې ستر عالم اړیکې تنظیموي.

﴿وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا...﴾: الله تعالی د دې تر څنګ چې خلك د هغه د مخلوقاتو د خلقت د نښونښانو په اړه تفکر او سوچ کولو ته رابولي، هغوی پر دې هم خبروي چې الله تعالی د دوی د لارښوونې او هدایت لپاره داسې قرآن رالیږلی دی چې د هغه په حقانیت کې هېڅ شک او تردید نشته او کوم خلك چې په هغه کې شك کوي له هغوی څخه يې غوښتي او اخطار يې ورکړی دی چې که تاسې دا شك لرئ، چې قرآن د الله کتاب نه دی، نو تاسې راشئ او د هغه په څېر یو سورت جوړکړئ او خپل مرستیالان او ملګري هم راوغواړئ. قرآنکریم په داسې حال کې عربو ته دا بلنه او اخطار ورکړ چې هغوی د بلاغت او فصاحت په لوړو پوړیو کې وو، خو هېڅ هم د هغه مقابله ونشوای کړای اونه يې د هغه د آیتونو په څېر کوم آیت جوړ کړ.

د قرآنکریم د دې بې ساري بلاغت یوه ستره ګټه بشریت ته دا وه چې د الله تعالی دغه کتاب له هر ډول تحریف، تغیر او لاس وهنې څخه خوندي پاتې دی اود نورو آسماني کتابونو په څېر په هغه کې تحریف او تغیر نه دی راغلی اونه به راشي.

قرآنکریم په آخري آیت کې مشرکانو ته خطاب کوي او داسې فرمايي: که چیرې تاسې د قرآن په څېر د یوه سورت له جوړولو څخه عاجز شوئ (چې د تل لپاره به يې مقابله ونشئ کولای) نو باید تصدیق يې کړي، چې دا د الله کلام دی او په دې سره خپل ځانونه د دوزخ له هغه اوره څخه وژغورئ چې د سون مواد (خس او خاشاك) يې انسانان او تیږې دي او د کافرانو لپاره تیار شوی دی. دا چې د دوزخ د سون مواد انسانان اوتیږې دي په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې دوزخ ډېر بد ځای او د ډېر سخت سوځوونکي اور لرونکی دی.

**فعالیت**

الله تعالی په یادو شویو آیتونوکې څو لویو نعمتونو ته اشاره کوي چې الله تعالی پر انسانانو پیرزو کړي دي، د دغو نعمتونو په اړه بحث او خبرې وکړئ او د هریوه نعمت ګټې څرګندې کړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې له پورتنیو آیتونو څخه په ډاګه کېږي، په لاندې ډول دي:

☆ انسان باید د الله تعالی د نعمتونو او احسانونو په وړاندې چې دی یې جوړ او روغ پیداکړی دی، ځمکه، آسمان او ټول نعمتونه یې د ده د خدمت لپاره چمتو کړي دي، شکر ایستونکی وي؛ د الله په وحدانیت اقرار او د احکامو اطاعت یې وکړي.

☆ قرآن کریم له یوه ځانګړي اسلوب او طریقې څخه برخمن دی چې د نزول له مهاله تر نن ورځې پورې هیڅوک پر دې نه دی توانېدلی چې د قرآن په څېر کوم آیت جوړ کړي، تر نن ورځې پورې چې په دې اړه کومې هلې ځلې شوي دي ټولې له ناکامی سره مخ شوي دي او تر قیامته پورې به ناکامې وي؛ ځکه قرآن د الله تعالی کتاب دی او هغه یې د ساتنې ژمنه کړې ده.

☆ انسان باید د الله تعالی په وحدانیت، د پیغمبر ﷺ په رسالت او د قرآن کریم په حقانیت، ټینګ ایمان او عقیده ولري.

☆ هر انسان مکلف دی، ترڅو خپل ځان له هغه اوره څخه وژغوري چې د سون مواد یې انسانان اوکاڼي دي او الله تعالی هغه دکافرانو لپاره تیارکړی دی.

### پوښتنې

١ - لاندې کلمې معنا کړئ:

**{اعبدوا} {ربکم} {تتقون} {فراشاً} {أنداداً} {شهداءکم} {وقود} {أعدت}.**

٢ – د قرآن کریم اعجاز په څه کې دی؟ په دې اړه خپل دلیلونه څرګند کړئ.

٣- قرآن کریم څرنګه کفار مقابلې ته رابللي دي؟

٤- په (٢٢) آیت کې ځینو نعمتونو ته اشاره شوې ده، هغه نعمتونه څه دي؟

٥ - دوزخ دکومو خلکو لپاره تیارشوی دی؟ له یادو شویو آیتونو څخه کوم آیت پرې دلالت کوي؟

٦- ذکرشوي آیتونه له شلو تېرو شویو آیتونو سره څه تړاو لري؟

### کورنۍ دنده

د محمد ﷺ د رسالت او نورو آسماني رسالتونو تر منځ د مشترکو وجوهاتو او اختلافي ټکو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له اتوکرښو څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۲۵ - ۲۷) آیتونه

﴿ وَبَشِّرِ الَّذِين آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا
مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقاً قَالُواْ هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهاً وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا
خَالِدُونَ ﴿٢٥﴾ إِنَّ اللّهَ لاَ يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلاً مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُواْ فَيَعْلَمُونَ
أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَذَا مَثَلاً يُضِلُّ بِهِ كَثِيراً وَيَهْدِي بِهِ
كَثِيراً وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلاَّ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٦﴾ الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ
اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ أُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾ ﴾

## د ځینوکلمو معنا

{ بَشِّرِ} د امر فعل دی، یعنې: زیری ورکړه.

{ أُتُواْ بِهِ} را ورلای شي دوی ته هغه.

{ لاَ يَسْتَحْيِي} شرم او حیا یې د بیان څخه نشي ګرځېدلی.

{ بَعُوضَةً} ماشی.

{ يُضِلُّ} ګمراه کوي.

{ يَنقُضُونَ} ماتوي.

{ مِيثَاقِهِ} د هغه ترون.

{يَقْطَعُونَ} غوڅوي، پرې کوي.

{ يُوصَلَ} پیوست (پیوند) شي.

{ الْخَاسِرُونَ} زیانکاران.

## ژباړه

او زیری ورکړه (ای محمده!) هغو کسانو ته چې (په ټولو مؤمن به شیانو) یې ایمان راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) په دې، چې بېشکه دوی ته جنتونه دي چې د هغو (ترمانیو او ونو) لاندې ویالې بهېږي، کله، چې دغو (جنتیانو) ته د خوړلو لپاره له جنتونو څخه څه میوه روزي ورکړل شي، نو دا (جنتیان) وایې دا همغسې میوه ده چې پخوا لدینه موږ ته راکړای شوې وه او را به ورلای شي دوی ته همرنګه میوه (اوېه خوند کې سره بیله) او دوی ته به په دغو (جنتونو) کې ښې پاکې ستره ښځې وي، او وي به دوی په دغو (جنتونو) کې د تل لپاره.

بېشکه الله نه پرېږدي (دا خبره) چې بيان کړي يو مثال (له مثالونو څخه)، په ماشي سره وي يا له هغه نه پورته، نو هغه کسان چې مؤمنان دي (په يقين سره) پوهېږي، چې بېشکه دا مثال حق دی له ربه د دوی څخه او هر هغه کسان چې کافران شوي دي، نو (له ډېرې ناپوهۍ او عناد څخه) وايي چې الله تعالی په دې مثال سره د څه شيز اراده کړې ده. (الله داسې اراده کړې ده چې) ډېر خلګ په دې مثال سره ګمراه کوي او ډېرو خلکو ته په دې سره (د حق) سمه لار ښيي او الله نه ګمراه کوي په دې مثال سره مګر فاسقان .

هغه کسان، چې د الله عهد وروسته له محکموالي د هغه، ماتوي او هغه چې الله په هغه سره حکم کړی دی چې پيوند دې کړای شي، پريکوي او په ځمکه کې فساد کوي، دغه کسان همدوی (په دنيا او عقبی کې) زيانمن دي.

## د آيت د نازلېدلو سبب

ابن جرير طبري په خپل تفسيرکې ليکلي دي: کله چې الله تعالی د منافقانو لپاره دوه مثالونه: ﴿مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَاراً﴾ او ﴿أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاء﴾ بيان کړل، منافقانو وويل: الله له بيان شويو مثالونو څخه ډېر لوی دی چې د داسې وړو شيانو مثالونه بيان کړي. الله تعالی د دوی د ويناوو په رد کې دا ﴿إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي...﴾ مبارک آيت نازل کړ.

## اجمالي تفسير

﴿وَبَشِّرِ الَّذِين آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ...﴾ الله تعالی په دې آيتونوکې د مؤمنانو او پرهيزګارانو اجر بيانوي، ترڅو په دې وسيله د مؤمنانو (چې په قرآن کريم ايمان لري) او کافرانو (چې د قرآن کريم په حقانيت ايمان نه لري) تر منځ پرتله وکړي؛ ځکه د تېر لوست په آيتونوکې د هغو خلکو د حالاتو څېړنه شوې وه چې د قرآن په حقانيت يې ايمان نه درلوده له همدې کبله قرآن پيغمبرﷺ ته امر کوي، ترڅو هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه يې ترسره کړي دي د جنت زيری ورکړي او بيا ورته د جنت ستاينه کوي چې د ونو لاندې يې ويالې بهيږي او همدارنګه په جنت کې جنتيانو ته هغه نعمتونه ورکول کېږي چې په شکل او ظاهرکې د دنيوي نعمتونو په شان دي، ترڅو هغوی ته نا آشنا ښکاره نشي. په يوه حديث کې راغلي دي: "په جنت کې داسې نعمتونه دي چې نه سترګو ليدلي او نه غوږو د هغو په هکله څه اورېدلي، آن تردې چې د انسان په زړه کې د هغو د خرنګوالي په اړه څه نه وي تېرشوي".

د جنت د مېوو له اوصافو څخه دا جوته کيږي چې د جنت مېوې په ظاهره د دنيا د مېوو په څېر دي، خو د ماهيت او کفيت له مخې له هغو څخه غوره او په بشپړه توګه توپير لري.

د جنتيانو لپاره بل ډول نعمت هغه پاکې ببيانې دي چې په ديني نصوصو کې ورڅخه د «حورالعين» په نامه

تعبیرشوی دی.له حورالعین څخه هغه ښځې مراد دي چې د جنتیانو په چوپړکې دي او له هر ډول عیب او نیمګړتیا څخه خالي او پاکې دي .

﴿إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي أَن يَضْرِبَ مَثَلاً...﴾: لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، الله تعالی په دې آیت کې د منافقانو اعتراض ته داسې ځواب وایي: د دې لپاره چې د بشر پر روح او نفس باندې سمه اغېزه وشي الله تعالی له هر ډول وسیلې څخه کار اخلي، تر دې چې د وړوشیانو لکه ماشي یا له ماشي څخه د لویو او یا وړو شیانو د مثال په بیانولو کې هم شرم نه کوي، ځکه چې ټول د الله تعالی مخلوقات دي او د هر یو مخلوق په وجود کې ډېر زیات حکمتونه نغښتي دي. الله تعالی غواړي، ترڅو په دې سره د مؤمنانو یقین او ایمان زیات شي او دکافرانو اعتراض دوه برابره کړي. د دغو مثالونو په بیانولو سره الله تعالی ډېر کسان ګمراه کوي او ډېرو نورو ته د هدایت په لور لارښوونه کوي. په واقعیت کې الله تعالی یوازې منافقان دګمراهی په ګرداب کې لاهوکوي، ځکه هغه خلک چې په الله تعالی ایمان لري، د هغوی یقین د الله تعالی په کلام سره نور هم زیاتیږي، خو هغه کسان چې په زړونو کې یې د کفر او شک رنځ ځای نیولای دی، د ایمان نه راوړلو له کبله یې دا شک او شبهه نوره هم زیاتیږي.

﴿الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ...﴾: په دې آیت کې الله تعالی په لنډو او له معناوو ډکو الفاظو سره منافقین معرفي کوي او داسې فرمایي: منافقان هغه کسان دي چې له الله سره خپلې کړې وعدې او ژمنې ماتوي، د الله تعالی امرونه او احکام تر پښولاندې کوي او د ځمکې پر مخ فساد خوروي. هرڅوک چې د ځمکې پر مخ فساد خوروي او فتنې راپیدا کوي، هغوی به په خپله تاواني وي اویه ستونزو او بدبختیو کې به ډوب وي، په دنیا کې به رسوا او شرمېدلي وي او په آخرت کې به اور ته واچول شي.

په دې آیت کې الله تعالی د فاسقانو او هغو کسانو چې د الله تعالی له اوامرو څخه سرغړونه کوي، درې اساسي صفتونه بیانوي:

١- دا چې کله دوی له الله تعالی سره وعده وتړي، نو وروسته له تړلو یې بېرته ماتوي.

٢- دا چې دوی د مؤمنانو دوستي او صله رحمي بې ارزښته ګڼي، د الله تعالی له دین څخه مخ اړوي او هغه څه پرې کوي چې الله تعالی یې په تړلو او پیوند کولو امرکړی دی.

٣- دا چې دوی د ځمکې پر مخ د فساد په خپرولو لاس پورې کوي.

**فعالیت**

د وعدې او ژمنې د ماتولو او د صله رحمی د غوڅولو په هکله بحث اوڅېړنه وکړئ او د هغو د پرې کولو زیانونه روښانه کړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې له یادو شویو آیتونو څخه لاس ته راځي، په لاندې ډول دي:

☆ باید یقین ولرو، چې الله تعالی د مؤمنانو نېکې کړنې نه ضایع کوي، بلکې هغوی ته د نیکۍ جزا ورکوي، هغوی جنت ته داخلوي او د جنت له نعمتونو څخه یې برخمن کوي.

☆ هغه مېوې چې په جنت کې مؤمنانو ته ورکول کیږي په بڼه او رنګ کې د دنیا د میوو په څېر دي، خو په ماهیت، خوند او فایده کې ډېر غوره والی لري.

☆ کومې جنتي حورې چې د مؤمنانو په چوپړ کې به وي، له هر ډول عیب او نقص څخه پاکې دي او کوم مؤمنان چې له دغوحورو څخه برخمن کیږي، هغوی به د تل لپاره په جنت کې اوسیږي.

☆ ټولې هغه چارې او امور چې الله تعالی پرې انسان خبروي، په هغو کې دکوم شک او مناقشې ځای نشته، نو انسان باید پر دغو ټولو چارو عقیده ولري او له اعتراض څخه دې ځان وژغوري.

☆ فاسقان درې نښې لري: له الله سره وعده او ژمنه ماتول، د صله رحمی پرې کول اود ځمکې پر مخ فساد خپرول.

☆ کله چې انسان له خپل پروردګار څخه لرېوالی اختیار کړي، نو په دنیا او آخرت کې به زیانمن شي او د دې کار ناوړې پایلې به وګوري.

### پوښتنې

۱ - لاندې کلمې معنا کړئ:

{متشابهاً} {ازواج مطهرة} {ینقضون} {میثاقه} {یقطعون}.

۲- د دې لوست آیتونه مؤمنانو ته څه زیری ورکوي؟

۳ - وروستی آیت د فاسقانو کومو صفاتو ته اشاره کوي؟

٤- د دویم مبارک آیت د نازلېدلو سبب بیان کړئ؟

### کورنۍ دنده

د ځمکې پر مخ د فساد کولو ګناه په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسوکرښوڅخه کمه نه وي.

## د (البقرة) سورت (۲۸ - ۳۴) آیتونه

﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِي
خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاء فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ
﴿٢٩﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ
الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا
ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبْحَانَكَ لاَ عِلْمَ
لَنَا إِلاَّ مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ فَلَمَّا أَنبَأَهُمْ بِأَسْمَآئِهِمْ
قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾ وَإِذْ
قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾

### د ځینوکلمو معنا

{ كُنتُمْ} (د ماضي فعل د مخاطب د جمعي صیغه ده) یعني: تاسي وئ.

{أَحْيَاكُمْ} تاسو یې ژوندي کړئ.

{يُمِيتُكُمْ} تاسي مړه کوي.

{يُحْيِيكُمْ} تاسي ژوندي کوي.

{تُرْجَعُونَ} تاسي ورګرځول کیږئ.

{فَسَوَّاهُنَّ} نو هغه یې برابرکړل.

{جَاعِلٌ} پیداکوونکی، ګرځوونکی.

{يَسْفِكُ} تویوي.

{نُسَبِّحُ} موږ ستا حمد، ثنا او تسبیح وایو، ستا پاکي بیانوو.

{عَلَّمَ} وښودل.

{عَرَضَهُمْ} هغه یې وړاندي کړل.

{أَنبِئُونِي} ماته خبر راکړئ.

{أَنبِئْهُم} دوی ته خبر ورکړه.

{تُبْدُونَ} تاسي یې ښکاره کوئ.

{تَكْتُمُونَ} تاسي یې پټوئ.

{أَبَى} انکار یې وکړ.

### ژباړه

څرنګه په الله باندي کافران کیږئ، حال دا چي تاسي (د خپلو پلرونو په اصلابوکي) مړه وئ، بیا یې (د روح په درکولو سره) ژوندي کړئ، بیا به تاسي مړه کړي، بیا به مو (په بعث سره) ژوندي کړي او بیا به خاص همده ته (د خپلو اعمالو جزاء لپاره) وروستل شئ. الله هغه ذات دی چي تاسي ته یې ټول هغه شیان چي په ځمکه کي دي پیداکړي، بیا یې (د) اسمان (پیداکولو) ته قصد وکړ، نو برابر یې کړل اووه آسمانونه او دی په هر څه باندي ښه عالم دی. یادکړه (ای محمده!) هغه وخت چي پروردګار ستا پرښتوته وویل چي بېشکه زه ګرځوونکی (پیداکوونکی) یم په ځمکه کي د یوه خلیفه، نو پرښتو وویل: آیا ته په ځمکه کي هغه څوک (خلیفه) ګرځوې، چي هغه پکي فساد کوي او (په ناحقه

سره) وینې تویوي، حال دا چې موږ ستا په ثنا سره تسبیح وایو او تاته نسبت د پاکي کوو. (الله ﷻ) وویل: بېشکه په هغو اسرارو، چې زه پوهېږم تاسې پرې نه پوهېږئ. (الله ﷻ) آدم ﷺ ته (د پاسنیو او ځمکنیو شیانو) ټول نومونه وښودل، بیا یې هغه ټول پرښتو ته وړاندې کړل، نو یې وویل: ماته د دې شیانو د نومونو خبر راکړئ که یئ (په خپله دغه وینا کې) رښتیني. پرښتو وویل: تا لره (له ټولو عیبونو او اعتراضونو) پاکي ده، موږ لره هیڅ علم نشته، مګر په هغه شي چې تا موږ ته ښودلی دی، بېشکه همدا ته ښه عالم او د ښه حکمت څښتن یې. (الله ﷻ) وویل: ای آدمه! دوی په نومونو د دې شیانو خبرکړه. کله چې آدم د هغو شیانو په نومونو دوی خبر کړل، (الله ﷻ) وویل: آیا ما تاسو ته نه وو ویلي، چې بېشکه زه د آسمانونو او ځمکې په پټو شیانو پوهېږم او پر هغو شیانو چې تاسې یې په (ژبه) ښکاره کوئ او په هغو شیانو چې یې (په زړونوکې) پټوئ. یاد کړه (ای محمده!) کله چې موږ پرښتوته وویل: آدم ﷺ ته (د تحیې او احترام سجده وکړئ، پس دوی (ټولو) پرته له ابلیس نه سجده وکړه، (ابلیس له سجدې څخه) مخ واړاوه او لویې یې وکړه او دی (لا له پخوا څخه د الله ﷻ په علم کې) له کافرانو څخه و.

**لنډ تفسیر**

﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتاً...﴾ الله تعالی د دې سورت په (۲۷) آیت کې د فاسقانو صفتونه بیان کړي اوبیا د تعجب، انکار او رټنې په طریقه له هغوی څخه پوښتنه کوي او خپل نعمتونه وریادوی چې څرنګه تاسې د پروردګار له الوهیت او ربوبیت څخه انکار کوئ، په داسې حال کې چې تاسې د نطفې په بڼه د خپلو پلرونو په ملاوو کې وئ یعنې مړه وئ، شتون مو نه درلود، الله تعالی هغه وخت تاسې ژوندي کړئ چې د مورګانو په رحِمونو کې وئ او بیا دنیا ته په راتګ سره یې تاسې د ژوند د ارزښتناکو صفتونو؛ لکه: عقل، شعور او د حواسو په درک کولو سره ژوندي کړئ او ستاسې د ګټې لپاره یې ډول ډول خواړه پیدا کړل، په پای کې د خپل ژوند په بشپړېدلو او د اجل په رارسیدلوسره یوځل بیا د مرګ میلمانه کېږئ او وروسته له مرګه بیا تاسې د حساب او کتاب لپاره د الله تعالی په امر راژوندي کیږئ.

﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً...﴾: د دې لوست په دویم آیت کې الله تعالی د انسان د پیدایښت له موضوع وروسته د یوه بل نعمت یادونه کوي چې ځمکه، آسمانونه او د ځمکې پر مخ ټول شیان یې د انسان د هوساینې او ګټې لپاره پیدا کړي دي، او داسې فرمایي: الله تعالی هغه ذات دی چې د ځمکې د مخ ټول شیان یې ستاسې لپاره پیدا کړي دي، د ځمکې پرمخ یې له نباتاتو اوڅارویو څخه نیولې ترغرونو، معدنونو او داسې نورو پورې د انسان د راحت اوګټې لپاره پیدا کړي او له هغه وروسته یې قصد وکړ، ترڅو پاسني شیان پیدا کړي، چې هغه یې د اوو آسمانونو په شکل پیدا کړل. یعنې کله چې الله تعالی د (کن فیکون) په امر سره د ځمکې بشپړ تخلیق وکړ او په هغې کې یې د ژوند کولو زمینه برابره کړه، بیا یې د آسمانونو په تخلیق پیل وکړ اوهغه یې په اوو فلکو یا اوو طبقو کې بشپړ کړل؛ نوځکه د دې آیت په پای کې راغلي: الله په هرڅه پوه دی.

الله تعالی د آسمانونو او ځمکو ترمنځ د تکامل او اړتیا اړیکې پیدا کړې او هغه تعالی دی چې د دې دواړو یو بل ته په ضرورتونو او اړتیاوو ښه پوهېږي او په هغوکې یې داسې ځانګړتیاوې پیدا کړې دي چې بشري اړتیاوې بشپړې کړي.

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً...﴾: په دې آیت کې الله تعالی د نورو نعمتونو یادونه کوي چې په ټول بشریت یې پیرزوکړي اوهغه د آدم ﷺ د پیدایښت موضوع ده چې د پیدایښت کیسه یې دلته ذکرشوې ده.

الله تعالی دې موضوع ته اشاره کوي چې آدم اوحواء د ځمکې پر مخ پیدا کوي، ترڅو د الله د ځمکې پر مخ د خلافت دنده د هغوی پر اوږو کېږدي، خو پرښتې له دې الهي هوډ څخه په حېرت کې شوې او پوښتنه یې وکړه: څرنګه د ځمکې پر مخ داسې څوک خلیفه پیدا کوې، چې د ځمکې پر مخ د وینو بهولو او فساد کولو لامل ګرځي؟ پداسې حال کې چې موږ تل ستا په پاکی اوعبادت کې مشغول یو.

په دې معنا چې که چېرې ستا د پاکی بیانول لازم وي، نو موږ د تل لپاره پر هغې لګیا یو او که د خلافت د وړتیا مسئله وي نو موږ د دې لوړ مقام لپاره وړ او مناسب یو.

دا چې پرښتې له کومه ځایه پوهېدلې چې انسان وروسته له پیدایښت څخه د ځمکې پر مخ فساد خپروي او وینې تویوي؟ په دې اړه مختلفې نظریې شتون لري، له دغو نظریاتو څخه یوه نظریه دا ده چې انسانان یې پر پیریانو قیاس کړل؛ ځکه مخکې له انسانانو څخه جنیاتو، د ځمکې پر مخ ژوند کاوه او وینې یې تویولې او فسادونه یې کول، نو پرښتې له هغو څخه وپوهېدې چې که چیرې انسان هم پیداشي، همدغسې کارونه به وکړي. بل نظر دا دی، چې پرښتو دا موضوع په لوح محفوظ کې لوستلې وه.

﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا...﴾: الله تعالی د پرښتو د پوښتنې په ځواب کې او د دې لپاره چې د بني آدم د خلقت حکمت هغوی ته څرګند کړي، د آدم عليه السلام په وجود کې یې داسې قوت او ځواک کېښود، چې د هغه په مرسته آدم عليه السلام د ټولو شیانو نومونه زده کړل، بیا یې د یادو شیو شیانو د نومونو په اړه له پرښتو څخه پوښتنه وکړه، ترڅو معلومه شي چې آیا دوی حقیقتاً د خلافت (نیابت) وړتیا لري او که چیرې یې ولري، باید له یادو شیو معلوماتو څخه خبر وي، خو پرښتو پر خپلې بیوسی اعتراف وکړ او ویې ویل: موږ پرته له هغه چې تا راښودلي دي، نورهیڅ پوهه نلرو. په پای کې دې پایلې ته ورسېدلې چې د خلافت دنده بشپړو او کاملو معلوماتو پورې تړاو لري، نوځکه یې وویل: (ښېشکه یوازې ته د کامل علم څښتن یې) او کله چې پرښتو د یادو شیو شیانو د نومونو له ښودلو څخه خپله بیوسي بیان کړه اواعتراف یې وکړ، نو الله جل جلاله آدم عليه السلام ته امر وکړ چې ای آدمه! د یادو شیو شیانو نومونه دوی ته بیان کړه، البته په دې دستور کې حکمت دا و، ترڅو ملایکې ډاډمنې شي چې آدم عليه السلام او اولاده یې (انسانان) کولای شي چې د خلافت دنده په ښه توګه ادا کړي. کله چې آدم عليه السلام د هغو شیانو په اړه معلومات ورکړل، الله جل جلاله پرښتو ته وویل: آیا ما تاسوته نه وو ویلي چې زه د آسمانونو او ځمکو په پټو شیانو پوهېږم او په هغه څه هم خبر یم، چې تاسو یې ښکاره کوئ او یا یې پټوئ.

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ...﴾: په دې وروستي آیت کې د آدم عليه السلام بهتري اوغوره والي ته اشاره شوې ده، الله تعالی فرمايي: کله چې مو پرښتو ته وویل: آدم عليه السلام ته سجده وکړئ، ټولو سجده وکړه پرته له ابلیس نه چې کبر یې وکړ، له سجدې څخه یې سرغړونه وکړه، د الله امر ته تسلیم نشو او ویې ویل: ﴿أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ﴾. یعنې: زه له آدم عليه السلام نه غوره یم، ځکه چې زه دې له اوره پیدا کړی یم اوهغه دې له ختې څخه.

آدم عليه السلام ته د پرښتو سجده دعبادت سجده نه وه، بلکې د تعظیم اواحترام سجده وه چې په ځینو تېرو شویو امتونو کې روا وه، خو د اسلام په راتګ سره منع شوه.

### فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته په څمکه کې د انسان د خلافت د سترمقام او دا چې خلافت د هغه پر اوږو څه مسؤولیتونه ږدي، له یو بل سره بحث او خبرې اترې وکړي.

## د لوست ګټې

یاد شوي مبارک آیتونه ډېرې ګټې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

☆ الله تعالی پر بشریت بې شمېره نعمتونه پېرزو کړي دي، نو موږ لره ښایي چې د هغو په بدل کې د الله تعالی شکراداکړو، خپل عبادتونه په سمه توګه ادا او خپل ژوند د الهي دین په دایره کې سمبال کړو.

☆ دا چې الله تعالی د ځمکې پرمخ ټول شیان د بنده ګانو د ښېګڼې لپاره پیدا کړي دي، نوهېڅوک د دې حق نه لري چې هغه څه حرام کړي، کوم چې الله تعالی حلال ګرځولي دي.

☆ پر ځمکې او آسمانونو باندې حاکم دا دقیق او ټینګ نظام یوازې د الله تعالی د حکیم او علیم ذات له خوا رامنځته شوی دي او همهغه یې ساتنه کوي.

☆ بنده حق نه لري چې د الله تعالی د اوامرو او لاربښوونو په وړاندې اعتراض وکړي، یا د ولې او څرنګه په اړه څېړنه او بحث وکړي؛ ځکه په عباداتو کې اصل څیز، خالص تسلیمېدل دي او وروسته له قبولی او تسلیمی څخه که د هغو د حکمتونو په اړه د انساني عقل تر حده بحث اوڅېړنه وشي، نو کوم اشکال نه لري.

☆ الله تعالی آدم عليه السلام او ټول بشریت ته عزت، برتري اوغوره والی وربښلی او د نورو مخلوقاتو په پرتله یې له لوړې مرتبې څخه برخمن کړي دي، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې راغلي دي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾.

☆ انسان باید دګټورو علومو لاس ته راوړلو لپاره خپل ځان بشپړاو تکمیل کړي، ځکه چې الله تعالی هغه له دې استعداد څخه برخمن کړی دی اوهمدارنګه پرهغه لازم دي چې کوم علوم زده کوي، هغه نوروته هم ورسوي.

### پوښتنې

۱ – لاندې کلمې معنا کړئ:

{فأحياكم} {فسواهن} {خليفة} {يسفك} {نقدس} {أنبئوني} {ماتبدون} {أبى}.

۲ – الله تعالی انسان ته ډېر زیات نعمتونه وربښلي، له هغو څخه دوه نعمتونه بیان کړئ.

۳ – د ﴿اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ﴾ معنا بیان کړئ.

٤ – پرښتو د انسان د فساد خورولو په اړه له کومه ځایه معلومات ترلاسه کړل؟

٥ – الله تعالی آدم عليه السلام ته ولې امر وکړ، ترڅو پرښتو ته د شیانو نومونه وښیي؟

### کورنۍ دنده

له انسان سره د شیطان د دښمنۍ په اړه یوه مقاله ولیکئ او په هغې کې د قرآن کریم له نورو آیتونو، لکه: ﴿إِنَّهُ عَدُوٌّ مُضِلٌّ مُبِينٌ﴾[قصص:۱٥]، ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾ [البقرة:۲۰۸] او ﴿أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِي وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ﴾ [الکهف:٥۰] څخه استفاده وکړئ.

# د (البقرة) سورت (۳۵ - ۴۱) آیتونه

﴿ وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَداً حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ
الْظَّالِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَا اهْبِطُواْ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ
فِي الأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ
﴿٣٧﴾ قُلْنَا اهْبِطُواْ مِنْهَا جَمِيعاً فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ
﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرواْ وَكَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ
نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُواْ بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٤٠﴾ وَآمِنُواْ بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقاً
لِّمَا مَعَكُمْ وَلاَ تَكُونُواْ أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلاً وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿٤١﴾ ﴾

## د ځينو كلمو معنا

{اسْكُنْ} واوسېږه.

{كُلاَ} وخورئ تاسي دواړه.

{رَغَدا} پريمانه، ډېر.

{شِئْتُمَا} ستاسو (دواړو) خوښه وي.

{أَزَلَّهُمَا} دواړه يې وښويول، ولمسول.

{اهْبِطُواْ} ښكته شئ، كوز شئ.

{مُسْتَقَرٌّ} د اوسيدو او استوګنې ځاى.

{مَتَاعٌ} هغه څه چې انسان تري ګټه اخلي، لكه: د خوړلو، څښلو، اغوستلو او داسې نور توكي.

{حِينٍ} د قيامت تر ورځې پورې، د مرګ تر رسيدنې. د عربي ژبې په اصطلاح كې «حين» په يوې لږې مودې دلالت كوي.

{فَتَلَقَّى} زده يې كړ، حاصل يې كړ، په لاس يې راوړ.

{فَتَابَ عَلَيْهِ} نو هغه ته يې د توبې توفيق وركړ، د هغه توبه يې قبوله كړه.

{التَّوَّابُ} ښه توبه قبلوونكى. توبه: يعني رجوع، په دې معنا چې بنده وروسته له ګناه كولو څخه خپل پروردګار ته ورستنېږي.

{تَبِعَ هداي} پر ما ايمان راوړي، زما د پېغمبرانو پيروي وكړي، زما اوامر پر ځاى كړي.

{كَذَّبُوا} دروغ يې وګڼل، انكار يې وكړ.

{أَوْفُواْ} وفا وكړئ. د الله پر وعده وفا كول: د الله تعالى د اوامرو پيروي او له نواهيو څخه يې ځان ژغورنه ده.

{أُوفِ} وفا كوم، په خپله وعده ولاړ يم.

{إِيَّايَ} يوازې له ما څخه.

{فَارْهَبُونِ} وويرېږئ.

## ژباړه

او موږ وویل: اي آدمه! واوسیږه ته او ستا ښځه په جنت کې او (څه، چې مو زړه غواړي) د جنت له مېوو څخه مو چې هر ځیز ته خوښه وي، په پراخی او پریمانی سره یې وخورئ او (د مېوې خوړلو لپاره) دې ونې ته مه نژدې کیږئ، (که نژدې شوئ) نو له ظالمانو څخه به شئ. نو وښویول شیطان دوی دواړه له جنته (د ونې د نژدېوالي په واسطه)، نو وېې ایستل دواړه له هغه(عزت او راحت) څخه، چې دوی پکې وو او موږ وویل: کوز شئ (له جنته ځمکې ته، حال دا چې ځینې ستاسې به د ځینو نورو دښمنان وي او تاسې ته تریوه وخته پورې (چې اجل یا قیامت دی) په ځمکه کې د استوګنې ځای او د ګټې اخیستلو اسباب شته.

نو آدم له خپل پروردګار څخه څو کلمې زده کړې، پس الله د هغه توبه قبوله کړه، بېشکه همدی ښه توبه قبلوونکی ښه مهرباني کوونکی دی. موږ وویل: چې ټول له جنته کوز شئ، بیا چې تاسې ته زما له خوا کوم هدایت ورسېږي، نو څوک چې زما د هدایت پیروي وکړي، نو پر هغو به څه ویره او غم نه وي (او جنت ته به ځي). هغه کسان چې کافران شوي دي او زموږ آیتونه دروغ ګڼي، همدغه کسان د اور (دوزخ) څښتنان دي، همدوی به په هغه کې تل وي. اې بني اسرائیلو! (د یعقوب عليه السلام اولادې) یاد کړئ زما هغه نعمت چې مې پرتاسو انعام کړی دی او زما په عهد (په متابعت د نبي سره) وفا وکړئ، چې زه هم ستاسې په عهد (په دخول د جنت) وفا وکړم او یوازې له ما څخه ووېرېږئ. ایمان راوړئ په هغه کتاب چې ما نازل کړی، حال دا چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب چې له تاسې سره دی او مه کېږئ په دې (قرآن) باندې اول کافر (نه منونکي) او په لږه بیه زما آیتونه مه خرڅوئ او خاص له ما څخه ووېرېږئ.

## اجمالي تفسیر

﴿وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ...﴾: الله تعالی فرمایي: آدم عليه السلام ته مو وویل چې په جنت کې ته او بي‌بي حواء استوګنه غوره کړئ او په هغه کې په آزاده توګه هرځای چې غواړئ، ګرځئ او څه مو چې زړه غواړي هغه خورئ، خو یوازې یوې ونې ته مه نږدې کېږئ او د هغې له میوې څخه ګټه مه اخلئ چې له هغې څخه د استفادې په صورت کې به تېري کوونکي او ظلم کوونکي وګڼل شئ. شاید چې په دې ممانعت کې کومه ابتلاء او ازموینه وه، ترڅو انسان وازمایي چې خیر ته میلان لري او که شر ته.

﴿فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا...﴾: کله چې ابلیس، آدم عليه السلام ته د سجدې نه کولو په پایله کې د لعنت وړ وګرځید، بیا یې قصد وکړ، ترڅو آدم عليه السلام وښویوي، دې کارته یې ملا وتړله او تر قیامته پورې یې دا کارخپله دنده وګڼله. هغه د تل لپاره زیار باسي، ترڅو د آدم اولاده (ټول بشریت) ګمراه کړي. الله تعالی غواړي چې د ابلیس حقیقت څرګند کړي او خلک د هغه له پیروۍ څخه منع کړي.

په جنت کې د استوګنې امر او د جنت له ټولو نعمتونو څخه ګټه پورته کول، هغه لومړنی امر دی چې انسانیت ته متوجه شوی دی او له منع شوې ونې څخه منع، هغه لومړنی نهې ده چې بشریت ته متوجې شوې ده. شیطان دوی دواړو(آدم او حواء) علیهما السلام ته دوکه ورکړه او هغوی یې له جنت او د جنت له نعمتونو څخه محروم کړل او شیطان دا کار یوازې د حسد پراساس چې له آدم عليه السلام سره یې درلود، ترسره کړ.

شیطان څرنګه دا دوکه سرته ورسوله او په څه ډول جنت ته داخل شو؟ په دې اړه ډېرې کیسې روایت شوي دي چې زیاتره یې د یهودو او نصاراو له اسرایلیاتو څخه دي، مناسبه دا ده چې په کومه اندازه قرآن کریم ورته اشاره کړې ده، اکتفا وکړو او په دې پسې و نه ګرځو چې هغه ونه او یا مېوه څه وه او نه هم خپل وخت د شیطان د وسوسو اچولو په کیفیت مصرف کړو. دلته مهمه دا ده چې پر دې وپوهیږو چې الله تعالی آدم عليه السلام د ازمېښت په ډول د یو ځیز له خوړلو

ځخه منع کړ، خو آدم او حوا (علیهما السلام) بې له قصده د شیطان د وسوسو له امله هغه ځیز وخوړ. څرنګه چې آدم‌عليه‌السلام دا کار قصدا ترسره نه کړ، نو نشو کولای چې دې کار ته ګناه ووایو، ځکه انبیاء (علیهم السلام) له ګناه ځخه معصوم دي، خو سره له دې بیا هم داسې ښویدنه د پیغمبرۍ له مقام سره مناسبه نه وه، نو له دې امله الله تعالی د دې تېروتنې په عکس العمل کې امر وکړ، چې له جنت ځخه ووځئ اوځمکې ته کوزشئ. الله تعالی د دغې ښویدنې په پایله کې هغوی د جنت له ستر نعمت ځخه محرومه کړل، ځمکه یې ورته د استوګنې لپاره غوره کړه او په ځمکه کې یې د هغوی لپاره د ژوند تېرولو زمینه برابره کړه، ترڅو په هغې کې خپل ژوند ته دوام ورکړي.

﴿فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ...﴾. یعنې: هغه مهال چې آدم‌عليه‌السلام الهي ملامتیا واوریدله او له جنت ځخه ووت، د پښیمانتیا په حالت کې په دعا مشغول شو، الله تعالی هغه ته د دعا ځو کلمې وروښودې، ترڅو د هغو په واسطه توبه وکړي. مفسرین هغه دعا د (الأعراف) د سورت دا مبارک آیت بولي: ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [الأعراف: ۲۳]، الله تعالی د دې یادې شوې دعا له برکته د هغه توبه قبوله کړه.

﴿قُلْنَا اهْبِطُواْ مِنْهَا جَمِيعاً فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى...﴾: الله تعالی په دې دوو آیتونو کې داسې فرمایي: که تاسوته زما له خوا (د پیغمبرانو په واسطه) کوم هدایت او لارښوونه راغله، نو هغه کسان چې زما د لارښوونو او احکامو پیروي وکړي، هغوی ته به هېڅ وېره او پریشاني ونه رسیږي.

وېره هغه ډار او اندیښنه ده، چې د مصیبت د واقع کېدو پر مهال انسان ته پیداکیږي، خو (حزن) هغه غم اوپریشاني ده، چې وروسته له مصیبت ځخه منځته راځي.

﴿وَالَّذِينَ كَفَرواْ.......﴾ او چاچې کفر غوره کړ او د الله د اوامرو نافرماني یې وکړه او د هغه آیتونه یې دروغ وګڼل، نو دا خلک د اور مستحق دي او تل به په هغه کې اوسیږي.

بیا الله جل‌جلاله بني اسرائیلو (د یعقوب اولادې) ته خطاب کوي. د (اسرائیل) کلمه د یعقوب (علیه السلام) نوم دی، چې معنا یې (د الله بنده) دی، الله تعالی فرمایي: ﴿يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ...﴾: ای د اسرائیل اولادې! یادکړئ هغه نعمتونه چې پر تاسو مې پیرزوکړي دي. یو له هغو نعمتونوځخه دا و چې د ډېرې اوږدې مودې لپاره یې نبوت په دوی کې ځای پر ځای کړی و او له همدې کبله دوی خپل ځانونه د الله غوره ملت ګاڼه، سربېره پر دې الله تعالی دوی ته د فرعون له ظلم او تېري ځخه چې د (تیه) په دښته کې حیرانه او سرګردانه ګرځېدل، نجات ورکړ. دوی یې د شام پرځمکه مسلط کړل، دوی ته یې من او سلوی نازل کړل او له تیږې ځخه یې ورته دولس چینې وبهولې او همدارنګه په سل ګونو نور نعمتونه یې ورپه برخه کړل.

بیا الله تعالی له بني اسرائیلوځخه وغوښتل، چې زما په وعده او ژمنه وفا وکړئ او زه به په هغه وعده وفا وکړم چې له تاسو سره یې کوم. د الله تعالی وعده له دوی ځخه دا وه چې پرمحمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم باندې ایمان راوړي، ځکه د الله تعالی په ټولو کتابونو او لارښوونوکې دوی ته نصیحت شوی و، چې یوازې د یو الله عبادت وکړئ، له هغه سره هیڅوک مه شریکوئ او د هغه پر رسولانو ایمان راوړئ چې د الله له لوري رالیږل کیږي او په ځانګړې توګه پر محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم باندې چې د بعثت او اوصافو یادونه یې شوې وه. بني اسرائیلو ټولې هغه وعدې چې له الله تعالی سره یې کړې وې تر پښو لاندې کړې، بد نیتي یې پیل کړه او بډو اخیستلوته یې لاسونه اوږده کړل، د حق فیصله یې پرېښوده او د بډو اخیستلو (رشوت) په بدل کې یې حق اوحدود پټ کړل حتی د انبیاوو په وژنه یې هم صرفه ونکړه، د اسلام د پیغمبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم په صفتونو کې یې چې د دوی په کتابونو کې ذکرشوي وو، بدلون راوړ، چې په پایله کې ګمراه او بې لارې شول.

﴿وَآمِنُواْ بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقاً لِّمَا مَعَكُمْ...﴾: کومه ژمنه چې له بني اسرائیلو ځخه اخیستل شوې وه هغه په قرآن کریم

باندې ایمان لرلو ته هم شامله وه، ځکه په محمد ﷺ باندې ایمان لرل، د هغه ﷺ په آسماني کتاب د ایمان لرلو مستلزم دی، له دې امله الله تعالی یهودو ته دستور ورکوي چې په قرآن کریم باندې ایمان راوړي، هغه چې د تورات د لارښوونو تصدیق کوي، نو پر دوی لازمه ده چې د قرآن کریم پر لارښوونو باندې، دنیوي مال، پیسو او منصب ته ترجیح ورنکړي او د دنیا پر مال او متاع چې په ډېره بیړه له منځه ځي، د الله ویرې او تقوی ته ترجیح ورکړي او د الهي اوامرو پیروي وکړي او له نواهیو څخه یې ځان وژغوري، ترڅو د الله له عذابه خلاصون ومومي.

### فعالیت

دا چې توبه په کومو شرطونو پورې مشروطه ده او آیا یوازې له کبیره ګناهونو او که له کبیره او صغیره ګناهونو څخه کېداي شي، زده کوونکي دې په دې اړه په خپلو کې بحث او مناقشه وکړي.

## د لوست ګټې

په یادو شویو آیتونو کې ډېرې ګټې نغښتې دي، چې ځینو ته یې اشاره کوو:

- شیطان له انسان سره تل پاتې او همیشنۍ دښمني لري، نو په هر مسلمان واجبه ده چې د شیطان له وسوسو څخه ځان وژغوري.
- دا چې انسان یوکمزوری او ضعیف موجود دی، تل په ګناه کې واقع کېږي، نو لازمه ده چې تل توبه وباسي او له الله نه بښنه وغواړي.
- څوک چې حقه لار غوره کړي، هغه تل له نفسي ډاډ او اطمینان څخه برخمن وي او څوک چې د ګمراهی په لار روان وي، هغه د تل لپاره په روحي ناقرارۍ اوحیرانتیا اخته وي. حقیقي مؤمن هغه څوک دی چې د ټولو قرآني احکامو او اوامرو پیروي وکړي او له نواهیو څخه یې ځان وژغوري.
- همدارنګه حقیقي مؤمن هغه څوک دی چې یوازې له الله تعالی څخه وېره لري او هېڅ شي یې په دې اندیښنه کې نه اچوي چې ګواکې خپله روزي او یا دنده به له لاسه ورکړي.

### پوښتنې

۱ د هغو نعمتونو یادونه وکړئ چې الله تعالی په آدم علیه السلام باندې د هغو پیرزوینه کړې وه او د پرښتو سجده آدم علیه السلام ته، په څه دلالت کوي؟

۲ – له جنت څخه د آدم او بي بي حوا -علیهماالسلام- د وتلو لامل څه و؟

۳ – د دریو هغو نعمتونو نومونه واخلئ، چې الله په بني اسرائیلو پیرزوکړي وو؟

٤ – د اسلام له پیغمبر ﷺ سره د یهودو چلند څرنګه و؟

٥ – له دې مبارك آیت ﴿وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَناً قَلِيلاً﴾ څخه مراد څه دی؟

### کورنۍ دنده

ابلیس څوک و، له آدم علیه السلام سره یې څرنګه دریځ غوره کړ او په څه برخلیک اخته شو؟ په دې اړه خپل معلومات په اتو کرښو کې ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۴۲ - ۴۸) آیتونه

﴿ وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُواْ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ
وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ
﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلاَّ عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلاَقُوا
رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ
عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ يُؤْخَذُ مِنْهَا
عَدْلٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾

## د ځينوکلمو معنا

{لاَ تَلْبِسُواْ} مه ګډوئ.

{آتُواْ} ورکړئ، ادا کړئ.

{ارْكَعُواْ} رکوع وکړئ (مقصد دلته دا دی چې لمونځ وکړئ).

{تَنسَوْنَ} تاسې هېروئ.

{اسْتَعِينُواْ} مرسته وغواړئ.

{الْخَاشِعِينَ} د الله په وړاندې عاجزي کوونکي.

{يَظُنُّونَ} يقين او باورلري.

{مُّلاَقُوا} مخامخ کېدونکي.

{أَنْعَمْتُ} انعام مې وکړ، پېرزوينه مې وکړه.

{فَضَّلْتُكُمْ} غوره مې وګرځولئ، تاسو ته مې غوره والی درکړ.

{لايُقْبَلُ} نه قبلېږي.

{لايُؤْخَذُ} نه اخيستل کېږي.

{عَدْلٌ } فديه.

## ژباړه

او مه ګډوئ حق له باطل سره او مه پټوئ حق، حال دا چې تاسې پوهېږئ [چې حق کوم دی او باطل کوم]، او قايم کړئ (په ښه ترتيب سره اداء کړئ) لمونځ او ورکړئ زکات او له رکوع کوونکو [لمونځ کوونکو مسلمانانو] سره رکوع وکړئ. آيا امر کوئ تاسې نورو خلکو ته په نېکۍ سره او خپل ځانونه هېروئ؟ حال دا چې تاسې کتاب هم لولئ، نو

آیا تاسې [د خپلو افعالو په بدۍ] نه پوهېږئ ؟

او [په هره سختۍ کې له الله نه] په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ، په یقین سره دا لمونځ ډېر درووند کار دی، مګر په عاجزي کوونکو [درووند نه دی]، هغو کسانو (باندې)، چې یقین کوي، چې بېشکه له خپل پروردګار سره مخامخ کېدونکي دي او خامخا دوی [په آخرت کې] همده ته بېرته ورتلونکي دي. ای بني اسرائیلو! یاد کړئ زما هغه لورینه، چې پر تاسو مې پېرزوکړې وه او دا چې تاسې ته مې (د خپلې زمانې) په ټولو امتونو فضیلت درکړی و. وویرېږئ د هغې ورځې [له عذابه] چې لرې کولی به نشي هېڅ نفس له هېڅ [کافر] نفس څخه هېڅ شی [له عذابه] او نه به منل کېږي، له دغه نفس څخه شفاعت (د هیچا) او نه به اخیستل کیږي له دغه نفس څخه بدل (فدیه) او نه به له دوی سره مرسته کېدای شي [په دفع د عذاب کې] .

## اجمالي تفسیر

﴿وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ...﴾: په دې مبارک آیت کې الله تعالی له یهودو څخه غواړي چې د خپلو نفساني غوښتنو لپاره، حق چې آسماني کتابونو بیان کړی، له باطل سره، چې له ځان څخه یې اختراع کوي، ګډ او خلط نکړي او حق پټ نکړي، په داسې حال کې چې دوی ښه پوهیږي چې په غلطه او ناسمه لار روان دي.

یهودو د هغو خلکو په ذهنونو کې چې د حق په اړه یې لږه پوهه درلوده، شک اوشبهه پیدا کوله، ترڅو ونشي کولای چې د حق او باطل تر منځ توپیر وکړي. باطل به یې د حق په جامه کې ښکاره کاوه او حق به یې د باطل په جامه کې، د مثال په ډول: دوی به ویل، چې محمد ﷺ پیغمبردی، خو زموږ لپاره نه دی رالیږل شوی او هغه دا نشي کولای چې زموږ دین نسخ کړي. همدارنګه هغه کسان چې له حق څخه بې خبره وو، یهودو به له هغو څخه د حق موضوع پټوله، تر دې چې د حق یوه کلمه به یې هم د هغوی په وړاندې نه څرګندوله. سربېره پر دې به یې په ناروا سره ویل: محمدﷺ دروغجن دی.

﴿وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ...﴾: بیا له دوی څخه د اسلام د دوو بنسټیزو رکنونو د قایمولو غوښتنه وشوه، الله تعالی فرمایي: لمونځ سره له ټولو آدابو، شرطونو او ارکانو ودروئ، یعنې لمونځ سره له ټولو شروطو، ارکانو او باطني آدابو، لکه: خشوع، خضوع او عاجزۍ سره اداکړئ، ترڅو د لمانځه ثمره چې یو لوی بدني عبادت دی، ترلاسه شي او په پایله کې د ناوړو اعمالو له سرته رسولو څخه ډډه وکړئ، همدارنګه دوی ته د زکات په اداکولو، چې له لویو مالي عبادتونو څخه دی، امر شوی دی، ترڅو مستحقه کسان ترې ګټه پورته کړي، چې دا امر د زړه د سپېڅلتیا، پاکۍ، انساني مشاعرو او یو تربله د مینې او محبت د رامنځته کېدو لپاره ډېر اغېزناک دی او په دې کې سستي، تقصیر او ټنبلي کول د منافقت نښه ده چې د دنیا او آخرت د شرمندګۍ لامل ګرځي.

﴿أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ...﴾: دا مبارک آیت د انکاري استفهام په اسلوب سره یهودیان زجراً او توبیخاً مخاطبوي اوفرمایي: آیا خلکو ته په نېکۍ امرکوئ او خپل ځانونه هیروئ ؟ یعنې یهودو به خپلو مسلمانو خپلوانو ته نصیحت کاوه، ترڅو په محمدي دین ټینګ او ثابت پاتې شي؛ ځکه دا دین حق دین دی، په داسې حال کې چې په خپله به یې پرې ایمان نه راووړ، الله تعالی په دې اړه فرمایي: عجیبه خبره ده چې تاسې خلکوته په نېکۍ

او ایمان امرکوئ اوخپل ځانونه هیروئ! حال دا چې تاسې تورات، چې په هغه کې د اسلام د ستر پیغمبرﷺ یادونه شوې، لولئ، نو آیا تاسې نه پوهیږئ هغه وینا (قول) چې عمل ترې مخالف وي، د هغه په اړه د الله تعالی له لوري سخت وعید راغلی دی.

﴿وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ...﴾: الله تعالی دویم ځل دوی دېته رابولي چې د سمو او صحیحو طریقو په خپلولو سره خپل خیرن زړونه پاك اوسپېڅلي کړي اوهغه دا چې په ځانونو کې د صبر او حوصلې ځواك پیاوړی کړي، داسې چې د مصیبتونو پر وړاندې صبر او زغم ولري، پر طاعاتو باندې ټینګ ولاړ وي او هم د ګناهونو او نافرمانیو د پرېښودلو هوډ ولري. له بل پلوه یې دوی ته د لمانځه په اداء کولو چې له بدیو او بې حیایېو څخه د انسان د ژغورنې سبب دی، امر کړی. بیا د دې څرګندونه کوي چې پر دې دوو خصلتونو باندې ځان عادت کول ډېر ستونزمن کار دی، خو د متواضع او غاړه اېښودونکو انسانانو لپاره دا کار کومه ستونزه نه لري. دوی په ډېرې آسانۍ سره کولای شي چې دا دوه صفتونه په ځان کې پیدا کړي.

په وروستي آیت کې قرآن کریم د (خاشعین) کلمه داسې تفسیروي، چې دوی هغه کسان دي چې له الله سره په مخامخ کېدو یقین لري.

﴿يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ...﴾: دا مبارك آیت بیا د بني اسرائیلو پام هغو نعمتونو ته را اړوي چې الله تعالی پر دوی پېرزوکړي دي، دا خطاب په واقعیت کې هغو یهودیانو ته دی چې د نبي کریمﷺ په زمانه کې یې ژوند کاوه. د دې یادونې لامل دا دی، کوم نعمتونه چې نیکونو ته ورکول کېږي، د هغو پایلې لمسیو ته هم رسیږي. د الهي نعمتونو یادونه په دې معنا ده چې دوی باید د الهي اوامرو او احکامو پیروي وکړي. دا یو فطري حقیقت دی چې هر انسان، حتی ځاروي هم له خپل مُنعم سره مینه کوي او د هغه اوامر پر ځای کوي؛ نو پر یهودو لازمه ده چې د الهي احسان په بدل کې د شکر او منني لاره غوره کړي او د الله د رسولانو له لارښوونو څخه پیروي وکړي.

﴿وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً...﴾: د لوست په دې آخري آیت کې الله تعالی مشرکین او اهل کتاب د قیامت له ورځې او د هغې له هیبتونو څخه ویروي. د قیامت ورځ هغه ورځ ده چې په هغې کې له هر چا سره د هغه د اعمالو حساب او کتاب کیږي او پرته له تقوی او اخلاصه له دغو هیبتونو او پریشانیو څخه د خلاصون بله لاره نشته. الله تعالی دا ورځ داسې یادوي: په دې ورځ کې هیڅوك نشي کولای چې له بل چا څخه ملا تړ وکړي، یا له بل چا څخه د شفاعت غوښتنه او یا د هغه شفاعت وکړي او یا د نفس په بدل کې فدیه واخیستل شي، خو په آخرت کې د مؤمنانو حالت له کفارو سره فرق لري، مؤمنان کولای شي د الله تعالی په اجازه د خپلو دوستانو او خپلوانو سپارښتنه وکړي.

**فعالیت**

دا چې اهل کتابو به څرنګه حق ته د باطل او باطل ته د حق بڼه ورکوله، په دې اړه دې زده کوونکي له یو بل سره خبرې اترې وکړي. او هم د صبر او لمونځ په هکله، چې د مؤمن لپاره د ثبات قدم نقش لوبوي، مباحثه وکړي.

## د لوست ګټې

هغه ګټې چې د دې لوست له آيتونو څخه لاس ته راځي، په لاندې ډول دي:

- لمونځ او زکات پر هرمسلمان فرض دي. حقيقي مؤمن هغه څوك دی چې د اسلامي شريعت ټول اوامر پر ځای کړي او له نواهيو څخه يې ډډه وکړي.
- حقيقي مؤمن هغه دی چې قول او فعل يې سره ورته والی ولري.
- کوم نعمتونه چې الله تعالی په انسان پيرزو کړي دي، پر انسان دا لازموي چې د الله تعالی شکر اداکړي. د الله تعالی شکر هغه وخت اداکېدای شي چې انسان د هغه احکام ومني او له منهياتوڅخه يې ځان وژغوري.
- د الله تعالی په حضورکې له هر انسان سره د هغه د اعمالو حساب کېږي. د الله له حکم پرته امکان نه لري چې څوك د چا شفاعت وکړي، همدارنګه امکان نه لري چې له يو چا څخه فديه قبوله شي او په بدل کې يې د الله له عذابه خلاصی ومومي.
- بني اسرائيل (يهود) هغه قوم دی چې د الله تعالی د نعمتونو د ناشکرۍ له امله، د هغه د عذاب وړ وګرځېدل.

## پوښتنې

١ - په لومړي آيت کې د حق او باطل له ګډولو او خلطولو څخه مراد څه دی؟

٢ - په دريم آيت کې يهوديان د مهم څيز په هکله پوښتل شوي دي، هغه څيز څه دی؟

٣ - صبر د څه په معنا دی؟ او څرګند يې کړئ چې صبر په څو ډوله دی؟

٤ - «خاشعين»د کومو صفتونو لرونکي دي؟

٥ - له ستونزو او پريشانيو سره د مخامخ کېدلو پر مهال، موږ بايد کوم صفتونه په ځان کې ولرو، ترڅو د ستونزو په وړاندې ټينګ او ثابت واوسو؟

٦ - الله تعالی بني اسرائيلو ته زيات نعمتونه ورپه برخه کړي وو، د لوست په آيتونو کې هم د يوه نعمت يادونه شوې ده، هغه نعمت په ګوته کړئ ؟

٧ - الله تعالی د آخرت په ورځ کوم خلك له شفاعت او فديې څخه محروموي اوکومو خلکو ته د شفاعت حق ورکوي؟

## کورنۍ دنده

(حقيقي او رښتينی مؤمن هغه څوك دی چې قول او عمل يې يوشان وي).

د دې موضوع په اړه خپل معلومات وليکئ چې له لسو کرښو څخه کم نه وي.

# د (البقرة) سورت (۴۹ - ۵۴) آیتونه

﴿ وَإِذْ نَجَّيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءكُمْ وَفِي
ذَلِكُم بَلاء مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ
﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ ظَالِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا
عَنكُمِ مِّن بَعْدِ ذَلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾
وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُواْ إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُواْ
أَنفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {نَجَّيْنَاكُم} | تاسې ته مو خلاصون درکړ. |
| {يَسُومُونَكُمْ} | تاسې ته به یې رساوه. |
| {يُذَبِّحُونَ} | حلالول به یې. |
| {يَسْتَحْيُونَ} | ژوندی یې پرېښودلې. |
| {بَلاء} | ازمېښت، امتحان. |
| {فَرَقْنَا} | موږ څیرې کړ. |
| {وَاعَدْنَا} | موږ وعده وکړه. |
| {اتَّخَذْتُمُ} | تاسې ونيو. |
| {الْعِجْلَ} | خوسی. |
| {عَفَوْنَا عَنكُمَ} | موږ تاسې ته بښنه(عفوه) وکړه. |
| {آتَيْنَا} | موږ ورکړ. |
| {الْفُرْقَانَ} | د حق او باطل ترمنځ فرق کوونکی. |
| {تَهْتَدُونَ} | روغه لار (هدایت) ومومئ . |
| {بَارِئِكُمْ} | ستاسو پيداکوونکی. |
| {تَابَ عَلَيْكُمْ} | ستاسو توبه یې قبوله کړه. |

## ژباړه

او (یاد کړئ ای یهودیانو!) هغه وخت چې موږ تاسې ته له فرعونیانو(د فرعون له عملې) څخه خلاصون درکړ، چې تاسې ته به یې سخت عذاب رساوه، ستاسې زامن به یې ذبح کول او د تاسې ښځې (لوڼې) به یې (د خدمت لپاره)

ژوندی پرېښودې او په دې (حلالولو يا خلاصون او يا ټولو) کې د ستاسې د رب له لوري يو لوی ازمېښت و. (ياد کړئ) هغه وخت چې د تاسې لپاره مو بحر څيري کړ، نو خلاصون مو درکړ، تاسې ته او غرق موکړل فرعونيان ( سره له فرعونه) په داسې حال کې چې تاسې ورته کتل. او (يادکړئ!) هغه وخت چې وعده کړې وه موږ له موسى سره څلوېښت شپې، بيا تاسې (طور ته) د موسى له (تللو) وروسته خوسى (معبود) ونيو او وئ تاسو (په دې کار سره په خپلو نفسونو) ظالمان. بيا مو وروسته د خوسي له عبادت کولو څخه تاسې ته عفوه وکړه، د دې لپاره چې تاسې شکر وکړئ. او (يادکړئ!) هغه وخت چې ورکړ موږ موسى ته کتاب (تورات) او جلاکوونکى (د حق او باطل) د دې لپاره چې تاسې په تورات سره سمه لار ومومئ. او (يادکړئ!) هغه وخت، چې وويل موسى خپل قوم ته: اى قومه! بېشکه تاسې (په خدايي سره) د خوسي د نيولو په سبب، پر خپلو ځانونو باندې تېرى کړى دى، نو خپل خالق ته توبه وباسئ او خپل ځانونه (گنهکاران)ووژنئ، تاسې ته دغه (کار) په نزد د خالق د تاسې لپاره غوره دى، نو ستاسې توبه يې قبوله کړه! بېشکه الله ښه توبه قبلوونکى او ډېر مهربان دى.

## اجمالي تفسير

په تېر لوست کې په لنډه توگه د هغو نعمتونو يادونه وشوه چې الله تعالى پر بني اسرائيلو باندې د هغو پيرزوينه کړې وه او د دې لوست د آيتونو په ترڅ کې پر بني اسرائيلو باندې د الله تعالى د نورو نعمتونو يادونه په تفصيل سره شوې ده.
﴿وَإِذْ نَجَّيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ...﴾: دا پر بني اسرائيلو د الله تعالى لومړنى پېرزوينه وه چې الله تعالى هغوى ته د فرعونيانو له ډول، ډول ظلمونو څخه چې د نويو زېږېدلو هلکانو سرونه به يې غوڅول او نجونې به يې ژوندۍ پرېښودلې، خلاصون ورکړ. فرعونيانو دا کار ځکه سرته رساوه، ترڅو د بني اسرائيلو نسل ختم کړي او د هغوی ځواک کمزوری کړي. دغه ظلمونو او عذاب د الله له لوري د دغه قوم لپاره يو ازمېښت و او له دې ظلمونو نه د خلاصون يادونه د دې لپاره ده، ترڅو د دغه ستر نعمت لپاره د الله تعالى شکر وباسي او له گناهونو او نافرمانيو څخه ځانونه وژغوري.
د (فرعون) کلمه يوه عجمي کلمه ده چې صحيحه معنا يې معلومه نه ده، خو د مصر پاچا ته فرعون ويل کېده، لکه څرنگه چې به د حبشې پاچا ته (نجاشي)، د روم پاچا ته (قيصر)، د فارس پاچا ته (کسرى) د ترک پاچا ته (خاقان)، د يمن پاچا ته (تُبّع) او د يونان پاچا ته (بطليموس) ويل کيدل،[1] خو په ټوليزه توگه ظالمو، سرکښو، دبدبه غوښتونکو او حيله گرو انسانانو ته فرعون ويل کيږي.
﴿وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ...﴾: پر بني اسرائيلو باندې د الله تعالى دويم نعمت دا و چې هغوى ته يې له سرې بحيرې (بحر أحمر) نه د تېرېدو پر مهال له ډوبېدلو څخه خلاصون ورکړ. دا پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې کله موسى عليه السلام دوى د فرعون د ظلم او تېري له امله له مصر څخه ايستل، فرعون له خپلو لښکرو سره يو ځاى د دوى لټه او څارنه کوله، کله چې بني اسرائيل سرې بحيرې ته ورسيدل، نو وېره او حيرانتيا پرې مسلطه شوه؛ ځکه د دوى

۱ - التفسيرالمنير.

مخې ته سمندر و او له شا څخه ورپسې دښمن و، نو دغه مهال موسی عليه السلام د الله تعالی په امر سره بحيره په امسا ووهله، د سمندر اوبه دوه برخې شوې او ژور دهليز پکې پيدا شو، موسی عليه السلام سره له بني اسرائيلو له دغه سمندر څخه تېر شول او د سينا وچې ته ورسيدل، خوکله چې فرعون سره له خپلو سپايانو دې ژور دهليز ته ننوتل، د سمندر اوبه بېرته سره يوځای شوې او دوی يې ډوب کړل، دا په داسې حال کې و چې بني اسرائيلو د دوی د ډوبېدلو ننداره کوله.

الله تعالی د آيت په پای کې فرمايي: ﴿وَفِي ذَلِكُم بَلاء مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴾، يعنې: په دې کې د الله له لوري يو لوی ازميښت او امتحان و، ترڅو د خپل الله شکر پر ځای کړئ او له نافرمانۍ څخه يې ډډه وکړئ.

د رواياتو له مخې د فرعون د غرق شويو لښکرو شمېر دوه سوه زرو تنو ته رسېده او په ځينو نورو رواياتو کې يې شمېر له دې څخه زيات ښودل شوی دی.[٢]

﴿وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً...﴾: پر بني اسرائيلو باندې د الله تعالی دريم نعمت دا دی چې کله موسی عليه السلام سره له بني اسرائيلو د سينا صحرا ته ورسيدل او هغوی له موسی عليه السلام څخه وغوښتل، ترڅو دوی ته هم يوه کړنلاره وټاکي چې د هغې پر اساس خپل ژوند تنظيم کړي، نو الله تعالی موسی عليه السلام ته امر وکړ چې د څلويښتو شپو لپاره د طور غره ته لاړشي او هلته د الله تعالی په عبادت او اعتکاف پيل وکړي. کله چې موسی عليه السلام اعتکاف پيل کړ او په عبادت بوخت شو، بني اسرائيلو د خوسي عبادت ته چې د سامري په لاس جوړ شوی و، مخه وکړه. سره له دې بيا هم الله تعالی پر دوی سمدستي عذاب نازل نکړ، بلکې ښښنه يې ورته وکړه او له خطا څخه يې تېرشو، د هغوی توبه يې قبوله کړه، ترڅو د الله تعالی شکر اداکړي او د هغه د اوامرو پيروي او فرمان برداري وکړي.

﴿وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ...﴾: د الله تعالی بله پېرزوينه دا وه، چې الله تعالی پر موسی عليه السلام باندې کتاب نازل کړ، ترڅو بني اسرائيل د هغه د لارښوونو پر اساس خپل ژوند تنظيم کړي، ځکه الله تعالی په تورات کې داسې احکام اوکړنلارې بيان کړې وې، چې بني اسرائيلو بايد د هغو په رڼا کې خپل ژوند برابر کړی وای، د حلالو او حرامو تر منځ يې توپيرکړی وای، هدايت يې موندلی وای او په پای کې د حضرت محمد عليه السلام د رسالت په حقانيت معترف شوي وای[٣].

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ...﴾: پر بني اسرائيلو باندې د الله تعالی پنځم نعمت دا و چې په ټوليزه بڼه يې د دوی توبه قبوله کړه، کله چې هغوی د سامري په غوښتنه د خوسي عبادت پيل کړ، نو په حقيقت کې يې پر خپلو نفسونو ظلم او د الله تعالی نافرماني وکړه. د الله تعالی له اوامرو څخه سرغړونه له دوی څخه د دې غوښتنه کوله، چې د الله تعالی په حضورکې د اخلاص رښتينې توبه وباسي او حقيقي توبه دا ايجابوي، ترڅو دوی لومړی د خوسي له عبادت نه لاس په سرشي او د يو الله عبادت په مخلصانه توګه اداکړي او دويم دا چې د خوسي عبادت کوونکي دې د هغو کسانو له خوا ووژل شي، چې د خوسي عبادت يې نه وي کړی، په دې سره چې د خوسي عبادت کوونکي يې ووژل، نو الله تعالی د دوی توبه قبوله کړه او ښښنه يې ورته وکړه.

---

٢- - تفسير بغوي و قرطبي .

٣ - تفسير طبری و عزيز التفاسير .

### فعالیت

الله تعالی د نبي کریمﷺ د زماني یهودو ته هغه نعمتونه وریادوی چې د دوی نیکونو ته ورکړل شوي وو، په دې کې حکمت څه و؟ زده کوونکي دې په دې اړه مباحثه وکړي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونوڅخه لاس ته راځي، په لاندې ډول دي:

- ☆ حقیقي مؤمن د الله تعالی قضا او قدر ته تسلیم وي او یوازې په الله تعالی توکل کوي.
- ☆ پخواني امتونه د الله تعالی له احکامو څخه د سرغړونې او نافرمانی له کبله هلاک شول.
- ☆ د اهل کتابو ایمان هغه مهال معتبر دی چې د حضرت محمدﷺ نبوت قبول کړي.
- ☆ پر انسان باندې د الله تعالی تر ټولو ستر نعمت دا دی چې سمه لار له ناسمې څخه او حلال له حرام څخه بېل کړي.
- ☆ الله تعالی انسان ته عقل او پوهه وربه برخه کړېده،، ترڅو د هغې په واسطه دا درک کړي چې له الله پرته بل هېڅوک او هېڅ شی د عبادت وړ نه دی.
- ☆ حقیقي توبه د مؤمنانو وجود د ګناه له پلیتۍ څخه پاکوي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معناکړئ:

{یسومونکم} {بلاء} {واعدنا} {تهتدون} {فتوبوا} {بارئکم}.

۲- د فرعون لښکرو له بني اسرائیلو سره څرنګه چلن کاوه؟

۳- د نارینه هلکانو په وژنه بني اسرائیل څرنګه زیانمن شول؟

٤ – الله تعالی په بني اسرائیلو کوم نعمتونه پیرزوکړي وو؟

٥– د« فرقان» کلمه څه معنا لري؟

٦ – د خوسي له عبادت څخه وروسته، الله تعالی له بني اسرائیلو څخه د څه شي غوښتنه وکړه؟

### کورنۍ دنده

د فرعون او د هغه د ظلم په هکله چې پر بني اسرائیلو باندې یې کاوه، په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۵۵ - ۶۰) آيتونه

﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ
بَعَثْنَاكُم مِّن بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى كُلُواْ
مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِن كَانُواْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُواْ هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُواْ
مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَداً وَادْخُلُواْ الْبَابَ سُجَّداً وَقُولُواْ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾
فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوْلاً غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجْزاً مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ
﴿٥٩﴾ وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً قَدْ عَلِمَ كُلُّ
أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾ ﴾

### د ځينو کلمو معنا

{لَن نُّؤْمِنَ} موږ به هېڅکله باور ونکړو.

{حَتَّى نَرَى} ترڅو ووينو.

{جَهْرَةً} ښکاره.

{الصَّاعِقَةُ} تندر (هغه اور چې له تالندې او برېښنا څخه رامنځته کېږي).

{بَعَثْنَاكُم} تاسي مو بيا ژوندي کړئ.

{ظَلَّلْنَا} سيورى مو کړ.

{الْغَمَامَ} وريځ.

{الْمَنَّ وَالسَّلْوَى} من (ترنجبين)، سلوى (مرزان).

{ما ظَلَمُونَا} پرموږ يې تېرى ونکړ.

{حَيْثُ شِئْتُمْ} هرځاى چې موخوښه وي، هرډول چې مو زړه غواړي.

{حِطَّةٌ} وبښه، عفوه کړه(د عفوې او ښښنې کلمه ده) .

{خَطَايَاكُمْ} ستاسي سهوې، ستاسي ګناوې.

{فَبَدَّلَ} نو بدل يې کړ، تغيير يې ورکړ.

{رِجْزاً} عذاب، سزا.

{اسْتَسْقَى} د اوبو غوښتنه يې وکړه.

{لَا تَعْثَوْاْ} له حده تيرى مه کوئ.

## ژباړه

او [یاد کړئ ای یهودیانو!] هغه وخت چې وویل تاسې: ای موسی! موږ به ستا په خبره له سره باور ونه کړو، تر هغه پورې چې الله ښکاره وګورو، نو ونیوله تاسې تندر، په داسې حال کې چې تاسې ورته کتل. پس له هغه مو بیا تاسې پس له مرګه ژوندي کړئ، د دې لپاره، چې تاسې شکر ګذار شئ او [یاد کړئ!] هغه وخت، چې موږ [د تیه په ډګر کې] وریځ پر تاسې سیوری کړه او موږ پر تاسې من (ترنجبین) او سلوی [مرزان] نازل کړل (او ومو ویل چې) وخورئ! له هغو پاکو شیانو څخه چې موږ تاسې ته روزي درکړې ده او دوی [په دغه عصیان سره] پر موږ باندې [هېڅ] ظلم نه وو کړی، مګر وو دوی [په کفر او نافرمانی سره]په خپلو ځانونو ظلم کوونکي. او [یاد کړئ!] هغه وخت چې [موږ بني اسرائیلو ته د موسی په ژبه] وویل: دغې قریې [اریحا] ته ننوځئ، نو پرېمانه خورئ! دهغې له [حاصلاتو ] څخه هرچېرته چې موخوښه وي [څه چې مو زړه غواړي]او ننوځئ! د دې ښار په دروازه کې سجده کوونکي او ووایئ (اي ربه!) وبښه زموږ ګناهونه، تاسې ته به ستاسې ګناهونه وبښو او ژر ده چې زیات به کړو نېکانو ته [اجر]. نو بدله کړه هغو کسانو، چې تېری يې کړی وو، خبره، پرته له هغې چې ویل شوې وه هغوی ته، نو راښکته کړ موږ پر هغو کسانو چې تېری يې کړی وو عذاب له آسمان څخه، له دې امله چې سرغړونه به يې کوله (د الله له فرمانه). [یاد کړئ!] هغه وخت چې موسی خپل قوم ته (د تیه په ډګر کې) اوبه وغوښتې، نو [موسی ته]مو وویل: چې په خپلې امسا سره تیږه ووهه (کله يې چې تیږه ووهله) نو وخوټېدلې [رواني شوې] له هغې تیږې څخه دولس چینې، په تحقیق سره هر قوم خپل د اوبو څښلو ځای (ګودر) وپېژانده [ومو ویل، چې خاص] د الله له روزۍ څخه وخورئ، وڅښئ او په ځمکه کې د فساد او ګډوډۍ هڅه مه کوئ.

## اجمالي تفسیر

د تېرشوي لوست په څېر په دې آیتونوکې هم الله تعالی په بني اسرائیلو باندې د پنځو نورو نعمتونو د پېرزوینې یادونه کوي:

﴿وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً...﴾: په دې آیت او په وروستي آیت کې هغې واقعې ته اشاره شوې ده چې کله اویا تنه بني اسرائیل وروسته د خوسي له عبادت کولو او له دغې لویې ګناه څخه د توبې کولو، د طور غره ته لاړل. هغوی د موسی عليه السلام په مناجات باور ونکړ او ویې ویل: ترڅو الله تعالی ښکاره او بې پردې ونه وینو، هېڅکله به ستا په پیغمبرۍ ایمان رانه وړو!!

دا چې دوی د موسی عليه السلام د امر نافرماني وکړه، نو الله تعالی سمدلاسه دوی ټول مړه کړل، خو مخکې له دې چې دوی مړه شي، تندر ونیول او وېره او وحشت پر دوی مسلط شو، ګواکې داسې حال پر دوی راغی چې په خپلو سترګو يې د تندر د غورځېدلو او د مرګ د راتګ ننداره کوله او د تیښتې لار يې نه درلوده، هغوی یوه شپه او ورځ په همدې حالت پاتې شول چې بیا وروسته د موسی عليه السلام په دعا بیرته راژوندي شول، ترڅو د موسی عليه السلام معجزه په سترګو ووینې، په تورات او په خپل پیغمبر حضرت موسی عليه السلام ایمان راوړي.

﴿وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى...﴾: بني اسرائیل وروسته له دویم ځل ژوندون څخه د

مصر او شام ترمنځ په صحرا کې د څلوېښتوکلونو لپاره  سرگردانه اولالهانده گرځېدل، الله تعالی یوه تړېه وریځ د دوی پر سرونو راتېټه کړې وه، ترڅو دوی د لمر له تودوخې او حرارت څخه وساتي. له بلې خوا الله تعالی د دوی لپاره د (من) او (سلوی) په نامه خوندور خواړه نازل کړل، چې په ترلاسه کولوکې یې دوی ته هېڅ ډول ستونزه نه وه او دوی به ورڅخه گټه پورته کوله، خو سره له دې بیا هم دوی ناشکري وکړه، نیکی ته یې په بدی ځواب ورکړ، دې لوی نعمت ته یې شاکړه او په ځانونو یې ظلم وکړ.

(من) او (سلوی) څه شی و؟ من هغه غیبي خواړه وو چې الله تعالی به د بني اسرائیلو لپاره له اسمان څخه نازلول. یو شمېرمفسرین وايي، چې دا خواړه د شیدو نه سپین او د شاتو نه خواږه وو، چې له خالي ورځې پرته به په نورو ټولو ورځوکې له رڼښتیني سبا (صبح صادق) څخه تر لمر ختلو پورې د شبنم په څېر له آسمان څخه ورېدل. خو د (سلوی) په اړه داسې وايي، چې دا د مرز په څېر یو ډول مرغه و.

﴿وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُواْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُواْ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ...﴾: الله تعالی په دې دوو آیتونو کې خپل دې نعمت ته اشاره کوي چې بني اسرائیل یې له تیه (سرگردانی او لالهاندی) څخه خلاص کړل، د اکثرو مفسرینو په آند هغوی ته یې بیت المقدس ته د ننوتلو او هلته د نیکمرغه اوخوشحاله ژوند د پېلولو لاړ برابره کړه او امر یې ورته وکړ چې دې ښار یا کلي ته ننوځئ او د هغې له گټو او برکتونو څخه په پراخه او بشپړه توگه برخمن شئ، خو کله چې د دې کلي په دروازه ننوځئ، نو په ډېره عاجزی ننوځئ او د الله تعالی تعظیم او لویي بیان کړئ، چې پر تاسې یې پېرزوینه او احسان وکړ او له هغه څخه ښښنه او مغفرت وغواړئ. که چیرې تاسې د الله په امر عمل وکړئ او ښښنه ورځنې وغواړئ، نو الله به ستاسې گناهونه وبښي او ستاسو له تېروتنو څخه به تېرشي او ستاسو نېکانو ته به ستر اجر او ثواب ورکړي. بني اسرائیلو له الله تعالی نه د ښښنې غوښتنه ونکړه، د هغه په اوامروکې یې بدلون او تحریف راوست او له خپل ځانه یې پکې نورشیان ځای پرځای کړل. د دې نافرمانی په مقابل کې الله پردوی له آسمانه داسې عذاب نازل کړ چې په دفع کولو یې قادرنه وو.

﴿وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ...﴾ الله تعالی په دې آیت کې خپل بل نعمت ته اشاره کوي چې په بني اسرائیلو یې پیرزوکړی و. کله چې بني اسرائیلو په هغه وچه بېدیا کې چې په هغې کې نه اوبه، نه ونه او نه هم سیوری و او تندې هم اخیستي وو، له موسی عليه السلام څخه د اوبو غوښتنه وکړه، نو هغه د الله دربار ته دعا وکړه او په ډېره عاجزی یې له الله تعالی څخه د اوبو غوښتنه وکړه، الله تعالی د هغه د دې غوښتنې په ځواب کې هغه ته امر وکړ چې په خپلې امسا سره تیږه ووهي، موسی عليه السلام همداسې وکړل چې په پایله کې له هغې تیږې څخه د دوی د قبیلو په شمېر دولس چینې راووتې او هرې قبیلې خپله چینه وپېژندله او له همغې څخه به یې اوبه ترلاسه کولې. یوه به د بل پرحق تېری نه کاوه، ترڅو د دوی تر منځ د اختلاف اسباب په بشپړه توگه له منځه لاړ شي او کوم جنجال یې په منځ کې پاتې نشي. بیا الله تعالی دوی ته امر وکړ، چې له هغې روزی څخه استفاده وکړئ چې الله تعالی تاسې ته دریه برخه کړې ده، اختلاف مه کوئ، له فساد څخه خپل ځانونه وژغورئ او د الله تعالی شکر ادا کړئ.

## د لوست ګټې

له یادو شویو آیتونو څخه ځینې ګټې ترلاسه کېږي، چې عبارت دي له:

☆ ټول هغه نعمتونه چې الله تعالی په بني اسرائیلو د هغو پیرزوینه کړې وه، د الله تعالی د قدرت څرګندې نښانې دي.

☆ الله تعالی پر خپلو بنده ګانو ډېر مهربانه دی، ژر یې نه تعذیبوي او دوی ته وخت ورکوي، ترڅو د هدایت لاره ومومي.

☆ د الله تعالی حق پر بنده ګانو دا دی چې باید د هغه د بې شمېره نعمتونو پر وړاندې شکر وباسي او په اوامرو یې عمل وکړي.

☆ هغه څوک چې په الهي لارښوونو او ارشاداتو کې بدلون راولي، ظالم دی او د دغه کار ناوړه پایله به همغه ته ورګرځي او په ناوړه برخلیک به اخته شي.

☆ ٦ – بني اسرائیل (یهود) د ناوړو صفتونو لرونکي دي چې ځینو ته یې قرآن کریم اشاره کړې ده. پر هر مسلمان لازمه ده چې ځان له دغو صفاتو څخه وژغوري، ترڅو د هغو کسانو له ډلې څخه ونه ګڼل شي چې د خپلو ناوړو کړو وړو له امله د الهي عذاب وړګرځي.

### پوښتنې

١- یهودیانو د الله تعالی د لیدنې په اړه له موسی (علیه السلام) څخه څه غوښتنه درلوده او د هغې غوښتنې پایله څرنګه شوه؟

٢- (صاعقه) څه معنا لري؟

٣- «من او سلوی» څه شی و؟ په دې اړه خپل معلومات ولیکئ.

٤- الله تعالی یهودو ته، کوم کلي ته دننوتلو امرکړی و؟ او له دوی څخه یې د ننوتو پر مهال څه غوښتنه کړې وه؟

٥- الله تعالی ولې بني اسرائیلو ته دولس چینې پیدا کړې؟ او د هغو رامنځته کېدل څرنګه و؟

٦- د ﴿سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ﴾ او ﴿وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ﴾ معنا بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

له موسی عليه السلام سره د بني اسرائیلو د چلن په هکله او همدارنګه له نبي کریم عليه السلام سره د هغه د صحابه کرامو د چلن په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۶۱ - ۶۲) آیتونه

﴿وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نَّصْبِرَ عَلَىَ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنبِتُ الأَرْضُ مِن بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ اهْبِطُواْ مِصْراً فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآؤُوْاْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَادُواْ وَالنَّصَارَى وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحاً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

## د ځينو کلمو معنا

{لَن نَّصْبِرَ} هېڅکله صبر نه کوو.
{تُنبِتُ} زرغونوي، شنه کوي.
{بَقْلِهَا} ترکاري يې.
{قِثَّائِهَا} تره او بادرنګ يې.
{فُومِهَا} اوړه (غنم) يې.
{عَدَسِهَا} نسک يې.
{بَصَلِهَا} پياز يې.
{أَتَسْتَبْدِلُونَ} آيا بدلوئ.
{أَدْنَى} بې ارزښته.
{اهْبِطُواْ} ښکته شئ،کوز شئ.
{ مِصْراً} يوه ښار ته.
{مَّا سَأَلْتُمْ} څه چې مو غوښتي.
{ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ} پر هغوی مسلطه شوه، پر هغوی راغله.
{الْمَسْكَنَةُ} بېوزلي او تنګلاسي.
{بَآؤُوْاْ} اخته شول.
{عَصَواْ} ګناه او سرغړونه يې وکړه، نافرماني يې وکړه.
{يَعْتَدُونَ} له حدودو څخه يې تېرى کاوه.
{هَادُواْ} يهوديان شول.
{الصَّابِئِينَ} له يهودو او نصاراوو څخه جلا شوې ډله وه چې د عراق د موصل په ښار کې يې استوګنه درلوده، د ستورو پر اغيز (تاثير) يې عقيده درلوده او په ځينو انبياوو يې باور درلود.

## ژباړه

او [ياد کړئ اى يهوديانو!] هغه وخت چې ومو ويل: اى موسى! موږ هېڅکله پرېو ډول خواړو [د من او سلوى] باندې صبر نه شو کولاى، نو وغواړه موږ ته له خپل پروردګار څخه چې راوباسي زموږ لپاره له هغو شيانو نه چې ځمکه يې زرغونوي د هغې له سابه، بادرنګ (ترې)، هوړې ( غنمو يا نخودو)، نسکو او پيازو څخه، نو (موسى)عليه السلام وويل: آيا تاسې هغه شی چې ډېر ناکاره دی په هغه شي، چې هغه ډېر غوره دی، بدلوئ [اخلئ]. (کله، چې مو داسې وکړل، نو کوز شئ [له تيه څخه د شام] يوه ښارته، نو ښېشکه تاسې ته دې هغه شی، چې غواړئ يې او مسلط کړاى شو پر دوى [د نعمت د کفران او په خپل قسمت د نا رضايۍ په سبب] ذلت او محتاجي او دوى (د) الله له [جانبه] په غضب اخته شول، دا (خواري) په دې سبب وه، چې دوى ښېشکه کافران (منکران) وو، په آيتونو (احکامو) د الله

او په ناحقه سره به يې انبياء [لکه شعيب، زکريا او يحيى] وژل. دا (کفر او قتل) په دې سبب و چې سرکشي يې کوله د الله له احکامو څخه او دوی به د ( عصيان په سبب) له حدودو تېرېدل. بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې يهوديان شوي دي او نصرانيان او بې دينان، هر هغه چا [له دوی څخه] چې ايمان راوړی دی په الله او په ورځ د قيامت باندې او نېک عمل يې تر سره کړی دی، نو دوی ته به په نزد د رب د دوی ثواب وي او نه به وي پر دوی باندې [هيڅ ډول] وېره او نه به دوی هېڅېږي [په وخت د جزاء کې] خپه کيږي.

## اجمالي تفسير

﴿وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نَّصْبِرَ عَلَىَ طَعَامٍ وَاحِدٍ...﴾: بني اسرائيلو د سينا په دښته کې د خپل سکونت پر مهال د«من اوسلوی» له خوړلو څخه چې د دوی د خوراک لپاره له آسمانه رانازلېدل، د مړښت ځرګندونه وکړه، په داسې حال کې چې دوی به د هغو د ويشلو پر مهال له يو بل سره سيالي کوله او کله به يې له خپل اړتيا څخه زيات خواړه تر لاسه کول چې له خوړلو څخه به يې عاجز شول او په پای کې به ترې دغه خواړه خرابېدل. د دې مړښت اظهار ښتينې بنه نه درلودله، بلکې دا خبره د هغوی د سرغړونې او انکار لپاره يوه پلمه او بهانه وه. دوی له حضرت موسی عليه السلام څخه نوي خواړه وغوښتل، هغه چې په ځمکه کې زرغونېدل، لکه: سابه او غلې دانې. بني اسرائيلو چې کوم خواړه غوښتل هغه د خوند، مزې او کيفيت له پلوه له من او سلوی څخه ډېرکم ارزښته وو، خو دوی ناشکري وکړه او ټولو نعمتونو ته يې شا واړوله. بني اسرائيلو خپلې غوښتنې له حضرت موسی عليه السلام څخه په ناوړه او بد اسلوب سره مطرح کړې او ويې ويل: ﴿لَن نَّصْبِرَ عَلَىَ طَعَامٍ وَاحِدٍ﴾. يعنې: موږ هېڅکله پر يوډول خوړو صبر نشو کولای، ترڅو په دې وسيله موسی عليه السلام دې ته اړ باسي چې په ډېره بيړه د الله تعالی دربار ته خپل د عاجزۍ، زارۍ او دعا لاسونه پورته کړي. کله چې موسی عليه السلام د دوی په غېر معقولو غوښتنو وپوهيده، نو د تعجب او رټنې په بڼه يې له هغو څخه پوښتنه وکړه:

﴿أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ؟﴾: آيا هغه شی چې ستاسې لپاره غوره دی، پرېږدئ او د داسې شي غوښتنه کوئ چې د ارزښت له پلوه په ټيټه درجه کې قرار لري؟ ځکه من اوسلوی له هره کبله د دوی له غوښتل شويو شيانو څخه غوره او ګټور وو. له دې امله موسی عليه السلام په ډېرې خوابدۍ سره دوی ته وفرمايل: کله چې دارنګه غوښتنې لرئ، دا غوښتنې په دې وچه دښته کې نشي حاصليدای؛ نو: ﴿اهْبِطُواْ مِصْراً فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ﴾. يعنې: يوه ښار ته داخل شئ، ترڅو خپلې غوښتنې ومومئ.

له دې عبارت نه معلومېږي چې موسی عليه السلام د دوی د غوښتنو په ځواب کې له خپل پروردګار څخه هيڅ څه ونه غوښتل او د دوی غوښتنې د منلو لپاره يې دعا ونکړه، ځکه هغه عليه السلام پوهېده چې دا غوښتنې د ضرورت پر اساس نه دي، بلکې د عناد، سرکشۍ اوناشکرۍ پر بنا دي. له دې بېځايه غوښتنو څخه وروسته د آيت په پای کې هغه سزاګانې بيانيږي، چې پر دوی باندې نازلې شوې او هغه دا چې: ﴿ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ﴾: د ذلت، خوارۍ او بېوزلۍ داغ د دوی پر تندي ووهل شو، يعنې: الله تعالی دوی د دنيا په ژوندکې په بېوزلۍ اوتنګ لاسۍ اخته کړل.

الْمَسكَنَةُ: له دې کلمې څخه مقصد روحي ضعف او قلبي بېوزلي ده چې پر يوه سړي مسلطه کيږي او په پايله کې د ذلت، خوارۍ اوکمۍ احساس کوي. د (ذلت) او (مسکنت) ترمنځ توپير دا دی چې د ذلت اسباب له بهر څخه دي، لکه

يو تن په خپل کار کې ناکام شي او د دښمن پر وړاندې مغلوب شي، خو د مسکنت لامل د انسان له دننه څخه راپورته کېږي او بنده له حق څخه د لرې والي په سبب او د نفساني غوښتنو د غلبې له امله د خوارۍ احساس کوي.

سره له دې چې یهودیان (بني اسرائیل) ډېر مهال له زیات مال، دولت، پانګې او حیرانوونکي اقتصاد څخه برخمن وو، خو بیا هم د تل لپاره له مسلمانانو څخه د وېرې او هیبت احساس کوي، له دې امله هېڅکله به هم د زړه له سکون او خپلواکۍ څخه (چې د عزت بنسټیز لامل بلل کېږي) برخمن نشي. هغه څه چې د یهودو د نفسي بېوزلۍ او کمزورۍ لامل شوي دي، هغه دا دي چې دوی د پیړیو په اوږدو کې د نورو امتونو له خوا د ډېر سخت دباو او فشار لاندې ژوند تېراوه، ډېر ذلت او بې عزتۍ یې لیدلې وې، نو له همدې امله یې د ذلیل ژوند او عزتمن او خپلواک ژوند ترمنځ کوم توپیر نشوای کولای.

په آخرت کې د بني اسرائیلو سزا دا ده چې پر دوی به د الله قهر او غوسه وي: ﴿وَبَآؤُوْاْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ﴾ یعنې: په آخرت کې به په داسې حال کې د الله تعالی لور ته ورګرځي، چې د الله تعالی قهر او غضب به یې په برخه وي.

په پای کې الله تعالی د یهودو د خوارۍ، غریبۍ او ذلت علتونه بیانوي او فرمایي: ﴿ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ يَكْفُرُونَ...﴾. یعنې: دا خواري پر دوی ځکه وه چې دوی د الله تعالی د قدرت او توحید پر نښونښانو کافر کېدل او پیغمبران به یې په ناحقه وژل. لکه څرنګه چې دوی حضرت زکریا او حضرت یحیی (علیهما السلام) په ناحقه مړه کړل او دا کار د دوی دایمي او همیشنی عادت و، له همدې امله الله تعالی د دوی نافرماني او سرغړونه د (مضارع) په صیغه بیان کړې ده، چې تکرار او نوښت قبلوي. ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَادُواْ...﴾ په دې آیت کې الله تعالی له هغو کسانو څخه یادونه کوي، ځوک چې له عذاب څخه ژغورل شوي او د الله د رحمت او مهربانۍ وړ ګرځېدلي دي، د دې خلکو صفت دا دی چې دوی د رښتیني ایمان لرونکي دي او نېکې کړنې ترسره کوي. څرنګه چې د مخکینیو آیاتونو سیاق د اسلام په لور د یهودو د بلنې په اړوند و، په دې مبارك آیت کې د دې خبرې یادونه شوې ده چې انساب او القاب د الله تعالی پر وړاندې کوم ارزښت نه لري، هغه څه چې د اعتبار وړ دي هغه صحیح ایمان او نېك عمل دي، نو هغه کسان چې اسلام، یهودیت، نصرانیت او یا صابئیت ته منسوب دي د دوی دا منسوبېدل به په آخرت کې له الهي عذاب څخه د دوی د خلاصون لامل نشي، دوی به هغه مهال د الله تعالی له عذابه په امن کې شي چې په بشپړه توګه ایمان راوړي، هغه ایمان چې له نېکو کړنو سره مل او د الله تعالی له شرعې سره سمون ولري. د قرآن کریم له آیاتونو څخه دا جوته کېږي چې صحیح ایمان، پرته له دې چې په رسول ﷺ باندې ایمان راوړلای شي، په بل څه نشي حاصلېدلای. همدارنګه نېکه کړنه پرته له هغه څه چې نبي کریم ﷺ د الله تعالی له لوري موږ ته راوړي، په بله طریقه نشي ادا کېدلای، ځکه چې د پېغمبر ﷺ شریعت، نور ټول شرائع منسوخ کړي دي، نو دلته دا پایله ترلاسه کېږي چې که د دغو مختلفو ادیانو له اتباعو څخه ځوك د یو الله پر وحدانیت، د محمد ﷺ (او نورو پېغمبرانو) پر رسالت او د آخرت پر ورځ باندې ایمان راوړي او د خپل ایمان پر مقتضی د محمدي شریعت مطابق نېکې کړنې وکړي، نو ﴿لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ﴾: نه به پر دوی باندې له راتلونکي څخه هیڅ ډول وېره وي او نه به دوی د تېر وخت په غم او سوچ کې وي.

په دې اړه بله توجیه دا ده چې لاندې څلور ډلې کسان به له عذاب څخه په امان کې پاتې وي:

**الف**: هغه کسان چې د اسلام په پیغمبرﷺ یې رښتیني ایمان راوړی او په رښتینې توګه پر هغه باقي پاتې شول.

**ب**: هغه کسان چې یهودیان وو، خو د خپلو انبیاوو په دین کې یې تحریف نه دی کړی او نه یې د خپل شریعت نافرماني کړې ده.

**ج**: هغه نصرانیان چې په رښتینې توګه یې پر حضرت عیسی علیه السلام باندې ایمان راوړی او په خپل ایمان مړه شوي دي.

**د**: صابئین: دا خلک نه یهودیان وو او نه هم نصرانیان، بلکې دوی د یو الله پر وحدانیت ایمان درلود.

له دې څلورو ډلو څخه یې درې ډلو له اسلام څخه مخکې عصر پورې تړاو درلود او څلورمه ډله یې د اسلامي امت ډله ده، چې د دې دین په ظهور سره د پاتې دریو ډلو حقانیت له اسلام څخه په وړاندې عصر پورې منحصر پاتې شو، ځکه د اسلام له راتګ څخه وروسته، هغه ایمان چې د حضرت محمد ﷺ په رسالت معترف نه وي، د اعتبار وړ نه بلل کېږي.

## د لوست ګټې

تېرشوي آیتونه ډېرې ګټې لري، چې ځینې یې دا دي:

- له ستونزو او مصیبتونو څخه خلاصون امکان نه لري، مګر دا چې انسان له دنیوي غوښتنو او خواهشاتو څخه ځان وژغوري.
- پر ټولو هغو الهي نعمتونو چې الله تعالی پر انسان پیرزو کړي، قناعت کول تر هرڅه غوره دي.
- څوک چې د الله تعالی پر وړاندې ادب نه مراعاتوي، الله تعالی به یې په دنیا او آخرت کې ذلیل کړي.
- پر الله تعالی ایمان لرل او نېک اعمال تر سره کول، انسان ته دوامداره او قوت وربښي، ترڅو هېڅکله هم په له منځه تلونکو(فاني) شیانو غمجن نشي.
- له هغو مصیبتونو او ستونزو څخه چې په ژوند کې پرې اخته کېږو، باید عبرت واخلو او تر ډېره بریده له دنیا سره خپلې اړیکې وشلوو.

## پوښتنې

۱ – بني اسرائیلو له موسی علیه السلام څخه د څه شي غوښتنه کړې وه؟

۲ـ موسی علیه السلام د خپل قوم د غوښتنو پر وړاندې څه دریځ غوره کړ؟

۳ـ یهود د خپلو سرغړونو په پایله کې په څه برخلیک اخته شول؟

٤ـ د (ذلت) او (مسکنت) ترمنځ توپیر څه دی؟

٥ـ په (ذلت) او (مسکنت) کې د یهودو د اخته کېدلو لامل په څه شي کې و؟

٦- آیا د محمدي رسالت او د هغه ﷺ له متابعت پرته، یوازې په الله تعالی باندې ایمان لرل د اعتبار وړ دی؟

## کورنی دنده

د یهودو د ځینو صفاتو، لکه: (ناشکري د شبهاتو پیداکول، د انبیاوو وژل او......) په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۶۳- ۶۶) آیتونه

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم
مِّن بَعْدِ ذَلِكَ فَلَوْلاَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَكُنتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَواْ مِنكُمْ فِي
السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَاسِئِينَ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَاهَا نَكَالاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ﴿٦٦﴾﴾

## د ځينو کلمو معنا

{الطُّورَ} د هغه غره نوم دی چې موسی عليه السلام پرې له خپل پروردګار سره مناجات کړي دي.

{تَوَلَّيْتُم} شا مو واړوله، مخ مو واړاوه.

{اعْتَدَواْ} له خپل برید (حد) څخه تېرشول.

{قِرَدَةً} د (قرد) جمع ده، بیزوګاني.

{خَاسِئِينَ} مسخ شوي، ذلیل شوي.

{نَكَالاً} سزا، مجازات، د عبرت لامل.

{بَيْنَ يَدَيْهَا} هغه خلک او امتونه چې د دوی په عصر کې یې ژوند کاوه.

{مَا خَلْفَهَا} هغه خلک چې د دوی له عصرڅخه وروسته راغلل او راځي.

## ژباړه

او ( یاد کړئ ای یهودیانو!) هغه وخت چې موږ له تاسې څخه ژمنه  واخیستله او پورته موکړ پر تاسې د طور (غر)، (او ومو ویل) چې واخلئ هغه څه (احکام)، چې موږ (له تورات څخه) تاسې ته درکړي دي، په ښه کوښښ(په کلکه) سره او یادکړئ هغه (احکام) چې په هغه کې دي، ښايي چې تاسې ځانونه (له ګناهونو څخه) وژغورئ. بیا وروسته تاسې  دغه عهد ته شاکړه (او ورڅخه واوښتئ)، نوکه نه وای پر تاسې د الله فضل او د هغه رحمت، نو هرومرو به تاسې له زیانکارانو څخه واست. او په تحقیق سره تاسې خپل هغه کسان ښه وپېژندل، چې د خالي(شنبې) په ورځ یې (د ماهیانو په ښکار کولو سره) تېری کړي وو، نو موږ دوی ته وویل، چې خوار او ذلیل شئ ، بیزوګان شئ، نو موږ دا (عقوبت) د هغه عصر

د موجودو خلکو او راتلونکو نسلونو لپاره عبرت او د پرهيزګارانو لپاره پند او نصيحت وګرځاوه.

## اجمالي تفسير

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ... ﴾: الله تعالی په دې مبارک آيت کې دې امر ته اشاره کوي، چې: اې بني اسرائيلو! هغه ورځ در ياده کړئ، چې الله تعالی ستاسې له پلرونو څخه ټينګه وعده او ژمنه واخيستله په داسې حال کې چې د (طور) غر يې د هغوی پر سرونو اوچت کړی و، نو هغوی سمدستي د الله تعالی امر ومنلو او له موسی عليه السلام سره يې وعده وکړه، چې نور به د الله تعالی نافرماني نه کوي، خو له څه مودې وروسته يې خپله وعده ماته کړه.

دا واقعه داسې وه، چې موسی عليه السلام څيني خلک د دې لپاره وټاکل، ترڅو د تورات د دساتيرو او احکامو د پلي کولو لپاره له الله تعالی سره ژمنه وکړي، کله چې هغوی په ځانګړي ځای کې سره راغونډ شول، نو د احکامو د تعميل لپاره يې پلمې او بهانې لټولې، هماغه و چې الله تعالی د دوی د پلمو له امله پر دوی باندې غر را ټيټ کړ او د دوی هلاکت ډېر نژدې شو، دوی ټولو د مرګ له وېرې په يو آواز وويل: موږ دا ژمنه کوو چې د تورات په ارشاداتو او لارښوونو به عمل کوو. بيا الله تعالی پر دوی خپله مهرباني وکړه او هغوی يې له هلاکت څخه وژغورل، خو وروسته له ډېرې لږې مودې څخه دوی له خپلې ژمنې څخه واوښتل او بېرته خپل لومړني حالت ته وروګرځېدل.

له دې ﴿خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾مبارک آيت څخه مطلب دا دی، چې کوم پيغام(تورات) الله تعالی تاسو ته درکړی دی، په هغه منګولې ولګوئ، مفهوم يې زده کړئ، په معناګانو يې ځان پوه کړئ اوعمل پرې وکړئ، ترڅو تقوی او پرهيزګاري مو په برخه شي ځکه هغه علم چې په عمل کې پلی نشي، ارزښت نه لري او نه به پرې تقوی حاصله شي.

﴿ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ...﴾: سره له دې چې الله تعالی د يهودو پر سر د (طور)غر اوچت کړی و، خو وروسته د هغه له لرې کولو هغوی دويم ځلې سرغړونه وکړه او د الله حکم يې تر پښو لاندې کړ. د الله تعالی له اوامرو څخه سرغړونه او د هغه نافرماني، په حقيقت کې د يهودو د ځانګړو صفاتو يوه برخه ګرځېدلې ده.

دغه مبارك آيت په حقيت كې د بني اسرائيلو لپاره يوه سخته رټنه ده، ځكه وروسته له دې چې د الله تعالى له لوري پر دوى باندې د يو شمېر نعمتونو يادونه وشوه او له دوى څخه ژمنه واخيستل شوه، الله تعالى د بني اسرائيلو پام د هغوى بلې ډلې ته را اړوي، چې د الله تعالى احكامو ته د بې پروايۍ له امله په دنيا كې د الله تعالى د عقاب او په آخرت كې د سخت او دردناك عذاب وړ وګرځېدل. الله تعالى د هغوى په اړه فرمايي: تاسې خپل هغه كسان چې د الله له حكم څخه يې سرغړونه كړې وه، وپېژندل. دلته مطلب هغه كسان دي، چې الله تعالى هغوى د خالي په ورځ د ماهيانو له ښكارڅخه منع كړي وو، خو هغوى حيلې جوړولې او د الله له فرمان څخه يې سرغړونه كوله، الله تعالى په دې منع كولو سره غوښتل، ترڅو هغوى وآزمايي، چې آيا هغوى د فرمان منونه كوي اوكه سرغړونه؟ خو هغوى د فرمان منلو پر ځاى مخالفت غوره كړ او د الهي عذاب مستحق وګرځېدل. الله تعالى د هغوى څېرې مسخ كړې او د بيزوګانو په بڼه واړول شول، نو كه چيرې تاسې هم د دغې ډلې تګلاره غوره كړئ، د الله تعالى له عذاب څخه به په امن پاتې نشئ.

﴿فَجَعَلْنَاهَا نَكَالاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا...﴾ الله تعالى په دې آيت كې د عذاب لامل بيانوي او فرمايي: دا عذاب مې پر دوى ځكه نازل كړ، ترڅو د هغې زمانې د امتونو او د راتلونكو امتونو لپاره پند او عبرت وګرځي او له بلې خوا د پرهيزګارانو لپاره هم پند او نصيحت وي.

### فعاليت

زده كوونكي دې (د بني اسرائيلو له كيسو څخه څه پند او نصيحت حاصلولاى شو) د موضوع په اړه له يو بل سره خبرې اترې وكړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې له يادو شويو آيتونو څخه ترلاسه كيږي، عبارت دي له:

- علم او عمل له يو بل سره لازم او ملزوم دي او پرته له عمل څخه علم ارزښت نه لري.

* مسلمان باید له هرې پېښې څخه عبرت واخلي او د خپلو اعمالو سمون ته پاملرنه وکړي، که کومه نیمګړتیا یا کوږوالي پکې شتون ولري، باید هغه اصلاح او د دین له لارښوونو سره برابرکړي.

* د وعدې او ژمنې ماتول او له هغې څخه مخالفت کول، د بني اسرائیلو له ځانګړتیاوو څخه دي.

## پوښتنې

١ – الله تعالی له بني اسرائیلو څخه کومه ټینګه وعده اخیستې وه؟

٢ –الله تعالی ولې پر بني اسرائیلو د طور غر اوچت کړ؟

٣ – وروسته له دې چې الله تعالی پر بني اسرائیلو د طور غر اوچت کړ، هغوی یې پر څه شي وګومارل؟

٤ – د شنبې په ورځ له بني اسرائیلو څخه کومه نافرماني تر سره شوه او مرتکبین یې په کوم عذاب اخته شول؟

٥- د وړ(نېکو) او ناوړو اعمالو پایله څه ده؟

# د (البقرة) سورت (۶۷ - ۷۱) آیتونه

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُواْ بَقَرَةً قَالُواْ أَتَتَّخِذُنَا هُزُواً قَالَ أَعُوذُ بِاللّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ
الْجَاهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لّنَا مَا هِيَ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ فَارِضٌ وَلاَ بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ
ذَلِكَ فَافْعَلُواْ مَا تُؤْمَرونَ ﴿٦٨﴾ قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاء
فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُواْ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ البَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِن شَاء
اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ ذَلُولٌ تُثِيرُ الأَرْضَ وَلاَ تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لاَّ شِيَةَ فِيهَا
قَالُواْ الآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{أَتَتَّخِذُنَا هُزُواً} آیا ته په موږ ملنډې وهې؟

{فَارِضٌ} زړه، د ډېرعمر لرونکې.

{بِكْرٌ} ځوانه، د لږ عمر لرونکې.

{عَوَانٌ} د منځني عمر لرونکې.

{فَاقِعٌ لَّوْنُهَا} رنګ يې روښانه دی.

{لاَّ ذَلُولٌ} نه ربړ(تکلیف) ایستونکې ده.

{تُثِيرُ الأَرْضَ} (چې) ځمکه د کر لپاره قلبه کړي.

{الْحَرْثَ} کښت او کرنه.

{مُسَلَّمَةٌ} بې عیبه ده.

## ژباړه

او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې موسیﷺ خپل قوم ته وویل: الله تاسې ته ( د قاتل د معلومولو لپاره) د یوې غوا د حلالولو امرکوي، بني اسرائیلو وویل: آیا ته زموږ سره ټوکې کوې؟ او پر موږ ملنډې وهې؟ موسیﷺ وویل: په الله پاک پنا غواړم چې شم له ناپوهانو څخه (د هغو په څېر خبرې وکړم).(بني اسرائیلو) وویل: زموږ لپاره له خپل رب څخه وغواړه چې موږ ته بیان کړي چې څرنګه ده دغه غوا؟ (تفصیل يې بیان کړي) موسیﷺ وویل: الله تعالی فرمایي بېشکه دا یوه غوا ده چې نه ډېره زړه ده او نه ډېره وړه ده، بلکې (د زوړوالي او وړوکوالي له پلوه) د منځني عمر لرونکې ده، نو وکړئ تاسې هغه څه چې پرې مامور شوي یئ. بیا(بني اسرائیلو) وویل: (ای موسی !)

زموږ لپاره له خپل رب څخه وغواړه، چې بیان کړي موږ ته، چې څرنګه ده د هغې بڼه؟ (موسیعليه السلام) وویل: بېشکه الله وايي، چې رنګ يې تک ژېړ دی، چې (د) ليدونکو (زړونه) خوشحالوي. بيا (بني اسرائيلو) وويل: زموږ لپاره له خپل پروردګار څخه وغواړه چې بيان کړي موږ ته چې دا څه ډول غوا ده؟ بېشکه دغه غوا پر موږ ګډه وډه (مشتبه) شوې ده او که د الله اراده وي، نو هرومرو به لاره پیدا کړو. (موسیعليه السلام) وویل: بېشکه الله وايي: دا يوه غوا ده چې نه ربړ اېستونکې ده (کار ورڅخه نه اخيستل کېږي)، چې ځمکه قلبه کړي او نه (په ارټ سره) کښت اوبه کوي، روغه رمټه او بې داغه غوا ده. (بني اسرائيلو موسیعليه السلام ته) وويل: اوس دې سمه (روښانه) خبره راوړه، نو دوی هغه غوا حلاله کړه او دوی دې ته نژدې نه وو(داسې نه برېښېدل) چې دا کار يې کړای وای.

## د بني اسرائيلو د غوا کيسه

مفسرين ليکي: د موسیعليه السلام په زمانه کې يو شتمن سړی و چې پرته له يوې لور او وراره څخه يې بل هېڅ وارث نه درلود، د شپې په پټه توګه ووژل شو او جثه (جسد) يې د بل چا د دروازې په مخکې واچول شوه. د وژل شوي وراره د هغه کور په څښتن چې د مړي تنه يې د کور مخې ته غورځول شوې وه، دعوه وکړه او هغه يې د خپل تره په مرګ تورن کړ. د دواړو ترمنځ ډېر جنجال او اختلاف رامنځته شو، آن تر دې چې تورو ته يې لاس اوږد کړ، نژدې و چې د دوی دغه شخړه ډېره لويه شي. يو هوښيار سړي د دوی ترمنځ منځګړتوب وکړ او دوی يې صبر او زغم ته را وبلل او ويې ويل: ولې د الله پيغمبر موسیعليه السلام ته مراجعه نه کوئ، ترڅو ستاسې ستونزه حل کړي، لاړ شئ له هغه څخه لارښوونه وغواړئ.

په پايله کې دوی دغه مسئله موسیعليه السلام ته يوړه، موسیعليه السلام په ځواب کې وويل: زه الله تعالی ته رجوع کوم او د هغه په مرسته او مهربانۍ به دا ستونزه حل کړم. موسیعليه السلام د دې ستونزې د حل لپاره الله تعالی ته رجوع وکړه او د هدايت غوښتونکی شو. الله تعالی ورته په ځواب کې وفرمايل: يوه غوا حلاله کړئ او د هغې د غوښې يوه ټوټه په مړي ووهئ، هغه به ژوندی شي او خپل وژونکي به وښيي. بني اسرائيلو د خپل ضدي خصلت پر بنسټ چې يې درلود، د موسیعليه السلام خبره ټوکه او ملنډه وګڼله او ويې ويل: آيا پر موږ مسخرې کوې؟ د غوا په حلالولو او د يوې ټوټې غوښې په وهلو سره به مړی څرنګه ژوندی شي؟ خو موسیعليه السلام د دوی په ځواب کې وويل: دا د الله تعالی حکم دی. کله چې دوی ډاډمن شول چې دی جدي دی او ملنډې نه وهي، نو د غوا په اړه يې پوښتنې پېل کړې، چې په حقيقت کې ټولې بېځايه وې. د مثال په توګه دوی پوښتنه وکړه، چې دا غوا څه رنګ لري؟ عمرېې څومره دي؟ د بېځايه پوښتنو له امله يې دغوا د موندلو مسئله سخته کړه. لنډه دا چې دا غوا يې هغه وخت پيداکړه، چې د دې کار د ترسره کولو هيله هم ناشونې شوې وه، هغه څوک چې غوا ورسره پيدا شوه، هغه دا غوښتنه وکړه چې د غوا په بدل کې به د غوا پوستکی له سرو زرو څخه ډک کړئ. کله يې چې غوا حلاله کړه او د موسیعليه السلام د لارښوونې مطابق

يې د غوا د غوښې يوه ټوټه د مقتول په بدن ووهله، وژل شوی کس راژوندی شو او خپل قاتل يې په ګوته کړ، نو قاتل په دار وځړول شو، له همدې امله وروسته له دې پيښې، هيڅ قاتل ته ميراث نه ورکول کيږي.

## اجمالي تفسير

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً...﴾ د دې آيتونو د شان نزول بيان د آيتونو د تفسير ځرګندونه کوي، په دې آيتونوکې د بني اسرائيلو د نافرمانيو يوه بله بېلګه ښکاره کيږي، ځکه هغوی د قتل د هغې پېښې له امله چې قاتل يې پېژندل شوی نه و او غوښتل يې چې قاتل وپېژني، دې ته اړ شول چې خپل پيغمبر (موسی عليه السلام)ته رجوع وکړي. موسی عليه السلام ته په رجوع کولوکې هيڅ کومه ستونزه نه وه، بلکې ستونزه هغه مهال رامنځته شوه کله چې دوی د ستونزې د هوارولو لپاره د موسی عليه السلام په وړانديز قانع نشول، هغوی موسی عليه السلام په دې تورن کړ، چې ګواکې هغه پر دوی ملنډې وهي! کله چې موسی عليه السلام دوی ته په ټينګه وويل: زه پر تاسې ملنډې نه وهم، ځکه ملنډې وهل د پيغمبر له شان سره مناسبه نه ده، بلکې د دې ستونزې د حل لپاره دا د الله تعالی امر دی، نو دوی هغه مهال داسې پوښتنې مطرح کړې، چې پرته له سرغړونې او ستونزې رامنځته کولو يې بل تفسير نشي کېدلای.

همدارنګه دا د دې قوم په سرغړونې، سرزورۍ او بې ادبۍ ستر دلالت دی، چې دوی به هرځل خپل پيغمبر ته خطاب کاوه او هغه ته به يې ويل: ﴿ادْعُ لَنَا رَبَّكَ﴾ ژباړه: زموږ لپاره له خپل رب څخه وغواړه. دا په دې معنا چې دوی د الله تعالی په ربوبيت معترف نه وو او الله تعالی يې يوازې د موسی عليه السلام پروردګار ګاڼه. همدارنګه په پای کې د دوی دا وينا: ﴿الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ﴾ ژباړه: اوس دې حق راوړ او روغه خبره دې وکړه. نو آيا هغه څه چې له دې څخه د مخه د موسی عليه السلام له خوا دوی ته وويل شول، هغه حق او رښتيا نه و او وروسته له ډېر تګ او راتګ څخه يې حق راوړ؟!.

د دې لوست په وروستۍ جمله کې قرآن عظيم الشان د دوی د ناسم دريځ ځرګندونه داسې کوي: ﴿وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ﴾ ژباړه: او دوی دې ته تيار نه وو، چې دا کار يې تر سره کړای وای.

کله چې د دوی ټولو پوښتنو ته ځواب وويل شو او نور د پلمې او بهانې لټولو مجال پاتې نشو، ترڅو خپلو جنجالونو ته دوام ورکړي، نو په نښو برابره غوا يې مجبوراً پيدا او حلاله کړه او خپل مقصد ته ورسيدل.که چيرې بني اسرائيلو د دې غوا په اړه بېځايه پوښتنې نه وای کړې، هره غوا يې چې حلاله کړې وای خپل مرام ته رسيدل. د مطلوبې غوا په پېژندلو کې د دوی سر زورۍ اوبېځايه پوښتنې د دې لامل شوې چې الله تعالی پر دوی هم سختۍ راولي[1].

---

۱- تفسير روح المعاني، ابن کثير او التفسير المنير: (لو ذبحوا أي بقرة أرادو، لأجزأتهم ولكن شدّدوا على أنفسهم، فشدّد الله عليهم).

**فعالیت**

زده کوونکي دې د دې پېښې د پېغام په اړه چې د سورت نوم ورځخه اخيستل شوی دی، له يوبل سره مباحثه وکړي او د دې پېښې تربيتي اړخونه دې څرګند کړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

☆ په چا پورې ملنډې وهل شرعاً ګناه او د الهي عذاب لامل ګرځي.

☆ انبياء (عليهم السلام) له ملنډو او بېځايه خبرو څخه سپېځلي او مبرا دي.

☆ يهوديان د خپل پروردګار او پيغمبر په اړه تل بدګومانه دي، نو له دې امله د دې وړتيا نه لري چې پر هغوی نېک ګومان وشي.

☆ د دين په چارو کې سختي او تشدد په کار نه دی، په هره کچه چې د دين يا دنيا په چارو کې له سختۍ څخه کار واخيستل شي، په هماغه کچه زموږ ستونزې زياتيږي.

**پوښتنې**

١- لاندې کلمې او جملې معنا کړئ.

**{هزواً} {لا فارض و لا بكر} {عوان بين ذلك} {فاقع لونها} {ذلول} {لاشية}.**

٢ – بني اسرائيل ولې د غوا په حلالولو ګومارل شوي وو؟

٣) د ﴿أَعُوذُ بِاللّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾ د جملې معنا څرګنده کړئ؟

٤ – بني اسرائيلو ولې دغوا په اړه زياتې پوښتنې مطرح کړې؟

۵) د ﴿وَمَا كَادُواْ يَفْعَلُونَ﴾ له جملې څخه مراد څه دی؟

۶) د دې ﴿إِنَّهَا بَقَرَةٌ لاَّ ذَلُولٌ تُثِيرُ الأَرْضَ وَلاَ تَسْقِي الْحَرْثَ﴾ مبارک آيت معنا واضحه کړئ؟

**کورنۍ دنده**

د بني اسرائيلو دغوا کيسه، د دې لوست له ګټو او پندونو سره يو ځای، مفصلا په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۷۲ - ۷۷) آیتونه

﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿۷۲﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ
يُحْيِي اللّهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۷۳﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ
أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الأَنْهَارُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاء وَإِنَّ مِنْهَا
لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّهِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۷٤﴾ أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ
مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۵﴾ وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ
قَالُواْ آمَنَّا وَإِذَا خَلاَ بَعْضُهُمْ إِلَىَ بَعْضٍ قَالُواْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ
أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ﴿۷٦﴾ أَوَلاَ يَعْلَمُونَ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿۷۷﴾﴾

## د ځینو کلمو

{فَادَّارَأْتُمْ} نو تاسو اختلاف وکړ.

{تَكْتُمُونَ} پټوئ يې، پټ يې ساتئ.

{يُرِيكُمْ آيَاتِهِ} تاسو ته د خپل قدرت نښې درښيي.

{قَسَتْ} سخت شول، له (قساوت) څخه اخيستل شوی چې د نرموالي ضد دی.

{يَتَفَجَّرُ} جاري کيږي.

{يَشَّقَّقُ} ټوټه، ټوټه کيږي.

{يَهْبِطُ} رالوېږي، راغورځي، رارغړي.

{أَفَتَطْمَعُونَ} آيا تمه کوئ؟

{ فَرِيقٌ} يوه ډله.

{يُحَرِّفُونَهُ} بدلون پکې راولي.

{عَقَلُوهُ} په هغې پوه شول.

{لِيُحَآجُّوكُم} ترڅو ستاسو پر خلاف حجت قايم کړي.

## ژباړه

او (یاد کړئ ای یهودیانو!) هغه وخت چې مړ کړ (پلرونو) ستاسې یو سړی، نو په جګړه شوئ په هغه (مقتول) کې او الله ښکاره کوونکی دی د هغه شي چې پټاوه به مو هغه(مړی)، نو ومو ویل: چې د وژل شوي پر جسد د هغې (غوا) د غوښې یوه برخه ووهئ (بیا ژوندی شو هغه مقتول)، همداسې(لکه، څرنګه چې یې دغه مړی ژوندی کړ) الله

تعالی (په قیامت کې) مړي ژوندي کوي او تاسې ته د خپل قدرت آیتونه درښیي، د دې لپاره چې تاسې غور وکړئ!.
بیا د دغه (مړي له ژوندي کولو) وروسته ستاسې زړونه سخت شول، نو دغه (زړونه په سخت والي کې) په مثال د تیږو دي، بلکې په سختوالي کې له هغو نه هم زیات سخت دي او بېشکه چې له تیږو څخه ځینې خامخا هغه دي چې له هغو څخه لويې ويالې خوټېږي (بهېږي) او په تحقیق سره ځینې له دې تیږو څخه خامخا هغه دي چې چوي، نو له هغو څخه اوبه راوځي او بېشکه ځینې له دی تیږو څخه خامخا هغه دي چې د الله له وېرې (د غرو له سره) رارغړي او الله له هغه څه چې تاسې يې کوئ بې خبره نه دی. نو آیا تاسې (ای مسلمانانو) تمه کوئ، چې دوی به (ستاسو په وینا) ایمان راوړي په داسې حال کې، چې وه یوه ډله له دوی، چې اورېدل به یې کلام د الله، بیا به یې اړوله هغه خبره وروسته له هغه چې پوه به شول په هغې، حال دا چې دوی به پوهېدل (په دی تحریف او افتراء). کله چې (یهودیان) له هغو کسانو سره چې مؤمنان دي ملاقات وکړي، وایي چې موږ ایمان راوړی دی او کله چې ځینې د دوی له ځینو نورو سره یوازی شي، نو وایي: آیا تاسې (ای یهودیانو) مؤمنان په هغه څه، چې الله تاسې ته په تورات کې پرانیستلي (بیان کړي) دي، خبروئ؟ د دې لپاره، چې دلیل ووایي له تاسې سره مؤمنان په هغو سره، په نزد د پروردګار ستاسې، آیا نو نه پوهېږئ؟ (په دې چې دښمن ته حجت ورښیئ). آیا نه پوهېږي دغه (یهودیان) چې بېشکه الله په هغه څه (کفر او نفاق) چې پټوي یې دوی او په هغه څه (ایمان) چې ښکاره کوي یې، عالم دی.

## اجمالي تفسیر

الله تعالی د تېر لوست په آیتونوکې موږ ته د غوا د حلالولو په اړه، ترڅو قاتل پرې معلوم کړي، د بني اسرائیلو د ناندریو او جنجالونو یادونه وکړه. بیا د دې لوست په لومړي آیت کې د هماغې کیسې د لړۍ په ادامه فرمایي:

﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا....﴾، یعنې: یاد کړئ هغه ورځ چې یوسړی مو وواژه او د هغه د وژونکي د پېژندلو په اړه مو په خپل منځ کې جنګ اوجګړې کولې اوهر یوه کوښښ کاوه چې تور له ځانه لرې کړي، تردې چې په پای کې تاسې ته د غوا د حلالولو امر وشو او هغه موحلاله کړه او وژونکی مو پرې وپېژانده.

دا چې د هغه کس قتل د نبي کریم ﷺ د زمانې یهودو ته منسوب شوی دی، سبب یې دا دی چې دوی هم د هماغو یهودیانو له نسل څخه وو چې هغه سړی یې وژلی وو چې ټول په ګمراهی او انحراف کې سره یوشان وو. د آیت په لړکې داسې راځي:

﴿وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ﴾، یعنې: هغه څه چې مو پټ کړي، الله تعالی هغه څرګندوي.

﴿فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا...﴾: په دې آیت کې الله تعالی د خپل بې پایه قدرت او ځواک د ثابتولو لپاره امر وکړ چې دحلالې شوې غوا د غوښې یوه برخه د مقتول په بدن ووهئ، ترڅو د یو بې روحه څاروي په واسطه مړ انسان راژوندی شي اوخپل قاتل درپه ګوته کړي. الله دا رنګه مړي ژوندي کوي او د خپل قدرت نښې درښیي، ترڅوخپل عقل په کار واچوئ. دا چې د غوا کومه برخه یې د مړي په جثه ووهله، په دې اړه په قرآن او حدیث کې څه نشته او نه ورته اړتیا لیدله کیږي. د مقتول حیرانوونکی راژوندي کېدل، د قیامت په ورځ د مړو په ژوندي کېدلو څرګند دلیل دی، ترڅو

بنده‌ګان پرهېزګاري غوره کړي او له الله څخه وویرېږي.

﴿ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ...﴾: وروسته له دې چې الله تعالی دا لویه معجزه بیان کړه، ترڅو ویده او غافله زړونه راویښ کړي، د هغو کسانو یادونه کوي چې زړونه یې سخت دي، نو فرمايي: ای بني اسرائيلو! وروسته له دې چې الله تعالی تاسې ته لويې معجزې دروښودې، ستاسې زړونه داسې سخت شول لکه تيږه يا له تيږې څخه هم زيات سخت؛ ځکه ځينې داسې تيږې شته چې له هغو څخه اوبه د رودونو يا ويالو په شان بهيږي او ځينې له دې تيږو څخه هغه دي، چې چوي، نو له هغو څخه اوبه (چينې) راوځي، ترڅو انسانان، څاروي او کښتونه پرې خړوبه شي.

بيا ځينې له دې تيږو څخه هغه دي چې د الله له ويرې د غرونو له څوکو ښکته رارغړي. دا د تيږو حالت دی چې سره له دې ټولې سختی هم، انسان ته ګټه رسوي، خو ای بني اسرائيلو! تاسې داسې سخت زړي ياست چې نه له وعظ څخه اغيزمن کېږي اونه له کوم پندڅخه عبرت اخلي. بيا الله تعالی د آيت په پای کې فرمايي: ﴿وَمَا اللهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾. يعنې: الله له هغه کار څخه چې ترسره کوئ يې، غافل نه دی. بلکې ستاسې کړه وړه يو، يو شمېري، د هغه پر اساس له تاسې سره محاسبه کوي او مناسبه بدله درکوي او د الله له نيولو به خلاصون ونه مومئ.

﴿أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ...﴾: په دې آيت کې الله تعالی مؤمنانو ته خطاب کوي او فرمايي: ای مؤمنانو! سره له دې چې د يهودو د خصلتونو اوځانګړتياوو په هکله مو تاسې ته زياتې کيسې بيان کړې، نو آيا بيا هم تمه کوئ چې هغوی به ستاسې په دين منګولې ولګوي او مسلمانان به شي؟ په داسې حال کې چې د يهودو يوه ډله علماء او احبار تورات اوري او وروسته له پوهېدلو په هغه کې تحريف کوي. ﴿وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ قَالُواْ آمَنَّا...﴾ په دې مبارک آيت کې الله تعالی د يهودو يو بل رذالت څرګندوی او فرمايي: کله چې دوی له مؤمنانوسره مخامخ کېږي، هغوی ته وايي: موږ ايمان راوړی او هغه څه چې په محمدﷺ نازل شوي په هغو باور لرو، خوکله چې په خپلو کې يوازې کېږي د اعتراض او تهديد په ډول وايي: څرنګه مؤمنانوته هغه حقايق بيانوئ چې په تورات کې راغلي دي؟ غواړئ چې د اسلام د دين او د نبي کريم ﷺد نبوت له حقانيت څخه خبرې وکړئ، ترڅو هغوی ستاسې د پروردګار په وړاندې ستاسې اعتراف پر تاسې دليل ونيسي؟ دوی دا کار له دې امله کاوه، ترڅو هېڅوک د محمد ﷺ د نبوت په رښتينولی او د اسلامي دين په حقانيت اعتراف ونه کړي.

د دې لوست په وروستي آيت کې الله تعالی بني اسرائيل د هغوی د جهالت له امله رټي او فرمايي:

﴿أَوَلاَ يَعْلَمُونَ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ﴾: آيا دوی نه پوهيږي، چې الله تعالی د دوی په ښکاره او پټو کارونو پوهيږي او دوی چې څه څرګندوی او يا پټوي، الله تعالی يې په اړه بشپړ معلومات لري او پوهيږي چې دوی څه څرګندوی او کومې مسئلې پټې ساتي؟! دا يو انکاري اسلوب دی، په دې معنا چې الله د دوی له ټولو کارونوڅخه خبردی او لکه څرنګه چې يې په دنيا کې دوی ته سزا ورکړې ده، په آخرت کې به هم دوی ته له دې څخه سخته سزا ورکړي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د لاندې موضوع په اړه له یو بل سره مباحثه وکړي:

کوم تورات چې اوس مهال له یهودو سره دی څه حکم لري؟ آیا دا همغه کتاب دی چې په موسی علیه السلام نازل شوی و؟

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې له یادو شویو آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- ☆ ډېر ژر او یا له لږ ځنډ وروسته به ظالمان او تېري کوونکي د خپلو کړنو سزاګوري اوکړنې به یې رسوا کیږي.
- ☆ الله تعالی په دې قادر دی چې مړي دویم ځلې بیا راژوندي کړي.
- ☆ مسلمانان نه باید د بني اسرائیلو په څېر له حق څخه مخ واړوي او نه هم د انحراف لامل وګرځي.
- ☆ پرته له ډېرو لږو بني اسرائیلو څخه، له نورو نه دا هیله نه کیږي چې دوی به اسلام قبول او د محمد ﷺ پر نبوت ایمان راوړي.
- ☆ په ټولنه کې هغه وخت مخالفت پیدا کیږي چې وګړي یې د ارادې په ضعف او د پوهې په کمۍ اخته شي.
- ☆ څوک چې الهي شریعت قصداً تغیروي، د هغه ځای دوزخ دی.

## پوښتنې

١ – د لوست د لومړني آیت ﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً﴾ مناسبت له مخکنیو آیتونو سره څرنګه دی؟ بیان یې کړئ.

٢ – په دې مبارک آیت کې ولې ټول یهودیان مخاطب ګرځول شوي دي، په داسې حال کې چې قتل پخوا د یوه تن په واسطه تر سره شوی و؟

٣ – کله چې مړی دغوا د غوښې په یوه ټوټه ووهل شو، څه معجزه رامنځته شوه او آیا دې معجزې په بني اسرائیلو څه اثر وکړ؟

٤ – په یادو شویو آیتونو کې د بني اسرائیلو زړونه له څه شي سره تشبیه شوي دي او په کوم دلیل یې زړونه له تیږو څخه سخت معرفي شوي دي؟

٥- کله چې به یهودیان له یوبل سره یوازې کیدل، ولې به یې یو بل رټل او ملامتول ؟

## کورنۍ دنده

د تحریف د مفهوم په هکله او دا چې یهودیانو څرنګه په خپل کتاب کې تحریف کړی و، یوه مقاله ولیکئ چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

## د (البقرة) سورت (۷۸ - ۸۲) آيتونه

﴿وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لاَ يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلاَّ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَظُنُّونَ ﴿۷۸﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ
بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِندِ اللّهِ لِيَشْتَرُواْ بِهِ ثَمَناً قَلِيلاً فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا
يَكْسِبُونَ ﴿۷۹﴾ وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلاَّ أَيَّاماً مَّعْدُودَةً قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللّهُ عَهْدَهُ أَمْ
تَقُولُونَ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ﴿۸۰﴾ بَلَى مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ
فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۸۱﴾ وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۸۲﴾﴾

### د ځينو کلمو معنا

| | |
|---|---|
| { أُمِّيُّونَ } | هغه کسان چې لوستل او ليکل نشي کولای. |
| { أَمَانِيَّ } | باطلې او دروغجنې هيلې. |
| { وَيْلٌ } | هلاکت دې وي. |
| {يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ} | دوی کتاب (تورات) ليکي. |
| { يَكْسِبُونَ } | په لاس راوړي، حاصلوي. |
| {لَن تَمَسَّنَا} | هيڅکله موږ ته نه رسيږي. |
| {تَقُولُونَ عَلَى اللّهِ} | تاسو په الله دروغ تړئ، الله ته د دروغو نسبت کوئ. |
| { بلى } | د ځواب کلمه ده چې د يوه فعل د اثبات لپاره راځي اوخپل ماقبل نفې کوي. |

### ژباړه

اوځينې له دغو يهوديانو څخه اميان دي، چې په کتاب (تورات) باندې نه پوهېږي، خو د خپلو نفسونو په خواهشاتو (پوهېږي) اونه دي دوی مګر دا چې په بې بنسټه هيلو يې تکيه کړېده او په انګيرنه اوګومان روان دي، نو عذاب (هلاکت او خرابي) د هغو کسانو لپاره دی، چې کتاب (تورات) يې له (خپله ځانه) په خپلو لاسونو ليکلای، بيا دغه (محرفين خلکوته) وايي، چې دا (ليکل شوی کتاب) د الله له لوري دی، لپاره د دې، چې په دغه تحريف شوي کتاب لږ قيمت واخلي، نو دوی ته له سببه د هغه شي، چې د دوی لاسونو ليکلی دی (عذاب، هلاکت) او خرابي ده او بيا خرابي (هلاکت او تباهي) ده دوی ته په سبب د هغه کار چې دوی يې کوي (چې هغه رشوت اخيستل دي).

او (یهودیان) وایي: موږ ته به هېڅکله  د دوزخ اور ونه رسېږي مګر څو شمېرل شوې (لږې) ورځې. ووایه ته (ای محمده! دوی ته): آیا تاسې له الله تعالی څخه عهد اخیستی دی (چې عذاب به نه درکوي؟)، نو (که چېرې داسې وي) الله هېڅکله هم له خپل عهد څخه مخالفت نه کوي، یا وایئ (جوړوئ) په الله هغه (دروغ) خبره، چې نه پرې پوهېږئ (داسې نه دی لکه چې تاسې وایئ)، بلکې هر چا چې کسب کړه بدي او چاپېره شوه پر ده ګناه د ده (چې تر مرګه پورې کفر دی)، نو همدغه کسان (د دوزخ) د اور صاحبان دي، دوی به په هغه اور (د دوزخ) کې تل وي او هغه کسان چې مؤمنان دي او نېک عملونه یې تر سره کړي دي، همدغه کسان صاحبان د جنت دي، دوی به تل په هغه جنت کې وي.

## اجمالي تفسیر

﴿وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لاَ يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلاَّ أَمَانِيَّ... ﴾: د تېرشوي لوست په ترڅ کې د هغو یهودیانو یادونه شوې وه چې د تورات عالمان وو، خو د دنیوي خسیسو اموالو او پیسو له امله یې په تورات کې تحریفات راوستل او سره له علم او پوهې یې د ګمراهۍ او د اسلام پرخلاف لاره غوره کوله، چې هېڅ ډول وعظ او نصیحت د دوی پر سختو او لاروړکو زړونو اغېزه نه درلوده. د دې لوست د آیتونو په ترڅ کې د یهودیانو له بلې ډلې سره آشنا کېږو چې د تورات له احکامو څخه بې خبره وو او په لوستلو یې هم قادر نه وو، یوازې په هغو  دروغجنو هیلو او تخیلاتو پوهېدل، چې له خپلو پوهانو څخه یې اوریدلي وو، دوی داګومان کاوه چې الله تعالی یې د تېروتنو او  اشتباهاتو له امله نه مواخذه کوي.

﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ... ﴾: الله تعالی په دې آیت کې د یهودو د بد او ناوړه برخلیك پایلې ته اشاره کوي چې الهي کلام یې تغیر او تحریف کاوه او په اړه یې داسې فرمایي: افسوس د یهودو د هغو علماوو او پوهانو په حال چې تورات په خپلو لاسونو لیکي او په هغه کې له ځانه نورشیان زیاتوي او یا یې ورڅخه حذفوي او بیا دعوه کوي چې دا د الله کلام دی او خلك هم په زور او دروغو دې ته هڅوي چې همدغه دروغجنې خبرې د خپل فهم او دینداري بنسټ وګڼي. دوی دا کار د ناپوهۍ اوجهل له مخې نه ترسره کوي بلکې دا کار د بشپړې پوهې او درك له مخې کوي، ترڅو له دې لارې د دنیا خسیسه مال، متاع او یا ټولنېز مقام، شان او شوکت ترلاسه کړي. په واقعیت کې که دوی هرڅومره پانګه، ټولنېز مقام او رتبه تر لاسه کړي، خو دا ټول د اخروي نعمتونو پر وړاندې بې ارزښته  دي.

الله تعالی دوی د دې ناوړه کار له امله په عذاب تهدیدوی او فرمایي: ﴿فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ﴾: هلاکت دې وي پردوی د هغو تحریفاتو له کبله چې له ځانه یې لیکي او بیا یې د الله کلام بولي او هلاکت دې وي پر دوی د هغو دنیوي مالونو له کبله چې په ناحقه یې لاس ته راوړي، ځکه کومه وسیله چې دوی په

دې اړه په کار اچوي او کومه چې دوی يې تعقيبوي هغه ټول باطل او ناروا دي.

﴿وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلاَّ أَيَّاماً مَّعْدُودَةً... ﴾: الله تعالی د دې آيت په ترڅ کې د يهودو باطل او ناروا فکر ښکاره کوي چې د دوی د بېځايه غرور او تکبر نښه ده. دوی داسې انګيري چې هېڅکله به د الله په عذاب اخته او پرته له څو ورځو څخه به جهنم ته داخل نه شي، له دې کبله الله تعالی خپل پيغمبر محمدﷺ ته امرکوي چې د دوی پر دې بېځايه سوچ او خيال رد وکړي او دوی ته ووايي چې: آيا تاسې له الله نه کومه وعده او ژمنه اخيستې ده چې ځان پرې ملزم ګڼئ؟ اوکه له ځانه هغه څه وايئ چې د هغه په اړه هېڅ معلومات اوخبرتيا نلرئ؟ ځکه له داسې مسايلو څخه خبرتيا پرته د وحې له لارې ممکنه نه ده اوڅوک چې له ځانه جوړې شوې خبرې الله ته منسوبوي، په حقيقت کې دوی پر ځان ظلم کوي او د دروغجنو او افترا کوونکو له ډلې څخه حسابيږي.

﴿بَلَى مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ... ﴾: بيا الله تعالی د دوی دا پوچ خيال ردوی او فرمايي: ای يهودو! کوم تصور چې تاسوکوئ داسې نه ده چې دوزخ ته به نه اچول کېږئ او نه به په عذابېږئ، بلکې تاسې به په دوزخ کې تل اوسيږئ، ځکه څوک چې ناوړه کارونه ترسره کوي او په خپلو بدو اوناوړو عملونو ټينګار کوي هغوی به تل په دوزخ کې وي.

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ... ﴾: الله تعالی د يهودو د برخليک او پايلې له بيانولو وروسته د رښتينو مسلمانانو برخليک بيانوي اوفرمايي: هغوکسانو چې ايمان راوړی اونېکې کړنې ترسره کوي، الله تعالی د دوی عزت او درناوی کړی دی او د دوی د اوسيدنې ځای يې غوره جنت ټاکلی، چې هلته به تل اوسيږي.

**فعاليت**

قرآن کريم د فضيلت، کرامت او د دوزخ له اور څخه د خلاصون معيار څه شی ګڼلی دی؟ په دې اړه دې زده کوونکي له يو بل سره مباحثه وکړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونوڅخه لاس ته راځي، عبارت دي له:

- ☆ د الله د کتاب تلاوت او د هغه په معنا پوهېدل ډېر اړين دي.
- ☆ څوک چې د الله په کتاب کې تحريف راولي او حقيقتونه يې پټوي، د هلاکت او الهي عذاب ورګرځي.
- ☆ بايد په الهي شريعت عمل وکړو او هغه خپله وجيبه وګڼو.

☆ جنت ته د داخليدلو اساسي شرط اخلاص، ايمان او نيکې کړنې دي.

☆ کله چې له چا څخه ګناه وشي، بايد توبه وباسي او په توبه کې دا اړينه ده چې بيا د ګناه له کولو څخه ځان وژغوري، له خپل کړي کار څخه پښيمانه شي او نېکې کړنې ترسره کړي.

## پوښتنې

١ – په مبارک آيت کې چې د بني اسرائيلو د عوامو خلکو کوم حالت بيان شو، هغه کوم حالت دی؟

٢ – د (ويل) او (أماني) د کلمو معنا څرګنده کړئ.

٣ – د بني اسرائيلو علماوو ولې تورات تحريف کاوه؟

٤ – د الهي عذاب او دوزخ په اړه د بني اسرائيلو عقيده څه وه؟ قرآني دريځ په دې اړه څرګند کړئ.

٥ – د يهودو علماوو کوم حقايق له تورات څخه وايستل او پرځای يې نور مطالب په هغه کې ورځای کړل؟

٦ – الله تعالی د يهودو اومسلمانانو برخليک څرنګه تصورکړی دی؟

## کورنۍ دنده

د جنتيانو او دوزخيانو په اړه يوه اته کرښيزه مقاله وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۸۳ - ۸۶) آيتونه

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ تَعْبُدُونَ إِلاَّ اللّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ
وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿۸۳﴾ وَإِذْ
أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لاَ تَسْفِكُونَ دِمَاءكُمْ وَلاَ تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿۸۴﴾ ثُمَّ
أَنتُمْ هَؤُلاء تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقاً مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن يَأتُوكُمْ
أُسَارَى تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاء مَن يَفْعَلُ
ذَلِكَ مِنكُمْ إِلاَّ خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۸۵﴾
أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُاْ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالآَخِرَةِ فَلاَ يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ ﴿۸۶﴾﴾

## د ځينو کلمو معنا

{مِيثَاقَ} کلکه او ټينګه وعده(ژمنه).

{ذِي الْقُرْبَى} خپلوان.

{الْيَتَامَى} د (يتيم) جمع ده، يتيم هغه ماشوم ته ويل کيږي چې پلار يې د هغه له بلوغ څخه د مخه مړشوی وي.

{الْمَسَاكِينِ} د (مسکين) جمع ده، مسکين هغه څوک دی چې له ډېر لږ دنيوي مال او متاع څخه هم برخمن نه وي.

{تَوَلَّيْتُمْ} مخ مو وګرځاوه، شا مو واړوله، پاملرنه مو ونکړه.

{مُّعْرِضُونَ} مخ ګرځوونکي.

{أَقْرَرْتُمْ} اعتراف مو وکړ.

{تَظَاهَرُونَ} له يو بل سره مرسته اوکومک کوئ.

{أُسَارَى} د (اسير) جمع ده (بنديان).

{خِزْيٌ} ذلت اوخواري.

{يُرَدُّونَ} ګرځول کيږي.

{لاَ يُخَفَّفُ} نه کميږي.

## ژباړه

او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چې موږ له بني اسرائيلو څخه کلکه وعده واخيستله (او ومو ويل دوی ته) چې پرته له الله نه د بل هيڅ شي عبادت مه کوئ او له مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره به نيکي کوئ او ووايئ خلکو ته ښې خبرې او سم قايم کړئ لمونځ (د ټولو مقرراتو له رعايت سره يې اداء کړئ) او ورکړئ زکات.

بیا تاسې (له عهده) وګرځېدئ مګر لږ (کسان) له تاسې څخه، حال دا چې همدا تاسې (له الهي احکامو څخه) مخ ګرځوونکي یاست. او (یاد کړئ ای بني اسرائیلو!) چې کله موږ ستاسې له (پلرونو) څخه (په تورات کې) کلکه وعده واخیستله، چې د یو او بل وینې به نه تویوئ او نه به یو بل (په ظلم سره) له خپلو کورونو څخه باسئ، بیا تاسې د دې اقرار وکړ او تاسې په خپله په دې شاهدي ورکوئ. بیا تاسې هغه کسان یئ چې خپل ورونه وژنئ، خپل ځیني ورونه بې کوره کوئ، د ظلم او زیاتي په کولو د هغوی په خلاف ډلې جوړوئ او کله چې په جګړه کې ونیول شي او ستاسې په لاس کې بندیان شي، نو د هغو د خوشې کولو لپاره د فدیې لارې برابروئ، په داسې حال کې چې پر تاسې د هغو ایستل حرام کړای شوي دي، نو آیا تاسې د کتاب ځینې (احکام) منئ او له ځینو نورو (احکامو) څخه یې انکارکوئ؟ نو نه ده سزاء د هغه چا له تاسې څخه چې دا (کارونه) کوي، مګر رسوایي ده په ژوند د دنیا کې او د قیامت په ورځ به ډېر سخت عذاب (دوزخ) ته ګرځول کېږي او الله له هغه څه چې تاسې یې کوئ غافل نه دی. دا هغه کسان دي چې د دنیا ژوند یې په آخرت اخیستی دی، نو سپک(کم) به نه کړای شي له دوی څخه (دنیوي او اخروي) عذاب او نه به له دوی سره (په دفع د عذاب کې) مرسته وکړای شي.

### اجمالي تفسیر

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ تَعْبُدُونَ إِلاَّ اللّهَ...﴾: پدې مبارک آیت کې یو ځل بیا د بني اسرائیلو ژمنې ماتولو ته اشاره شوې ده، ځکه چې دوی د خپل ناوړه خصلت پر بنسټ تل خپلې وعدې ماتوې او ډېرکم پرې وفاکوي. الله تعالی له یهودو څخه دا وعده واخیستله چې:

- له واحد الله نه پرته د بل چا عبادت مکوئ.
- له الله سره شریک مه نیسئ.
- له خپل مور او پلار سره نیکي وکړئ.
- له خپلوانو، یتیمانو او تنګ لاسو سره د نرمۍ او مهربانۍ له مخې چلندکوئ او هغوی ته نېکه خبره کوئ.
- لمونځ قایموئ او زکات اداکوئ.

خو یهودیان په خپلو ژمنو ثابت پاتې نشول چې د آیت وروستۍ برخه دا څرګندوي، بلکې شا یې واړوله، الله تعالی فرمایي:

﴿ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً مِّنكُمْ وَأَنتُم مِّعْرِضُونَ﴾: وروسته له هغه چې له الله سره مو کلکې وعدې وکړې بیا مو خپل مسیر بدل کړ او وعده مو ماته کړه او هغې ته مو هېڅ احترام ونه کړ او په خپله پرې شهادت هم اداکوئ.

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لاَ تَسْفِكُونَ دِمَاءكُمْ...﴾: دا مبارک آیت د پیغمبر ﷺ د زمانې یهودو ته داسې څه څرګندوي چې په تورات کې دوی د هغه له ترسره کولو منع شوي وو او له دوی څخه یې ژمنه اخیستې وه چې دې منع شویو څیزونو ته به نه نژدې کیږي. هغه ټینګه ژمنه چې الله تعالی له یهودو څخه اخیستې وه هغه دا وه چې دوی به یو او بل په ناحقه نه وژني او یو بل به له خپلو کورونو څخه نه شړي . د آیت په پای کې دې ته اشاره شوې چې بني اسرائیلو

ژمنه وکړه او په هغې يې اقرار وکړ، نو لازمه دا وه چې پرخپله ژمنه درېدلي وای، خو هغوی خپله ژمنه ماته کړه.

﴿ثُمَّ أَنتُمْ هَؤُلاء تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ...﴾: قرآن کريم په دې مبارك آيت کې همغې پخوانۍ موضوع ته دوام ورکوي او فرمايي: همدا تاسې ياست (ای بني اسرائيلو!) چې لا اوس هم يو او بل سره وژنئ او يو او بل له خپلو کورونو څخه وباسئ.

د يثرب (مدينې) يهود (بنو قريظه او بنو نضير) به هميشه په خپلو منځونو کې په جګړه وو او ترڅنګ يې دوی له (اوس او خزرج) سره ژمنې کړې وې، چې بنوقريظه له اوس او بنونضير له خزرج سره ملګري وو، د هغوی په جګړو کې به دوی هم برخه اخيستله، يو او بل به يې واژه، د يو او بل ښځې به يې وينځې ګرځولې، د يو بل مالونه به يې لوټول او په قراني تعبير﴿تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ په ګناه او دښمنۍ سره به يې د يو او بل پر وړاندې دسيسې جوړولې او په دې سره به يې د دښمن مرسته کوله. د حېرانتيا خبره دا وه چې د خپلو همژمنوالو ترڅنګ له يو بل سره په جګړو کې به چې کله د دوی څه وګړي بنديان کېدل، نو ټولو يهودو به که هغه به له هرې قبيلې څخه و، د دغو اسيرانو د خلاصون لپاره مرسته کوله او فديه به يې ورکوله، الله تعالی په دې اړه فرمايي:

﴿وَإِن يَأتُوكُمْ أُسَارَى تُفَادُوهُمْ﴾: که له تاسو څخه به څوك بندي شو، نو د هغه د خلاصون لپاره فديه ورکوئ. بيا الله تعالی د دوی رټنه کوي چې آيا د تورات په ځينو احکامو ايمان راوړئ او له ځينو نورو څخه يې انکارکوئ:

﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ﴾: په دې معنا چې هغوی به خپل بنديان د فديې په مقابل کې خوشې کول چې دا د کتاب پر ځينو برخو د ايمان او عمل نښه وه او په عين حال به يې د خپل ټبر خلك وژل چې دا د کتاب پر ځينو نورو برخو کافرېدل او عمل نه کول و، دا کار ډېر ناوړه او شرموونکی عمل و. الله تعالی د آيت په اخر کې دېته اشاره کوي چې دا ډول کار به په دنيا کې د هغه د عامل لپاره د شرم او تاوان لامل وي، په آخرت کې به دا ډول خلك په دردوونکي عذاب اخته شي او الله تعالی ستاسو له ټولو کارونو څخه ښه خبر دی. که څه هم د دې آيت خطاب يهودو ته متوجه دی، خو محتوا يې عامه ده او مسلمانانو ته هم امر شوی دی، ترڅو په دين کې تجزيه رانه ولي، په دې معنا چې اسلام يو بشپړ، شامل دين او د ژوندانه کړنلاره ده، د اسلام احکام او ارزښتونه بايد پرته له استثنا پلي شي، نه د يهودو په څېر چې ځينې احکام به يې عملي کول او ځينې نور به يې بې عمله پرېښودل.

﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُاْ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا... ﴾: په دې مبارك آيت کې الله تعالی د يهودو د ځانګړتياوو يادونه کوي او فرمايي: همدا کسان دي چې د دنيا ژوند يې د آخرت په بيه واخيست، نو نه به د دوی عذاب سپك شي او نه به له دوی سره مرسته وشي. دوی هغه کسان دي چې دنيوي ګټې يې په پام کې نيولي دي او په آخرت کې به خپله جزا وګوري، چې کوم تخفيف اوکمي به پکې نه وي، هېڅوك نشي کولای چې له دوی سره مرسته وکړي او له الهي عذاب څخه يې وژغوري، هرڅوك چې له الله سره کړې وعده ماتوي په مقابل کې به د رسوايۍ او خوارۍ پرته بل څه ونه مومي او په آخرت کې به د خپلو اعمالو په جزا ورسيږي.

**فعالیت**

د ﴿ثُمَّ أَنتُمْ هَؤُلاء تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ...﴾ آیت دقیقه معنا او مفهوم څه دی؟ او د یهودو کومو کړنو ته اشاره کوي؟ په دې اړه بحث اوڅېړنه وکړئ، ترڅو ټول زده کوونکي یې په تفسیر وپوهیږي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، عبارت دي له:

- ☆ باید د الله تعالی یووالی او توحید وپیژنو او عبادت یې وکړو، چې دا رښتینی عبادت او بنده ګي ده.
- ☆ مور او پلار له هرچا څخه زیات د رحمت او مهربانۍ مستحق دي، ځکه همدوی دي چې د ټولنې د بقا او پایښت لامل دي او ټولنې ته لوی، لوی انسانان وړاندې کوي.
- ☆ له خپلوانو او دوستانو سره نیکې اړیکې د مینې او محبت لامل ګرځي.
- ☆ د الله پر وړاندې ارزښتناک او معتبر ایمان هغه دی چې خاوند یې د الله په ټولو احکامو او د پیغمبرﷺ په لارښوونو ایمان راوړي اوعمل پرې وکړي، نه دا چې ځینې احکام ومني او ځینې پرېږدي.
- ☆ هر ملت چې الهي شریعت پرېږدي په دنیا کې په رسوایۍ او شرمندګۍ او په آخرت کې په الهي عذاب اخته کیږي.
- ☆ ثوک چې له الله سره خپله ژمنه تر پښو لاندې کړي او په خپلو نفساني غوښتنو عمل وکړي، نو په دنیا کې ارومرو خوار او ذلیل کیږي او په آخرت کې هم د الله تعالی له عذابه خلاصون نه مومي.
- ☆ د اسلام دین د ژوندانه یو بشپړ نظام او کړنلاره ده او باید په بشپړه توګه عملي او پلی شي .
- ☆ د دین له وجایبو څخه یوه دا ده چې خلکو ته په نېکو کارونو امر او هغوی له بدو کارونو څخه منع کړو.

**پوښتنې**

١- الله جل جلاله له یهودو څخه څه ژمنه اخیستې وه؟

٢- له یتیمانو او مسکینانو څخه ثوک مراد دي؟

٣- یهودوخرنګه د یوبل وینې تویولې؟

٤- د ﴿وَإِن يَأتُوكُمْ أُسَارَى تُفَادُوهُمْ﴾ معناڅه ده؟

٥- د هغو خلکو جزا چې دین یې تجزیه کړی، یعنې ځینې احکام یې مني او ځینې یې نه مني، څه ده؟

## د (البقرة) سورت (۸۷ - ۸۹) آیتونه

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِن بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ
بِرُوحِ الْقُدُسِ أَفَكُلَّمَا جَاءكُمْ رَسُولٌ بِمَا لاَ تَهْوَى أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقاً كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقاً
تَقْتُلُونَ ﴿۸۷﴾ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلاً مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿۸۸﴾ وَلَمَّا جَاءهُمْ
كِتَابٌ مِّنْ عِندِ اللّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا
جَاءهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِ فَلَعْنَةُ اللَّه عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿۸۹﴾﴾

### د ځینو کلمو معنا

{قَفَّيْنَا} پرله پسې مو واستول.

{الْبَيِّنَاتِ} روښانه دلیلونه او نښانې.

{أَيَّدْنَاهُ} تائید موکړ، قوت مو ورکړ.

{رُوحِ الْقُدُسِ} جبرئیل علیه السلام.

{كُلَّمَا} هرکله چې، هغه وخت چې.

{لاَ تَهْوَى} نه خوښوي.

{اسْتَكْبَرْتُمْ} ځانونه موغټ وښودل، لويي مو وکړه.

{غُلْفٌ} د (غلاف) یا د (اغلف) جمع ده، (پردې) یعنې هغه زړونه چې د پوهیدو توان نه لري.

{يَسْتَفْتِحُونَ} د مرستې غوښتنه کوي.

### ژباړه

او موږ موسی علیه السلام ته کتاب ورکړ. له هغه وروسته مو پرله پسې پیغمبران ولیږل او ور موکړې عیسی د مریمې زوی ته ښکاره (معجزې) او قوي کړی مو وو عیسی په روح القدس (پاک روح) سره، آیا نو هر کله چې به تاسې ته کوم رسول په هغو احکامو چې به ستاسو نفسونو نه خوښول راغی، نو تاسې به د هغو (احکامو له منلو) څخه سر غړاوه، نو تاسې د انبیاوو یوه ډله (لکه محمد، عیسی او موسی) دروغجنه وبلله او بله ډله (د انبیاوو) مو(لکه زکریا، یحی او

شعیب) ووژله او (په تمسخر یې) وویل: زموږ زړونه په پردو کې دي (یعنې وینا پرې اثر نه کوي، داسې نه ده) بلکې الله د دوی د کفر په سبب پر دوی لعنت کړی دی، نو ډېر لږ (له دوی څخه) ایمان راوړي. او هر کله، چې د الله لخوا دوی ( اهل کتابو) ته کتاب (قرآن) راغی (داسې کتاب) چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب، چې له دوی سره دی اوحال دا چې وو دوی پخوا له دې (بعثته) چې طلب د فتحې به یې کاوه (د الله په قرآن او محمد سره) پر هغو کسانو چې کافران وو، نو کله چې راغی دوی ته (هغه رسول) چې دوی (د تورات په ستایلو سره) پېژندلی و، پرې کافران شول، نو د الله لعنت دی په کافرانو، چې حق یې پټ او باطل یې ښکاره کړ.

**لنډ تفسیر**

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِن بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ...﴾ الله تعالی د هر امت په منځ کې یو پیغمبر رالیږلی، ترڅو هغوی ته پند او نصیحت وکړي او هغوی یې پند قبول کړي او څرنګه چې د دوو پیغمبرانو تر منځ اوږده فاصله تېریده، نو د خلکو زړونه به سختېدل او بیرته به یې انحراف ته مخه کوله اود تېرشوي پیغمبرامرونه به یې هېرول، د هغه خبرې او الهي پېغامونه به یې تغیرول، چې دا کار په بني اسرائیلوکې زیات پیښیده. الله تعالی په دې قوم کې ډېر پیغمبران یو په بل پسې راولیږل، ترڅو دوی د خپل کار له پایلو څخه وویروي، خودوی تل الهي پېغامونه تغیرول او له الهي فرمان څخه یې تیښته کوله.

د دې لوست په لومړي آیت کې الله تعالی دې امرته اشاره کوي چې موسی عليه السلام مې د خپل پیغمبر په توګه ولېږه اوکتاب مو هم پرې نازل کړ، ترڅو بني اسرائیل سمه لار وپېژني او په هغه پسې مو څو نور پیغمبران هم ولیږل، ترڅو خلک د الله دین ته راوغواړي اوپه پای کې موږ عیسی د مریم زوی له انجیل سره ولیږه او ډېر روښانه دلایل اومعجزې مو هم ورکړې اوجبریل امین مو د ده تاییدکوونکی اومرستندوی وګرځاوه، خوسره له دې هم بني اسرائیل له تحریف او بدکارۍ څخه ونه ګرځېدل او د پیغمبرانو له نافرمانۍ څخه یې ډډه و نکړه.

په پای کې مبارک آیت دوی تهدیدوی او فرمایي: ﴿أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لاَ تَهْوَى أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقاً كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقاً تَقْتُلُونَ﴾. یعنې: هرځل چې الله تعالی تاسو ته یو پیغمبر رالیږلی، ترڅو د الله پېغامونه درته ورسوي، خوتاسې کله چې هغه پیغامونه دخپل نفساني میل مطابق ونه مومئ او ستاسو غوښتنې پوره نکړي، نومخ اړوئ او پر هغه له ایمان راوړلو څخه ځانونه ژغورئ، پر دې هم بس والی نکوئ، بلکې یوشمېر پیغمبران دروغجنوئ او یو شمېر وژنئ.

يهوديانوحضرت موسی(علیه السلام) او محمد ﷺ دروغجن وګڼل اوحضرت زکریا اویحیی (علیهما السلام) يې ووژل، ان تردې چې د محمدﷺ د وژلو لپاره يې څوځله ناکامه کوښښونه وکړل.

﴿وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ...﴾: الله تعالی د یهودو ځواب د خپل رټونکي اوملامت کوونکي سوال په وړاندې نقلوي، چې هغوی ویل: زموږ زړونه تړل شوي دي یعنې بند دي، هېڅ خبره پرې اغېزه نه کوي او په عناد اوسرغړونه عادت شوي یو. دوی غواړي ووايي چې زموږ د زړونو او صحيح فهم ترمنځ داسې مانع لکه یو دیوال وجود لري، خوالله تعالی پر دوی رد کوي: ﴿بَل لَّعَنَهُمُ اللهُ﴾: بلکې الله پر دوی لعنت کړی او دوی يې له خپل رحمت څخه لرې کړي دي، ځکه دوی سمه خبره نه کوي. دا چې وايي زموږ زړونه بند دي حقيقت نه لري. الله تعالی په دې سبب پر دوی لعنت کړی چې دکفر او انکار لاره يې غوره کړې ده.

﴿وَلَمَّا جَاءهُمْ كِتَابٌ مِّنْ عِندِ اللّهِ...﴾ الله تعالی په دې مبارك آيت کې د یهودو یو بل رذالت او ناوړه کار ته اشاره کوي، هغه دا چې دوی ځان غوښتونکي (خود خواه) خلك دي، نه غواړي چې نورو خلکو ته خیر ورسوي او له حق څخه انکار کوي. کله چې محمد ﷺ سره له قرآن کريم راغی او قرآن کريم هغه څه چې په تورات کې راغلي وو، تاييدول او هغه ګډ اصول چې د تورات او قرآن په منځ کې موجود وو، یهود هم پرې خبر وو، او د محمد ﷺ صفتونه يې په تورات کې لوستلي او له هغو سره آشنا شوي وو. خوسره له هغه يې بیا هم د محمد ﷺ له رسالت څخه انکار وکړ اومخ يې ورڅخه وګرځاوه، حال دا چې مخکې له دې چې محمد ﷺ ووینې او ويې پېژني، د مدينې له مشرکانوسره په مخامخ کېدو به يې هغوی تهديدول او دا به يې ورته ويل: د خاتم النبيين پيغمبر د راليږلو وخت نژدې شوی دی، کله چې هغه راشي، موږ به هغه ايمان راوړو اوله هغه سره يوځای کېږو او تاسو وژنو، نو الله تعالی په پای کې په دوی لعنت وايي اوفرمايي: ﴿فَلَعْنَةُ اللَّه عَلَى الْكَافِرِينَ﴾، یعنې: د الله لعنت دې وي پرکافرانو باندې.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د دې لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، دا دي:

- الله تعالی د بني اسرائيلو په منځ کې ډېر پيغمبران راليږلي دي، ترڅو هغوی د اسلام دين ته راوغواړي او د هغوی انحرافات اصلاح کړي.
- دا د یهودو عادت و چې آسماني پيغامونه به يې هغه وخت منل چې د دوی له غوښتنو او نفساني خواهشاتو

سره به موافق وو او د دوی مادي غوښتنې به یې پوره کولې.

☆ یهودیان د دې لپاره چې ځان له مسؤولیت څخه خلاص کړي وایي زموږ زړونه بند دي په هغه کې ایمان او هدایت ځای نه نیسي، دا یو ډول خالص دروغ دي چې له مسؤولیت څخه پرې ځان ژغوري.

☆ هغه ایمان چې یوازې په ژبه وي او په زړه کې ځای ونه لري اوعمل یې تصدیق ونه کړي، د الله پر وړاندې کوم ارزښت نه لري.

☆ هغه کسان چې پیغمبران اوآسماني کتابونه دروغ ګڼي، هغوی ملعون اود الله (جل جلاله) له رحمت څخه لرې دي.

## پوښتنې

١ – لاندنی جملې معنا کړئ:

**{قَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ} {لَا تَهْوَى أَنْفُسُكُمُ} {مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ} {يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا}.**

٢ – د دووتنو پیغمبرانو نومونه واخلئ چې د بني اسرائیلو له خوا وژل شوي دي؟

٣ – د دې جملې ﴿قُلُوبُنَا غُلْفٌ﴾ مفهوم څه دی؟ او دا جمله کوموخلکو ویلې ده او له هغې څخه یې مطلب څه و؟

٤ – له ﴿فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ﴾ څخه څه مراد دی؟

٥ – د حضرت عیسی عليه السلام دکومو معجزو په اړه معلومات لرئ؟

٦ – آیا یهود په دې حقیقت پوهیدل چې خاتم النبیین پیغمبر رالیږل کیږي او دا معلومات یې له کومه ځایه تر لاسه کړي وو؟

## کورنۍ دنده

د پخوانیو او اوسنیو یهودیانو د اوصافو په اړه یوه اته کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۹۰ - ۹۲) آیتونه

﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا بِمَا أنزَلَ اللّهُ بَغْياً أَن يُنَزِّلَ اللّهُ مِن فَضْلِهِ عَلَى مَن يَشَاء مِنْ
عِبَادِهِ فَبَآؤُواْ بِغَضَبٍ عَلَى غَضَبٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۹۰﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ بِمَا أَنزَلَ اللّهُ
قَالُواْ نُؤْمِنُ بِمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرونَ بِمَا وَرَاءهُ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقاً لِّمَا مَعَهُمْ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنبِيَاء
اللّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۹۱﴾ وَلَقَدْ جَاءكُم مُّوسَى بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ
ظَالِمُونَ ﴿۹۲﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{بِئْسَمَا} خومره بد دی.

{اشْتَرَوْا} پلورلي دي، خرخ يې کړل.

{بَغْياً} د ظلم او تيري له مخې.

{بَآؤُوا} اخته شول.

{مُّهِينٌ} رسوا کوونکی.

{مُصَدِّقاً} تاييد کوونکی.

{الْبَيِّنَاتِ} روښانه او څرګندې نښې.

## ژباړه

بد دي هغه څه چې دوی په هغه سره خپل ځانونه پلورلي دي (او هغه دا دي) چې کافران کېږي په هغه قرآن چې الله نازل کړی دی (دا کفر) د دې کينې او حسد په سبب دی چې الله (ولې) له خپله فضله په هغه چا چې له خپلو بندګانو اراده وکړي، نازلوي، نو په يوه غضب (چې کفر په محمد او قرآن دی) د بل غضب د پاسه (چې کفر په عيسی او انجيل دی) اخته شول او د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب مقرر دی. او کله چې دوی ته وويل شي چې ايمان راوړئ په هغو کتابونو چې الله نازل کړي دي، وايي: موږ ايمان راوړو په هغه کتاب چې پر موږ نازل کړای شوی دی (يعني تورات) او د نورو کتابونو (لکه انجيل او قرآن) له منلو نه انکار کوي، حال دا چې دا (نور کتابونه هم) حق دي،

تصديق کوونکي د هغه کتاب دي چې له دوی سره دی. ووایه (ای محمده! دغو یهودانو ته): نو ولې به تاسې د الله انبیاء (لکه شعیب، زکریا او یحیی) پخوا له دې وژل که چېرې تاسې (په تورات) ایمان راوړونکي وئ.

او بېشکه چې موسی علیه السلام تاسې ته ښکاره (معجزې) راوړې وې، بیا تاسې (د طور غره ته) د موسی علیه السلام له تللو وروسته خوسی (په خدایۍ سره) ونیوه، حال دا چې تاسې (د خوسي په دې معبود نیولو سره پر خپلو ځانو) ظالمان وئ.

## اجمالي تفسير

﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُواْ بِمَا أنَزَلَ اللّهُ...﴾: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د زمانې یهودو دا حقیقت ښه پېژنده چې تورات دآخرې زمانې له پیغمبرڅخه خبر راکړی او هغه پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی، چې په دې اساس د ایمان راوړلو ټول اسباب هغوی ته تیارشول، خو د محمد صلی الله علیه وسلم د زمانې یهودو په خپل کفر ټینګار وکړ او دا کفر یې د حسد، کینې او د ریاست غوښتلو او په دنیا پورې د زړه تړلو له وجې و. د کفر لار غوره کول او د ایمان پرېښودل په دې معنا دي چې ګواکې دوی خپل نفسونه په هغه خرڅ کړل یعنې خپل نفسونه یې خرڅ شوی مال وګاڼه اوکفر یې پیسې، نو خپل نفسونه یې خرڅ کړل اوکفر یې واخیست، له همدې امله الله د دوی داکارسخت ناوړه وګاڼه او وېې فرمایل: افسوس په څه بد شي یې ځانونه خرڅ کړل او په هغه څه چې الله نازل کړي په هغه یې د شرك له مخې انکار غوره کړ.

څرنګه چې یهودیان په خپل کفر محکم وو او تل په کفر کې اوسېدل، له همدې امله الله تعالی د دوی له حالت څخه په مضارع صیغه ﴿أَن يَكْفُرُواْ﴾ تعبیرکړی، په دې معنا چې دوی تل دې کار ته مخه کوي، په هغه منګولې لګوي او د انحراف لاره لټوي. دا ټول دوی له دې امله کوي چې ولې الله تعالی د عربو په قوم کې وحې رالیږلې ده او د دوی په قوم کې یې نه ده رالیږلې.

الله تعالی د مبارك آیت په آخره برخه کې د یهودو د کفر غوره کولو او له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره د کینې پایلې ته اشاره کوي او فرمایي: ﴿فَبَآؤُواْ بِغَضَبٍ عَلَى غَضَبٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ﴾. یعنې: دوی د همدې لویې اشتباه په سبب د الله له پلوه د پرله پسې غضب مستحق وګرځېدل. له یوې خوا یې په تورات او انجیل کفرغوره کړ او له بلې خوا یې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې، نو دغه د رسوایۍ اوشرمندګۍ پرله پسې غضب د دوی دکفر په وجې دوی ته رسیږي او الله دوی ته د سپکوونکي عذاب وعده ورکړې ده.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ بِمَا أنَزَلَ اللّهُ....﴾: یهودیانو تل د هرې الهي غوښتنې پر وړاندې عذرونه وړاندې کول لکه څرنګه چې په تېرشوي لوست کې هم ذکرشول چې ویل یې: ﴿قلوبنا غلف﴾. یعنې: زموږ زړونه په پردوکې دي، د محمد صلی الله علیه وسلم د وینا درك کولو وس نه لري. الله تعالی د دې آیت له مخې د دوی په غلط تصور رد فرمایي: که چېرې

یهودیانو ته وویل شي چې په قرآن کریم ایمان راوړئ! دوی په ځواب کې د عذر په توګه وایي: موږ په تورات ایمان راوړی چې پر موږ نازل شوی دی او په قرآن کریم ایمان نه راوړو؛ ځکه هغه په عربو نازل شوی دی نه پر یهودیانو. قرآن کریم د دې دعوې د اثبات لپاره چې په اصل کې پوچه او بی بنسټه ده، دوه شیان مطرح کړي دي: یو دا چې که دوی په حقیقي بڼه په تورات ایمان راوړی وای، نو په تورات کې خو نه دي راغلي چې له توراته پرته په بل آسماني کتاب ایمان مه راوړئ، حال دا چې دا ډله خلک د داسې مخالفت مرتکب شول، الله تعالی فرمایي: ﴿وَ يَكْفُرُونَ بِمَا وَرَاءهُ﴾: او دوی له توراته پرته په انجیل او قرآن کفر غوره کوي، حال دا چې قرآن کریم د دوی دکتاب تصدیق کوونکی دی او د دوی په کتاب کې د محمدﷺ د نبوت په اړه زیری هم ورکړ شوی و. دویم دا چې ستاسو پر خپل کتاب د ربښتیني ایمان د نه لرلو نښه دا ده چې تاسو تل په ناوړه کړو وړو چې ستاسو پر کفر او الحاد دلالت کوي لاس پورې کوئ او هغه د انبیاوو وژنه ده. الله تعالی فرمایي ﴿قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنبِيَاءَ اللّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾: ای محمده! یهودیانو ته ووایه که تاسې پخپل کتاب د ایمان دعوه لرئ، نو بیا ولې مو پیغمبران ووژل، په داسې حال کې چې تورات د دوی وژنه پرتاسې حرامه کړې وه، نو دا چې تاسې د الله پیغمبران ووژل دا په خپله ستاسې په نه ربښتینولۍ او دروغ ویلو ترټولو لوی او روښانه دلیل دی چې تاسې په حقیقت کې پر تورات هم ایمان نه لرئ.

الله تعالی په وروستي آیت کې یهودیانو ته خطاب کوي او فرمایي: ﴿وَلَقَدْ جَاءكُم مُّوسَى بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِن بَعْدِهِ وَأَنتُمْ ظَالِمُونَ﴾ موسی‌علیه السلام د الله له طرفه له ډېرو معجزو سره راغی، خو تاسې یې نبوت قبول نکړ او ده د خپل نبوت لپاره ډېر داسې محکم دلایل وړاندې کړل چې هېڅوک د داسې روښانه دلایلو په راوړلو قادر نه و، خو کله چې موسی علیه السلام د ملاقات لپاره د خپل الله لوري ته لاړ، ترڅو تاسې ته د دین لارښوونې راوړي، نو تاسې د ده په غیاب کې د خوسي په عبادت اخته شوئ او د یو الله عبادت مو پرېښود چې ستاسې دا کار پرخپل ځان له ظلم کولو پرته بل څه نه دی.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډوله دي:

- حقیقي مسلمان هغه دی چې له حسد، کینې، بغض او کرکې څخه ځان وژغوري.
- څوک چې د منکراتو او بدیو په ارتکاب راضي وي، د هغه چا په شان دی، چې هغه یې سرته رسولي وي.

★ یهودیان یوازې د عادي انسانانو وژونکي نه دي، بلکې د الهي پیغمبرانو په وژنه یې هم صرفه نه ده کړې.

★ قرآنکریم آخري آسماني کتاب او د ټولو آسماني کتابونو تاییدوونکی دی.

★ هغه څوک چې د معجزو او الهي قدرتونو او نښو له لیدلو وروسته حقیقي معبود پرېږدي او د بل څه عبادت کوي، له هغه څخه بل لوی ظالم نشته.

## پوښتنې

١ – الله تعالی په څه شي سره یهودیان رټلي دي؟

٢ – یهودو د کومو شیانو په وړاندې خپل ځانونه خرڅ کړل؟

٣ – هغه کوم لامل و چې یهود یې پر قرآنکریم له ایمان راوړلو څخه منع کول؟

٤ - د (فلم تقتلون) مقصد څه دی؟

٥ – تر ټولو لوی ظلم، څه دی؟

٦ـ هغه ښکاره دلایل اومعجزې چې قرآنکریم د موسی علیه السلام په هکله یادې کړې دي، کومې دي ؟

٧ـ کله چې موسی علیه السلام دطور غره ته لاړ، یهودیانو د څه شي عبادت ته مخه وکړه؟

## کورنۍ دنده

د حسد او کینې د ناوړو خطرونو په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ، چې په هغې کې له آدم علیه السلام سره د شیطان او له محمد صلی الله علیه وسلم سره د یهودو د حسد او کینې پایلو ته اشاره شوې وي.

# د (البقرة) سورت (۹۳ - ۹۶) آیتونه

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُواْ قَالُواْ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُواْ
فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِن كُنتُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ
الآخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ
أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ
لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معنا

{سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا} وامو وریدل او نافرماني مو وکړه.

{أُشْرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ} د خوسي د عبادت مینې د هغوی په زړونوکې ځای نیولی وو.

{فَتَمَنَّوُاْ} نو هیله وکړئ.

{لَن يَتَمَنَّوْهُ} هېڅکله به د هغه هیله ونکړي.

{لَتَجِدَنَّهُمْ} حتماً به دوی ومومئ.

{أَحْرَصَ النَّاسِ} تر ټولو خلکو زیات حریص.

{يَوَدُّ} غواړي، هیله لري، خوښوي.

## ژباړه

او (یاد کړئ اي یهودیانو!) هغه وخت چې موږ له تاسې څخه (د تورات په منلو) وعده (ژمنه) واخیستله او پورته مو کړ په (سرونو) د تاسې د طور (غر)، (او مو وویل، چې) واخلئ هغه (احکام) چې مو تاسې ته درکړي په ښه کوښښ او واورئ (په تدبرسره)، (یهودانو) وویل: موږ (ستا خبره) واورېدله او (ستا حکم) منلو ته تیار نه یو او د کفر له مخې د دوی په زړونو کې (د) خوسي (د عبادت د مینې) ځای نیولای و. ووایه (ای محمده! دوی ته): بد دي هغه څه چې امر کوي تاسې ته په هغه ایمان، ستاسې (چې هغه په محمد او قرآن کفر دی) که

چېرې يئ تاسې مؤمنان (په خپل گومان سره). ووايه (اى محمده! دوى ته): كه د آخرت كور (جنت) له نورو ټولو انسانانو پرته يوازې ستاسې لپاره خاص گرځول شوى وي، نو تاسې ته ښايي چې د مرگ هيله من شئ كه تاسې رښتيا وايئ، باور ولرئ چې دوى به هېڅكله د هغه هيله ونه كړي؛ ځكه څه چې دوى په خپلو لاسونو سرته رسولي او وړاندې يې ليږلي دي (لكه د انبياوو قتل او تكذيب)، نو هغه دا ايجابوي (چې هلته د ورتگ هيله ونكړي) او الله د دې ظالمانو په حال ښه پوه دى. ته به ارومرو دوى له بل هر چا نه په ژوند حريصان ومومې، آن تر دې چې دوى په دې كار كې له مشركانو نه هم وړاندې شوي دي، د دوى هر يو دا غواړي چې كاشكې زركاله ژوند وكړي په داسې حال كې چې اوږد عمر خو دوى له عذابه نشي خلاصولاى او الله ښه ليدونكى (عالم) دى په هر هغه څه چې دوى يې كوي.

## اجمالي تفسير

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ...﴾: دا مبارك آيت يوځل بيا په بني اسرائيلو باندې دغره پورته كيدو او له دوى څخه د ټينگې ژمنې د اخيستو يادونه كوي، ترڅو د تورات احكام ومني اوپه عمل كې يې پلي كړي. الله دوى ته امركوي:﴿خُذُواْ مَا آتَيْنَاكُم...﴾: هغه څه چې مو تاسو ته دركړي، په كلكه عمل پرې وكړئ. له «قوة» څخه موخه سم زده كول، په هغه باندې پوهيدل او بشپړ عمل كول دي. د بني اسرائيلو غبرگون داسې وو چې كله د دوى پر سرونو د طور غر راپورته كړاى شو، نو دوى په بيړه وويل: «سمعنا» چې دا اوريدنه او پيروي يوازې په ژبه او د ويرې له مخې وه، ځكه د هغوى زړونو او دماغ بل څه ويل، لكه څرنگه چې وروسته جمله «عصينا» د دوى د زړه د حالت او د عمل نه كولو بيانوونكې ده. بيا الله تعالى د دوى د سرغړونې اونافرمانى علت څرگندوى اوفرمايي: ﴿وَأُشْرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ...﴾ او هغه دا چې د سامري د سرو زرو د خوسكي مينې د دوى پر زړونو غلبه كړې وه، د دوى په ټول وجود كې يې ريښې ځغلولې وې، چې له همدې امله دوى الله تعالى هېركړ.

د آيت په پاى كې الله تعالى نبي كريمﷺ ته امركوي چې دوى ته ووايه:بد دى داسې ايمان چې تاسو يې دعوه كوئ، داسې ايمان چې تاسو ته دستور دركوي، ترڅو پيغمبران ووژنئ! دخوسي عبادت وكړئ، د الله له فرمانه تېرى او قرآن او د محمدﷺ نبوت دروغجن وگڼئ. دا څرنگه ايمان دى چې د خوسي عبادت ته اجازه دركوي؟ د پيغمبرانو وژنه درته روا بولي او له الله سره ټينگې ژمنې درڅخه هېروي؟!

دا آیت پر یهودیانو ردکوي او هغوی پوهوي چې دوی نه په تورات ایمان لري نه په قرآن، له همدې کبله د رښتیني اوکرکې ورګرځېدلي دي.

﴿قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآخِرَةُ عِندَ اللّهِ خَالِصَةً....﴾: تېرشوی آیت د یهودو تصور د آخرت او د دوی د برخلیك په اړه منعکس کوي او دا راښیي چې دوی داسې ګومان کاوه چې دآخرت کور یوازې په دوی پورې ځانګړی دی، له یهودو پرته بل چاته نه ورکول کېږي، ځکه دوی د الله غوره کړی شوی ملت دی، خو په دې آیت کې الله تعالی د دوی په خام او تش تصور او انګېرنې باندې د بطلان کرښه راکاږي او فرمايي: وو‌ایه ای محمده! که چېرې د الله په وړاندې د آخرت کور(جنت) ټول په تاسو پورې خاص وای، نه په نوروخلکو پورې، نوکه په دې وینا کې رښتیني یاست د مرګ هیله او غوښتنه وکړئ.

دوی عقیده درلوده چې یوازې یهود جنت ته تلونکي دي، نو بیا دوی ولې مرګ نه غواړي، ترڅو ژرجنت ته لاړشي؟ له دې نه معلومیږي چې دوی دروغجن دي اوهېڅکله به د مرګ هیله ونکړي او نه داسې عقیده لري، که چېرې انسان واقعاً په جنت عقیده ولري باید هېڅکله له مرګ څخه وېره ونه کړي.

﴿وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ...﴾: بیا قرآن کریم د دوی د حال حقیقت روښانه کوي او وایي چې دوی به هېڅکله داسې هیله او غوښتنه ونکړي او لامل یې دا دی چې کومې کړنې دوی ترسره کړې دي، هغه د آخرت د خلاصون سبب نشي کیدای او الله د ظالمانو پر حال پوه اوخبردی.

﴿وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ...﴾: الله تعالی په دې آخري آیت کې د دوی په هکله فرمايي: دوی به په دنیوي ژوند او شتمنۍ تر ټولو زیات حریص، حتی له مشرکانوڅخه هم ډېرحریص وموميئ. یعنې دوی د خپلو هغو اعمالو له امله چې ترسره کړي یې دي، له مرګه په وېره کې دي او هېڅکله د هغه هیله نه کوي، ځکه دوی پوهیږي چې په آخرت کې به دوی بې برخې وي، له دې امله د اوږد عمر د حرص لرونکي دي.خوکه عمرونه یې زرګونوکلونوته ورسیږي، بیا هم له الهي عذاب څخه خلاصون نه مومي؛ ځکه الله تعالی د دوی پر کړو وړو ښه خبردی.[1]

**فعالیت**

د(وَأُشْرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ) مبارك آیت په اړه بحث او خبرې وکړئ چې مقصد یې څه دی؟ اوهم واضح کړئ چې دخوسي مینې ولې د دوی په زړونوکې ځای نیولی و؟

۱- التفسیرالمنیر و تفسیر قرطبی.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- ✯ د ایمان غوښتنه دا ده چې بنده پر الله د ایمان لرلو تر څنګ، د هغه ټول اوامر هم پر ځای کړي.
- ✯ دنیا د ازمېښت ځای دی نه د تل ترتله ژوندون، نو هوښیار هغه دی چې په دنیا کې د خپل آخرت لپاره کار وکړي.
- ✯ ګنهګاران او یهودیان د دنیوي ژوند حرص لري، د اوږد عمرغوښتونکي دي، نوله همدې کبله له مرګ څخه ډېره زیاته وېره لري.

### پوښتنې

١ – د ﴿خُذُواْ مَا آتَیْنَاکُم بِقُوَّةٍ﴾ او ﴿قَالُواْ سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا﴾ معناوې واضح کړئ؟

٢ – آیا یهودیانو د موسی علیه السلام په زمانه کې الهي اوامر پر ځای کړل؟

٣ – یهودیان دخپل خالق پر وړاندې دکوم لوی جرم مرتکب ګرځېدلي دي؟

٤– له یهودو او مشرکانو څخه کوم یو له دنیوي ژوند سره ډېر حرص لري؟

٥ – د ﴿فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ﴾ معنا څه ده؟

٦– یهودیانو کومه دعوه لرله چې الله (جل جلاله) د دوی د دعوی د اثبات لپاره له دوی څخه وغوښتل چې د مرګ غوښتونکي شي؟

### کورنۍ دنده

له لاندې موضوعاتو څخه پر یوې موضوع مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي:

١ـ د ایمان غوښتنه دا ده چې د الله تعالی له اوامرو اطاعت وکړو.

٢ـ نړۍ د یو پل په څېر ده چې پر هغه باید د آخرت لوري ته تېرشو، نه دا چې دلته د دایمي استوګنې سوچ وکړو.

# د (البقرة) سورت (۹۷ - ۹۸) آیتونه

﴿قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّهِ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿۹۷﴾ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ ﴿۹۸﴾﴾

## د ځینو کلمو معناوې

{عَدُوًّا} دښمن.

{جِبْرِيلَ} هغه پرښته ده چې الهي پیغمبرانو ته د وحې د راوړلو مسؤولیت لري.

{نَزَّلَهُ} نازل یې کړ.

{مُصَدِّقاً} تایید کوونکی.

{بُشْرَى} زیری، ښه خبر.

{مِيكَالَ} یوه پرښته ده چې د باران اورولو دنده پر غاړه لري.

## ژباړه

ووایه (ای محمده! دوی ته): هر څوک چې د جبرئیل دښمن وي (نو ودې مري له قهره) پس بېشکه جبرئیل هغه (قرآن) د الله په اذن (او حکم) ستا پر زړه نازل کړی دی، حال دا چې تصدیق کوونکی دی (دا کتاب) د هغو کتابونو چې پخوا له ده دي (لکه تورات او انجیل) او لارښوونکی او زیری ورکوونکی دی مؤمنانو ته (په جنت او د الله په لقاء سره). هر څوک، چې د الله، د ده د ملایکو، رسولانو، د جبرئیل او مېکائیل دښمن وي، نو بېشکه الله د کافرانو دښمن دی.

## اجمالي تفسیر

﴿ قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ... ﴾: په دې آیتونوکې پر قرآن کریم باندې د یهودیانو د ایمان نه راوړلو یوه بله پلمه تر بحث لاندې نیول کیږي او بطلان یې ثابتیږي، هغه دا چې یهودیانو به ویل: د وحې پرښته

جبرائیل امین (علیه السلام) زموږ دښمن دی، نو ځکه موږ ایمان نه راوړو، نو الله (جل جلاله) د دوی د ناسمې عقیدې د بطلان په هکله زجراً دا آیت نازل کړ، چې وایه: څوک چې د جبرائیل دښمن دی هغه په واقعیت کې د الله دښمن دی، ځکه اې محمده! هغه د الله په فرمان قرآن ستا پر زړه نازل کړی دی په داسې حال کې چې د پخوانیو آسماني کتابونو تایېدوونکی او د مؤمنانو لپاره لارښوونکی او زیری ورکوونکی دی.

هرڅوک چې د جبرئیل امین (علیه السلام) سره دښمني کوي، په حقیقت کې له الهي وحې سره چې تورات ته هم شامله ده، دښمني کوي. که چېرې دوی له عدالت څخه کار اخیستلای، باید له جبرائیل (علیه السلام) سره یې مینه درلودلای او له ده څخه یې مننه کړې وای، ځکه قرآن په داسې حال کې نازل شوی چې ټول مخکیني آسماني کتابونه، لکه: تورات او انجیل تصدیقوي، هغه داسې کتاب دی چې بشریت د توحید، عبادت او نېکو اخلاقو په لوري یو شان دعوتوي. قرآن مجید هغه کتاب دی چې له مخکینیو آسماني کتابونو سره موافق دی او بشریت له گمراهۍ څخه ساتي.

دغه ﴿عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّهِ﴾ قرآني عبارت دا حقیقت روښانوي چې الله تعالی قرآن د محمدﷺ په زړه کې ثابت کړی او دا تثبیت د الله په اجازه منځته راغلی دی، نه د محمدﷺ په غوښتنه. همدا وجه ده چې محمدﷺ یې په تلاوت برلاسی دی. هوښیار هغه څوک دی چې له جبرائیل سره مینه ولري چې الهي پیغام پرته له کمولو او زیاتولو پیغمبرﷺ ته رسوي.

د دې ﴿مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ قرآني جملې مقصد دا دی چې قرآن د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده مخکې نازل شوي دي او ټولو توحید، د حق پیروۍ او نېکوکړنو ته بلنه ورکوله او په هغوکې د نبي کریمﷺ د شخصیت او نبوت په هکله زیری ورکړل شوی و. الله تعالی له یهودو څخه غواړي چې په قرآن ایمان راوړي، ځکه څه چې په قرآن کې راغلي، هغه د تورات تایېدوونکي دي.

د ﴿وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤمِنِينَ﴾ د عبارت مقصد دا دی چې قرآن کریم د بریا لارې ته لارښوونه، له گمراهیو او بدعتونو څخه د خلاصون لوري ته بلنه ورکوي. هوښیار هغه څوک دی چې کومه لارښوونه د ده د هدایت لپاره راغلې

وي، هغه رد نکړي. هغه چې حضرت جبرئیل (علیه السلام) نازل کړي، هغه مؤمنانو ته زیری ورکوونکي دي، دوی ته د الله د رضا زیری ورکوي او د الله له غضب څخه یې وېروي.

﴿ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَآئِكَتِهِ وَرُسُلِهِ... ﴾: الله تعالی په دې وروستي آیت کې ټینګارکوي، هرڅوك چې د الله پرښتو، رسولانو، جبرائیل او میکایېل سره چې دوی ټول د الله په امر په خپلو، خپلو دندوګومارل شوي دي، دښمني کوي، باید وپوهیږي چې یقیناً الله د کافرانو دښمن دی، ځکه له هغه چا سره دښمني کول چې د الله حکم پلی کوي، دا په حقیقت کې له الله سره دښمني او د جنګ اعلان دی او الله هم له دوی سره دښمني کوي. دوی به دخپلو اعمالو په سزا رسیږي او دوزخ ته به اچول کیږي.

**فعالیت**

دجبرئیل اومیکائیل په هکله چې څوك دي؟ دندې یې څه دي؟ او ولې یې په دې آیتونوکې نومونه راغلي؟ له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

☆ حقیقي مؤمن هغه دی چې په الله، ملایکو، پیغمبرانو او د آخرت پر ورځ ټینګ ایمان ولري او د ملایکو او پیغمبرانو په منځ کې توپیر ونکړي.

☆ هرعمل چې انسان یې ترسره کوي د هغه پر نفس اغېزه کوي، که نېکه کړنه یې ترسره کړه، د نفس د پاکې لامل یې کیږي اوکه ناوړه عمل یې وکړ، نو د بدمرغی او فساد لامل یې کیږي. په آخرت کې د نېکو عملونو خاوند نیکمرغی ته او د بدو عملونو خاوند بدمرغی ته رسیږي.

☆ الله تعالی د کافرانو دښمن دی، نو واجبه ده چې مسلمان هم له کافرانو سره دښمني ولري، نه دوستي.

## پوښتنې

۱ – یهودیانو له کومې پرښتې سره دښمني درلوده؟

۲ – د دې قرآني عبارت «عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّهِ» مطلب څه دی؟

۳- دا قرآني مطلب «مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ» څرنګه تفسیروئ؟

٤ – دا قرآني عبارت ﴿وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمؤمنينَ﴾ څه معنا لري؟

٥ – الله تعالی د کومې ډلې خلکوسره د دښمنۍ اعلان کړی دی؟

## کورنۍ دنده

په پرښتو باندې د ایمان په هکله یوه مقاله ولیکئ چې په هغې کې د الله پر وړاندې د دوی مقام، رتبه او د دوی دندې روښانه شوې وي.

# د (البقرة) سورت (۹۹ - ۱۰۱) آیتونه

﴿وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلاَّ الْفَاسِقُونَ ﴿۹۹﴾ أَوَكُلَّمَا عَاهَدُواْ عَهْداً نَّبَذَهُ فَرِيقٌ
مِّنْهُم بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَمَّا جَاءهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ اللّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ
الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ كِتَابَ اللّهِ وَرَاء ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۱﴾﴾

## د ځینو کلمو معناوې

{آيَاتٍ} نښې، د قرآن کریم آیتونه.

{بَيِّنَاتٍ} واضح او روښانه.

{الْفَاسِقُونَ} هغه کسان چې د ایمان او نیکوکړنو له غوښتنو( مقتضیاتو)څخه سرغړوونکي دي.

{عَاهَدُواْ} ژمنه یې وکړه.

{نَّبَذَهُ} پرې یې ښود.

{مُصَدِّقٌ} تصدیق کوونکی.

## ژباړه

او هرومرو په تحقیق تا ته مو روښانه آیتونه نازل کړي دي او نه کافران کېږي په هغه باندې، مګر فاسقان (چې د الله له فرمانه وتونکي دي). آیا هر کله به چې دوی (یهودو) یو عهد وکړ، نو یوې ډلې له دوی څخه به دا عهد غورځاوه (هېراوه او ماتاوه)، بلکې اکثره د دوی ایمان نه راوړي (په مؤمن به شیانو) . او هر کله چې دوی ته رسول (محمد) د الله له خوا راغی چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب (تورات) چې له دوی سره دی، نو له دې اهل کتابو څخه یوې ډلې د الله کتاب په داسې شان شاته وغورځاوه، لکه چې دوی په هېڅ نه پوهېږي.

## د آيت د نازلېدلو سبب

د(۹۹)مبارك آيت د نازلېدلو د سبب په هكله، ابن ابي حاتم له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه نقل كړي دي، چې د يهودو يو مشر عبد الله بن صوريا پيغمبرﷺ ته وويل: تاسو كوم داسې شی ندی راوړی چې مفهوم ولري او الله پرتاسو داسې څيز نه دی نازل كړی چې د هغه پر قدرت روښانه دليل وي. د دوی د دغه پوچ تصور د رد لپاره، الله تعالی دا ﴿وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ....﴾ مبارك آيت نازل كړ.

## اجمالي تفسير

﴿وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ....﴾: الله تعالی په دې آيت كې د اسلام ستر پيغمبرﷺ مخاطب گرځوي او فرمايي: ای محمده! په تا باندې مې آيتونه او روښانه دليلونه يعني قرآنكريم نازل كړی، داسې قرآن چې د الله د قدرت لويې نښې نښانې پكې نغښتې دي، البته دا قرآن د اسلام د ستر پيغمبر يوه روښانه معجزه ده او بل هېڅ تاييد اوتشريح ته اړتيا نه لري، ترڅو هغه په رښتينولۍ دلالت وكړي، نو كوم كتاب چې په خپله واضح او روښانه وي، هغه منلو او قبلولو ته زيات مناسب دی د هغه كتاب په پرتله چې تشريح او بيان ته اړتيا ولري. د آيت په وروستی برخه كې فرمايي:﴿وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلاَّ الْفَاسِقُونَ﴾. يعني: په دې كتاب پرته له هغو رندو فاسقانو چې د هدايت په نيغه لار نه دي تللي، نور څوك نه كافركېږي.

﴿أَوَكُلَّمَا عَاهَدُواْ عَهْداً نَّبَذَهُ فَرِيقٌ مِّنْهُم...﴾: بيا الله تعالی په خپله وينا سره دوو ټكو ته اشاره كوي: يو دا چې يهود داسې قوم دی چې كله ژمنه وكړي، بيا له دوی څخه يوه ډله هغه ژمنه شا ته غورځوي او وعده ماتوي، نو پر هغوی باور په كار ندی او څه گټه پرې نه مرتبېږي، ځكه دوی ډېرې وعدې او ژمنې ماتې كړې دي.

دويم دا چې يهود ډېرضدي او كينه كښ خلك دي، له هغوی څخه بايد دا تمه او توقع ونلرو، چې دوی به په پيغمبرﷺ او قرآن كريم ايمان راوړي؛ ځكه د الله له اوامروڅخه سرغړونې او بې لارۍ د دوی زړونه په تيارو او پردوكې پوښلي دي او د هدا يت او ايمان په لوري لار نه مومي.

﴿وَلَمَّا جَاءهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ اللّهِ مُصَدِّقٌ...﴾: الله تعالی په دې آيت كې فرمايي: كله چې محمدﷺ له قرآن سره

دوی ته ولیږل شو او په عین حال کې تورات هم د ده د راتګ زیری اود ده صفتونه او نښې نښانې بیان کړې وې او دوی ته یې امرشوی و چې په حضرت محمدﷺ ایمان راوړئ، نو د تورات همغه برخه یې شا ته وغورځوله. د آیت په دې ﴿نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ كِتَابَ اللّهِ وَرَاء ظُهُورِهِمْ﴾ برخه کې په تورات د عمل پرېښودلو حالت د هغه چا له حالت سره تشبیه شوی چې څه شی شاته واچوي، نو په دې جمله کې (مشبه) حذف شوی او (مشبه به) باقي پاتې دی.

لکه څرنګه چې معلومه خبره ده چې د الله د کتاب د یوه جزء پرېښودل داسې دي لکه ټول کتاب یې چې پرېښی وي. بیا الله تعالی د آیت په پای کې فرمایي: ﴿كَأَنَّهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ﴾، یعنې: دوی د الله کتاب پرېښود او شاته یې وغورځاوه، په واقعیت کې دوی د الله کتاب د ناپوهۍ له امله نه دی غورځولی، بلکې د عناد او ضد له کبله پرې عمل نه کوي.

### فعالیت

د قرآني آیتونو د وضاحت او څرګنوالي او د دې آیتونو رالیږونکی یوازې د الله ستر ذات دی نه بل څوک، په دې هکله دې زده کوونکي له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- قرآن کریم یوه روښانه اوښکاره معجزه ده چې د رښتینولۍ اوحقانیت دلایل یې په آیتونوکې نغښتي دي.
- په وعده او ژمنه وفا د مؤمنانو صفت دی، نو واقعي مؤمن هغه څوک دی چې رښتینی وي او په خپله ژمنه وفا وکړي، نه د یهودو او منافقینو په څېر.
- پخوانیو پیغمبرانو د محمدﷺ له پیغمبرۍ څخه خبر ورکړی او قرآن کریم په دې حقیقت ټینګارکړی دی، نو هر وګړی مکلف دی چې پر حضرت محمدﷺ باندې ایمان راوړي.

## پوښتنې

۱ - الله (جل جلاله) پر هغو یهودیانو چې په قرآن باندې ایمان نه راوړي، څرنګه رد کوي؟

۲ـ دا چې یهودیان پر قرآن ایمان نه راوړي په څه شي استدلال کوي؟

۳ – ذکرشوي آیتونه هغه کسان چې د الله پر قرآن ایمان نه راوړي، څرنګه ستایي؟

٤- دا آیتونه دوه ټکو ته چې د یهودو صفتونه راڅرګندوي، اشاره کوي، هغه دوه ټکي کوم دي؟

٥ – د قرآن د نازلیدو او د پیغمبر د رالیږلو په وخت کې یهودو څه غبرګون وښود؟ واضح یې کړئ.

٦ – د ﴿نَبَذَ فَرِيقٌ﴾ او ﴿وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ﴾ معنا څه ده؟

۷ـ آیا یهودیانو ټول تورات شا ته وغورځاوه؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

د مدینې منورې د یهودو قبیلو (بنو قینقاع، بنو نضیر، بنو قریظه) څرنګه له نبي کریمﷺ سره خپلې ژمنې ماتې کړې؟

په اړه یې یوه مقاله ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۱۰۲- ۱۰۳) آيتونه

﴿وَاتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيْاطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ النَّاسَ
السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولاَ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلاَ
تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ
مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ
كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُواْ واتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ اللَّه خَيْرٌ لَّوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۳﴾﴾

### د ځينو كلمو معناوې

{اتَّبَعُواْ} پيروي يې وكړه.

{عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ} د سليمان عليه السلام په پاچاهی او زمانه کې.

{بَابِلَ} په عراق کې د يو ښار نوم دی.

{هَارُوتَ وَمَارُوتَ} د دوو پرښتو نومونه دي

{يُفَرِّقُونَ} جدايي او اختلاف راولي.

{بِضَارِّينَ} ضرر رسوونكي.

{اشْتَرَاهُ} هغه يې واخيستل او په هغه يې عمل وكړ.

{فِتْنَةٌ} ابتلاء او آزموينه.

{شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ} په هغه يې خپل ځانونه خرڅ كړل.

{لَمَثُوبَة} جزا او ثواب.

### ژباړه

او متابعت وکړ يهودانو د هغه څه چې به شيطانانو (پېريانو) د سليمان (د) پاچاهۍ په (زمانه) کې لوستل او نه و کافر شوی سليمان، خو شيطانان کافران شوي وو، خلکو ته به يې سحر(کوډې) ورښودلې، هغوی هغه څه تعقيبول چې په بابل کې پر دوو پرښتو هاروت او ماروت نازل شوي وو، په داسې حال کې چې هغو ( پرښتو ) به

چې هرکله چا ته هغه ښودل، نو لومړی به یې په ډاګه دا خبره ورته کوله چې "ګوره موږ یوازې د ازمېښت لپاره یو، نو مه کافر کېږه" بیا هم دې خلکو له هغو نه هغه څه زده کول چې په هغو سره د مېړه او ښځې تر منځ بېلتون راولي، ښکاره وه چې دخدای له اجازې پرته هغوی په دې وسیله هېچا ته هم ضرر نشو رسولای؛ خو له دې سره سره یې داسې څه زده کول چې په خپله د هغوی لپاره ګټور نه؛ بلکې زیان و، هغوی ته ښه معلومه وه، چې څوک د دې شي خریدار شي، د هغه لپاره په آخرت کې هېڅ ونډه نشته، څومره ناکاره سودا ده چې د هغې په بدل کې هغوی خپل ځانونه وپلورل، کاشکې هغوی ورباندې پوهیدلای.که هغوی ایمان او تقوی غوره کړې وای، نو د الله پر وړاندې د هغوې اجر ډېر غوره و، کاشکې هغوی په دې پوهیدای.

## اجمالي تفسیر

﴿وَاتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ...﴾ تېرو آیتونو دې ته اشاره کړې وه چې یهودو د الله کتاب شاته غورځولی وو او د دې لوست په لومړني مبارك آیت کې دې ته اشاره ده چې یهودیان له داسې شي څخه پیروي اومتابعت کوي چې شیطانانو د سلیمان عليه السلام په پاچاهۍ اوزمانه کې دوی ته ورښودل او دروغ یې جوړول. مراد له (شیاطین) څخه جني او انسي شیطانان دي. شیطانانو د سلیمان عليه السلام له مرګ وروسته یو شمېر پاڼې او کتابونه راټول کړل او په خلکو کې یې دا خبره خپره کړه چې د سلیمان عليه السلام د لویې پاچاهۍ راز په هغه تعلیماتو کې دی چې په دې کتابونو کې دي او اصل یې له کوډو او جادو څخه سرچینه اخلي (العیاذ بالله)، ګواکې سلیمان عليه السلام یو کوډګر و او د کوډو په واسطه یې پیریان، مرغان او څاروي ځان ته تابع کړي وو او ویل به یې چې د سلیمان عليه السلام د پاچاهۍ قوت او راز د ده د ګوتمۍ په غمي کې و.

داسې راغلي دي چې سلیمان عليه السلام له دې وېرې چې کوډې او جادو خپور نشي، نو یو شمېر د جادو کتابونه یې ترخپلې چوکۍ لاندې پټ کړي وو، خو د ده له مرګ وروسته کله چې شیطانانو هغه راوایستل او خلکو ته یې داسې څرګنده کړه چې د سلیمان عليه السلام تخت د سحر پر بنسټ ولاړ و او د ده په هوا تګ او ټولې کړنې له کوډو پرته پر بل څه نه وې بنا شوې، تر دې چې یوې ډلې شیطانانو دا دعوه درلوده چې سلیمان عليه السلام د خپل عمر په پای کې (نعوذ بالله) له اسلام څخه ګرځېدلی و، د بتانو عبادت ته یې مخه کړې وه او د بتانو د عبادت لپاره یې بتخانې هم جوړې کړې وې. یهودو به ناسمې شایعې او شیطاني تورونه قبلول او د پیغمبر ﷺ د زمانې یهودو هم د خپلو

اسلافو لاره خپله کړه او په ده ﷺ یې ایمان رانه ووړ، نوهماغه و چې دا آیتونه نازل شول، ترڅو لومړی د یهودو بېلاریتوب بیان کړي او هم د سلیمان‌ؑ له سپېڅلې او پاکې لمنې څخه دروغ تهمتونه لرې کړي اود هغه لوړ شخصیت ته له هر عیب او تهمت څخه صفایي وروښيي.

﴿وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيْاطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ...﴾: الله تعالی د آیت په دې برخه کې بیانوي چې سلیمان ؑ کفر نه دی غوره کړی، نه مرتد شوی دی اونه یې کوډو ته مخه کړیده، بلکې هغه ته چې دغه شي نسبت شوی، ټول مازې تورونه او دروغ دي، شیطانانو په خپله کفرغوره کړی دی، د الله له لارې وتلي دي اوهمغوی دي چې خلکو ته جادو اوکوډې ورزده کوي او هغوی ته وسوسې اچوي، ترڅو د سحر زده کولو ته مخه وکړي اوحق ته شا وګرځوي.

﴿وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ...﴾: د آیت دا برخه دوه ډوله تفسیرولای شو: یو دا چې هماغه شیطانانو چې کفر غوره کړی و، خلکو ته یې د سحر ښودنه کوله او بل دا چې یهودیانو د شیطانانو د دسیسو پیروي وکړه او هغه کوډې یې هم کولې چې په هاروت او ماروت باندې د کوډو او معجزې تر منځ د جلاوالي او بیلتون لپاره نازلې شوې وې او هغوی خلکو ته د عقیدو د اصلاح په نیت ورښودلې، نه د عمل او عقیدې په نیت.

(بابل) په عراق کې یو ښار دی چې خلکو یې تر ټولو زیات د کوډو عادت درلود او ساحرانو یې داسې ګڼله چې د سحر په واسطه عام خلك ترخپل تأثیر لاندې راوستلای شي او بیا به یې هغوی دې ته هڅول چې د بتانو اوستورو عبادت وکړي.

(هاروت) او (ماروت) د دوو پرښتو نومونه دي، الله تعالی مکلفې کړې وې چې خلکو ته سحر ورزده کړي، ترڅو خلك د سحر او معجزې ترمنځ فرق وپېژني. په حقیقت کې دا دوه پرښتې د آزموینې لپاره راغلې وې، دوی د انسان په بڼه د بابل په ښارکې راکوزې شوې وې. د دې تر څنګ چې خلکو ته یې سحر ورزده کاوه، ورسره به یې هغوی ته نصیحت هم کاوه او ویل به یې: موږ تاسو ته د سحر اوکوډو ډولونه درښیو، ترڅو د نېکو او بدو خلکو ترمنځ فرق راشي او دا کوډې زده کول له یوې آزموینې څخه پرته بل څه نه دي او هرڅوك چې په کوډو عمل وکړي، نو هغه له سمې لارې څخه ګمراهۍ ته لویدلی. دا هم باید ووایو چې کوډې څه اغیزې لري اما د شیانو حقیقت نشي بدلولای، بلکې یولږ ظاهرو شیانو ته تغیر ورکوي او کوډې هیڅکله د معجزاتو درجې

ته نشي رسيدلای. سحر يو كفري عمل دی اوهرڅوك چې ور ښخه ځان وژغوري د هدايت او بريالیتوب لاره يې غوره كړې ده.

﴿فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ...﴾. يعنې: له هغو دوو پرښتوڅخه يې زده كول چې څرنگه د مېړه اوښځې ترمنځ جدايي راولي.

د آيت په دې برخه كې د هغو كوډو زده كولو ته اشاره ده چې خلكو به له هغو دوو پرښتو څخه زده كول، چې د مېړه او ښځې تر مينځ بيلتون راولي.

﴿وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ..﴾: الله تعالى وروسته د سحر له كيسې څخه فرمايي: او دوی (ساحران) له هېڅ قدرت اوتوان څخه برخمن نه دي، خو هغه څه چې ترسره كوي اوخلكو ته يوخارق العاده يعنې د عادت خلاف كار ښكارېږي، دا هغه تأثيرات دي چې الله په ډېرو كَوني امورو كې ځای پر ځای كړي دي، چې ځينې يې ښكاره او ځينې يې لږ څه پټ دي، نو لازم دي چې خلك وپوهيږي، كوم ضررونه چې د سحر په وسيله چا ته رسيږي، په حقيقت كې د الله په مشيت او ارادې سره دي چې الله يې هم اسباب پيدا كړي اوهم يې مسببات برابروي. البته هركار د الله په اجازه او اراده منځته راځي، نوهغه كسان چې غواړي د كوډو په واسطه چاته تكليف اوضرر ورسوي، نو په دې كار به تر هغه برلاسي ونه مومي، ترڅو د الله اراده نه وي شوې.

﴿ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ... ﴾. يعنې: هغه كسان چې سحر زده كوي، په واقعيت كې داسې څه زده كوي چې همده ته ضرر رسوي او هېڅ گټه پرې نه مرتبېږي. موږ بايد پر دې باور ولرو چې كوډگران د الله تعالى له ارادې پرته هېڅكله هم چا ته گټه او يا تاوان نشي رسولای.

د آيت په بله برخه كې راغلي دي: ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ﴾: يهوديان وپوهيدل چې كه چا خپل كتاب پريښود او د كوډو پيروي يې وكړه او دنيا يې پر آخرت غوره كړه، نو په آخرت كې به له نعمتونو اوجنتونو څخه هېڅ برخه ونه مومي، ځكه دوی د گمراهۍ لاره خپله كړې ده، په داسې حال كې چې پوهيدل چې تورات دكوډو او جادو زده كول حرام گڼلي اوخاوندانو ته يې سخت عذاب ټاكلی دی.

﴿وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ...﴾: الله تعالى د آيت په آخره برخه كې فرمايي: څومره بدې دي هغه گوډې چې د هغه په بدل كې يې ځانونه خرڅ كړي. د آيت په دې برخه كې د ايمان له خرڅولو څخه د نفس په خرڅولو تعبيرشوی دی، ځكه چې نفس د الله د پېژندنې او پر دين د عمل لپاره پيدا شوی دی، يعنې كه

هغوی د سحر له حراموالي څخه خبر وای، نو هېڅکله به يې هم سحرته مخه نه کوله. الله تعالی لومړی دوی په علم درلودلو ستايلي دي:﴿وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ﴾. بيا يې علم ورڅخه نفې کړی، ځکه څوک چې د هغه څه په مقتضا چې پرې پوهيږي او علم لري، عمل نه کوي دا د هغه چا په شان دی چې د هغه په اړه علم نه لري اوجاهل وي.

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُواْ واتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ خَيْرٌ لَّوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ..﴾ الله تعالی د لوست په دې وروستي آيت په ترڅ کې فرمايي: که چېرې دوی (يهودو) پر خپل کتاب ټينګ ايمان درلودلای چې په هغه کې ډېر ځله د حضرت محمدﷺ زيري راغلي دي، د خپل کتاب د اوامرو پيروي او متابعت يې پرځان لازم ګڼلای، د الله وېرې ته يې په زړه کې ځای ورکولای او د هغه له منهياتو څخه يې ډډه کولای، نو هرومرو به الله تعالی دوی ته لويه بدله وربه برخه کړې وای. د آيت عام مفهوم دا دی چې دآخرت ډېره کمه بدله د دې فاني دنيا له ډېرو ګڼو نعمتونو څخه ارزښتناکه ده.

## يادونه

د هاروت او ماروت په هکله څه خبرې نقل شوې دي چې پرښتو د انسان په نافرمانی نيوکه درلوده، نو امر ورته وشو چې تاسو دوه تنه غوره کړئ، ترڅو زه هغوی د انسان په لباس او جامو کې ونغاړم او د انسانانو صفتونه، لکه: حرص، شهوت او نفس پر دوی مسلط کړم، نو پرښتو دا دوه پرښتې غوره کړې او هغوی ځمکې ته راغلې او ډېر نا مناسب عملونه يې وکړل، چې په پايله کې په سختو سزاوو اخته شوې. دا ډول خبرې په ښرګنده د هغو آيتونو خلاف دي چې د پرښتو پاکي ثابتوي، نو علامه ابن کثير او نور مفسرين په دې هکله وايي چې دا ټول له يهودو او نصاراوو څخه نقل شوي او د تفسير په اصطلاح کې ورته (اسرائيليات) ويل کيږي او له صحت او حقيقت څخه لرې خبرې دي.

### فعاليت

د يوه آزاد بحث په ترڅ کې د خپل ښوونکي په مرسته، د معجزې او کوډو ترمنځ د توپير په هکله خبرې اترې وکړئ او د خپل بحث لنډيز په څو ټکو کې څرګند کړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- تېول پیغمبران د حضرت سلیمان علیه السلام په ګډون، له ټولو ګناهونو څخه پاک دي.
- د الله له اجازې اومشیت پرته، نه انسان ته ګټه متصوره کېدای شي او نه ضرر او نه څوک کولای شي چې چاته نفع یا ضرر ورسوي، مګر هغه څه چې الله د یوه بنده په حق کې لیکلي وي.
- آزموینه او امتحان یو الهي سنت دی، ترڅو د فرمانبردارو او نافرمانو ترمنځ توپیر منځته راشي.
- جادو او کوډې انسان ته ضرر رسوي، بنا پردې ګوډګرو ته ورتګ او له هغو څخه مرسته غوښتل د اسلام په شریعت کې جواز نه لري او لویه ګناه ده.
- کوډې داسې عمل دی چې انسان ګمراه کوي، ان تردې د کفر او شرک کندو ته یې غورځوي.
- د زیاتو علماوو له نظره، کوډې کول کفر دی، باید څوک داسې کار ته مخه ونکړي چې ناوړې پایلې لري او انسان د ایمان له دایرې څخه باسي.

### پوښتنې

۱ – د لاندنیو کلمو او جملو معناوې وواياست:

{ وَاتَّبَعُواْ}، { مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ}، { عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ }، { إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ }.

۲ – شیطانانو د سلیمان علیه السلام په زمانه کې کوم دروغجن تبلیغات خواره کړي وو؟

۳ – هاروت او ماروت څوک وو؟ اوخلکو ته یې څه ورزده کول؟

٤ـ د بابل د ښار په هکله څه معلومات لرئ؟

۵ – آیا کوډې د انسان پر بدن څه اثر لري؟ په دلیل سره یې روښانه کړئ.

٦ – پر کوډو عمل کول او د الهي کتاب شاته غورځول څه پایلې لري؟

### کورنی دنده

د کوډو د ضررونو په هکله یوه اته کرښیزه مقاله ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۱۰۴ - ۱۰۵) آیتونه

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوا وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾﴾

### د ځینو کلمو معناوې

| | |
|---|---|
| {رَاعِنَا} | موږ ته پاملرنه وکړه، موږ ته غوږ کېږده، زموږ خبرې واوره. |
| {انْظُرْنَا} | موږته مهلت راکړه. |
| {يَوَدُّ} | خوښوي، غواړي. |
| {يُنَزَّلَ} | نازل کړای شي. |
| {يَخْتَصُّ} | ځانګړې کوي. |

### ژباړه

ای مؤمنانو! پیغمبر ته (راعنا) لفظ (چې یهود ورنه بده معنا اخلي) مه وایئ، بلکې: (اُنظرنا) (زموږ خوا ته د عنایت نظر وکړه) ووایئ او په غور سره خبره واورئ او شته د کافرانو لپاره دردناك عذاب د دوزخ. نه خوښوي (د حسد او کینې له مخې) هغه کسان، چې له اهل کتابو څخه کافران شوي دي او (نه) له مشرکانو څخه دا (خبره) چې ستاسې د رب له خوا دې تاسې ته څه ښېګڼه (قرآن، نصرت) راشي، خو د الله چې هر چاته خوښه شي د خپل رحمت لپاره يې غوره کوي او هغه د ډېرې لوېې مهرباني لوروونکی دی.

### لنډ تفسير

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا...﴾: دې تعبير د صحابه وو په منځ کې رواج درلود، کله به یې چې غوښتل په یوه موضوع کې له نبي کریمﷺ سره خبرې وکړي او د ده نظرمعلوم کړي، ویل به یې "راعنا"، یعنې: موږته غوږ ونیسه او زموږ خبرو ته پاملرنه وکړه یا موږ ته مهلت راکړه، ترڅوکوم علم چې راښیې هغه یاد کړو،

خو یهودو له دې تعبیرڅخه بده ګټه واخیستله، نبي کریمﷺ ته به یې ویل: (راعنا یا أبا القاسم) دوی په ظاهره داسې ښرګندوله چې د صحابه وو په شان مهلت او پاملرنه غواړي، خو په حقیقت کې یې بل څه مراد وو، ځکه دا کلمه یې د (راعي الغنم) یعنی د پسونو د شپونکي په معنا اخیستله یا یې موخه له (راعنا) څخه (رعونت) و چې د بې عقل او ساده په معنا دی، نوله همدې وجې الله تعالی مؤمنان د دې کلمې له استعمال څخه منع کړل او امر یې ورته وکړ چې د دې پر ځای «انظرنا» کلمه استعمال کړئ، یعنې: ﴿وَقُولُوا انْظُرْنَا﴾ ووایئ: چې موږ ته مهلت راکړه، زموږ خارنه کوه او موږ ترخپل نظرلاندې ساته. دا کلمه د (راعنا) د کلمې معنا او مفهوم اداکوي، خو په څنګ کې د بلې معنا احتمال پکې نشته چې یهود ورڅخه بده ګټه واخلي. بیا الله تعالی دوی ته امرکوي: ﴿وَاسْمَعُوا﴾، یعنې: واورئ! د الله له اوامرو پیروي وکړئ او د یهودو په شان مه اوسئ چې ویل یې: (واموورېده اونافرماني مو وکړه). الله تعالی دا مبارك آیت په ﴿وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ سره ختم کړچې د کافرانو (یهودو) لپاره دردناك عذاب او هلاکت دی، کومو چې به نبي کریمﷺ ته کنځلې کولې او هغه به یې تحقیراوه. د اسلام د پیغمبر سپکتیا او تحقیر کفر دی خصوصاً چې په قصد او عمد سره وي.

﴿مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ..﴾: الله تعالی په دې وروستي آیت کې فرمايي: اهل کتاب (یهود او نصارا) اومشرکان په هیڅ وجه نه خوښوي چې تاسو ته خیر ورسیږي او نه غواړي چې د الله له طرفه پر تاسوڅه خیر او ښیګنه نازله شي، ځکه دوی ستاسو سره کینه اودښمني لري.

د (خیر) کلمه چې په دې آیت کې یاده شوې، مراد ورڅخه قرآن کریم دی. قرآن کریم په حقیقت کې تر ټولو نعمتونو لوی نعمت دی چې الله تعالی د هغه په واسطه مؤمنان د ناپوهی او بت پرستی له تیارو څخه د ایمان او هدایت روښنایي ته راوایستل او د دوی د ژوند کارونو ته یې نظم ورکړ، ملتونه یې سره متحد او متفق وګرځول، عقلونه او نفسونه یې له بت پرستی څخه پاك کړل. کله چې یهودو ولیدل چې دا لوی نعمت د عربو پر قوم نازلیږي، نود دوی په وړاندې یې له حسد او کینې څخه کار واخیست؛ ځکه دوی دا هیله درلوده چې آخري پیغمبر به په یهودوکې غوره کیږي اوکتاب به هم پر دوی نازلیږي، خوالله تعالی پر دوی رد کوي او د دوی جهل او ناپوهي ښکاره کوي او فرمايي: ﴿وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾، یعنې: الله پاك

چې هرچا ته وغواړي هغه له خپل فضل، مهرباني او نبوت څخه برخمن کوي، همدا الله دی چې خپلو بنده ګانو ته نبوت او رسالت وربښي، بریا ورپه برخه کوي اولاربښوونې ورته کوي، هېڅوک حق نه لري چې په الله تعالی نیوکه وکړي او یا له هغه چا سره چې الله د خپل رحمت ور ګرځولی، کینه او حسد وکړي؛ ځکه الله تعالی د هر فضل او احسان څښتن دی او هره ښیګنه یې انسان ته رسیږي، هغه د کایناتو پالونکی دی او له الله نه پرته هېڅوک د یو نعمت د ورکړې اویا نه ورکړې وس نه لري.

### فعالیت

د مختلفو اړخونو له پلوه د قرآن کریم د ارزښت او اهمیت په هکله بحثونه وکړئ او پایلې یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

### د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

☆ څوک چې له نبي کریم ﷺ سره بې ادبي کوي، دا په حقیقت کې له الله سره بې ادبي کول دي، ځکه نبي کریم ﷺ د الله تعالی استازی دی او چې څه وایي، هغه د الله تعالی له پلوه دي.

☆ مسلمان باید له کینې او رخې څخه ځان وژغوري، ځکه کینه او حسد د انسان د دنیوي او اخروي تباهی لامل ګرځي.

☆ د پیغمبرﷺ د درناوي واجبوالی او د هغه د لوړ مقام احترام درلودل.

### پوښتنې

۱ـ دا ﴿لَا تَقُولُوا رَاعِنَا﴾ قرآني عبارت څه معنا لري؟

۲ـ د ﴿راعنا﴾ او﴿انظرنا﴾ ترمنځ، څه توپير دی؟

۳- د ﴿وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ له عبارت څخه مطلب څه دی او کومه ډله ده چې په الهي عذاب اخته کېږي؟

٤- په دویم آیت کې د ﴿مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ مفهوم څه دی؟

٥- د ﴿خَيْرٍ﴾ له کلمې څخه، چې په دویم آیت کې ذکرشوې ده، څه مراد دی او خیروالی یې څرنګه ثابتولای شئ؟

٦- الله تعالی څرنګه پر یهودو او د هغوی په غلطو خیالونو رد کوي او په دې اړوند کوم تعبیر کارول شوی دی؟

## کورنۍ دنده

د قرآن کریم له آیتونو څخه په ګټې اخیستلو، د پیغمبرﷺ د لویي، احترام او د هغه پر وړاندې د مسلمان د مسؤولیت په اړه یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۰۶- ۱۰۸) آيتونه

﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾
أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾
أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُواْ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَى مِن قَبْلُ وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ
سَوَاء السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾﴾

## د ځينو کلمو معناوې

{نَنسَخْ} نسخ: په لغت کې نقل کولو، لرې کولو اوله منځه وړلو ته وايي. او په اصطلاح کې ديوه شرعي حکم لرې کول د بل شرعي حکم له امله، چې وروسته له هغه راغلی وي.

{نُنسِهَا} هيروو يې.

{وَلِيٍّ} دوست، سرپرست.

{أَمْ تُرِيدُونَ} آياغواړئ؟

{ضَلَّ} له سمې لارې څخه واوښت، گمراه شو.

{سَوَاء السَّبِيلِ} نيغه لاره، سيده اوسيخه لاره.

## ژباړه

هغه چې موږ له کوم آيت څخه منسوخ کوو، يا يې د مؤمنانو (له زړونو) څخه هېروو، نو راليږو بهتر له هغه (پخواني څخه په سهولت او کثرت د اجر کې) يا په مثل د هغه (په تکليف او ثواب) کې. آيا ته نه پوهېږې چې بېشکه الله په هر څه بنه قادر دی (نو راليږي بهتر له منسوخ څخه يا د هغه په مثل). آيا ته نه پوهېږې چې بېشکه الله لره دی سلطنت او پاچاهي د اسمانونو او د ځمکې (او ټول هغه څه چې په دواړو کې دي) او نشته تاسې ته غير له الله څخه هيڅ ملگرى او مرستندوى (چې له عذابه مو خلاص کړي). آيا اراده لرئ، چې له خپل رسول (محمدﷺ) څخه هغه شان پوښتنې وکړئ، لکه چې پخوا له دې (په راز، راز نامناسبو طريقو) له موسىؑ څخه شوې وې او هر څوک چې کفر په ايمان بدلوي (کفر غوره کوي، چې ايمان ورکړى او کفر واخلي)، نو په تحقيق سمه لار يې ورکه کړه.

## د آیتونو شان نزول

په روایاتو کې راغلي دي چې یهودو او مشرکانو اعتراض کاوه چې عجیبه ده! محمدﷺ یوځل خپلو یارانوته د یوه عمل کولو امرکوي او وروسته له یوه وخته هغوی ورڅخه منع کوي او د هغه پر خلاف فیصله کوي، یا په بله وینا نن ورځ یوڅه ورته وايي اوسبا بل څه ورته وايي، دا راښيي چې قرآن د الله کتاب نه دی، بلکې محمد په خپله جوړکړی چې د مطالبو په منځ کې یې تضاد او ټکر لیدل کېږي، هماغه و چې ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ﴾ آیت نازل شو، ترڅو د دوی باطل تصور رد کړي.

### لنډ تفسیر

﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا...﴾: یهودیانو تل شبهې پیداکولې اوغوښتل یې چې د قرآن د حقانیت په اړه د نویو مسلمانانو په ذهنونوکې شبهې پیدا کړي، دوی په قرآن کې له نسخ څخه منکر وو او دایې نه منله چې د یو آیت پر ځای بل آیت غوره کړای شي او هغه لومړنی آیت له منځه لرې کړای شي او په هغه حکم ونشي، خو الله تعالی د دوی په رد کې وفرمایل: ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا﴾ که چېرې موږ کوم آیت نسخ کوو او یا هغه د مؤمنانو له ذهن اوخیال څخه وباسو او هیروو یې، نو ﴿نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا﴾ د هغه آیت پر ځای بل غوره، شامله او یا لږ تر لږ د هغه په مثل آیت نازلوو.

(نسخ) دلته د یوه آیت دحکم پای ته رسولو په معنا ده چې په زیاتو وختونو کې د آیت لفظ باقي پاتې کېږي؛ خو حکم یې منسوخ گرځي او کله په خپله آیت هم له منځه ځي. د آیتونو له نسخ څخه حکمت دا دی چې د اسلامي شریعت تدریجي بشپړتیا د دې غوښتنه کوي، ترڅو مرحله په مرحله د وخت او زماني په غوښتنه او د خلکو د استعداد پر بنسټ د دین احکام د بشپړتیا درجې ته ورسیږي او اسلامي امت د دغو احکامو د منلو قابلیت په ځان کې د تل لپاره ومومي.

الله تعالی د آیت په پای کې فرمايي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ...﴾: آیا ته نه پوهېږې چې الله په هرڅه قادر دی، ټول کاینات د هغه په اختیارکې دي او الله تعالی داسې برلاسی ذات دی چې هیڅ کار له هغه څخه نه صادرېږي، مگر هغه د بشر په خیر وي. نود نسخ حکم هم د ده د قدرت په دایره کې شامل دی هر ډول او هرکله چې وغواړي یوحکم نسخ کوي او پر ځای یې بل حکم رالیږي.

الله تعالی په دې بل آیت کې فرمايي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾: آیا ته پوه نه شوې

چې الله د ټولو کایناتو، ټولو آسمانونو او ځمکو څښتن دی؟! او همدا الله د مخلوقاتو په ټولو کارونو کې تصرف کوي او څه چې وغواړي هغه سرته رسوي او د هرکار چې اراده وکړي همغه عملي کوي. د آیت په پای کې راځي: ﴿وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ﴾: او تاسو ته پرته له الله بل ملګری اومرستیال نشته، یعنې ای مؤمنانو! له یوه واحد الله څخه پرته بل هېڅ مرستندوی اوسرپرست نشته، ترڅو ستاسو کارونو او مصلحتونو ته نظم وروبښي او تاسو ته په خپلو دښمنانو فتح او برلاسي درکړي، نو الله دا حق هم لري چې یوحکم نسخ کړي او پرځای یې بل حکم راوړي.

﴿أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْأَلُواْ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَى مِن قَبْلُ...﴾ الله پاک په دې وروستي آیت کې فرمايي: مؤمنانو! آیاغواړئ چې په خپل پیغمبر فشار راوړئ او له هغه څخه هغه څه وغواړئ چې د موسی عليه السلام قوم له موسی عليه السلام څخه غوښتي وو؟ چې په دې کار سره ستاسوحالت د یهودو له حالت سره مشابه کېږي، لکه څرنګه چې یهودو له موسی عليه السلام څخه غوښتل چې موږ ته الله تعالی ښکاره او عیان وښیه، نو اې مؤمنانو! تاسې لره نه ښایي چې له پیغمبر عليه السلام څخه هغه څه وغواړئ چې د یوه تابع او فرمان وړونکي امت لپاره مناسب نه وي، ځکه واقعي ایمان هغه دی چې له پیغمبر عليه السلام څخه چې څه تاسو ته رسیږي، هغه په بشپړه توګه ومنئ او په څه چې درته امر کوي، په هغه عمل وکړئ او له څه نه چې مو منع کوي، له هغه څخه ځان وژغورئ.

بیا الله (جل جلاله) د آیت په پای کې فرمايي: ﴿وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاء السَّبِيلِ﴾. یعنې: څوک چې د الله ښکاره آیتونه پرېږدي او د نورو آیتونو غوښتنه کوي، د تکبر، دښمنۍ او کینې له مخې د بې عقلۍ غوښتنې کوي او هغه څوک چې ګمراهي د هدایت په بدل کې غواړي او کفرته پر ایمان ترجیح ورکوي، په حقیقت کې له نیغې لارې څخه چې د هدایت لاره ده، منحرف شوي دي.

### د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د دې لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- د اسلام د سپېڅلي دین په راتلو سره ټول آسماني دینونه منسوخ شول.
- د اسلامي دین په داخلي احکامو کې نسخ د الهي حکمت پر اساس ثابته ده.
- نسخ کوونکي(ناسخ) آیتونه د ثواب، عمل او تکلیف له حیثه تر منسوخ شوي آیت څخه غوره او کله هم

ورسره برابر وي.

☆ الله تعالی په خپل علم او قدرت سره د بشریت په ټولو مصلحتونو احاطه لري.

☆ د کامل ایمان له نښو څخه دا دي چې د رسول اللهﷺ له اوامرو پیروي او له منهیاتو څخه یې ډډه وشي.

## پوښتنې

١ – د (نسخ) لغوي او اصطلاحي معنا واضحه کړئ؟

٢ـ د (نُنسهَا) کلمې څخه مراد څه دی؟ او د (نأت بخیرمنها) جملې مطلب واضح کړئ.

٣ـ د نسخې د اثبات لپاره له قرآن کریم څخه دلیل راوړئ.

٤ـ د دې مبارک آیت: ﴿وَمَن يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ﴾ معنا واضح کړئ.

٥ـ ولې قرآني آیت، مؤمنان له دې څخه منع کوي چې د موسیؑ د قوم په شان واوسي؟

## کورنۍ دنده

د تفسیر او علوم القرآن کتابونو ته په مراجعې سره، د نسخې او د هغې د ډولونو په هکله دوه مخه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۰۹- ۱۱۰) آيتونه

﴿ وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾ ﴾

## د ځينو كلمو معناوې

{وَدَّ} غوښتنه كوي، خوښوي.

{أَهْلِ الْكِتَابِ}يهود او نصارا.

{يَرُدُّونَكُم} تاسې بېرته وګرځوي.

{تَبَيَّنَ} واضح او روښانه شوى.

{اصْفَحُواْ} د ګنهګارانو له نيوني تېرشئ.

{أَقِيمُواْ} سم ادا كړئ.

## ژباړه

زياتره اهل كتاب دا خوښوي چې تاسې له ايمان راوړلو وروسته بېرته د كفر لوري ته وګرځوي كه څه هم حق هغو ته څرګند شوى دى، خو د خپل نفس د رخې له امله ستاسې لپاره دا غواړي، د هغو په ځواب كې تاسې له عفوې او تېرېدنې نه كار واخلئ، چې الله په خپله، خپله فيصله نافذه كړي. بيشكه الله تعالى پر هر څه قادر دى. لمونځ قائم كړئ، زكات وركړئ او د خپلو ځانونو لپاره چې هره ښيګنه وړاندې لېږئ، د الله پر وړاندې به هغه ومومئ. بيشكه الله د هغه څه چې تاسې يې كوئ، ليدونكى دى.

## لنډ تفسير

﴿وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً...﴾: يو زيات شمېر يهود د مؤمنانو په هکله له حسد څخه کاراخلي، هغوی ته د شرغوښتنه کوي او دا حالت قرآنکريم واضح کړی چې يهود او نصارا سره له دې چې د پيغمبرﷺ د رسالت، حقانيت او نبوت رښتينوالی يې پېژندلای، خو د هغه حسد له کبله چې له پيغمبرﷺ او مؤمنانو سره يې لري، کوښښ کوي، ترڅو مؤمنان له اسلام څخه وباسي او ارتداد ته يې وهڅوي او دوی دا کار له دې امله نه ترسره کوي چې کتاب يې ورته امرکوي، بلکې دا د دوی د ناوړه، پليت او ناروغ نفس ځانګړتيا ده؛ ځکه يهود کينه ګر او له حسد نه ډک خلک دي، پرته له خپلو ځانونو نور هيچاته ښېګڼه نه غواړي او تل د نورو د نعمت د زوال په هيله کې سوځيږي او غمونه خوري.

همدا رنګه مبارک آيت دا راښيي چې دوی په خپل زړه کې دا يقين درلود چې د اسلام دين پرحقه دی او د نبي کريمﷺ په نبوت کې هېڅ شبهه نشته، خو د دوی ناوړه او پليت خوی، دوی له ايمان راوړلو او تصديق کولو څخه منع کول.

بيا الله تعالی مؤمنان مخاطبوي او فرمايي: ﴿فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ﴾: د يهودو شر ته په صبر او حوصله ځواب ورکړئ او د دوی پر وړاندې توري ته لاس مه اوږدوئ او جنګ مکوئ، ترڅو د الله حکم له دوی سره د جنګيدو په هکله، نازل شي. بيا الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾، يعنې: الله پر هرڅه قادر دی که وغواړي مسلمانان سره له دې چې د شمېرله مخې لږ، مالي او نظامي قدرت يې کم دی، خو بيا يې هم پر د ښمنانو برلاسي کولای شي.

﴿وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ...﴾: الله تعالی په دې آيت کې پردښمن د بريا او برلاسی ځينو معنوي وسيلو ته اشاره کوي او فرمايي: خپل لمونځونه قايم کړئ، ترڅو ستاسې په زړونو کې ايمان محکم او راسخ شي، ستاسو اړيکې له خپل پالونکي(پروردګار) سره ټينګې شي او ستاسو په منځ کې مينه او محبت پيدا شي او ستاسو نفسونه له بې حياييو او ناوړو کارونوڅخه پاک شي. همدارنګه د خپل مال زکات اداکوئ؛ ځکه دا يو مالي عبادت دی او د زکات په سبب په اسلامي ټولنه کې اجتماعي او ټولنيز تکافل منځته راځي اوله بلې خوا د بډايانو او بېوزلو

ترمنځ د دوستۍ فضا رامنځته کېږي.

دا دوه ډوله عبادت چې لومړی د فرد د اصلاح او دویم د ټولنې د اصلاح سبب کېږي، په دنیا کې دبریا وسیلې او په آخرت کې د نیکمرغۍ اوخوشحالۍ لامل ګرځي.

الله تعالی د دې آیت په دویمه برخه کې فرمایي:﴿وَمَا تُقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللّهِ﴾.یعنې: هره نېکي لکه: لمونځ، زکات، روژه، حج، احسان اونور چې په دنیا کې ترسره کوئ، پایله او بدله به یې د آخرت په ورځ ومومئ.

الله تعالی د آیت په پای کې فرمایي: ﴿إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾.یعنې: څه چې ترسره کوئ، الله د هغه لیدونکی دی او هېڅ کار که هغه وړوکی وي یاغټ، خیر وي یا شر، د الله د لیدنې له دایرې څخه لرې نه پاتې کېږي.

**فعالیت**

هغه لوی پیغام چې د ﴿فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ﴾ مبارك آیت یې اسلامي امت ته وړاندې کوي، په اړه یې له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ .

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې له دې آیتونوڅخه تر لاسه کېږي، عبارت دي له:

- په قرآن کریم او نبوي سنتوکې له حسد څخه چې له نورو څخه د نعمت د سلبولو هیله ده، ممانعت راغلی دی. مسلمانان باید ورڅخه ځان وژغوري.
- عفو او غچ نه اخیستل د اسلامي اخلاقو یوه برخه ده. کامل مسلمان هغه څوك دی چې د نېکو اخلاقو او زغم لرونکی وي او له غچ اخیستلو څخه ځان وژغوري.
- د اسلام د دښمنانو پر وړاندې د الهي مرستې ترلاسه کول، د شریعت له پابندۍ، لمونځ اداکولو او زکات ورکولو پرته متصوربدلای نشي. د دیني شعایرو اداکول د برلاسي او بریا له غوره وسایلو څخه ګڼل کېږي.

## پوښتنې

١ – يهود ولې په دې هيله وو چې مسلمانان له خپل دين څخه وګرځي؟

٢ – له ﴿من بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ﴾ څخه مراد څه دی؟

٣ – آيا د يهودو د دښمنيو پر وړاندې د اسلام حکم د تل لپاره "عفو او صفح" دی؟

٤ – د لمانځه قايمول اوزکات ورکول، څرنګه کولای شي په الهي نصرت کې اغيزناک واقع شي؟

٥ – له ﴿حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ﴾ څخه مراد څه دی؟

٦ـ کله چې مور د خير يو کار ترسره کوو، د الله په نزد يې پايله مومو، کوم آيت دې مفهوم ته اشاره کوي؟

٧ـ د دې آيتونو له تفسيرڅخه کومې لارښوونې اوګټې لاس ته راوړلای شو؟

## کورنۍ دنده

دا لوست په يو مخ کې داسې خلاصه کړئ چې هېڅ اصلي مطلب ترې پاتې نشي.

# د (البقرة) سورت (۱۱۱- ۱۱۳) آیتونه

﴿ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَن كَانَ هُوداً أَوْ نَصَارَى تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ
صَادِقِينَ ﴿۱۱۱﴾ بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ
يَحْزَنُونَ ﴿۱۱۲﴾ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَىَ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَى
شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ كَذَلِكَ قَالَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ فَاللّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا
كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۱۳﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معناوې

| | |
|---|---|
| {لَن يَدْخُلَ} | هېڅکله به داخل نشي. |
| {هَاتُواْ} | راوړئ. |
| {بُرْهَانَكُمْ} | ستاسو دليل. |
| {مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ} | څوک چې تسليم شي، څوک چې خپل عبادت الله ته خاص کړي. |
| { يَتْلُونَ} | لولي. |

## ژباړه

او اهل کتابو وويل: هېڅوک به جنت ته لاړ نشي، مګر هغه څوک چې يهودي يا نصراني وي. دا د هغوی هيلې دي، دوی ته ووايه (ای محمده!): خپل دليل وړاندې کړئ که تاسې په خپله دعوه کې رښتيني ياست. بلکې داسې نه ده هرڅوک چې خپل ځان (د) خدای اطاعت (ته) وقف کړي او (په عملي توګه) ښه چلن غوره کړي، د هغه لپاره د هغه د رب په نزد د هغه اجر شته او پر داسې خلکو څه وېره او کړاو نشته. يهوديان وايي: له عيسائيانو سره هېڅ حق نشته (په حق دين نه دي) ، عيسائيان وايي: له يهودو سره هېڅ حق نشته (په حق دين نه دي)په داسې حال کې چې دوی دواړه کتاب لولي، همدارنګه ويل هغو کسانو چې نه پوهېدل (لکه مجوسيان او مشرکان) د دوی د ويلو په شان. الله به دا اختلافونه چې دا خلک پکې اخته دي، د قيامت په ورځ فيصله کړي.

## لنډ تفسیر

﴿وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَن كَانَ هُوداً أَوْ نَصَارَى..﴾ الله تعالی په دې لومړي آیت کې فرمايي: يهوديانو ويل: «له يهودو پرته بل څوك به جنت ته لاړ ونه مومي» او نصاراوو ويل: «پرته له نصاراوو به بل څوك جنت ته داخل نشي»، تراوسه پورې دا دوه قومونه په همدې غلط او تش خيال ولاړ دي. الله تعالی يې په اړه داسې فرمايي: ﴿تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ﴾: دا د دوی بيكاره خيالونه او باطلې هيلې دي چې له حقيقت څخه په تمامه معنا لرې او هېڅ دليل او اساس نه لري.

بيا الله پاك خپل پيغمبرته امركوي: ﴿قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾. يعنې: دوی ته ووايه ای محمد ﷺ! كه په دې هكله كوم دليل لرئ، حاضرېې كړئ، ترڅو معلوم شي چې تاسو رښتيا وايئ يا په دروغو خپل ځانونه خوشحالوئ، هره دعوه چې په دليل ولاړه نه وي، هغه بې بنسټه اوباطله ده.

﴿ بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ...﴾: الله تعالی په دې آيت كې فرمايي چې د ده په سپېڅلي دربار كې د ارزښت وړ شی ايمان او عمل دی، نه يوازې تشه دعوا، يعنې: حقيقت داسې نه دی لكه چې تاسو گومان كوئ، بلكې جنت ته هغه څوك لاړ مومي چې الله ته تسليم وي اوحكمونه يې په عاجزانه توگه ومني اوعملي يې كړي.

څوك چې خپل پالونكي پروردگار ته تسليمېږي، او امر يې په مخلصانه توگه عملي كوي، خپل كارونه او ژوند د الهي شريعت موافق تنظيموي، هغوی له وېرې او ډار څخه خلاصون مومي او له غمونو، انديښنو او بدمرغيو څخه ژغورل كيږي.

﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَىَ شَيْءٍ...﴾: د هغه اختلاف له امله چې يهودو اونصارا وو په خپلوكې لرل، يو او بل يې په هېڅ كې نه شمېرل، قرآن كريم د هغوی دا حالت داسې تصويركړی: يهوديان وايي: د نصرانيانو دين باطل دی اوهېڅ ارزښت نه لري. په مقابل كې نصرانيان يهود تورنوي او وايي: يهوديان په باطله دي او دين يې بې ارزښته دی. دا په داسې حال كې چې دواړو ډلو د تورات او انجيل تلاوت كاوه او دواړه ډلې پوهيږي چې د ايمان له لوازمو څخه دا ده چې بايد په ټولو آسماني كتابونو او الهي پيغمبرانو ايمان ولرو، دوی

دا کار د علم له مخې کاوه، نه د جهل او ناپوهۍ له مخې.

الله تعالی د آیت په وروستۍ برخه کې فرمايي:﴿كَذَلِكَ قَالَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ﴾: همدارنګه بت پرستو مشرکینو چې د هرڅه نه بې خبر وو، هغوی هم د یهودو او نصاراوو په څېر ویل چې د اسلام دین باطل دی، په داسې حال کې چې حق د دوی د غلطو او پوچو خیالونو پرخلاف دی. د دې ډلو حقانیت او باطلوالی الله معلوموي او خپل پیغمبران یې د دې لپاره رالیږلي، ترڅو حق او باطل راوښيئ، نو دا کار د چا امر پورې تړلی نه دی.

د آیت په پای کې وروستۍ فیصله شویده چې هغه ورځ به رارسیږي، چې په هغې کې به هرچا ته د هغه د حق والي او باطل والي کچه معلومه شي، الله تعالی فرمايي: ﴿فَاللّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ﴾: الله له هرچاڅخه ډېرعالم دی اوهمدا ذات به د خپلو بنده ګانو په منځ کې د قیامت په ورځ په عدل او انصاف قضاوت وکړي او دوی ته به روښانه کړي چې کوم یو په حقه اوکوم یو په کږه لار روان و. هو، هغه ذات به د آخرت په ورځ خپله وروستۍ فیصله صادره کړي، حق به بریالی او باطل به سپک او شرمېدلی وي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې له دې آیتونوڅخه تر لاسه کېږي، عبارت دي له:

- جنت د هغو مؤمنانو ځای دی چې نېکې کړنې یې کړې وي.
- جنت په هیلو او امیدونو لاس ته نه راځي، بلکې د هغه د لاسته راوړلو لپاره هڅه او هاند په کار دی.
- هېڅ یوه انسان ته روا نه ده چې د دیني امورو په اړه پرته له دلیله فیصله وکړي.
- د یهودو او نصاراوو دښمني همیشنۍ ده، هره ډله کوښښ کوي، ترڅو مقابله ډله ګمراه او باطله ثابته کړي.
- دقیامت په ورځ به الله (جل جلاله) فیصله وکړي، چې څوک په حقه اوڅوک په باطله دی.

## پوښتنې

۱ـ د یهودو او نصاراوو خیالونه، جنت ته د داخلیدو په هکله څرنگه وو؟

۲ـ الله د دوی دخیالونو د رد په هکله څه فرمایلي دي؟

۳ـ یهود او نصارا د خپلې دعوې د اثبات لپاره په څه کار مکلف شول؟

٤ـ د جنت د داخلیدو حقیقي مستحق څوک دی او دا مطلب له کوم آیت څخه معلومولای شو؟

٥ ـ د بت پرستو مشرکینو، یهودو او نصارا وو ترمنځ څه ورته والی شتون لري، چې قرآن کریم ورته اشاره کړې ده؟

٦ـ الله تعالی به د قیامت په ورځ د ډلو او ادیانو د پیروانو ترمنځ څه فیصله وکړي؟

## کورنۍ دنده

د یهودو، نصاراوو او مشرکینو د ورته والي او توپیرونو په هکله یو مخ مقاله ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۱۱۴- ۱۱۶) آیتونه

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُوْلَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ
أَن يَدْخُلُوهَا إِلاَّ خَائِفِينَ لهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلّهِ الْمَشْرِقُ
وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُواْ اتَّخَذَ اللّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَل
لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿١١٦﴾ ﴾

### د ځینو کلمو معنا

{أَظْلَمُ} تر ټولو لوی ظالم.

{مَسَاجِدَ} د (مسجد) جمع دی، چې په لغت کې د الله تعالی د عبادت لپاره د سجدې کولو ځای ته ویل کیږي.

{سَعَى} کوښښ یې وکړ.

{في خَرَابِهَا} د هغه په خرابی کې.

{خَائِفِينَ} ویریدونکي.

{خِزْيٌ} ذلت، خواري، بدمرغي.

{تُوَلُّواْ} مخ وګرځوئ.

{فَثَمَّ} نو هلته، نو همغه ځای.

{سُبْحَانَهُ} پاکي ده الله لره.

{قَانِتُونَ} تسلیمیدونکي، د الله د امرمنونکي.

### ژباړه

او څوک دی لوی ظالم (بلکې نشته) له هغه چا څخه، چې د الله تعالی مسجدونه بندوی له دې چې یاد کړشي په هغو کې د الله تعالی نوم او د هغو په ورانولو (او شاړولو) کې کوښښ کوي، دغه کسان نه دی لایق دوی ته مګر دا چې ننوځي دغو مسجدو ته ویریدونکي، دوی ته په دنیا کې ذلت دی او په آخرت کې دوی ته (په سبب د کفر او ظلم د دوی) ډیر لوی عذاب دی او خاص الله لره دی مشرق او مغرب، نو هر لوري ته چې (په لمانځه کې)

مخ وګرځوئ، نو همدغه لوری د الله تعالی د اطاعت (لوری) دی، بېشکه چې الله تعالی پراخ دی (رحمت د ده) ښه عالم دی او وايي (کفار، یهودیان او نصرانیان داسې چې) الله ﷻ څوک په زوی ولی سره نیولی دی، پاکي ده، ده لره (له زوی څخه) بلکې ده لره دي هر هغه څه چې په آسمانو او ځمکې کې دي، ټول ده لره حکم منونکي او تسلیم دي .

## اجمالي تفسیر

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ...﴾: د لوست په دې لومړني آیت کې د کافرانو له ظالمانه کړنې څخه چې خلك به يې له جوماتونو څخه منع کول، یادونه شویده، الله تعالی فرمایي: هېڅوك د الله په وړاندې تر هغه چا ډېر ظالم نه دی چې خلك د الله له ذکر څخه منع کوي او نه يې پرېږدي چې د الله تعالی نوم یاد کړي او په عین وخت کې زیار باسي، ترڅو جوماتونه ونړوي او له منځه يې يوسي. همدا وجه ده چې اسلام د کلیساوو او د اهل کتابو د عبادت ځایونو له نړولو څخه منع کوي، ځکه په ظاهره هغه د الله د ذکر او عبادت لپاره جوړ شوي دي.

وريپسې الله (جل جلاله) فرمایي: ﴿أُوْلَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلاَّ خَآئِفِينَ﴾. یعنې: دې خلکو ته مناسبه نه ده او حق نه لري چې جوماتونو ته ننوځي مګر په حالت د ویرې او لړزې کې. پر هغوکسانو چې جوماتونه ترې او د الله د ذکر او یاد مخه نیسي، لازمه ده چې د الله کورونو ته په وېره او لړزه کې داخل شي او د الله له اوامرو څخه پیروي وکړي، خو برخلاف دوی د الله کورونو ته د نړولو او ورانولو په نیت داخلیږي، که دوی له ډېر لږ عقل څخه هم برخمن وای، نو پوهیدل چې د الله تعالی په عبادت کې له دنیوی او اخروي ګټو څخه پرته بل څه شتون نه لري. که چېرته د الله تعالی عبادت پرېږدي او یا د مسلمانانو عبادت ځایونه ونړوي، د الله تعالی له غضب اوغوسې پرته به بله ګټه په لاس رانه وړي.

بیا الله تعالی د آیت په پای کې فرمایي: ﴿لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ دا فاجران چې د الله تعالی له ذکر او جوماتونو ته له داخلیدو څخه خلك منع کوي، په دنیوي ژوندانه کې به د ذلت اوخوارۍ په دام کې ګرفتار شي او په آخرت کې به د خپلوکړو وړو په سزا ورسیږي او سوځوونکی اور به يې استوګنځای وي.

﴿وَلِلّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ﴾: په دې آیت کې له (مشرق) او (مغرب) څخه مطلب دا

دی چې ټوله ځمکه او ټول لوري د الله تعالی ملکیت دي، یعنې هر لوري ته چې الله ﷻ په لمانځه کې موږ ته د مخ اړولو امرکوي هغه د الله ﷻ لوری دی. دا مبارک آیت د قدرمنو مفسرینو په اند دوو څیزونو ته اشاره کوي: لومړی: له بیت المقدس څخه د کعبې شریفې په لوري د قبلې ګرځیدنه، چې یهودیانو په دې کار سخته نیوکه کوله، خو الله تعالی دوی ته خبر ورکړ چې لوري او طرفونه ټول د الله تعالی دي، هرلوري ته چې هغه وغواړي د لمانځه کولو امر ورکوي، نو څوک د نیوکې حق نه لري. دویم: د سفر ځانګړو حالتونو ته اشاره کوي چې که چیرې مسافرته د قبلې لوری معلوم نشو او هغه د زیار او تفکر کولو وروسته په غالب ګومان یو لوری قبله وګڼله، که وروسته معلومه شوه چې قبله بل لوري ته ده، نو د ده لمونځ نه باطلیږي او لمونځ دې نه راګرځوي. همدارنګه که مسافر په سپرلۍ سپور و او د دریدو واک یې نه درلود او یا یې بیره او یا وېره درلوده، نو مسافر کولای شي چې هرلوري ته مخ وګرځوي او لمونځ اداء کړي. الله تعالی دا مبارک آیت په دې الفاظو ختم کړی: ﴿إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾، یعنې: الله تعالی د ډېر پراخۍ راوستونکی او عالم ذات دی او د خپلې پراختیا په کچه په بنده ګانو هم پراختیا راولي او ژوندون پرې آسانوي؛ څکه الله تعالی روا کړیده چې دځمکې پر سر هر ځای د چاړه غواړي، لمونځ دې وکړي.

﴿وَقَالُواْ اتَّخَذَ اللّهُ وَلَدًا﴾: الله تعالی په دې وروستي آیت کې د نصاراوو، مشرکانو او یو شمېر یهودیانو ډېرې ناوړې عقیدې ته اشاره کوي، څکه یهودیانو به ویل: «عزیر ؑ د الله تعالی زوی دی». نصاراوو به ویل: «مسیح د الله ﷻ زوی دی» او د مکې مشرکانو پرښتې د الله تعالی لوڼې ګڼلې. خو الله تعالی د دوی دا بیځایه او غلط خیال ردکړ او داسې یې وفرمایل: ﴿سُبْحَانَهُ بَل لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ﴾: الله ﷻ له هغو تورونو څخه چې دوی یې پرې لګوي، پاک دی او دوی په خپل ګومان اوخیال په باطله لاره تللي دي، بلکې هرڅه چې په نړۍ کې په سترګو ښکاري او وجود لري، د الله تعالی تابع او فرمان منونکي دي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د مسلمانانو په ژوندکې د جوماتونو د ارزښت په هکله له یو بل سره خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

ځینې لاندې ګټې او لارښوونې د دې لوست له آیتونوڅخه څرګندیږي:

☆ جوماتونه د الله تعالی دبنده ګۍ او عبادت ځایونه دي، مسلمانان باید هغه آباد کړي اوچاته اجازه ورنکړي چې

په نړولو يې لاس پورې کړي.

★ د جوماتونو احترام او تعظيم مراعاتول، د يوه مسلمان له ايماني دندو او مسؤوليتونو څخه دی.

★ د جوماتونو درناوی، د هغو مادي او معنوي آبادي، د هغو پاکي او سپيڅلتيا د هر مسلمان دنده ده.

★ د جوماتونو حقيقي آبادي دا ده چې په هغو کې د جماعت لمونځونه، د قرآن کريم تلاوت او تفسير، د شرعي او نورو ګټورو علمونو خپريدنه رامنځته شي.

★ د بندګۍ او لمانځه ځای يوازې په جومات پورې نه خلاصه کېږي، بلکې د ځمکې پر مخ په هره نقطه او هرځای کې د الله ﷻ عبادت کېدای شي.

★ الله تعالی د اولاد له نيولو څخه پاک او منزه دی.

## پوښتنې

۱. لاندې جملې معنا کړئ:

{ومن أظلم} {أن يذكرفيها اسمه} {وسعى في خرابها} {لله المشرق والمغرب} {قانتون}.

۲. په جوماتونوکې دعبادت اولمانځه له اداکولوڅخه منع کول، ولې لوی ظلم ګڼل کېږي؟

۳. د هغوکسانو په حق کې چې الله ﷻ ته د اولاد نسبت کوي، څه حکم کولای شئ؟

## کورنۍ دنده

د لاندې دريو عنوانونو په اړه يوه لنډه مقاله وليکئ:

۱-په اسلامي شريعت کې د جوماتونو غوره والی.

۲-جوماتونو ته د احترام او درناوي لازموالی.

۳-د هغو کسانو ثواب چې جوماتونه آبادوي.

# د (البقرة) سورت (۱۱۷ - ۱۲۰) آیتونه

﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿۱۱۷﴾ وَقَالَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ
لَوْلاَ يُكَلِّمُنَا اللّهُ أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ كَذَلِكَ قَالَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الآيَاتِ
لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿۱۱۸﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلاَ تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَن
تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم
بَعْدَ الَّذِي جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ ﴿۱۲۰﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معناوې

{بَدِيعُ} بې له نمونې پیداکوونکی.

{وَإِذَا قَضَى} کله چې فیصله وکړي، یا اراده وکړي.

{لاَ يَعْلَمُونَ} نه پوهیږي.

{تَشَابَهَتْ} یوله بل سره مشابه شوي دي.

{بَشِيرًا وَنَذِيرًا} زیری ورکوونکی او ویروونکی.

{لَن تَرْضَى} هیڅکله به راضي نشي.

## ژباړه

(الله) د آسمانونو او ځمکې پیداکوونکی دی او هر کله چې د یوه کار اراده وکړي، نو بیشکه همدغه خبره ده، چې وایي هغه کار ته چې وشه! نو هغه کېږي. او وایي، هغه کسان چې نه پوهېږي (یا ځان نه پوهوي): ولې الله ﷻ په خپله له موږ سره خبرې نه کوي یا ولې (ستا پر صدق ای محمده!) موږ ته یو آیت نه راځي، همدارنګه به ویل هغو کسانو (چې) پخوا له دوی څخه وو، د دوی د خبرې په شان، د دوی زړونه یو رنګ شوي دي، په تحقیق موږ بیان کړي دي ښکاره نښې (معجزې) هغو خلکو ته چې دوی باور کوي. بېشکه موږ لېږلی یې ته (ای محمده !) په حقه سره زیری ورکوونکی (په نعیم) او ویروونکی (له جحیم) څخه او ته به نه پوښتل کیږې له صاحبانو د دوزخ څخه. یهودیان او عیسائیان به هیڅکله له تانه خوشاله نشي، ترڅو ته د هغو په لار (دین)لاړ نشې. دوی ته په کلکه ووایه، چې سمه لار یوازې هماغه ده چې الله تعالی ښودلې ده او که ته له هغه علم نه وروسته چې درکړای شوی دی، د هغو په خواهشونو پسې لاړ شې، نو ستا هیڅ ملګری او مرستندوی نشته (چې د الله تعالی له نیونې نه دې وژغوري).

## اجمالي تفسير

﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ...﴾: الله تعالی په دې لومړني آيت کې فرمايي: الله تعالی دآسمانونو او ځمکې بې مثاله پيداکوونکی دی، يعنې: الله تعالی هغه له عدم څخه وجود ته راوړي دي او آسمانونه، ځمکه او هر څه يې پيداکړي دي، نوڅرنګه کولای شو چې هغه الله ﷻ ته په زوی او ښځې لرلو قايل شو په داسې حال کې چې هغه د ټولو شيانو خالق او پيداکوونکی دی؟! هرکله چې الله ﷻ اراده وکړي، چې يوشی پيدا کړي، نو هغه شي ته امرکوي چې شه! نو هغه شی سمدستي منځته راځي او څرنګه چې الله ﷻ غوښتي وي پرته له هېڅ ځنډه پيداکېږي، نوله دې څخه معلومېږي چې توالد او تناسل يعنې زېږېدنه او زېږونه د الله له طرفه يو محال امر دی، ځکه الله تعالی دې مسايلو ته هېڅ ضرورت او اړتيا نه لري، هغه واحد، بې مثله او بې سياله دی.

﴿ وَقَالَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ لَوْلاَ يُكَلِّمُنَا اللّهُ أَوْ تَأْتِينَا آيَة ..﴾ مخکيني آيت پر هغوکسانو رد وکړ چې د الله ﷻ په زوی لرلو يې عقيده لرله او دا آيت پر هغوکسانو رد دی چې د محمد (صلى الله عليه وسلم) د نبوت په اړه شک او ترديد لري، الله تعالی فرمايي: ناپوهان او هغه کسان چې علم نه لري (په دې آيت کې ترې مشرکين مراد دي چې له آسماني شريعتونوڅخه بې خبره وو) وايي: ولې الله ﷻ زموږ سره خبرې نه کوي؟ ولې خبر نه راکوي چې ته يې پيغمبر يې؟ او يا دا چې ته (ای محمده!) له ځان سره يوه غوښه او قاطع معجزه راوړه، ترڅوستا د نبوت په رښتينولی ښکاره نښه وي. دوی دا غوښتنې د دې لپاره نه کوي، ترڅوحق اوحقيقت ته لار پيدا کړي، بلکې دا ټولې يوازې د بې عقلی، عناد، تکبر او دښمني له وجې کوي.

پردې اساس الله ﷻ د خپل پيغمبر او نورو مسلمانانو د پوهولو لپاره فرمايي:﴿كَذَلِكَ قَالَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ﴾، يعنې: داسې اعتراض اوغوښتنه نورو کسانو هم له تېرو شويو پيغمبرانو څخه کړې وه. په واقعيت کې تياره زړې او رانده صفته خلک چې په هره زمانه کې ژوند کوي، له يو بل سره مشابهت لري. لکه څرنګه چې ستا بې عقله دښمنان اعتراضونه کوي، پخواني انبياء (عليهم السلام) هم له داسې اعتراضونو سره مخ شوي دي، نونه ښايي چې داسې چلندونه تا مايوسه کړي.

په حقيقت کې د دوی زړونه له يو بل سره ورته او نژدې دي، کومې خبرې چې له ناروغه زړونو څخه راوځي، هغه يو له بل سره ورته وي، که په هره زمانه کې وي.

بيا الله تعالی فرمايي:﴿قَدْ بَيَّنَّا الآيَاتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾: په واقعيت کې موږ روښانه دلايل دهوښيارو خلکو لپاره بيان کړي چې هغوی د حق اوحقيقت پېژندنې غوښتونکي دي. الله تعالی دخلکو لپاره روښانه اوڅرګند دليلونه دخپل پيغمبر حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) په واسطه بيان کړي، ترڅو هر عاقل او هوښيار چې د الله تعالی د

قدرت نښې ويني، خامخا يقين ته ورسيږي او د اسلام په حقانيت يې باور کلک شي.

بيا الله تعالى خپل پيغمبر مخاطب گرځوي اوفرمايي: ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾ اى محمده! ما ته له يو روښانه شريعت، ځرګند هدآيت او د لمر په شان ښکاره حق سره ليږلى يې، ترڅو مؤمنانو ته زيرى ورکړې اوکافران وويروې.

بيا الله تعالى د آيت په پاى کې فرمايي:﴿وَلاَ تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ﴾، يعنې: اى محمده! (صلى الله عليه وسلم) تشويش او انديښنه مه کوه، ځکه ستا وظيفه اودنده دا ده چې خلکوته زيرى ورکړې او که يې ناوړه کارترسره کړ، هغوى د خپل ناوړه کار له پايلو ووېروه. که کافران د اسلام دين نه قبلوي، د هغوى کفر تا ته هېڅ ضررنه رسوي او ته د هغو په کړنو نه نيول کېږې، ځکه تا خپل رسالت او دنده اداکړې ده اوخپل مسؤوليت دې په ښه توګه ترسره کړى دى. په هغه صورت کې چې کافران ستا دين او دعوت نه قبلوي او دوزخ ته ځي، په دې کې ستا هيڅ مسؤوليت نشته.

بيا الله پاک پيغمبرﷺ ته ډاډ ورکوي چې يهود او نصارا هېڅکله ايمان نه راوړي او بايد په دې اړه خپل ځان په ستونزوکې وانه چوي، لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾: يهوديان هېڅکله له تاڅخه نه راضي کېږي، پرته له دې چې ته يهودي شې اونه هېڅکله نصارا له تاڅخه راضي کېږي مګر دا چې ته نصراني شې.

دا يوحقيقت دى چې بايد هرمسلمان له هغه څخه خبرشي او وپوهيږي چې کفري نړۍ، که يهود دي اوکه نصارا، هېڅکله زموږسره دوستي نه کوي، مګر هغه وخت چې خپل دين پرېږدو اود دوى د دين پيروي وکړو، هرځومره چې له دوى سره د دوستۍ اظهاروکړو، بايد پوه شو چې هغوى د اسلام د بربادۍ قسم خوړلي او نه پخلاکېدونکي دښمنان دي.

بيا الله تعالى فرمايي:﴿قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَى﴾: هغوى ته ووايه: په حقيقت کې همدا د اللهﷻ له خوا ښودل شوې لاره سمه لاره ده، يعنې د اسلام دين چې اللهﷻ هغه د يوه واقعي دين او بشريت ته د هدآيت په توګه غوره کړى دى، پرته له هغه څخه هېڅ هدايت اوطريقه وجود نه لري چې د بشريت لپاره نيکمرغي رامنځته کړي او بشريت له بدمرغۍ اوګمراهۍ څخه وژغوري.

د آيت په پاى کې الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ﴾ يعنې: که چېرې ته وروسته له دې چې حق اوحقيقت دې درک کړ او په دې وپوهيدې چې د اسلام دين د اللهﷻ له لوري نازل شوى دى، د يهودو او نصاراوو د غوښتنو پيروي وکړې، نو بيا به څوک ونه مومې چې له تاڅخه ملاتړ وکړي، کارونه دې سمبال او په دښمنانو دې برلاسى کړي او د اللهﷻ له عذابه دې وژغوري. دا خطاب که څه هم محمد (صلى الله عليه وسلم) ته شوى دى، خو منظور ترې ټول مسلمانان دي.

که چېرې موږ نن د اسلام د دښمنانو پیروي وکړو، باید وپوهېږو چې زموږ پیروي له دوی څخه هېڅ ګټه نه لري او نه زموږ ستونزې حلولای شي، بلکې زموږ اوسنۍ ستونزې به نورې هم زیاتې شي.

### د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې اولارښوونې چې له دې لوست څخه ترلاسه کېږي، په لاندې ډول دي:

- پرته له قطعي ثبوته، الله تعالی ته د یو شي د منسوبولو حرمت، لکه څرنګه چې قرآن کریم پر هغو کسانو رد کوي، څوک چې بې نیازه الله تعالی ته د زوی نیولو نسبت کوي.
- په هرځای او هر زمان کې له شیطان څخه د اطاعت او پیروۍ له امله، د باطل پرستو د زړونو یو رنګوالی او ورته والی.
- هرمسلمان مکلفیت لري، ترڅو په نېکو اعمالو امر، له بدیو څخه منع او د الله ﷻ بندګۍ ته خلک راوبولي.
- یهود او نصارا د تل لپاره داکوښښ کوي چې مسلمانان له خپل مقدس دین څخه واړوي، د خپلو غوښتنو او خواهشاتو تابع یې وګرځوي.
- د الله تعالی له آیتونو څخه هغه څوک ګټه پورته کولای شي، چې د سالم زړه او عقل څښتن وي.

### پوښتنې

۱. له ﴿الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ﴾ څخه مراد څوک دي؟

۲. مشرکانو د خپلې بې ایمانۍ د توجیه لپاره له نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) څخه څه مطالبه درلوده؟

۳. د کفارو زړونه په څه شي کې له یو بل سره ورته والی لري؟

٤. په ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم﴾ کې خطاب چا ته دی؟

۵. د ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾ آیت څه مفهوم افاده کوي؟

٦. الله تعالی په هرکار قادر دی او هېڅ کار د ده د قدرت له دایرې څخه دباندې نه دی، په دې مفهوم کوم آیت دلالت کوي؟

۷. د ﴿وَلاَ تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ﴾ آیت د الله تعالی پیغمبر ته څه ډاډ او تسلي ورکوي؟

### کورنۍ دنده

له اهل کتابو (یهودو او نصاراوو) څخه د پیروۍ د ضررونو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۲۱ - ۱۲۴) آیتونه

﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلاَوَتِهِ أُوْلَئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَمن يَكْفُرْ بِهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ
﴿۱۲۱﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۱۲۲﴾
وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ تَنفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ
﴿۱۲۳﴾ وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ
يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿۱۲٤﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{الْخَاسِرُونَ} زیانمنان.

{تَجْزِي} دفع کوي، نفع رسوي.

{عَدْلٌ} فدیه، بدل.

{ابْتَلَى} ویې ازمایه.

{فَأَتَمَّهُنَّ} هغه یې ټول پوره ادا کړل.

{جَاعِلُكَ} تا ګرځوم.

## ژباړه

کومو خلکو ته چې موږ کتاب ورکړی دی، هغوی یې داسې لولي، لکه څرنګه چې یې د لوستلو حق دی. دا کسان وربانديې د زړه له کومې ایمان راوړي او څوک چې په دې کتاب کافر شي، نو همدوی په اصل کې زیانکاران دي. ای بني اسرائیلو! زما هغه نعمت درياد کړئ چې پر تاسې مې لورولی و او دا چې ما تاسې ته د نړۍ (ستاسو د وخت) پر ټولو قومونو فضیلت درکړی و. او وویرېږئ له هغې ورځې نه، چې هېڅوک به هېچا ته یوه ذره په درد ونه خوري، نه به له چا نه فدیه قبوله کړای شي، نه به کوم سپارښت انسان ته ګټه ورسوي، او نه به ګناهګارانو ته له کومې خوا نه څه مرسته ورسیدای شي. او (یاد کړه ای محمده!) چې کله پر ابراهیم عليه السلام د هغه رب د څو خبرو ازمېښت وکړ او هغه ټولې یې سرته ورسولې. نو(الله جل جلاله) وویل: چې بېشکه زه ګرځوونکی ستا یم د خلکو مقتدا (لارښود). وویل (ابراهیم عليه السلام): آیا زما له اولادې سره هم همدا وعده ده ؟ نو (الله جل جلاله) وفرمایل: زما عهد (امانت) کافرانو ته نه رسېږي.

## اجمالي تفسير

په تېرشوي آيت کې بيان شو چې بايد له يهودو او نصاراوو شخه د هدايت هيله ونه کړای شي، ځکه دوی له کفر، دښمنۍ اوعناد شخه ډک دي، خو د دې لوست په لومړي آيت کې راغلي دي چې ځينې يهوديان شته چې د ايمان هيله ورڅخه کېدای شي، لکه ځرنګه چې الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلاَوَتِهِ...﴾ يعنې: يوه ډله اهل کتاب، لکه عبد الله بن سلام اود ده ملګري، داسې کسان وو چې تورات يې په فکر او سوچ لوسته اوکله يې چې حق وپېژانده پيروي يې وکړه. دې ډلې کله چې د پيغمبرﷺ او صاف په تورات کې ولوستل، په هغوکې يې هېڅ تغير او تبديل ونکړ، هغوی په خپل ايمان کې صادق وو. الله ﷻ د آيت په پای کې فرمايي: ﴿وَمن يَكْفُرْ بِهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾ يعنې: هرڅوک چې له قرآن کريم شخه چې د واحد الله ﷻ له لوري نازل شوی، انکار وکړي او ايمان پرې رانه وړي، هغه به په دنيا اوآخرت کې خوار او ذليل شي، ځکه چې هغه کفر پر ايمان غوره کړی او ګمراهي يې د هدايت په بدل کې اخستې ده.

﴿يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُواْ نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ﴾: الله ﷻ په دې آيت کې بني اسرائيل مخاطبوي اوکوم نعمتونه يې چې په دوی پېرزو کړي هغه وريادوی او فرمايي: ای د يهودو ډلې! هغه بې شمېره نعمتونه چې پر تاسې مې پيرزو کړي، هغه ياد کړئ او خپل پالونکي ته د هغو نعمتونو له کبله شکر وباسئ. يو له هغو لويو نعمتونوڅخه چې الله تعالی په بني اسرائيلو پيرزوکړي، هغه دا دی چې دوی د خپل وخت په ټولو ملتونو غوره وو، يعنې هغه يهوديان چې په موسی (عليه السلام) يې ايمان راوړی و او د تورات په احکامو يې منګولې لګولې وې، هغوی د خپلې زمانې په ټولو خلکو بهتره ګڼل شوي. دا هم د يادونې وړ ده چې اوس مهال د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) امت له ټولوامتونوڅخه غوره امت دی او الله تعالی هم دې ته اشاره فرمايلې: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ يعنې تاسو بهترين امت يئ چې خلکو ته د قيادت لپاره را ايستل شوي يې.

﴿وَاتَّقُواْ يَوْماً لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً...﴾: دلته الله پاک بيا بني اسرائيل مخاطبوي او فرمايي: د آخرت له ورځې شخه وويرېږئ، له هغې ورځې چې هېڅ نفس به له بل نفس سره اوهېڅ کس به له بل کس سره مرسته ونشي کړای، د ضرر په دفع کولو او د ګټې په راجلبولو به قادرنه وي او نه به د الله ﷻ عذاب وروسته کولای شي، ځکه هرنفس به له خپل عمل شخه پوښتل کيږي.

نو د دې مطلب د توضيح او ټينګار لپاره، الله تعالی د آيت په دويمه برخه کې فرمايي: ﴿وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا

﴿عَدْلٌ وَلاَ تَنفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَلاَ هُمْ يُنصَرُونَ﴾ يعنې: کله چې کافران په قيامت کې د عذاب وړ وګرځي، دوی نشي کولای چې دخپل خلاصون لپاره فديه ورکړي، نه د دوی په اړه شفاعت منل کېږي اونه څوک د دوی د خلاصی لپاره مرستې ته رادانګلای شي، ترڅودوی د الله جلاله له عذابه وژغوري اويا عذاب ورځنې کم کړي.

﴿وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ...﴾ په دې آيت کې الله تعالی يهودو ته وريادوی چې دوی څرنګه ځان غوره ملت بولې اونورخلک سپک ګڼي، الله (جل جلاله) فرمايي: هغه ورځ در په يادکړئ چې الله تعالی حضرت ابراهيم عليه السلام ته د سختو دندو امر وکړ او دی يې د اوامرو او نواهيو په وسيله ترآزموينې لاندې ونيوه، حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل رسالت په اداکولو برلاسی شو او هغه دندې او اوامر يې په ښه توګه ترسره کړل. يوله هغومکلفيتونوڅخه دا و چې هغه ته يې امر وکړ، ترڅو له خپل وطنه هجرت وکړي، همدارنګه امر ورته وشو چې خپل زوی حضرت اسماعيل عليه السلام حلال کړي او بل دا چې د مشرکانو او د اسلام د دښمنانو له خوا اورته واچول شو، خو ده پوره صبر او بشپړه حوصله مندي ښکاره کړه، نوځکه الله جلاله د دې بريا په مقابل کې ورته وفرمايل:﴿قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا﴾ يعنې: زه تا د خلکو لارښود او د لوړ مقام څښتن ګرځوم، ترڅو د نورو خلکو لپاره بېلګه او نمونه وګرځې. حضرت ابراهيم (عليه السلام) وفرمايل:﴿قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ﴾، يعنې: حضرت ابراهيم (عليه السلام) پوښتنه وکړه: ای زما پالونکيه! ايا زما له اولادې څخه هم د هدايت لارښوونکي غوره کوې؟ الله تعالی د دې پوښتنې په اړه وفرمايل: ای ابراهيمه! دا فضيلت اوغوره والی کافرو او ظالمو انسانانو ته نشي رسيدای؛ ځکه نبوت په خپله يو امانت دی او دا امانت ظالمانوته نشي ورکول کيدای اونه يې هغوی مستحق دي.

**فعاليت**

د ابراهيم (عليه السلام) د زامنو له ډلې څخه د څو انبياوو نومونه ولیکئ.

## د لوست ګټې

ځينې‌هغه ګټې اولارښوونې چې له دې لوست څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

☆ د الهي کتاب تلاوت هغه وخت انسان ته ګټور تماميدای شي او د تلاوت حق يې پر ځای کيدای شي،

چې الهي کتاب په تفکر، سوچ او تدبر سره ولوستل شي او احکام يې پلي شي.

☆ څوک چې له اسلام څخه دمخه د شرک یا ظلم مرتکب شوي وي، نو په توبه کولو او ایمان راوړلو سره ظالم نه ګڼل کیږي، څکه الله فرمايلي دي: ﴿فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ﴾: الله ﷻ د دې ډلې ګناهونه له توبې او ایمان څخه وروسته په نیکیو بدلوي.

☆ الله (جل جلاله) د دین امامت او د مسلمانانو مشري، د نیکو بنده ګانو حق ګرځولی او ظالمان د دې وړ نه دي.

☆ د حق اوهدايت د پريښودو په صورت کې د قيامت په ورځ هيڅ عذر نه قبليږي. نه فديه، نه بدله او نه شفاعت منل کيږي او نه هم څوک له چا سره مرسته کولای شي.

☆ د اوامرو ترسره کول اوله نواهيو څخه ځان ژغورل، دبشپړ ایمان نښه ده.

## پوښتنې

١ – د لاندنيو کلمو او جملو معنا بيان کړئ :

**{يتلونه} {حق تلاوته} {لا تجزي نفس عن نفس} {لا يقبل منها عدل} {لا تنفعها شفاعة}.**

٢– له ﴿الذين اتيناهم الكتاب﴾ او ﴿يؤمنون به﴾ څخه مراد څه دی؟

٣ – د قرآن کريم تلاوت په تفکر او تدبر سره څه ګټه لري؟

٤ – د ﴿وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ...﴾ په آيت کې د (کلمات) مراد واضح کړئ؟

٥ – په ﴿لاَّ تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئاً﴾ مفهوم واضح کړئ؟

٦ –الله تعالی د ابراهيم (عليه السلام) د پوښتنې په مقابل کې وفرمايل:﴿لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ﴾، په دې کې څه حکمت دی؟

## کورنۍ دنده

د ابراهيم (عليه السلام) د آزموينو په هکله يو مخ مقاله وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۲۵- ۱۲۹) آیتونه

﴿ وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ
وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿١٢٥﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ
هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلاً
ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ
رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً
لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو
عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ العَزِيزُ الحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ﴾

## د ځینو کلمو معنا

{ الْبَيْتَ} بيت الله، کعبه .

{مَثَابَةً} د بيا ورتگ ځای.

{أَمْنًا} د امن ځای.

{مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ} هغه تيږه ده چې ابراهيم (عليه السلام) دکعبې جوړولو لپاره، په هغه درېده.

{لِلطَّائِفِينَ} دطواف کوونکو لپاره.

{الْعَاكِفِينَ} د الله ﷻ د عبادت په نيت په حرم کې اوسيدونکي او اقامت کوونکي.

{الرُّكَّعِ} رکوع کوونکي، لمونځ کوونکي.

{أَضْطَرُّهُ} روانوم يې، مجبوروم يې.

{بِئْسَ الْمَصِيرُ} ډېر بد برخليک.

{الْقَوَاعِدَ} د کعبې بنسټونه.

## ژباړه

او (یاد کړه اې محمده!) چې موږ دا کور ( کعبه ) د خلکو لپاره مرکز او د امن ځای وگرځاوه او خلکو ته مو امر وکړ چې په کوم ځای کې ابراهيم عليه السلام د عبادت لپاره درېده، هغه ځای په مخصوصه توگه د لمانځه ځای وگرځوئ او ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام ته مو په کلکه ويلي وو چې زما دا کور د طواف کوونکو، ځيله کيدونکو، رکوع او سجده کوونکو لپاره سوتره کړئ. او دا چې ابراهيم عليه السلام دعا وکړه : " اې زما ربه ! دا ښار د امن ښار وگرځوه، او د دې له اوسېدونکو څخه چې څوک الله ﷻ او آخرت مني، هغو ته هر ډول ميوې روزي کړه، د هغه رب په ځواب

کې ووېل: "او چې څوك يې ونه مني، د دنيا د څو ورځو ژوندون وسايل زه هغه ته ورکوم، خو عاقبت به هغه د دوزخ په لوري راکاږم او هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی". او در ياد کړه چې کله ابراهيم او اسمعيل (عليهما السلام) د دې کور دېوالونه پورته کول، نو دعاپې کوله: "اې زموږ ربه ! له موږ نه دا خدمت قبول کړه، ته د هر څه اورېدونکی او په ټولو شيانو پوهېدونکی يې. ای ربه! موږ دواړه تا ته غاړه ايښودونکي وګرځوه، زموږ له څوځات نه يو داسې امت پيدا کړه، چې تا ته غاړه ايښودونکی وي، موږ ته د خپل عبادت لارې، ليکې را زده کړه او زموږ خطاوې معاف کړه، ته لوی توبه قبلوونکی او رحم کوونکی يې. او ای ربه ! په دې خلکو کې د همدوی له قوم نه يو داسې پېغمبر راولېږه چې دوی ته ستا آيتونه ولولي، کتاب او حکمت ورته زده کړي او د دوی ژوند سوتره کړي، ته د لوي قدرت او حکمت څښتن يې.

## اجمالي تفسير

لومړی آيت بيانوي چې الله تعالی د عربو پر قوم خپل احسان کړی او بيت الله يې ټولو خلکو ته د رجوع او راټوليدو ځای ټاکلی، چې هغوی دلته راځي، د الله ﷻ عبادت کوي او زړونه يې پکې آراميږي، نوفرمايي: ﴿وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا﴾: يادکړئ کله چې مې بيت الله د امن او هوساينې ځای وټاکه، چې خلک هلته رجوع کوي، ترڅو د حج ارکان او شرايط ادا کړي. بيا وريسې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ يعنې: د ابراهيم ؈ مقام دخپل لمانځه لپاره غوره کړئ، کله چې له طواف څخه وزګارشوئ، نود ابراهيم؈ له مقام سره لمونځ اداکړئ. وريسې الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ يعنې: ما ابراهيم او اسماعيل (عليهما السلام) ته امروکړ، چې زما کور (کعبه شريفه) دطواف کوونکو، دحرم اوسيدونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو(د لمونځ کوونکو) لپاره پاک کړئ. دکعبې پاکي دا ده: چې له هر هغه شي څخه چې د پليتی سبب کېږي، که هغه معنوي وي اويا مادي پاکه شي. ځکه روا نه ده چې د الله ﷻ په کورکې بتان وساتل شي او د الله ﷻ له عبادت سره د دوی عبادت هم وشي او يا هلته جنګ، جدال، فحش ويل او نور ناروا کارونه ترسره شي.

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا...﴾ دا مبارك آيت د ابراهيم ؈ مناجات له الله ﷻ سره او د حق پيروانو ته د خير غوښتنې لپاره اشاره کوي او فرمايي: په يادکړه د ابراهيم؈ دعا چې کله يې وفرمايل: اې الله ﷻ! دا ځمکه د امن او هوسايې لپاره تياره کړې، ترڅوخلك ستا طاعت ته مخه کړي او ستا د عبادت لپاره وزګارشي، د دې ځای له اوسېدونکو څخه چې څوك په الله ﷻ او آخرت ايمان لري، هغوی ته هر ډول ميوې روزي کړه. بيا الله ﷻ فرمايي: ﴿قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلاً ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾ يعنې: الله تعالی ابراهيم ؈ ته وفرمايل: حتی هغوکسانوته چې کفر غوره کوي، هغوی ته هم تريوه لنډه وخته روزي ورکوم يعنې الله ﷻ کافرانو ته هم په دنيا کې د مرګ تر وخته روزي ورکوي، خوله مرګه وروسته هغوی د دوزخ اور ته اچوي او دوزخ ډېر بد ځای دی.

رزق او روزي په دنیاکې له الهي نعمتونو څخه شمېرل کېږي او دا نعمت مؤمنانو او کافرانوته یوشان ورکول کېږي، خو الله تعالی د بشر مشري او رهبري کافرانو ته نه ورکوي او یوازې هغو کسانوته یې ورکوي چې هغوی مؤمنان وي.

﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ...﴾: دا مبارک آیت او وروسته آیتونه د ابراهیم (علیه السلام) او د ده د زوی حضرت اسماعیل عليه السلام دعاوې یادوی چې فرمایي: «ای محمده! (صلی الله علیه وسلم) یادکړه هغه وخت چې ابراهیم عليه السلام د اسماعیل عليه السلام په ملګرتیا د کعبې بنسټونه پورته کول په داسې حال کې چې د الله جل جلاله دربارته یې زارۍ او عاجزۍ کولې اوویل یې: ای الله! زموږ دعا، زارۍ اونیک اعمال قبول کړه چې ته پوه اوعالم اوریدونکی یې او زموږ د کار له حقیقته خبر یې».

﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ﴾ یعنې: ابراهیم او اسماعیل (علیهما السلام) د الله جل جلاله په دربار کې دعا او زارۍ پیل کړې او ویل یې: اې الله! موږ دواړه تابع وګرځوې اوخپل دین اوطریقې ته دې موږ تسلیم کړې اوموږ ته توفیق راوبښې چې اوامر دې په سمه توګه اداکړو او زموږ له منځه هغه کسان غوره کړه چې تاته تسلیم شي او ستا عظمت اولویی ته د تسلیمۍ سرټیټ کړي.

بیا الله تعالی د دوی په ژبه فرمایي:﴿وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾ یعنې: موږ ته زموږ د دین شرایع او شعایر راوښیه، دحج په ارکانو مو وپوهوه اود دین په کارونوکې زموږ له تقصیراتو اوکمیو څخه تېرشه، لومړی د توبې توفیق راپه برخه کړه او بیا زموږ توبه قبوله کړه، ځکه ته ډېر توبه قبلوونکی اوډېرمهربان ذات یې.

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾: دا هغه دعا ده چې پایلې یې وروسته له څو پیړیو په مکه مکرمه کې څرګندې شوې او د هغه له برکته نړۍ روښانه شوه، په همغه حساس وخت او ملکوتي شیبو کې چې د کعبې د جوړولو بهیر مخ پر وړاندې روان و، پلار او زوی دواړو دعا وکړه: اې پروردګاره! په اسلامي امت او زما په نیک ځوځات کې داسې رسول له دوی څخه غوره کړه، چې دوی ته ستا آیتونه(قرآن کریم) تلاوت کړي او دوی نیغې (سمې) لارې ته راوبولي، د قرآن تعلیم ورکړي او دوی ته حکمت وښیي، چې نیغه (سمه) لاره له کږې لار څخه وپېژني، زړونو ته یې سپیڅلتیا ور په برخه کړې، له شرک، ګناهونو او نورو پلیتیو څخه یې وژغورې، ځکه ته برلاسی قادر ذات یې او هېڅ قوت ستا سره د مقابلې توان نه لري، هېڅوک ستا فیصله بدلولی نشي، داسې حکیم یې چې هرکار د حکمت له مخې ترسره کوې او هرڅه چې پیداکوې په هغه کې لوی حکمت او مصلحت نغښتی وي.

**فعالیت**

دا چې کعبه شریفه د څاپه لاس، کله او څرنګه جوړه شوه په دې هکله یو له بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

له دې آیتونوڅخه ځينې لاندې لارښوونې مونږ ته په لاس راځي:

★ د الله تعالی نعمتونه د مؤمنانو لپاره تل دي، البته په دنيوي ژوندانه کې کفارو ته هم روزي ورکول کېږي، خو د آخرت په ورځ ورڅخه محروم دي.

★ ایمان له عقیدې او مخلصانه عمل څخه عبارت دی، د الهي نعمتونو د لاس ته راوړلو لپاره هر انسان مکلف دی، ترڅو خپل ځان په ښو اخلاقو شایسته اوخپل زړه په سمه عقیده سمبال کړي.

★ مسلمان یوازې د ځان لپاره خیر او ښیګڼه نه غواړي، بلکې د الله ﷻ رحمت او مهرباني خپل اولاد او ټولو مسلمانانو ته غواړي.

★ الله ﷻ ته نژدې والی له ګناهونو نه د بښنې په غوښتنه کې نغښتی دی، ځکه انسان تل د نافرمانی سره مخ کېږي او غوره انسان هغه دی چې ژر رجوع او توبه کوي.

★ پر اسلامي امت یو الهي نعمت دا دی چې دوی ته یې داسې پیغمبر راولېږه چې دوی ته د الله ﷻ کتاب او مبارک احادیث ورزده کوي، نفسونو ته یې سپیڅلتیا وربښي او له ګناهونوڅخه یې پاکوي.

★ حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د ابراهيم عليه السلام له ذریې او د اسماعیل ذبیح عليه السلام له نسل څخه دی او د ده نړیوال رسالت د ده د مبارکو نیکونو د دعا له برکته دی، چې د الله ﷻ په اراده یې تحقق وموند.

### پوښتنې

۱- د لاندنیو کلمو معنا واضحه کړئ:

**{أمنا}، {فأمتعه قليلاً}، {ثم أضطره}، {بئس المصير}، { القواعد}، {الحكمة}، {يزكيهم}.**

۲ – الله تعالی کعبې شریفې ته څه غوره والی او ځانګړتیا ورکړیده؟

۳ – د الله تعالی د کور پاکي په کومو امورو کې ده؟

٤ـ دا چې مونږ ټولو ته د ابراهيم عليه السلام له مقام سره د لمانځه امر شوی، حکمت پکې څه دی؟

٥ـ د ابراهيم عليه السلام دعا ولې مؤمنانو پورې ځانګړې شوې ده او الله (جل جلاله) څرنګه د هغې ځواب ورکړ؟

٦ – له ﴿الطَّائِفِينَ، الْعَاكِفِينَ او الرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ څخه مراد څوک دي؟

۷ – حضرت ابراهیم او اسماعیل (علیهما السلام) د اسلامي امت په اړه او د خپلو پیروانو په هکله څه دعا کړې ده؟

### کورنۍ دنده

د ابراهیم او اسماعیل (علیهماالسلام) د قربانیو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۱۳۰ - ۱۳۳) آیتونه

﴿وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلاَّ مَن سَفِهَ نَفْسَهُ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الآخِرَةِ لَمِنَ
الصَّالِحِينَ ﴿۱۳۰﴾ إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۳۱﴾ وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ
وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلاَ تَمُوتُنَّ إَلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿۱۳۲﴾ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاء
إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُواْ نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ
وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿۱۳۳﴾﴾

## د ځينو کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {يَرْغَبُ} | مخ گرځوي، شاکوي. |
| {سَفِهَ نَفْسَهُ} | ځان يې بې عقل کړی. |
| {اصْطَفَيْنَاهُ} | غوره موکړ. |
| {أَسْلِمْ} | تسليم شه. |
| {وَصَّى} | نصيحت يې وکړ. |
| {اصْطَفَى لَكُمُ} | ستاسې لپاره يې غوره کړی. |
| {فَلاَ تَمُوتُنَّ} | نومه مره کېږئ. |
| {أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاء} | آيا تاسي شاهد اوحاضروئ. |

## ژباړه

اوڅوک دی چې د ابراهيم﷤ له مسلک (دين) نه کرکه وکړي، له هغه چا پرته چې په خپله يې خپل ځان په حماقت او جهالت کې اخته کړی وي؟ په تحقيق موږ ابراهيم﷤ په نړۍ کې د خپل کار لپاره غوره کړی و او په آخرت کې به هغه د صالحانو په تولي کې وي. او (يادکړه) کله، چې وويل ابراهيم ته رب د ده: غاړه کېږده (زما احکامو ته) نو ابراهيم وويل: غاړه مې ايښې ده د عالميانو رب ته.

پر همدې مسلک د تلو لارښوونه ابراهيم او هم يعقوب (عليهما السلام) خپلو زامنو ته کړې وه، چې"اې زما

بچیانو! الله تعالی ستاسې لپاره همدا دین (اسلام) غوره کړی دی، نو له سره مه مرئ، مګر په داسې حال کې چې تاسې مسلمانان یئ (یعني د ژوند تر وروستی سلګی پر اسلام ثابت اوسئ!) آیا تاسې حاضر وئ په هغه وخت کې چې یعقوب ته مرګ راغی (یعنې اسباب د مرګ)، کله چې (یعقوب) خپلو زامنو ته وویل: زما له مرګه وروسته د څه شي عبادت کوئ؟ هغو ټولو په ځواب کې وویل: " موږ به د هماغه یوه خدای بندګي کوو، چې هغه تا او ستا پلرونو، ابراهیم، اسمعیل او اسحق (علیهم السلام) پر خدایی منلی دی او موږ هماغه ته غاړه ایښودونکي یو".

## اجمالي تفسیر

په تېر شوي آیت کې د ابراهیم علیه السلام صفتونه اوکوښښونه چې د اسلام د دین په لاره کې یې سرته رسولي وو، د هغو یادونه وشوه، په دې آیتونو کې دا بیانیږي چې هر څوك د ابراهیم عليه السلام له لارې او دین څخه چې الله جل جلاله ته خوښ دین دی، مخ واړوي، نو په حقیقت کې خپل نفس د تباهی په لور بیایي، ځکه ابراهیم عليه السلام په دنیا کې د الله جل جلاله له غوره بنده ګانو او اولوالعزمه رسولانو څخه دی. کله چې د الله جل جلاله له لوري ورته امر شوی، په پراخه تندې ورته تسلیم شوی او هغه ته یې لبیك ویلی دی، له همدې وجې په آیت کې راغلي دي: ﴿وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ...﴾: له ابراهیمي ملت (دین اواسلام) څخه مخ نه ګرځوي مګر بې عقلان.

د «سَفِهَ» کلمه چې صفت د (سفیه) دی، په اصل کې یې په هغه کس اطلاق کېږي چې کم عقله وي.

همدارنګه د آیت په وروستی برخه کې فرمایي: ﴿وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ﴾ یعني: په حقیقت کې یې هغه د ټولو خلکو له منځه غوره کړی، د خپل دوست، پیغمبراو امام په توګه یې ټاکلی او په آخرت کې به هم له هغو کسانو څخه وي چې له لوړو درجو څخه برخمن وي.

دا مبارك آیت څرګندوي چې ابراهیم عليه السلام په ټوله معنا د الله (جل جلاله) اطاعت کاوه، لکه چې فرمایي: ﴿إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ یعني: هغه ورځ در په یادکړه چې الله جل جلاله ابراهیم عليه السلام ته امر وکړ چې د الله اوامرو ته تسلیم شه! ده وویل: د عالمیانو پروردګار ته تسلیم یم او د هغه اوامرو ته مې غاړه ایښې ده. ابراهیم عليه السلام د الله جل جلاله حکمونو ته غاړه کېښوده او ډېر په ښه توګه د الله تعالی په هر ډول آزموینه کې برلاسی شو.

الله تعالی په دریم آیت کې فرمایي: ﴿وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلاَ تَمُوتُنَّ إَلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ﴾: ابراهیم عليه السلام خپل زامن د اسلام د دین پیروی او متابعت ته را وبلل او همدارنګه یعقوب عليه السلام هم خپلو زامنوته دا توصیه وکړه او ورته یې وویل: الله تعالی ستاسو لپاره د اسلام دین، چې تر ټولو ادیانو

ښه دين دی، غوره کړی دی. نو د اسلام په دين ثابت قدم واوسئ، ترڅو مسلمانان مړه شئ.

الله تعالی په وروستي آيت کې فرمايي:﴿أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاء إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُواْ نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾ روايت دی چې يهوديانو په پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته ويل: «آيا نه پوهيږې کومه ورځ چې يعقوب عليه السلام وفات کېده، نوخپلو زامنو ته يې په يهوديت وصيت وکړ»، نوله دې امله دا آيت نازل شو چې يهوديانو ته فرمايي: اې يهوديانو! آيا هغه ورځ چې يعقوب عليه السلام وفات کېده، تاسې حاضر وئ او ومولېده چې خپل زامن يې راټول کړل او داسې نصيحت يې ورته وکړ او ويې فرمايل: له مانه وروسته دچا عبادت کوئ؟ يعنې زما له مرگ وروسته کوم دين غوره کوئ؟ هغه غوښتل چې زامن يې اقرار وکړي چې په اسلام اوتوحيد باقي پاتې کېږو، د يعقوب عليه السلام زامنو د پلار په ځواب کې وويل: موږ به ستا په دين باقي پاتې يو، د واحد الله عبادت به کوو د ابراهيم، اسماعيل او اسحق (عليهم السلام) د الله عبادت به کوو اوموږ به د اسلام په دين قايم او د الله اوامرو ته تسليم يو.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د حضرت ابراهيم عليه السلام د دين د توحيدي بنې په اړه له يو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست گټې

ځينې هغه گټې اولارښوونې چې له دې لوست څخه ترلاسه کېږي:

- د ابراهيمي له ملت څخه مخ اړول د بې عقلانو کار دی.
- اسلام د ټولو انبياوو (عليهم السلام) گډ دين دی چې له دې دين څخه پيروي د دواړو دارينو د بريا او نيکمرغۍ ضامن دی.
- انسان بايد ترمرگه پورې د اسلام په دين معتقد واوسي اود هغه د اوامرو مطابق عمل وکړي، ترڅو په داسې حال کې ورته مرگ راشي چې مسلمان مړ شي.
- ابراهيم او يعقوب (عليهما السلام) د يهوديت له نسبت څخه پاک وو، دوی ټولو د توحيد دين ته دعوت کاوه

اوله هغه یې پیروي کوله.

☆ هر څوك د خپلو اعمالو مسؤول دی او د خپلوکړو وړو ځواب به وايي، خو هېڅوك نشي کولای د خپلو نیکونو په نیکو کړو وړو ځان له مسؤولیت څخه وژغوري.

☆ د ټولو انبیاوو (علیهم السلام) د دعوت اصول او قواعد یو شان وو، کوم اختلاف چې د دوی ترمنځ لیدل کېږي هغه په جزیاتو کې وو، نه په کلي او لویو مسایلو کې.

## پوښتنې

١ – دلاندنیو کلمو معناوې بیان کړئ:

{یرغب}، {سفه}، {اصطفیناه}، {أسلم}، {فلا تموتن}.

٢ – دا چې مبارك آیت فرمايي: ﴿وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلاَّ مَن سَفِهَ نَفْسَهُ﴾، له دې څخه څه پایله په لاس راځي؟

٣ – د دې ﴿أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاء إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ﴾ آیت مقصد څه دی؟ اوڅوك یې مخاطب کړي؟

٤ – د ابراهیم عليه السلام د دوارو زامنو په اړه څه معلومات لرئ؟ ویې لیکئ.

## کورنۍ دنده

دا چې اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی او په بشپړ توګه په حضرت محمد ﷺ باندې نازل شوی دی، په دې اړه یو مخ مقاله ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۳۴ - ۱۳۸) آیتونه

﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۴﴾ وَقَالُواْ
كُونُواْ هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُواْ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۱۳۵﴾ قُولُواْ آمَنَّا
بِاللّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ وَالأسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى
وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿۱۳۶﴾ فَإِنْ آمَنُواْ
بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَواْ وَّإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ
﴿۱۳۷﴾ صِبْغَةَ اللّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدونَ ﴿۱۳۸﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{خَلَتْ} تېرشول.

{لَا تُسْأَلُونَ} له تاسې څخه پوښتنه نه کیږي.

{تَهْتَدُواْ} سمه لاره مومئ.

{حَنِيفًا} له باطل څخه حق ته میلان کوونکی.

{الأَسْبَاطِ} د یعقوب عليه السلام زامن او لمسي.

{أُوتِيَ} ورکړ شوي دي.

{اهْتَدَواْ} سمه لاره یې موندلې ده.

{تَوَلَّوْاْ} مخ یې وګرځاوه.

{صِبْغَةَ اللّهِ} د الله تعالی دین.

## ژباړه

هغوی څه کسان وو، چې تېر شول، څه چې هغوی کړي دي د هغوی لپاره دي او څه چې تاسې کوئ هغه ستاسې لپاره دي، له تاسې نه به د دې پوښتنه ونشي چې هغوی څه کول. یهودیان وایي: یهودیان شئ نو سمه لار به ومومئ. عیسائیان وایي: عیسائیان شئ چې هدایت درته وشي، (ای محمده! دوی ته) ووایه چې (موږ داسې نه کېږو) بلکې

د ابراهیم د دین چې حنیف وو، پیروي کوو او نه وو دی له مشرکانو څخه. ووایئ (ای مؤمنانو!) موږ ایمان راوړی دی په الله جَلَّ جَلَالُهُ او پر هغه هدایت چې موږ ته راغلی دی او هغه چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام، اسمعیل عَلَيْهِ السَّلَام، اسحق عَلَيْهِ السَّلَام، یعقوب او د یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ځوځات ته راغلي و او هغه چې موسی عَلَيْهِ السَّلَام، عیسی عَلَيْهِ السَّلَام او نورو ټولو پیغمبرانو ته د هغوی د رب له لوري ورکړ شوی وو، موږ د هغوی په منځ کې هیڅ توپیر نه کوو او موږ الله جَلَّ جَلَالُهُ ته سرټیټوونکي یو. بیا که هغوی هماغسې ایمان راوړ لکه چې تاسې راوړی دی، نو سمه لار یې ومینده، او که له هغه نه مخ واړوي ؛ نو څرګنده خبره ده چې هغوی په مخالفت کې دي، له دې امله ډاډه اوسئ چې د هغوی په مقابل کې الله جَلَّ جَلَالُهُ ستاسې د ملاتړ لپاره کافي دی. الله جَلَّ جَلَالُهُ هرڅه اوري او پر ټولو شیانو پوهیږي. ووایه : د الله جَلَّ جَلَالُهُ رنګ (دین غوره کړئ) د هغه له رنګ نه به ښه د چا رنګ وي؟ او موږ د هماغه بندګي کوونکي یو.

## اجمالي تفسیر

الله تعالی خپل بنده ګان له خپل عدل نظام څخه خبروي او فرمایي: ﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ ...﴾ یعني: هغه د انبیاوو (علیهم السلام) ډله او مؤمن پیروان یې چې ستاسې نه مخکې تېرشوي دي، هغوی خپل کارونه ترسره کړي اود خپلو اعمالو اوکړو وړو مطابق به ورته بدله ورکول کېږي. د دوی کار ستاسې کار پورې اړه نه لري او له تاسې څخه به هم (اې منکرو کافرانو) دخپلو اعمالو پوښتنه کېږي او د خپلو کړو وړو بدله به مومئ، له هیچا څخه د بل د عمل په هکله پوښتنه نشي کېدای اونه پرې نیول کېږي، بلکې هر انسان د خپل عمل مسؤول دی اود خپل کار په هکله به ورڅخه پوښتنه کېږي.

الله تعالی په دې آیت کې د اهل کتابو له ناپوهی څخه پرده پورته کړې اوفرمایي: ﴿وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُواْ...﴾: د یهودیانو او نصرانیانو هرې یوې ډلې به ویل: زموږ له دین څخه پیروي وکړئ، ترڅو هدایت په لاس راوړئ. له دې څخه معلومیږي چې دوی ترکومه حده دخپلو ادیانو په پرتله په تعصب کې غرق وو.

بیا الله جَلَّ جَلَالُهُ د اسلام لوی پیغمبرته خطاب کوي: اې پیغمبره! ووایه: موږ د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام له دین څخه چې له باطل نه حق ته مایل دی اوحقه لار ده، پیروي کوو. د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام دین له هرډول انحراف څخه لرې دی. تاسې هم دعوه کوئ چې د ابراهیم له دین اولارې څخه پیروي کوئ، حال دا چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام له مشرکانو څخه نه و او له الله تعالی سره یې شریک نه و نیولی.

په واقعیت کې آیت شریف دې ټکي ته اشاره کوي او پیغمبر ﷺ ته امرکوي چې دوی ته ووایه چې هدایت دانه دی چې مونږ یهودي یانصراني شو، بلکې نیکمرغي اوهدایت د ابراهیم علیه السلام د دین په پیروي کې دی، چې له اسلام څخه عبارت دی، ابراهیم علیه السلام مشرك نه و بلکې کامل مؤمن او موحِّد و.

بیا الله تعالی مؤمنانو ته خطاب کوي او فرمايي: ﴿قُولُواْ آمَنَّا بِاللّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ...﴾ یعنې اې مؤمنانو! ووايئ: د الله تعالی په وحدانیت مو ایمان راوړی او په هغه څه چې موږ ته، پر ابراهیم، اسماعیل اسحاق او یعقوب (علیهم السلام) او په نورو زامنو د دوی نازل شوي، کامل او بشپړ باور لرو، همدارنګه څه چې موسی او عیسی (علیهما السلام) ته له آسماني پېغامونو څخه ورکړل شوي دي او هغه څه چې پر نورو پیغمبرانو د الله جل جلاله له طرفه نازل شوي دي، لکه ښکاره اوڅرګندې معجزې، په ټولو باور او ایمان لرو.

موږ د یهودو او نصاراوو په څېر نه یو چې په ځینو پیغمبرانو ایمان راوړو او له ځینو نورو انکار وکړو، بلکې ټول پیغمبران موږ ته یو شان دي، په ټولو یوشان ایمان راوړو او باورکوو او موږ د الله جل جلاله اوامرو ته بشپړ تسلیم یو.

کله چې د قرآن د پیروانو د ایمان کمال څرګند شو او هر اړخیز شامل والی یې ښکاره شو، نو الله تعالی اعلان وکړ چې دا ډول ایمان د حق معیار دی او داسې ایمان زما په وړاندې د ارزښت وړ دی، نو وېې فرمایل: ﴿فَإِنْ آمَنُواْ بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَواْ...﴾: اې مؤمنانو! که چېرې یهود او نصارا ستاسې په شان رښتیني ایمان راوړي، نو په واقعیت کې د حق او هدایت لارې ته رسیدلي دي. که له داسې ایمان څخه مخ وګرځوي او اسلام ته منقاد نشي، نو دا راښیي چې دوی له اسلام سره دښمني لري او تاسې به الله جل جلاله د دوی له شر او مکر څخه وساتي او الله جل جلاله د دوی د دښمنۍ په مقابل کې ستا لپاره کافي دی، هغه اورېدونکی او په هرڅه عالم دی.

الله تعالی د لوست په آخري آیت کې فرمايي: ﴿صِبْغَةَ اللّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدونَ﴾. یعنې: کوم اسلام چې موږ پرې باور لرو، دا د الله جل جلاله برحق دین دی، دا هغه دین دی چې د هغه په اساس پیدا شوي یو او زموږ د فطرت برخه ده، آیا څوك کولی شي چې له دې دین څخه غوره دین راوړي؟ نه هېڅکله نه، بلکې الهي دین له هر دین څخه غوره او با ارزښته دی او موږ یوازې د الله جل جلاله عبادت کوونکي یو.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د قرآن کریم څو داسې آیتونه ذکرکړي چې د اسلام د دین په بشپړتیا دلالت کوي او دا په ګوته کړي چې د الله په وړاندې یوازې معتبر دین اسلام دی.

## د لوست ګټې

ځيني هغه ګټې اولاښوونې چې له دې لوست څخه ترلاسه کېږي:

☆ حضرت ابراهيم عليه السلام نه يهودي و نه نصراني، بلکې د اسلام د حنيف دين پيرو و.

☆ حقيقي مؤمن د انبياوو ترمنځ فرق نه کوي او په ټولو انبياوو (عليهم السلام) ايمان لري.

☆ ټول انبياء د يو دين لرونکي وو چې هغه اسلام دی او د ټولو الهي اديانو جوهر هم يودی.

☆ محمدي شريعت (د اسلام دين) د ژوند کامل نظام دی، ځکه د اسلام روښانه دين ټول اديان رانغاړي.

☆ «فطرة الله» له هغه حالت څخه عبارت دی، چې ټول افراد پر هغه پيدا شوي دي.

### پوښتنې

۱- د لوست د آيتونو په رڼا کې دا څرګند کړئ چې يهودو اونصاراوو څه دعوې کولې؟

۲- کله چې يهودو او نصاراوو خلک خپل دين ته را بلل، الله جل جلاله څرنګه پر دوی رد وکړ؟

۳- په ﴿قُولُواْ آمَنَّا بِاللّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا﴾ آيت کې الله (جل جلاله) مؤمنان په څه ګومارلي دي؟

۴- د لاندې جملې معنا په يوه کرښه کې واضح کړئ او ووايئ چې دا پر چاباندې رد دی:

﴿لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ﴾.

۵- د ﴿فسيكفيكهم الله﴾ معناڅه ده او آيا دا مبارک آيت نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته د الله جل جلاله له طرفه زيری ګڼل کېږي؟

### کورنۍ دنده

د مسلمانانو د ايمان او د نورو اديانو د پيروانو د ايمان ترمنځ د توپير اساسي ټکي، په څو کرښوکې وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۳۹ - ۱۴۱) آيتونه

﴿قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي اللّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ ﴿۱۳۹﴾ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالأسْبَاطَ كَانُواْ هُوداً أَوْ نَصَارَى قُلْ أَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللّهُ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَادَةً عِندَهُ مِنَ اللّهِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۴۰﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلاَ تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿۱۴۱﴾﴾

## دځينوکلمو معنا

{أَتُحَاجُّونَنَا} آيا تاسې زموږ سره جګړه او دښمني کوئ. {مَنْ أَظْلَمُ} څوک ډېرظالم دی.

{مُخْلِصُونَ} اخلاص کوونکي. {كَتَمَ} پټ کړي.

{ أَعْلَمُ } ښه پوهېږئ.

## ژباړه

ای پیغمبره! دوی ته ووايه: " آيا تاسې د الله په باب له موږ سره جګړه کوئ؟ په داسې حال کې چې هماغه هم زموږ رب دی او هم ستاسې، زموږ عملونه زموږ او ستاسې عملونه ستاسې لپاره دي، او موږ خپله بندګي یوازې د الله ﷻ لپاره خالصه کړې ده. یا آيا ستاسې وينا دا ده چې ابراهيم عليه السلام، اسمعيل عليه السلام ، اسحق عليه السلام، يعقوب عليه السلام او د يعقوب عليه السلام څوځات ټول يهوديان يا نصرانيان وو؟ ووايه: تاسې ډېر ښه پوهېږئ که الله ؟ له هغه چا نه به لوی ظالم بل څوک وي، چې د الله له لوري هغه ته د يوې شاهدۍ ذمه واري ورله غاړې شوې وي او هغه پټه کړي؟ ستاسې له کړنو څخه خو الله ناخبر نه دی. هغوی څه کسان وو چې لاړل، د هغوی عملونه د هغوی لپاره وو او ستاسې عملونه ستاسې لپاره، له تاسې نه به د هغوی د عملونو په اړه پوښتنه ونشي .

## اجمالي تفسير

الله تعالی په لومړي آيت کې فرمايي: ﴿قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِي اللّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ...﴾: اې پيغمبره! يهودو او نصاراوو ته ووايه: آيا د الله ﷻ په دين کې زموږ سره جنګ او دښمني کوئ او دا دعوه لرئ چې يهوديت او نصرانيت د الله ﷻ برحق دينونه دي؟ او داسې ګڼئ چې جنت ته يوازې يهود او نصارا داخليږي او بس؟ په داسې حال کې چې الله تعالی هم زموږ او هم ستاسې پروردګار دی، ټول د هغه مخلوق يو اوله دې سره سره د مخلوقاتو عملونه هم دښو او بدو له حيثه متفاوت دي، موږ به دخپلو کړو وړو بدله او تاسو به دخپلو کړو وړو بدله په لاس راوړئ، موږ خپل دين او عمل الله ﷻ ته خالص کړی اوڅوک له الله ﷻ سره نه شريکوو.

بيا الله پاک په دې آيت کې د مخکني آيت خطاب ته ادامه ورکوي او فرمايي: ﴿أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ...﴾ آيا تاسې ابراهيم، اسماعيل، اسحق او يعقوب (عليهم السلام) او اسباط (دولس ګونې ډلې) يهودي يا نصراني ګڼئ؟ يعني تاسې دعوه لرئ چې ټول انبياء او د دوی لمسي چې ستاسې په منځ کې مبعوث شوي، د يهوديت

اونصرانيت په دين وو؟ په دې توګه په انبياوو اوالله تعالی دروغ تړئ. تاسې چې دا دعوه کوئ، آيا تاسې ښه پوهيږئ که الله ﷻ؟ تاسې د دوی په حال ښه خبريئ، که الله ﷻ چې ټول يې پيدا کړي دي؟ الله تعالی د انبياوو پاکي بيانوي او فرمايي چې نه دوی يهوديان وو او نه نصرانيان، چې ديوه شي په حقيقت نه پوهيږئ، ولې داسې ګومان کوئ چې دوی ستاسې په دين وو؟ پوه شئ هېڅوک له هغه چانه ډېرظالم نشته چې حقيقت پټوي، هغه حقيقت چې الله ﷻ په تورات او انجيل کې بيان کړی دی، ځکه په تورات او انجيل کې راغلي وو چې الهي انبياء ټول د اسلام په دين وو او پوه شئ اې اهل کتابو! تاسې چې کوم کړه وړه ترسره کوئ، الله ﷻ ترې غافل نه دی او د هغه افتراء او دروغو په مقابل کې چې تاسې يې ترسره کوئ، عذاب مومئ.

الله تعالی بيا په وروستي آيت کې فرمايي: ﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلاَ تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾، يعنې: هغه ډله انبياء او مؤمن پيروان يې چې ستاسونه مخکې تېرشوي، هغوی خپل کارونه ترسره کړي وو اودخپلو عملونو په اساس به دوی ته بدله ورکړل شي، د دوی کارستاسې د کار پورې اړه نه لري. تاسې هم اې کافرانو! د خپلو عملونو په هکله تر پوښتنې لاندې راځئ اودخپلو کړووړو بدله به مومئ، هېڅوک د بل چا د عمل مسؤول نه دی.

دا آيت دوه ځلې راغلی دی، د عذاب او رټنې معنا پکې نغښتې ده، په دې معنا: کله چې انبياوو ته د خپل قدر او رتبې پر اساس د خپلو کړو وړو بدله ورکول کېږي، نو ستاسې به څه حال وي؟ تاسو خو د الله ﷻ په هکله دروغ وايئ او بيا د هغه د دوستۍ دعوه کوئ، پوه شئ چې هيڅ انسان د بل د عمل په اړه تر پوښتنې لاندې نه راځي او نه د بل بار په اوږه اخلي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه لارښوونې اوګټې چې د دې لوست له آيتونو څخه لاس ته راځي:

☆ د الهي دين روح، توحيد او اخلاص دی. له هرديني حکم څخه موخه د عقيدې سالم والی، ښه نيت او د زړه اصلاح ده او دا د ټولو پيغمبرانو دنده ده.

☆ د دنيا او آخرت نيکمرغي له نيکوعملونو سره ټينګ تړاو لري.

☆ د اسلام په روښانه دين کې حساب، کتاب، جزا، اجر او ثواب د هرانسان شخصي مسؤوليت دی، پردې اساس هرڅوک د خپل عمل اجر او ثواب مومي او هيڅاته د الله ﷻ له اجازې پرته د شفاعت حق نشته.

### پوښتنې

١ - د دې جملې ﴿هو ربنا وربكم﴾ معناڅه ده اوڅه ورڅخه افاده کېږي؟

٢ - يهودو او نصارا وو کوم شهادت پټ کړی و چې په الهي کتابونو کې ثابت و؟

٣ - د دې ﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ﴾ مبارک آيت په تکرار کې څه حکمت دی؟

٤ - دلاندنيو کلمو معناوې بيان کړئ:

{أتحاجوننا}، {ونحن له مخلصون}، {الأسباط}، {ومن أظلم}، {قد خلت}

### کورنۍ دنده

د اسلامي لارښوونو پر اساس د انسانانو د خلاصون مدار نيک عمل دی او يوازې کوم دين ته منسوب کېدل يا د پيغمبرانو، نيکانو سره خپلولي او اړيکې درلودل د خلاصون لامل نشي کېدای، په دې هکله څوکرښې معلومات وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۴۲ - ۱۴۳) آیتونه

﴿سَيَقُولُ السُّفَهَاء مِنَ النَّاسِ مَا وَلاَّهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُواْ عَلَيْهَا قُل لِّلّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَن يَشَاء إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلاَّ عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللّهُ وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۴۳﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{السُّفَهَاء} ناپوهان.

{شُهَدَاء} گواهي ورکوونکي.

{يَتَّبِعُ} متابعت او پیروي کوي.

{يَنقَلِبُ} اوړي (کفر او شرک ته مخه کوي).

{ لِيُضِيعَ } چې ضایع کړي.

{رَؤُوفٌ} مشفق اومهربان.

## ژباړه

ژر دی، چې وبه وايي ناپوهان له خلکو، چې څه شي وگرځول دوی (یعنې رسول او مؤمنان) د دوی له قبلې څخه، له هغې نه چې دوی وو په هغې باندې؟ ووايه (اې محمده! دوی ته). چې الله ﷻ لره مشرق او مغرب (بلکې ټول جهات) دي، هدایت کوي هغه چاته د سمې لارې (اسلام ته) چې د (هدایت) اراده (یې) وکړي. او همداسې (لکه چې هدایت مو درته کړی دی) تاسې مو یوه غوره ډله گرځولي یئ، د دې لپاره چې شاهدان شئ پر نورو خلکو (د جزاء په ورځ) او چې شي (محمد) د الله رسول شاهد پرتاسې (اې محمدي امته!) او نه ده گرځولې موږ (دا) قبله هغه چې وې ته (پخوا له هجرت څخه) په هغې باندې مگر د دې لپاره چې معلوم کړو هغه څوک، چې بېرته په خپلو پوندو گرځي (کفرته) او بېشکه (کعبې ته) دا گرځېدل هرومرو ډېر درووند دی مگر په هغو کسانو چې الله هغوی ته سمه لار ښودلې ده او الله ستاسې ایمان (لمونځ) نه ضایع کوي. بېشکه الله په خلکو (مؤمنانو) باندې خامخا ډېر مهربان او پوره رحم لرونکی دی.

## اجمالي تفسير

الله جل جلاله د يهودو، نصاراوو او مشركانو د قبلې د ګرځيدنې د اعتراض په هکله مخکې له دې چې رامنځته شي اشاره کوي او فرمايي: ﴿سَيَقُولُ السُّفَهَاء مِنَ النَّاسِ مَا وَلاَّهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُواْ عَلَيْهَا...﴾ د يهودو، نصاراوو او مشركانو له منځ څخه به خلك ووايي: څه شي مسلمانان له خپلې اولنۍ قبلې څخه چې بيت المقدس وه وګرځول، تر دې چې د مسجد الحرام لور ته يې مخه وکړه؟ مخکې له دې چې د دوی اعتراضونه منځته راشي، الله تعالى ورته اشاره وکړه اوله هغوڅخه يې پيغمبرﷺ ته خبر ورکړ، دا د قرآن کريم له معجزو څخه يوه معجزه ګڼل کېږي، ځکه وروسته له دې چې قبله عملاً بدله شوه اومسلمانانو ته امر وشو، ترڅو دکعبې په لوري لمونځ وکړي، نو د اسلام دښمنانو په اعتراضونو خولې پرانستې. همدا وجه ده چې الله تعالى خپل پيغمبرته امروکړ چې دوی ته ووايه: ټول طرفونه د الله تعالى دي، داسې نه ده، چې يو لوری د الله تعالى وي او بل لوری د بل چا، الله تعالى حق لري، هرچاته په هرلوري چې خوښه يې وي دخپل مصلحت اوحکمت له مخې همغه طرف ته دلمانځه کولو امر وکړي که هغه هرلوری وي، همدا الله ﷻ خلکوته د سمې اونيغې لارې ښودنه کوي.

﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا...﴾: دا مبارك آيت د اسلامي امت لوړ مقام وروسته د هغه د قبلې له استقلاليت څخه راښيي او فرمايي: لکه څرنګه چې مې تاسوته د اسلام په لوري او ستاسې د پلار ابراهيم (عليه السلام) د قبلې په لوري هدايت وکړ، همدارنګه مې تاسې يو غوره او بهتره امت هم ګرځولي يئ، په داسې توګه چې د ټولو امتونو په پرتله تاسو زيات عزت اومرتبه ومونده اوغوره والی مو ترلاسه کړ.

(وسط) د منځنې، عدل، غوره او ښه والي په معنا دی او دا ټول د اسلامي امت په غوره والي او بهترۍ دلالت کوي.

پردې کرامت او عدالت لويه نتيجه مرتبه شوې ده او د آيت وروستۍ برخه ورته اشاره کوي:﴿لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾، يعنې: ترڅو تاسې د قيامت په ورځ په دې خبره چې الهي رسالت ټول بشريت ته رسيدلی او الهي پيغمبرانو په بشپړاخلاص اوصداقت سره پرته له کموالي او زياتوالي هغه خپلو قومونو ته رسولی دی، پرخلکو ګواه او شاهدان واوسئ او په عين وخت کې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) به ستاسې په حق کې شهادت اوګواهي ورکوي اوستاسې د کار په رښتينولی او سمون به اقرارکوي.

په روايتونوکې راغلي چې نور امتونه به د قيامت په ورځ د خپلو پيغمبرانو له تبليغ څخه انکار وکړي، نو محمدي امت به د دوی په ضد شاهدي ووايي اود دوی دعوه به غلطه او بې اساسه ثابته کړي.

وريسې الله تعالى له بيت المقدس نه دکعبې په لور د قبلې د بدلون سبب او علت څرګندوي او فرمايي:﴿وَمَا جَعَلْنَا

﴿الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلاَّ لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلاَّ عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللّهُ﴾، يعني: اې محمده! موږ په لومړي ځل د بيت المقدس لور ته د لمانځه اداکول او بيا د کعبې په لور د قبلې بدلول نه دي رواکړي، مگر د دې لپاره چې د خلکو يوه ازموينه اوامتحان وشي، ترڅو د دوی د ايمان رښتينوالی او دروغ څرگند کړو او ووينو چې څوک له دوی څخه پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) تصديقوي اوڅوک يې دروغجن گڼي او له اسلام څخه مخ اړوي اومرتد کېږي؟ سره له دې چې دا د قبلې بدلېدل په خلکو ډېر سخت تمام شوی وو، خو کوموکسانو ته چې اللهﷻ هدايت کړی، زړونه يې ورته د ايمان او اخلاص په رڼا روښانه گرځولي او د الله د تشريع حکمت يې ښه درک کړی و، نو هغوی د دې تغير په هکله هېڅ دسختی او تشويش احساس نه کاوه.

بيا الله د آيت په پای کې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ اللّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ (اې مسلمانانو)! اللهﷻ نه غواړي چې ستاسې لمونځونه چې د بيت المقدس په لوري مو اداکړي ضايع کړي، ځکه اللهﷻ د خپلو بنده گانو په حق کې شفيق اومهربانه دی.

په رواياتو کې راځي: کله چې قبله د کعبې په لور بدله شوه، يو شمېر صحابه وو له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! د هغو مؤمنانو د لمونځونو پايله به څه وي، چې د بيت المقدس په لوري يې کړي اونن له دنيا څخه تللي دي ؟ نو دا آيت د دوی د پوښتنې په ځواب کې نازل شو. د آيت په دې برخه کې له لمانځه څخه پر ايمان تعبير شوی دی، ځکه چې لمونځ د ايمان له مهمو نښو څخه شمېرل کېږي.

**فعاليت**

د محمدي امت د ځانگړتياوو په هکله له يو بل سره بحث وکړئ، بيا هغه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

## د لوست گټې

له دې آيتونو څخه لاندې لارښوونې ترلاسه کېږي:

☆ ټول طرفونه اولوري يوازې د اللهﷻ دي، اللهﷻ حق لري چې يولوری وټاکي اوخلکوته امروکړي چې هغه لوري ته په لمانځه کې مخ وگرځوي.

☆ د قبلې په بدلېدوکې يوه آزموينه وه، ترڅومعلوم کړي چې څوک پردين ثابت اوڅوک په تزلزل کې دي.

☆ محمدي امت په نورو امتونو په دې سبب شاهدي اداکوي چې دوی په ټولو امورو کې له عدالت څخه

برخمن دي.

☆ترهغه وخته چې د انسان د هرعمل عامل او متحرك پر الله ﷻ ايمان او د پېغمبر اطاعت وي، الله ﷻ يې عملونه قبلوي.

☆الله تعالی دخپلې مهرباني اومرحمت له مخې د هېڅ بنده عمل، كه څه هم ديوې ذرې په كچه وي، نه ضايع كوي.

## پوښتنې

١. دلاندې كلمو او جملو معناوې واضح كړئ:

**{السفهاء}، {ما ولاهم عن قبلتهم}، {شهداء}، {ينقلب علي عقبيه}، {وإن كانت لكبيرة}.**

٢. يهودو، مشركانو، منافقينو او بې عقلانو ولې د قبلې په تحويل اعتراضونه كول اوله دې امرڅخه ناراضه وو؟

٣. په يادو شويو آيتونوكې محمدي امت په كومو صفتونو ستايل شوی دی؟

٤. ذكرشوی آيت واضح كوي چې له بيت المقدس څخه كعبې ته مخ اړونه د يوه حكمت پر اساس وه، هغه حكمت څه و؟

٥. د مبارك آيت دغه برخه ﴿لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ تفسير كړئ؟

## كورنۍ دنده

د تفسيرخينو كتابونو په ځانګړې توګه معاصرو تفسيرونو لكه (في ظلال القرآن) ته مراجعه وكړئ او د اسلامي امت د منځلاريتوب په هكله يوه لنډه مقاله وليكئ.

# د (البقرة) سورت (۱۴۴ - ۱۴۷) آیتونه

﴿قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ وَإِنَّ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ وَمَا
اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُواْ قِبْلَتَكَ وَمَا أَنتَ
بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذَاً
لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ
الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{تَقَلُّبَ} ګرځول.

{فَلَنُوَلِّيَنَّكَ} نو تا راګرځوو.

{فَوَلِّ} نو وګرځوه.

{شَطْرَ} طرف، لوری.

{أَتَيْتَ} راوړې ته، دلیل ووایې.

{أَهْوَاءهُم} د دوی غوښتنې، (اهواء) د (هوی) جمع ده، یعنې: هغه څه چې نفس ورته میلان پیدا کوي.

{يَكْتُمُونَ} پټوي.

{مُمْتَرِينَ} شك کوونکي.

## ژباړه

په تحقیق سره موږ (بیا، بیا د) اسمان په طرف ستا د مخ ګرځول وینو، نو خامخا به موږ تا هغې قبلې ته وګرځوو، چې ته يې خوښوې، نو وګرځوه خپل مخ د مسجد الحرام په لوري (یعني کعبې ته په لمانځه کې)، او په هر ځای کې چې اوسیږئ؛ نو خپل مخونه د کعبې لوري ته وګرځوئ. کومو خلکو ته چې کتاب ورکړ شوی دی، ښه پوهیږي چې ( د قبلې بدلیدو ) دا امر د هغوی د رب له خوا او حق دی، او څه چې دوی کوي، الله ﷻ ورڅخه ناخبره نه دی. که ته دې اهل کتابو ته هره نښانه راوړې، نشي کیدای چې دوی ستا د قبلې پیروي وکړي او نه ته دا کولای شې چې د هغوی د قبلې پیروي وکړې او د هغوی هیڅ یوه ډله د بلې ډلې د قبلې پیروی ته هم تیاره نه ده او که ته له هغه علم

نه وروسته چې درته راغلی دی، د هغوی په غوښتنو پسې لاړ شې، نو ارومرو به په ظالمانو کې وشمېرل شې. کومو خلکو ته چې موږ کتاب ورکړی دی، هغوی دا ( چې قبله ته اکل شوېده یا دا پېغمبر) داسې پېژني لکه څنګه چې خپله اولاده پېژني، خو له هغوی نه یوه ډله له پوهې او ادراک سره، سره حق پټوي. دا په غوڅه توګه یوه حقه خبره ده ستا درب له لوري، نو ته د هغه په باب هېڅکله مه شکمن کېږه.

## اجمالي تفسیر

﴿قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا...﴾: رسول اللهﷺ دا هیله لرله چې کعبه شریفه د مسلمانانو قبله وي، نو د همدې مینې له کبله یې په وار، وار آسمان ته کتل او دې ته منتظر و چې دا آسماني زیری به کله نازلیږي، نو مبارک آیت د الله ﷻ د رسول دې انتظار ته اشاره کوي او فرمایي: اې محمده! ستا مکرره لیدنه مو د آسمان په لوري ولیده چې د قبلې تغیر او تبدیل دې غوښته، حتماً به دې مخ د هغې قبلې لوري ته وګرځوم چې له هغې څخه به را ضي اوخوشحاله شې، نو د کعبې په لوري دې خپل مخ وګرځوه.

بیا الله (جل جلاله) ټولو مؤمنانو ته خطاب کوي او فرمایي: ﴿وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوِهَكُمْ شَطْرَهُ﴾ اې مؤمنانو! هرځای چې اوسئ د لمانځه په حالت کې خپل مخونه د کعبې شریفې په لوري وګرځوئ. وروسته مبارک آیت یو بل حقیقت څرګندوي چې د دغو اعتراض کوونکو له ډلې څخه چې کوم د کتاب څښتنان دي، د هغو معلوماتو له کبله یې چې د نبي آخر الزمان په اړه یې په خپلو کتابونو کې لوستلي دي، ښه پوهیږي چې د قبلې دا بدلېدنه حق ده او د الله له لوري ده، خو له هغې څخه غفلت کوي، نو الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِنَّ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ﴾، یعنې: هغه کسانو ته چې کتاب ورکړل شوی (یهود او نصارا)، ښه پوهیږي چې دا د قبلې بدلېدل صحیح، په ځای او د الله له طرفه دی، خو د خلکو د بېلارې کولو لپاره شبهه پیدا کوي. د آیت په پای کې الله تعالی فرمایي:﴿وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ﴾، یعنې: هېڅ کار او امر د الله له علم او لیدلو څخه نشي پټیدلای، الله تعالی پوهیږي چې دوی له کوم مکر اوحیلې څخه کار اخلي او په همدې اساس به دوی ته عذاب ورکول کیږي.

﴿وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُواْ قِبْلَتَكَ﴾: دا مبارک آیت د دوی د عناد او سرغړونې وروستی کچه څرګندوي او فرمایي: ای پیغمبره! که چېرې ته یهودو اونصاراوو ته راشې او هر ډول دلیل اوحجت هم ورته وړاندې کړې چې د قبلې د ګرځیدنې په اړه ستا د وینا پر رښتینوالي دلالت هم وکړي، دوی ستا د قبلې پیروي نه کوي او نه د هغې لوري ته لمونځ ادا کوي، ځکه د دوی انکار د عناد اودښمنۍ له مخې دی، نه د جهل اوناپوهی

له امله.

همدارنګه مبارک آیت دحق او باطل ترمنځ توپیر راولي او دا را په ګوته کوي چې د باطل پیروان په خپلو کې هم اتفاق نه لري، نو د لومړي موضوع په اړه فرمايي: ﴿وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ...﴾ یعنې: اې محمده! ته هم په هېڅ صورت د دوی قبلې ته مخ نه ګرځوې، ځکه ستا قبله او طریقه حق د الله ﷻ له لورې ده اما د دوی قبله او طریقه وروسته د دوی د کتابونو له منسوخ کیدو، باطله ګڼل کیږي. د دویمې موضوع په هکله فرمايي: ﴿وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ﴾ یعنې: لکه څرنګه چې یهود د نصاراوو قبلې ته لمونځ نه کوي، همدارنګه نصارا د یهودو قبلې ته لمونځ نه اداکوي، ځکه د دوی په منځ کې هم سخته دښمني اواختلاف موجود دی.

الله تعالی د آیت په پای کې فرمايي: ﴿وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذاً لَّمِنَ الظَّالِمِينَ﴾: نو ای محمده! پس له دې چې واضح علم او روښانه دلایل درته رسیدلي دي، که چیرې سره له هغه هم د دوی له غوښتنو سره موافقت اورضایت وښیې، نو د هغوکسانو له ډلې څخه به شې چې د ډېر ناوړه ظلم مرتکب شوي دي. البته د آیت دا عبارت د فرض او تقدیر پر اسلوب کارول شوی دی، ځکه محمد ﷺ د یهودو اونصاراوو له پیروی اومتابعت څخه لرې دی اوهېڅ امکان نه لري چې د دوی غوښتنې ومني.

الله تعالی په وریسې آیت کې فرمايي: ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾، یعنې: یهود اونصارا خاتم النبیین پیغمبر حضرت محمد ﷺ داسې پېژني لکه خپل اولادونه چې پېژني، دوی د نبي کریم ﷺ دنبوت په رښتینوالي کې هېڅ شک اوشبهه نه لري. بیا وریسې فرمايي: ﴿وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾، یعنې: یوه ډله له دوی څخه په ځانګړې توګه دیني رهبران یې، د پېغمبر ﷺ صفتونه د عناد له کبله قصداً پټوي او په خپل کارهم ښه پوهیږي.

الله تعالی په وروستي آیت کې فرمايي: ﴿الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ﴾، یعنې: اې محمده! ﷺ د دین کوم امور مې چې درته وحې کړي، هغه حق او یقیني دي هېڅ شک پکې نشته، نولازم نه دی چې په دې اړه په خپل زړه کې شک اوتردید ته ځای ورکړې. سره له دې چې په دې آیت کې خطاب مستقیما حضرت محمد ﷺ ته متوجه دی، خو مراد ورڅخه محمدي امت دی.

### د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي:

☆ الله (جل جلاله) مسلمانان په لمانځه کې د کعبې لورې ته په مخ اړولو ګومارلي دي، نو د دښمن له ویرې اود

جنګ له حالت پرته، باید هرځای او هروخت د قبلې په لوري مخ وګرځول شي، که نه نو د هغوی لمونځ نه صحیح کیږي، هغه کسان چې د مسجد حرام په داخل کې دي او کعبه شریفه ګوري، واجب دی، ترڅو له کعبې سره مخامخ ودریږي.

☆یهودو او نصاراوو سره له دې چې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په باره کې پوره معلومات درلودل، خو د عناد، دښمني اوکینې له کبله یې د نوموړي پر نبوت اعتراف نه کاوه.

☆له آیتونو څخه معلومیږي چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دې ته لیوال و چې قبله تغیر وکړي، له همدې وجې یې تل د آسمان په لوري کتل، ترڅوده ته امر وشي چې خپل لمونځ دکعبې شریفې په طرف اداکړي.

☆یهود او نصارا هم دخپلو قبلو په اړه اختلاف لري او هریو دوو مختلفو لورو ته لمونځ اداکوي.

☆هر مؤمن مکلف دی چې حق وپېژني، په هغه منګولې ولګوي او هېڅکله باید د خلکو د زړونو لاس ته راوړلو لپاره له خپلو اصولو او اساساتو څخه تنازل اوټیټوالی غوره نکړي، که چا داسې کار وکړ، ظالم ګڼل کیږي.

## پوښتنې

١ – آیا پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د بیت الله الحرام په لوري د قبلې دګرځېدلو حکم ته منتظر و؟

٢ – قرآن کریم څرنګه د قبلې دګرځیدو په اړه د اسلام د دښمنانو د اعتراضونو وړاندوینه نظر کې نیولې وه؟

٣ – آیا یهودو او نصاراوو د قبلې د ګرځېدلو د حقانیت په اړه خبرتیا درلوده؟ له کوم عبارت څخه دا موضوع پیدا کولای شئ؟

٤ – یهودو اونصاراوو د محمد (صلی الله علیه وسلم) په اړه کوم حقیقتونه پټ کړي وو او د هغو په کتابونو کې له کومو شیانو یادونه شویده؟

٥ ـ په (فلا تکونن من الممترین) جمله کې خطاب چا ته دی؟ او څوک ورڅخه مراد دي؟

## کورنۍ دنده

دسیرت او تفسیر له کتابونو څخه په ګټه اخیستلو سره، له بیت المقدس نه کعبې شریفې ته د قبلې د بدلېدلو کیسه مفصلاً په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۱۴۸ - ۱۵۱) آيتونه

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُواْ الْخَيْرَاتِ أَيْنَ مَا تَكُونُواْ يَأْتِ بِكُمُ اللّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ
شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۱۴۸﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَمَا
اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۴۹﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا
كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلاَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنْهُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ
وَاخْشَوْنِي وَلأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿۱۵۰﴾ كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ
آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۵۱﴾﴾

### د ځينو کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {مُوَلِّيهَا} | مخ ګرځوونکی. |
| {فَاسْتَبِقُواْ} | نو له يو او بل څخه مخکې شئ. |
| {حُجَّةٌ} | دليل او برهان. |
| {فَلاَ تَخْشَوْهُمْ} | نو له دوی څخه مه وېرېږئ. |
| {لأُتِمَّ} | ترڅو تمام کړم، بشپړ کړم. |

### ژباړه

دهر چا لپاره يولورى دى چې هغه ته مخ اړوي؛ نو تاسې د ښېګڼو په لورې په ځغاسته شئ، هر چېرته چې اوسئ الله جل جلاله به تاسې ټول راولي، الله جل جلاله په هر شي باندې قادر دی. ته چې له هر ځای نه تېرېږې له هماغه ځايه ( د لمانځه په وخت کې) خپل مخ د مسجد حرام لورې ته واړوه، ځکه چې دا ستا د رب بيخي په حقه فيصله ده او الله جل جلاله ستاسې له عملونو څخه بې خبره نه دی. او له هر ځايه چې تېرېږې، خپل مخ د مسجد الحرام لورې ته وګرځوه، او هر چېرته چې ياستئ، د هغه لورې ته مخ واړوئ، لمونځ ادا کړئ چې ستاسې پر خلاف خلکو ته دليل په لاس ورنشي، هو د ظالمانو ژبه به په هېڅ حال کې ونه ترله شي، خو له هغو نه مه وېرېږئ، بلکې له مانه ووېرېږئ او د دې لپاره چې زه پرتاسې خپل نعمتونه پوره کړم او په دې هيله چې زما د دې امر په عملي کولو تاسې د خلاصون لاره ومومئ. لکه څرنګه چې (تاسې ته په دې سره، برى درپه برخه شوى) ما ستاسې په منځ کې په خپله له تاسې نه يو پيغمبر مبعوث کړ، چې تاسې ته زما آيتونه لولي، ستاسې ژوند سوتره کوي، تاسې ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي او تاسې ته هغه خبرې در زده کوي چې تاسې پرې نه پوهېدئ.

## اجمالي تفسير

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُواْ الْخَيْرَاتِ﴾ يعنې: هر امت ته يوه ځانګړې قبله ده چې خپل مخ د هغې په لور ګرځوي اوهغه لوري ته لاربښوونه ورته کېږي، نو اې مؤمنانو! د خير په کارونو کې بېړه وکړئ، د وسې او توان تر حده يو له بل څخه مخکې والی وکړئ. بيا الله تعالی د آيت په پای کې فرمايي:﴿أَيْنَ مَا تَكُونُواْ يَأْتِ بِكُمُ اللّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ يعنې: وروسته له مرګه هرځای کې چې وئ د ځمکې يا د بحر په تل کې، الله تعالی به تاسې د حساب او بدلې لپاره را جمع کوي. ځکه الله تعالی په هرکار قادر دی او له هېڅ کارڅخه عاجز نه دی.

ددويم آيت په پېل کې الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾: الله تعالی خپل پيغمبر ته امرکوي چې په هرحالت اوهرځای کې چې يې، بايد د مسجد الحرام په لوري په لمانځه کې مخ وګرځوې او دا د کعبې شريفې په لوري ستا د مخ ګرځيدنه د پروردګار له طرفه حق او د تاييد وړ ده؛ ځکه الله پرې امرکړی. بيا د آيت په پای کې بشريت مخاطبوي اوفرمايي تاسې (اې مخاطبانو) ټول د الله ترڅارنې لاندې يئ او الله تعالی هېڅکله ستاسې له حال څخه غافل اوبې خبره نه دی.

الله بيا مکرراً خپل پيغمبر او د ده ټولو امتيانو ته امر کوي او فرمايي: ﴿وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾: په هرځای کې چې اوسئ د لمانځه په وخت کې خپل مخ کعبې شريفې ته وګرځوئ. دا چې له بيت المقدس نه کعبې شريفې ته د قبلې ګرځيدنې مسئله درې ځلې په آيتونو کې تکرار شوې ده، لاملونه يې دا دي : له يوې خوا رسول اللهﷺ دې ته ليوال و چې ګواکې قرآن مجيد هر ځل ده ته تازه زيری وراندې کړي او د ده زړه پرلپسې خوشحاله کړي او له بلې خوا مسلمانان بايد ځانګړې شخصيت او مستقل هويت ولري. همدارنګه د تکرار حکمت د موضوع پر مهموالي او لويوالي هم دلالت کوي يعني دا امر د اسلام يوه مهمه مسئله ده. سربېره پردې دا تکرار دې ته اشاره کوي، ترڅو د قبلې حکم ته پاملرنه وشي چې کعبې لوري ته مخ ګرځول په حضر او سفر کې يو حکم لري.

﴿لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ﴾: کله چې د قبلې تغير اوګرځېدل له يوه لوري څخه بل لوري ته يو ډېر مهم او حساس کار دی، نوځکه الله تعالی د قرآن پيروان متوجه کړل، ترڅو د اسلام دښمنانو ته اجازه ورنکړي چې د دوی په ضد دسيسې جوړې کړي، نو پرلپسې يې وفرمايل: هرځای چې اوسئ، خپل مخونه د کعبې لوري ته وګرځوئ او دا زما آيتونه خپله کړنلاره وګرځوئ، ترڅو يهوديان ستاسې په ضد کوم دليل او برهان ونه لري او دا خبره ونکړي چې محمدﷺ په دين کې زموږ سره مخالفت کوي، خو په قبله کې زموږ پيرو دی او ترڅنګ يې مشرکان ونه وايي چې محمدﷺ د ابراهيمي ملت دعوه لري، خود قبلې نه يې مخ ګرځوي. بيا الله تعالی فرمايي:﴿إِلاَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ

﴿مِنْهُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي﴾: مگر د یهودو فاسقان او ظالمان وایي: محمد ﷺ له دین سره لوبې کوي، کله یوه خوا کله بله خوا لمونځ کوي یعنې کله بیت المقدس ته اوکله د بیت الحرام په لوري لمونځ کوي او له خپل قوم څخه پیروي کوي.

اې مؤمنانو! له دې مفسدو کافرانو اوناوړو فاجرانو څخه وېره مه کوئ، بلکې یوازې له ماڅخه وویرېږئ.

بیا الله (جل جلاله) په پای کې دې ته اشاره کوي، چې که چیرې تاسې زما پیروي وکړئ او زما څخه وېره ولرئ، نو خپل نعمت به په تاسې پوره کړم: ﴿وَلأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾، یعنې: ترڅو خپل نعمت پرتاسې کمال او بشپړتیا ته ورسوم او تاسې ته د خپل پلار حضرت ابراهیم (علیه السلام) د قبلې په لوري او د دواړو جهانونو نیکمرغیو لپاره لارښوونه وکړم.

﴿كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ﴾: دا آیت له تېرشوي آیت سره اړیکې لري، ځکه هلته د نعمت د بشپړیدو خبره وشوه او دلته د الله ﷻ له نعمتونو څخه یو لوی نعمت ته اشاره ده، فرمایي: همدارنګه تاسو ته مې یو پیغمبر د عربو له نسل څخه غوره کړ چې د هغه په واسطه مو عزت، شرف اومرتبه ومونده، داسې پیغمبر چې پرتاسې قرآن تلاوت کوي، د ژوندانه لارې چارې درښیي، ستاسې وجود د شرك له پلیتیو اود بتانو له عبادت څخه پاکوي، تاسو ته د قرآن اوسپېڅلو احادیثو احکام بیانوي او تاسو ته د اړتیا وړ هغه دنیوي او اخروي علوم درښیي، چې مخکې مو د هغو په اړه هېڅ معلومات نه درلول.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او د اسلام د سپیڅلي دین د دښمنانو د تبلیغاتو پر وړاندې د مبارزې د لارو چارو په اړه دې بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

په یادو شویو آیتونو کې ځینې لاندې لارښوونې نغښتې دي:

- یوې قبلې ته مخ ګرځول د اسلامي امت د وحدت او د الله ﷻ دعبادت اوبنده ګی نښه ده.
- باید دخیر په کارونو کې له هرچا او له یو او بل څخه وړاندېوالی وکړو.
- د خیر په کارونو کې له یو بل څخه مخکې کیدل، د الله تعالی د رضا او نژدېوالي سبب ګرځي.

★ له الله ﷻ څخه وېره د مؤمن د ربښتينولی نښه ده، چې پر اساس يې اسلامي امت له زياتو بدمرغيو څخه خلاصون مومي.

★ دکعبې شريفې په لوري د قبلې بدلون او د پېغمبر (صلى الله عليه وسلم) راليږنه، د الله ﷻ له لويو نعمتونو څخه ګڼل کېږي.

★ قرآن کريم د مؤمنانو د زړونو د پاکی او د داسې شيانو د زده کړې لامل کېږي، چې مخکې يې د هغو په اړه هېڅ معلومات نه درلودل.

## پوښتنې

١ – د لاندنيو کلمو او جملو معناوې بيان کړئ:

**{ولكل وجهة}، {فاستبقوا الخيرات}، {عليكم حجة}، {يعلمكم الكتاب والحكمة}.**

٢ – د ﴿وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ﴾ مبارک آيت معنا او تفسير څه دی.

٣ – په لمانځه کې کعبې شريفې ته د مسلمانانو په مخ ګرځولو کې کومې ګټې نغښتې دي؟

٤ – د قبلې د تغير په هکله درې ځلې تکرار کې څه حکمت دی؟

٥ – په وروستي آيت کې د پېغمبر (صلى الله عليه وسلم) دندو ته اشاره شوې ده، هغه دندې کومې دي؟

# د (البقرة) سورت (۱۵۲ - ۱۵۷) آیتونه

﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ يَآيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ
وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٣﴾ وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن
لاَّ تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ
وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٥﴾ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَئِكَ
عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾﴾

## دځینوکلمو معنا

{فَاذْكُرُونِي} نوما یادوئ، ما په زړه لرئ.

{اسْتَعِينُواْ} مرسته وغواړئ.

{لَنَبْلُوَنَّكُمْ} تاسې خامخا ازمایو.

{أَصَابَتْهُم} دوی ته ورسیږي.

## ژباړه

نو تاسې ما ( په قلبي او بدني طاعت سره) یادکړئ، زه به هم تاسې (په ثواب سره) یادکړم او ما لره په طاعت شکر وباسئ! او مه کافران کیږئ په ما باندې (په معصیت سره). اې هغوکسانو چې ایمان مو راوړی دی (یعني اې مؤمنانو!) له الله تعالی څخه په صبر (په طاعت، په مصیبت او له معصیته) او په لمانځه سره مرسته وغواړئ، بېشکه چې الله ﷻ له صبر کوونکو سره دی. او مه وایئ هغه چا ته چې د الله ﷻ په لاره کې ووژل شي، چې دوی مړه دي، (دوی مړه نه دي) بلکې ژوندي دي، مګر تاسې (د دوی په ژوندانه) نه پوهیږئ. او خامخا موږ هرومرو تاسې په یوه شي ازمایو چې هغه عبارت دی له ویرې (د دښمن) او لوږې (قحط) او له کموالي د مالونو (په راز، راز آفتونو سره) او د نفسونو (په قتل، مرګ، رنځ او نورو) او له کموالي د میوو او زیری ورکړه صبر کوونکو ته (په جنت سره). صبر کوونکي هغه کسان دي چې کله دوی ته څه مصیبت ورسیږي، نو دوی وایي: بېشکه موږ د الله ﷻ (مملوک) یو او بېشکه موږ همده (الله) ﷻ ته بیا ورتلونکي یو (په آخرت کې) . دغه کسان، په همدوی دي عنایتونه (ښښنې) او مهرباني له طرفه د رب د دوی او دغه کسان همدوی دي، حق ته سمه لار موندونکي.

## اجمالي تفسير

لکه څرنګه چې له مخکینیو آیتونو څخه وپوهیدو، چې الله تعالی پر خپلو بنده ګانو لوی، لوی نعمتونه پیرزوکړي.

الله تعالی دهغو لویو نعمتونو په مقابل کې له دوی څخه غواړي چې د دې نعمتونو شکر ادا کړي، نو فرمايي: ﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ﴾: په عبادت، طاعت او زما د اوامرو په پیروۍ کې ما یاد کړئ، زه به هم تاسې په ښښنه، بدله او اجر ورکولو سره یا د کړم، یا په بله وینا: تاسې ما د هوساینې اوخوشحالی په وخت کې یاد کړئ، زه به هم د سختۍ او ستونزې په وخت کې ستاسو مرسته وکړم. یا دا چې کله تاسې زما له لویو نعمتونو څخه برخمن شوئ، نوما یاد کړی او زما له نعمتونو څخه چې درپیرزوکړي مې دي، انکارمه کوئ اوله ګناهونو اونافرمانیو څخه ځان وژغورئ، زه به هم تاسې د تل لپاره له هغو نعمتونو څخه برخمن کړم او تاسې به په ستونزو کې نه اچوم.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ الله تعالی په دې آیت کې خپل بنده‌ګان د ایمان په صفت سره یادوي، چې د هغه مقتضا او غوښتنه اوریدنه، قبولونه او د الهي اوامرو التزام دی، ترڅو د دوی همتونه لوړکاندي، نو فرمايي: اې مؤمنانو! د دې لپاره چې د خپل پروردګار د طاعت او پیروۍ توان او وس په ښه او سمه توګه ومومئ، نو په ټولو سختیو اوستونزو کې په صبر، حوصلې او لمانځه سره مرسته ترلاسه کړئ، ځکه که چیرې تاسې صبر او حوصلې ته مخه کړئ، نو هر ډول فضلیت او احسان به درپه برخه شي اوکه په لمانځه پابند اوسئ، نوله هرډول ګناه، فحشا، بې حیاییو او رذایلو څخه به وژغورل شئ. لکه څرنګه چې الله تعالی په بل کې ځای فرمايي: ﴿إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾ (العنکبوت: ٤٥)، همدارنګه الله جل جلاله دا اعلانوي چې د صابرانو ملاتړ کوي، په هره ستونزه کې د هغوی مرسته کوي او الله جل جلاله یې یار او مرستندوی ګرځي.

﴿وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ﴾: الله تعالی په دې آیت کې د شهیدانو له مرتبې یادونه کوي، ځکه چې هغوی د عالی صبر او استقامت بیلګې دي، فرمايي: د هغو خلکو په اړه چې د الله جل جلاله په لاره کې د الله جل جلاله د کلمې د اعلاء لپاره وژل شوي دي، دا مه وایئ چې هغوی مړه دي، بلکې هغوی ژوندي دي، خو تاسې یې ژوند نشئ احساسولی. څرنګه چې هغوی د برزخ په ژوند کې دي، نو د برزخ ژوند د دنیا له ژوند سره توپیرلري. شهیدان په برزخ کې له الهي نعمتونو څخه برخمن وي، خو موږ دا حقیقت اوهغه روزي چې دوی ته ورکول کیږي، نشو درک کولای.

هغه ستونزې چې باید بنده په صبر او لمانځه سره، له هغو خلاصون ومومي، هغه د دنیوي ژوندانه مصیبتونه او

بدمرغۍ دي چې سړي ورسره لاس اوګريوان کېږي، الله ﷻ په دې اړه فرمايي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ ...﴾ ای خلکو! تاسې په لږو ستونزو او ناخوالو، لکه: له دښمن څخه وېره، لوږه، د مالونو په زيان، د دوستانو اوخپلوانو په مړينه يا د کبنتونو، ميوو او داسې نورو په له منځه وړلو سره تر آزموينې لاندې نيسم، نو صابرانو ته په ښه پايله (جنت) زيرى ورکړه، هغو کسانو ته چې د ژوندانه د ناخوالو په وړاندې حوصلې نه بايلي، نېکې پايلې د دوی په انتظارکې دي.

الله تعالی د مخه دا څرګنده کړه چې د بندګانو ژوند له آزموينې څخه خالي نه دی او بريا د هغه چا په برخه ده چې صبر او زغم خپلوي، دلته په دې آيت کې د صابرانو صفتونه بيانوي:﴿الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ﴾، يعنې: هغو خلکو ته زيرى ورکړه اې محمد ﷺ چې دوی وآزمويل شول او دوی د هغو ستونزو په وړاندې صبر او حوصله وکړه، دا صبر او حوصله په حقيقت کې پر الهي قضا او قدر باندې د رښتينې ايمان او باور نښه ده. داسې کسان چې کله په کوم مصيبت او غم اخته کېږي، نو الله ﷻ ته په رښتينې توګه ځان تسليموي او وايي: موږ ټول د الله ﷻ يو او يوازې د الله ﷻ په لور ورستنېږو.

حضرت ام سلمه (رضي الله عنها)د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) بي بي وايي: له پيغمبرﷺ څخه مې اوريدلي چې فرمايل يې: هر بنده چې پر يو مصيبت اخته شي او په مقابل کې: «إنا لله وإنا إليه راجعون، اللهم آجرني فی مصيبتي واخلف لی خيراً منها»، ووايي، الله تعالی ورته ارومرو نيکه بدله او له هغه څخه غوره بدله ورکوي[1].

الله پاك د صابرانو د بدلې په اړه فرمايي:﴿أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ﴾ يعنې: دصابرانو لپاره د پروردګار له طرفه ښښنه او لوی اجر دی او هغوی دسمې لارې ميندونکي دي. په يوه قدسي حديث کې راغلي دي، چې الله تعالی فرمايي: څوک چې د دوو قيمتي او ارزښتناکو (سترګو) په له منځه وړلو وآزمويم او بيا پرې صبر وکړي، په بدل کې به هغه ته جنت ورکړم.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د صبر او زغم په اړه بحث اوخبرنه وکړي او ګټې دې يې په خپلو کتابچو کې وليکي.

---

۱- صحيح مسلم، د حديث شمېره (۹۱۸).

## د لوست ګټې

د دې لوست له آيتونو څخه ځينې لاندنۍ ګټې او لارښوونې لاس ته راځي:

★ د الله ﷻ شکر او ذکر د نعمتونو د دوام لامل کېږي، لکه څرنګه چې ناشکري امتونه د تباهی په لوري بيايي اود عذاب دنازليدو لامل ګرځي.

★ سترې موخې هغه مهال ترلاسه کېدای شي چې انسان يې د حاصلولو لپاره زياتې هلې ځلې وکړي، صبر او زغم ولري.

★ په دنيا کې خوشحالی او غمونه سره تړلي دي، کله انسان ته د نېکمرغيو مخه شي او کله بيا انسان د غمونو او کړاوونو په دام کې نښلي، خو بريالی انسان په دواړو حالاتو کې صبر او زغم له لاسه نه ورکوي.

★ د حقيقي مؤمن له نښوڅخه يوه دا ده چې الهي فيصلو اوتقديراتو ته تسليم، غمونو او کړاوونو ته په صبر او حوصلې سره ځواب ورکوي، خپل ځان الله تعالى ته تسليموي او وايي: ﴿إنالله وإنا إليه راجعون﴾.

## پوښتنې

١- د الله تعالى شکر او ذکر په کومه طريقه ترسره کيدای شي؟

٢- په کومو حالاتو کې بايد موږ له صبر او زغم څخه کار واخلو؟

٣- کوم کارونه کولای شي، د مصيبتونو پر وړاندې موږ سره مرسته وکړي؟

٤- هغه کسان چې د الله ﷻ په لاره کې وژل کېږي، هغوی ته څه ويل کېږي؟

٥ـ ستاسې په اند، په الهي ازموينوکې څه حکمت نغښتی دی؟

٦ـ يو مسلمان د مصيبت اوغم د پيښيدو پرمهال بايد څه وکړي؟

٧ـ څوک چې د دنيوي مصيبتونو پر وړاندې صبر کوي، الله تعالى هغه ته څه بدله ورکوي؟

## کورنۍ دنده

د الهي ازموينو او د هغو دنښو نښانو په اړه يوه مقاله وليکئ، چې له يو مخ څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۱۵۸ - ۱۶۳) آیتونه

﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ
تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ
مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا
وَبَيَّنُوا فَأُولَئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَئِكَ
عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ
يُنْظَرُونَ ﴿١٦٢﴾ وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

| | |
|---|---|
| {الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ} | دا دوې ورې غونډۍ دي، چې له کعبې شریفې سره نژدې پرتې دي، حاجیان او عمره کوونکي د دوی ترمنځ طواف (سعي) کوي. |
| {شَعَائِرِ} | د دین نښې. |
| {حَجَّ الْبَيْتَ} | د الله ﷻ د کور د زیارت قصد وکړي. |
| {اعْتَمَرَ} | عمره وکړي (په ځانګړې طریقې سره د کعبې زیارت ته ورتګ عمره بلل کیږي، چې تفصیل یې د فقهې په کتابونو کې بیان شوی دی). |
| {فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ} | نو پر هغه ګناه نشته. |
| {يَطَّوَّفَ} | طواف وکړي. |
| {تَطَوَّعَ خَيْرًا} | په خپله خوښه د خیر کار ترسره کړي. |
| {يَكْتُمُونَ} | پټوي. |
| {بَيَّنَّاهُ} | واضح مو کړل. |
| {يَلْعَنُهُمُ} | له خپل رحمت څخه یې محروموي. |
| {اللَّاعِنُونَ} | لعنت ویونکي. |
| {أَصْلَحُوا} | اصلاح یې کړل. |
| {بَيَّنُوا} | بیان او روښانه یې کړل. |
| {أَتُوبُ عَلَيْهِمْ} | توبه یې قبلوم . |
| {التَّوَّابُ} | ښه توبه قبلوونکی. |
| {لَا يُخَفَّفُ} | سپک به کړای نشي. |

## ژباړه

په يقيني توګه صفا او مروه د الله ﷻ له نښانو څخه دي، له دې امله څوک چې د حج او عمرې قصد وکړي، د هغه لپاره وبال نشته که د دې دوو غونډيو ترمنځ طواف (سعي) وکړي او څوک چې په خپله خوښه څه نېک کار وکړي، الله ﷻ پرې عالم دی او د هغه قدر کوونکی دی. کوم خلک چې زموږ نازل شوې روښانه لارښوونې او هدايات پټوي وروسته له دې چې موږ هغه د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره په خپل کتاب کې بيان کړي دي، الله ﷻ وربانديې لعنت وايي او ټول لعنت ويونکي هم وربانديې لعنت وايي. البته څوک چې دا کار پرېږدي، خپل کړه وړه سم کړي او څه يې چې پټ کړي وو، د هغو په بيانولو پيل وکړي، هغوی ته به زه ښښنه وکړم او زه لوی توبه قبلونکی او رحم کوونکی يم. کومو کسانو چې د کفر چلن غوره کړ او د کفر په حالت کې مړه شول، پرهغو باندې د الله ﷻ، پرښتو او ټولو انسانانو لعنت دی. په همدې لعنتي حالت کې به د تل لپاره او سيږي، نه به د هغو په عذاب کې اسانتيا راشي اونه به بيا ورته کوم بل مهلت ورکړای شي. او ستاسې الله ﷻ همدا يو الله ﷻ دی، له هغه رحمان او رحيم نه پرته بل کوم معبود نشته.

## اجمالي تفسير

د تېرلوست آيتونو، له بيت المقدس څخه کعبې شريفې ته د قبلې د بدلون په اړه بحث کاوه او دا آيتونه د الله ﷻ د عزتمن کور له اړوندو نښو نښانو، د حج له مناسکو او احکامو څخه بحث کوي. لکه څرنګه چې الله تعالی په لومړي آيت کې فرمايي: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا﴾ يعنې: دا دوه ځايونه (صفا) او (مروه) د الله ﷻ د دين له نښو څخه دي. د حج هر عمل چې يو مسلمان يې ترسره کوي، د دين شعاير بلل کېږي، هر هغه کار چې د هغه په واسطه د الله عبادت کوو، لکه: لمونځ، روژه او حج د (شعاير الله) په نامه يادېږي، خو د دې اصطلاح زيات کارول د حج په کړنو کې کېږي. د مکې مشرکانو د صفا او مروه د غونډيو په سرونو يو، يو بت ايښی و او کله به چې د کعبې د ليدلو لپاره راتلل، نو د کعبې د بتانو لپاره به يې احرامونه اغوستل او د صفا او مروه ترمنځ به يې«سعی» ترسره کوله او دبتانو په سرونو به يې لاسونه راکښل او له هغو څخه به يې تبرک حاصلاوه، نو مسلمانانو ته داسې فکر او انديښنه پيدا شوه چې که چېرې دوی د صفا او مروه ترمنځ«سعې» وکړي، نو د مشرکانو په څېر به شي او په دې کار کې به د بتانو تعظيم وشي. له دې امله الله تعالی دا تصور او انديښنه لرې کړه چې هر څوک د حج يا عمرې قصد کوي، کومه ستونزه نه لري چې د صفا او مروه ترمنځ «سعې» تر سره کړي، بلکې د«سعې» انجامول په حج او عمره کې لازم او واجب دي.

د آيت وروستی برخه ﴿وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ﴾ دا مفهوم واضح کوي چې که څوک سربېره پر فرضي حج، نفلي حج يا عمره ادا کوي، الله تعالی يې د احسان ځواب په احسان ورکوي او د ده نېک کار په نيکی ځوابوي او څو برابره اجر او ثواب ورکوي.

الله تعالی په دويم آيت کې د هغو کسانو د برخليک په اړه چې د الله ﷻ له نعمتونو څخه انکار کوي او دا هلې ځلې کوي چې د الله واضح آيتونه پټ کړي، فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى...﴾ کوم خلک چې زموږ نازل شوې روښانه لارښوونې او هدايات پټوي په داسې حال کې چې موږ هغه د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره په خپل کتاب کې بيان کړي دي، دوی د الله ﷻ د لعنت اود لعنت کوونکو د لعنت وړ ګرځي.

مفسرینو کرامو ویلي دي:
په دې آیت کې د یهودو علماء او پوهان مراد دي چې دوی د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم د هغو صفتونو چې په تورات کې ذکر شوي وو او د نورو ډېرو شرعي احکامو له بیانولو څخه سکوت غوره کړی و او کله به چې دوی د تورات ترجمه کاوه، نو ډېرې کلمې به یې په غېر حقیقي معناوو ژباړلې او په ډېرو کلمو کې به یې دخپلو نفسي غوښتنو پر بنسټ غلط تاویلونه کول.
الله تعالی پر دوی د دې ناوړو کارونو له کبله لعنت وایي او د خپل رحمت له دایرې یې لرې کوي او همدارنګه پرښتې، پیغمبران او مؤمنان هم پرې لعنت وایي.
د دې آیت حکم هغو ټولو خلکو ته شاملیږي چې هغوی هغه علم پېژني، چې الله د هغه بیانول پرخلکو واجب کړي دي. هر څوک چې د الله آیتونه پټوي، هغه د لعنت وړ ګرځي او د حق نه پټول د خیر او ښیګڼې په لوري د بلنې مستلزم دی، نو باید په نیکیو امر او له بدیو څخه ډډه وشي.
وروسته له دې چې الله تعالی د الهي آیتونو پټوونکي په بدۍ سره یادوی او په لعنت سره یې رټي، تر څنګ یې خلکو ته د توبې دروازې هم پرانیزي، ترڅو دوی نیکو کارونو او توبې ته وهڅوي، همدا وجه ده چې فرمایي: ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾: الله تعالی د هغو کسانو توبه چې علم پټوي او آیتونه نه ښکاره کوي، په دې شرایطو قبلوي:
الف: دا چې د الله تعالی دربار ته خالصانه توبه وباسي، الله تعالی ته راوګرځي او دهغه په پیغمبر ایمان راوړي.
ب: خپل حالت او کړه وړه اصلاح کړي او داکار هغه وخت امکان لري چې نېک کارونه ترسره کړي او الله ﷻ ته ځان ورنژدې کړي.
ج: هغه څه چې الله ﷻ نازل کړي، هغه بیان کړي اود هغو له پټولو څخه ځان وژغوري.
هرڅوک چې په دې شرطونو الله ته راوګرځي، نو الله یې هم توبه قبلوي او پر هغه باندې مهرباني کوي. که له انسان څخه په هره کچه ګناه وشي او بیا په اخلاص توبه وباسي، نو توبه یې قبلیږي اود الله د مهربانۍ او رحمت وړ ګرځي.
په څلورم او پنځم آیت کې الله تعالی دې ته اشاره کوي چې د هغه ابدي لعنت د هغه چا حال ته شاملیږي چې د کفر په حالت کې له دنیا څخه تللي وي، فرمایي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ...﴾: هغه کسان چې له اسلام څخه مخ ګرځوي او کفر ته رجوع کوي او د کفر په حالت کې ومري، هغه د الهي لعنت مستحق ګرځي، الله یې د تل لپاره ځای دوزخ ګرځوي او یوه شیبه هم ورڅخه خلاصون نشي موندلی او نه به یې په عذاب کې کمی یا وروسته والی راشي. دا له حق څخه منکر او د الهي آیتونو پټوونکي، د الله ﷻ ، پرښتو او ټولو خلکو له لوري د لعنت او رټنې وړ ګرځي؛ ځکه څوک چې د الله له دین څخه لرې شوی او هغه ته یې شا اړولې ده، هغه د دې وړ دی چې ټول خلک د ده ملاتړ او مرسته ونه کړي او لعنت پرې ووایي، نو معلومیږي چې الله تعالی کفارو ته په دریو شیانو عذاب ورکوي: د دوزخ په اورکې تل پاتې کېدل، مهلت نه ورکول او نه یې په عذاب کې کمی راوستل.
په وروستي آیت کې الله تعالی دا بیانوي، هغه ذات چې د دې دین شارع دی، یوازې هغه د عبادت وړ دی چې هېڅ معبود ورسره شریک نشته، فرمایي:﴿وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ﴾، یعني: ستاسې پروردګار

او معبود یو دی او له ده پرته بل د عبادت وړ نشته، همدا رحمان ذات دی چې ټول بشریت او ساکښان یې د خپلې مهربانی او شفقت په سیوري کې ساتلي او ټولو ته یو شان نعمت ورپیرزو کوي او همدا رحیم او مهربان الله ﷻ دی چې مؤمنانو ته ښېګڼه کوي او پر هغوی خپل شفقت او مهرباني کوي.

### فعالیت

د صفا او مروه ترمنځ د «سعی» د لرغونتوب په اړه څه معلومات لرئ ؟ او له حج څخه څه ګټې لاس ته راځي؟ په دې هکله، زده کوونکي دې له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

### د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- د الهي شعایرو رعایت او درناوی کول، د الهي دین د پلي کولو، د شیطان او د هغه د پیروانو د ماتې لامل ګرځي.
- د الله ﷻ له رحمت څخه هغه کسان محرومیږي چې د قرآن احکام او مفاهیم پټوي او له امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه ډډه کوي.
- هغه انسانان د الله ﷻ د رحمت، مهربانی او ښېګڼې وړګرځي چې د اخلاص توبه باسي، نېک کارونه ترسره کوي په نېکیو امر او د بدیو مخه نیسي.
- په مرګ سره د انسان اړیکې له دنیا سره غوځیږي، بیا نېکو کارونو ته د رجوع او توبې امکان نشته، نو لازمه ده چې انسان د خپل ژوند پای او عاقبت په نظر کې ولري، ډېر په احتیاط سره کوښښ وکړي چې له مرګ څخه مخکې د تقوا او پرهیزګارۍ لاره خپله کړي، له کفر، شرک او د الله د دین له مخالفت څخه ځان وژغوري.

### پوښتنې

۱ـ د حج او عمرې ترمنځ څه توپیر دی؟
۲ـ شعایر څه ته وایي؟
۳ـ له ﴿وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا﴾ جملې څخه مرام څه دی؟
٤ـ د الله له طرفه لعنت په څه معنا او مفهوم سره راځي؟
۵ـ هغه شیان چې الله ﷻ نازل کړي وو او اهل کتابو پټول، کوم وو؟
٦ـ د هغو کسانو لپاره چې علم پټوي او الهي احکام نه څرګندوي، کوم عذاب په نظرکې نیول شوی؟
۷ـ د کومو شرطونو په پوره کولو سره حق پټوونکي کولای شي د الله ﷻ د ښېګڼې وړ وګرځي؟

### کورنۍ دنده

صفا او مروه څرنګه ځایونه دي؟ «مسلمانانو د هغو ترمنځ په سعي کولو کې د ستونزې احساس کاوه» دا مسئله قرآن کریم څرنګه حل کړه؟ په دې اړه یو مخ معلومات ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۶۴ - ۱۶۵) آيتونه

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا
يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاء مِن مَّاء فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ
وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾ وَمِنَ
النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ
ظَلَمُواْ إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلّهِ جَمِيعاً وَأَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ ﴾

## د ځينو کلمو معنا

{اخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ} يو پر بل پسې د شپې او ورځې راتلل. {تَصْرِيفِ الرِّيَاحِ} د بادونو چليدل.
{الْفُلْكِ} بيړۍ، کښتۍ. {السَّحَابِ الْمُسَخِّرِ} تابعدارې وريځې.
{فَأَحْيَا} نو ژوندۍ يې کړه. {يَتَّخِذُ} غوره کوي، قبلوي.
{بَثَّ} خپاره کړي يې دي. {أَندَاداً} سيالان، شريکان.
{دَابَّةٍ} ساکښان، خوځېدونکي؛ لکه حشرې او څاروي.

## ژباړه

بېشکه په پيدايښت د آسمانونو او ځمکې او جلا والي د شپې او ورځې او په هغو بېړيو کې، چې په درياب کې د خلکو د ګټو لپاره تګ راتګ کوي او په هغه څه چې الله ﷻ (د) آسمان له (طرفه) له اوبو څخه نازل کړي دي، نو ژوندۍ کړې يې ده په دې اوبو سره ځمکه وروسته له مرګه(وچوالي) د هغې او خپاره کړي يې دي په دې ځمکه کې له هر قسمه خوځېدونکو (حيواناتو) څخه او په ګرځولو (بدلولو) د بادونو کې او په ځوړندولو د هغې وريځې چې مسخر کړای شوې ده د آسمان په منځ کې، خامخا د هغه قوم لپاره چې د عقل څښتنان دي، دليلونه دي. او ځينې خلك داسې دي چې له الله نه پرته نور شيان د هغه سيالان ګرځوي او له هغو سره داسې مينه کوي، لکه څرنګه چې له الله ﷻ سره مينه لرل ښايي، په داسې حال کې چې مؤمنان له الله سره تر ټولو زياته مينه لري، هغه ادراك او احساس چې دې ظالمانو ته د عذاب د ليدو په وخت کې پيداکېدونکی دی، که همدا نن دوی ليدلی وای، نو باور به يې راغلی وای چې ټول قوت او ټولې واکمنې يوازې د الله ﷻ دي او الله ﷻ ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی.

## لنډ تفسير

د لوست لومړی آيت، په نړۍ او کايناتو کې د الهي قدرت د ځينو نښو نښانو په اړه بحث کوي چې دا ټولې نښې نښانې د هر عاقل او هوښيار لپاره د الله ﷻ د رحمت او قدرت په پراخوالي روښانه دليلونه دي، لکه څرنګه چې د

آیت په لومړۍ برخه کې راغلي او فرمايي: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ...﴾: د آسمانونو په پیدایښت کې چې سره له دومره لویوالي، الله تعالی هغه پرته له ستنو درولي او د روښانه ستورو په وسیله یې ښایسته کړي او په هغو کې یې لمر او سپوږمۍ رامنځته کړي، ترڅو ژوندي کاینات خپل ژوند ته ادامه ورکړای شي.

همدارنګه د ځمکې په پیدایښت او جوړښت کې د مختلفو عناصرو ترمنځ عجیبې او پیچلې اړیکې شتون لري او په ټولیزه توګه ځمکه په داسې حیرانوونکي نظام سره خوځښت کوي چې د انسان لپاره یې په خپل مخ د ژوند کولو اسباب چمتو کړي دي.

همدارنګه د شپې او ورځې په بدلون او یو په بل پسې راتګ کې، په داسې طریقه چې کله شپه او کله ورځ اوږدیږي او د دې اختلافونو له امله مختلف فصلونه اوموسمونه رامنځته کیږي چې پر ژوندانه باندې ډول، ډول اغیزې اچوي.

د دې ټولو په پیدایښت کې د پوهو او هوښیارو انسانانو لپاره هغه نښې نښانې شتون لري چې د هغو له مخې د کایناتو حقیقت او واقعیت ته لار مومي او د الله قدرت او مهرباني درک کوي.

د آسمانونو او ځمکې له جوړښت څخه وروسته د شپو او ورځو اختلاف ته د اشارې لامل دا دی چې د آسمان، ځمکې او لمر ترمنځ چې کوم نظام شتون لري، د هغه له امله د کال په فصلونو کې د شپو او ورځو اختلاف او د هغو اوږدوالی او لنډوالی رامنځته کیږي.

بیا الله ﷻ پاک د خپلو نعمتونو له جملې څخه یو بل نعمت ته اشاره کوي او فرمايي: ﴿وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ﴾، یعنې: په لویو بیړیو او کښتیو کې چې په خپلو خېټو کې په سوونو ټنو وزن، په زرګونو خلک باروي او پرته له دې چې ډوبه شي په سمندر کې، د اوبو پر مخ په زرګونو کیلومتره لار وهي، چې دا هم د الله د قدرت له روښانه نښانو څخه ګڼل کیږي؛ ځکه الله تعالی بحرتابع کړی، ترڅو کښتۍ سره له خپلې لويۍ او دروندوالي، د هغه پر مخ حرکت وکړي او د انسان په خدمت کې واوسیږي، او خپلې سپرلۍ او بارونه د بحر په خطرناکو څپو او طوفانونو کې د سمندر غاړې او څنډې ته ورسوي.

د دې آیت په بله برخه کې راغلي:﴿وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا﴾، یعنې: په هغه باران کې چې الله تعالی په خپل قدرت سره له آسمانه را اوروي او هغه د ځمکې د ژوندي کېدو، د نباتاتو د راټوکېدو او د روزۍ د زیاتیدو وسیله ګرځي، په هغه کې هم د الله د قدرت نښې نښانې نغښتې دي، ځکه د باران په وریدلو سره نباتات راټوکیږي او د نباتاتو په ټوکیدلو سره له یوې خوا غلې او دانې په لاس راځي او له بلې خوا د څارویو د نسل د زیاتیدلو لامل ګرځي؛ لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ﴾ یعنې: د باران وریدل او د نباتاتو راټوکیدل د ځمکې پرمخ د څارویو او حشراتو د خوځښت او زیاتیدو لامل ګرځي چې دا ټول د انسانانو په ګټه تمامیږي.

بیا وروسته په بل قرآني عبارت کې داسې راغلي: ﴿وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ﴾ یعنې: له یوه لوري نه بل لوري ته د بادونو چلېدل، د الله ﷻ په حکم او اراده او د خلقت له سننو او طریقو سره سم صورت نیسي. د بادونو د لګیدلو ګټې دا دي چې بادونه د باران اوروونکې وریځې او کښتۍ روانوي، له بادونو څخه ونې حمل اخلي او تودې سیمې معتدلې

کیږي، چې دا ټولې د عاقلانو لپاره د الله جل جلاله د لویې او قدرت نښې نښانې دي.

د آیت په بله برخه کې راځي: ﴿وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ﴾، یعنې: کومې وریځې چې د آسمان او ځمکې په منځ کې دي او د الله تعالی په قدرت له یوه لوري تر بل لوري ته حرکت کوي، له ځانه سره خیر او برکت نقلوي، ځکه وریځې دي چې د باران د نقلیدو لامل ګرځي. دا چې وریځې وروسته له بادونو څخه ذکر شوي، په دې کې دیته اشاره ده چې همدا بادونه دي چې وریځې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته وړي او چیرته چې الله وغواړي هلته باران وروي، نو د بادونو لګیدل اود وریځو ګرځېدل په دې عجیبه او حیرانوونکې بڼه د الله جل جلاله د قدرت او یووالي له نښو څخه ګڼل کیږي. الله تعالی د آیت په پای کې فرمايي: ﴿لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ یعنې: دا ټول څه چې بیان شول، هر یو د الله جل جلاله په قدرت او یووالي روښانه او څرګنده دلیل دی، ترڅو انسانان خپل عقل وکاروي او د دې نښو نښانو په اړه فکر او سوچ وکړي. الله تعالی د دې آیتونو په ترڅ کې بې شمېره دلیلونه راوړي چې دا ټول د الله تعالی د ذات په یووالي، حکیم والي او قدرت دلالت کوي.

د دویم آیت په لومړۍ برخه کې الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ﴾ یوه ډله خلک دي چې په ناپوهۍ اوبې عقلۍ کې داسې غرق دي چې پرته له الله د نورو شیانو عبادت کوي، مثلاً: دوی د هغو تیږو او لرګیو عبادت کوي چې په خپله یې توږلي دي، له الله جل جلاله سره یې ورته ګڼي، د الوهیت مرتبه ورکوي، داسې یې بولي لکه چې د پیدایښت او روزي ورکولو قدرت لري او له هغوی سره داسې مینه کوي لکه یو مؤمن انسان چې له الله جل جلاله سره مینه او محبت کوي. نن په نړۍ کې ډېر داسې انسانان شته چې په یو ډول له الله تعالی سره شریک نیسي، کله نفساني غوښتنې اوکله بشري قوانین، مال، منصب او داسې نور شیان له الله سره برابروي او د هغو پیروي کوي.

الله تعالی د دې آیت په دویمه برخه کې فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ﴾ یعنې: د مؤمنانو مینه او د هغوی پیروي له الله جل جلاله څخه د هغو مشرکینو د مینې په پرتله چې هغوی یې له بتانو سره لري، ډېره ژوره اوزیاته ده؛ ځکه مؤمنان دې ته حاضریږي چې د الله جل جلاله په لار کې ځان، مال او خپله ټوله پانګه قرباني کړي، خومشرکین حاضر نه دي چې له شرک څخه د دفاع په لاره کې د قربانۍ ترحده قدم پورته کړي. همدارنګه مؤمنان په دې کامل ایمان لري چې الله جل جلاله د بشپړو صفتونو او پراخو رحمتونو څښتن دی، هره شیبه د انسانانو فریاد اوري، ناروغانو ته روغتیا وربښي، غمځپلي خوشحالوي او د خوشحالۍ او بریا ټول اسباب ورته چمتو کوي، په داسې حال کې چې د مشرکانو حالت له بتانو سره داسې نه دی او نه د دوی له معبودانو څخه د داسې کارونو تصور کیدای شي.

﴿ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ...﴾: الله پاک د آیت په دې وروستۍ برخه کې فرمايي: که چیرې ظالم مشرکان هغه عذاب چې الله تعالی دوی ته د قیامت په ورځ تیار کړی، ووینې، حتماً دې یقین ته رسیږي چې ټول قدرت د الله دي او هغه بتان چې دوی له الله سره شریک نیولي وو او د هغوی عبادت یې کاوه، د هغوی له لاسه هېڅ کار نشي کېدلای. د دوی عقیده پر دې ټینګیږي چې کوم عذاب الله تعالی پرمشرکانو نازلوي، هغه ډېر شدید دی،

هېڅوک ورڅخه د تیښتې وس نه لري او خامخا به دوی د داسې سخت عذاب له لیدلو څخه په وېره او هیبت کې لوېږي، حتماً به پر خپلو کارونو پښېمانېږي، ځکه دوی په دې ورځ داسې یقین ته رسیږي چې بل مرستندوی نه لري او هغه بتان او خدایان یې چې پرته له الله تعالی څخه غوره کړي وو، هغه ټول بې ارزښته او دروغ وو.

**فعالیت**

د الله د قدرتونو له نښو نښانو څخه درې داسې نښې بیان کړئ چې په دې ذکر شویو آیتونو کې نه وي بیان شوې او بیا له قرآن اوسنت څخه ورته د لایل راوباسئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول وي:

✯ په کایناتو کې ټولې نښې نښانې د الله په وحدت او قدرت د لالت کوي، ځکه کوم ټینګښت چې په هغو کې شتون لري او کوم حیرانوونکی نظم چې پر هغو حاکم دی، هغه پرته د الله له قدرته بل قدرت منځته نشي راوړلای، هوښیار هغه دی چې فکر وکړي او ایمان راوړي، جاهل او ناپوه هغه دی چې شا واړوي او کفر غوره کړي.

✯ حقیقي مؤمنان هغه دي چې یوازې د الله عبادت کوي، له هغه سره مینه کوي او خپل د دین احکام پرته له هغې طریقې چې الله تعالی دوی ته نازله کړې، په لاس نه راوړي.

✯ شرک دا دی چې له الله پرته د بل کوم شي عبادت وشي او له هغه سره په هغه کچه مینه ولري چې د الله پر مینه غالب شي او یا هغه د الله په اندازه دوست وګڼي.

**پوښتنې**

١. له « اختلاف اللیل والنهار» څخه مقصد څه دی؟

٢. له آسمانه د باران وریدل د بشریت لپاره کومې ګټې منځته راوړي؟

٣. « تصریف الریاح» څه معنا لري؟ او څرنګه د الهي قدرت له نښو څخه ګڼل کیږي؟

٤. له « أنداد» څخه مقصد څه دی؟ او کومو شیانو ته شاملیږي؟

٥. له الله سره د مؤمنانو مینه او له « أنداد» سره د مشرکانو مینه پرتله کړئ او توپیر یې ووایئ.

٦. قرآن کریم د هغو مشرکانو لپاره چې له الله نه پرته د نورو شیانو عبادت کوي، د څه برخلیک وړاندوینه کړې ده؟

**کورنۍ دنده**

د اوسنی زمانې د شرکي بڼو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له یو مخ څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۱۶۶ - ۱۷۱) آیتونه

﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِينَ
اتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّؤُواْ مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا
هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ
الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاء وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ
﴿١٦٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ
شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لاَ يَسْمَعُ إِلاَّ دُعَاء وَنِدَاء صُمٌّ بُكْمٌ
عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{تَبَرَّأَ} د بیزارۍ اعلان یې وکړ.

{اتُّبِعُواْ} له هغوی څخه پیروي وشوه.

{تَقَطَّعَتْ} غوځ شي، پرې شي.

{الأَسْبَابُ} وسایل.

{كَرَّةً} ستنیدنه او بېرته تګ .

{فَنَتَبَرَّأَ} نو بیزاري به ښیو، د بیزارۍ اعلان به وکړو.

{يُرِيهِمُ} دوی ته یې ورښیي.

{حَسَرَاتٍ } د (الحسرة) جمع ده، د پښیمانتیا او بدمرغۍ په معنا دی.

{لاتَتَّبِعُواْ} پیروي مکوئ، مه یې تعقیبوئ.

{خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ} (خطوات) د (خطوة) جمع، د قدم په معنا دی، خو دلته یې مفهوم لار او طریقه ده.

{عَدُوٌّ مُّبِينٌ} ښکاره دښمن.

{أَلْفَيْنَا} ومو موندل، وموليدل.

## ژباړه

کله چې بېزاره شي هغه کسان، چې متبوعان (مشران) دي، له هغوکسانو څخه چې تابعان (کشران) دي او ووینې دوی عذاب او غوڅ شي به دوی ټول د خپلوی علایق (اړیکې) او وایي هغه کسان چې تابعان وو: «کاشکې موږ لره

دنیا ته بیا ورتګ وای، نو بېزاره به شو موږ له دې متبوعانو څخه، لکه چې بېزاره شول دوی له موږ ځني»، همداسې به وښیي دوی ته الله د دوی (ناکاره) عملونه، چې دوی ته به د پښېمانتیا لامل وي، او نه به وي دوی وتونکي (د دوزخ) له اور څخه. ای خلکو! وخورئ له ځینو هغو شیانو څخه چې په ځمکه کې دي حلال پاک (بې شبهې) او پیروي مه کوئ د شیطان د قدمونو (یعنې شیطان پسې مه ځئ)! او د ده په وسوسه د هوا او هوس متابعت مه کوئ، بېشکه چې شیطان تاسې لره ښکاره دښمن دی، هغه خو تاسې ته د بدۍ او بې حیایۍ امرکوي او دې ته مو لمسوي چې په الله پورې هغه خبرې وتړئ چې تاسې پرې نه پوهېږئ او کله چې دوی ته وویل شي، چې د هغه حکم پیروي وکړئ، چې الله نازل کړی دی (چې قرآن دی په تحلیل او تحریم کې) نو (مشرکان) وایي (چې د قرآن پیروي نه کوو) بلکې د هغه حکم پیروي کوو، چې په هغه باندې مو خپل پلرونه موندلي دي (آیا دوی د خپلو پلرونو متابعت کوي) اګر که د دوی پلرونه وو، چې په هېڅ شي به (د دین له احکامو څخه) نه پوهېدل او نه یې (حق ته) لاره موندلې وه، دا خلک چې د الله پر ښودل شوې لارې یې له تلو څخه انکار کړی دی، د دوی حالت کټ مټ داسې دی لکه چې شپانه څارویو ته آواز کوي او هغوی د بلنې او شړنې له غږ نه پرته نور څه نه اوري، دوی کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي، ځکه خو په هېڅ خبره نه پوهېږي.

## اجمالي تفسیر

الله تعالی د دې لوست په لومړني آیت کې انسان ته یادونه کوي او فرمایي: ﴿إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ...﴾ ای انسانه! هغه شیبې در یاد کړه چې کافرانو به په دنیا کې د متکبرانو او طواغیتو په شان ژوند کاوه اود پیروانو لرونکي وو، د قیامت په ورځ به له خپلو پیروانو څخه بیزاري غوره کړي. هغو کسانو چې په دنیا کې د رئیس، مشر او لارښود په توګه ژوند کاوه او نورو د دوی پیروي کوله، نو کله چې د قیامت په ورځ خپل ځانونه په عذاب کېویني او د خپل خلاصون لپاره د خلاصون لاره نه مومي، نو سمدستي خپله بیزاري اعلانوي او ټولې سهوې او خطاګانې د خپلو پیروانو پر غاړه اچوي او هغوی پرې تورنوي. په هغه ورځ به د مشرانو او پیروانو ترمنځ د مینې ټول ارتباطات او اړیکې پرې کړای شي او هر یو به دا غواړي چې خپل ځان، که د هغه د ملګرې د لاسه ورکولو په قیمت هم تمام شي، له عذابه وژغوري، په دنیا کې به مشر امرکاوه او پیرو به د دنیوي بې ارزښتوګټو لپاره له هغه څخه پیروي کوله.

بیا الله تعالی د کفارو د پیروانو حالت ذکر کوي او فرمایي: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّؤُواْ مِنَّا﴾: پیروانو وویل: کاشکې موږ کولای شوای چې د دنیا ژوند ته بیرته ستانه شوي وای، له حق څخه مو پیروي کړې وای، د توحید لاره مو غوره کړې وای او له هغو کافرو مشرانو او رهبرانو څخه چې په دنیا کې موږ د هغوی پیروي کوله او نن له موږ څخه بیزاره دي، د بیزارۍ اعلان کړی وای او خپل قهر او غوسه مو پرې سره کړې

وای؛ ځکه دوی زموږ د هلاکت، تباهی، ګمراهی او رسوایی لامل ګرځېدلي دي او د دې ننني درد ناک عذاب اسباب يې موږ ته چمتو کړي دي.

الله تعالی د آيت په دويمه برخه کې، د هغو کافرانو (پيروانو او مشرانو) د کار پايلې بيانوي او فرمايي: ﴿كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ﴾، يعنې: لکه څرنګه چې الله تعالی په آخرت کې دوی ته خپل سخت عذاب ورکوي، همدارنګه دوی ته دا هم ښيي چې د دوی ناوړه کړه وړه به په آخرت کې پرته له پښېمانتيا او بدمرغۍ بل هيڅ شی دوی ته په لاس ورنکړي او هېڅکله به دوی له هغه اوره څخه چې د شرک د غوره کولو له امله پکې اچول کيږي، ونه وځي.

دې آيت يوې سترې او خطرناکې مسئلې ته اشاره کړې ده او هغه دا چې يو شمېر خلک د دنيوي بې ارزښته ګټو لپاره له ځينو خلکو څخه پيروي کوي، د الهي احکامو پر وړاندې را پورته کيږي او د يوځو تنو زورواکو د غوښتنو د ترسره کولو لپاره، خپل آخرت خرابوي او کله چې دغه کسان د آخرت په هغو سختو شيبو کې راګير شي، نو بيا د دوی دغه رهبران او سرداران له دوی څخه خپله بېزاري اعلانوي، دا حالت د بشر په اوږده تاريخ کې موجود و او نن هم شتون لري.

الله تعالی د دې لوست په دريم آيت کې بشريت ته د حلال کسب بلنه ورکوي اود شيطان له پيروۍ څخه يې منع کوي او فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً...﴾: ای انسانانو! له هغې روزۍ څخه چې الله تعالی د ځمکې پر مخ پيدا کړې او تاسې لپاره يې حلاله ګرځولې، وخورئ او د شيطان له لارو او وسوسو څخه پيروي مکوئ، ځکه شيطان ستاسې ښکاره دښمن دی. که چيرته بنده د شيطان پيروي وکړي، نو شيطان ورته حلال حراموي او حرام حلال ګرځوي او تل يې د بدمرغۍ کندو ته غورځوي. پر مسلمان لازم دي چې هوښيار او ځيرک واوسي او د حلالو او حرامو حدود د الله له کتابه او دهغه د نبي له سنت څخه زده کړي، نه له انسي او جني شيطانانو څخه چې په خپلو وسوسو او دروغجنو نصيحتونو يې د بدمرغۍ او فساد په دام کې راګيروي او بالآخره يې د ګمراهۍ اوکفر په کوهي کې اچوي.

﴿إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاء وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ...﴾ الله تعالی په دې آيت کې د شيطان د کار دايرې او بلنې ته اشاره کوي، ترڅو بنده ګان د هغه په اړه بشپړ معلومات ولري او هغه کسان چې د هدآيت پلټنه کوي د شيطان له وسوسو څخه ځان لرې وساتي او هم د غافلو انسانانو لپاره کوم دليل او حجت باقي پاتې نشي، مبارک آيت په لنډه توګه دا بيانوي چې شيطان لاندنيو کارونو ته بلنه ورکوي:

**الف: ناوړو کارونو ته بلنه**: شيطان د انسان په نظر کې هغه ناوړه او بد کارونه چې د ده لپاره ناوړه او بده پايله لري، ښايسته ښکاره کوي او که انسان هغه کار ترسره کړي او د شيطان له غوښتنو څخه پيروي وکړي، سمدستي په سختو

بدمرغیو کې لویږي. د ساري په توګه ډېر داسې کارونه شته چې شیطان د نویو ځوانانو لپاره د لوست او زده کړې پرېښودل ښایسته کوي او دوی ته خوب، راحت او بېکاري ښه ښکاره کوي، هغه کسان ځومره زیات دي چې خپل وخت او مال پرته له دې چې له هغه څخه علمي ګټه ترلاسه کړي، ضایع کوي! داسې ځوانان هم شته چې په ناز او نعمت کې ژوند کوي، مور او پلار یې د روزنې، تربیت او تعلیم لپاره په سلګونو زره افغانۍ لګوي، خو په پای کې هغوی ویني چې دغه بدکاره زامن یې هغه ټول مالونه او پانګې نالیدلې نیسي او د علم او روزنې په لارکې یو مناسب قدم هم نه پورته کوي.

**ب ـ فحشا او بد اخلاقۍ ته بلنه**: همدارنګه شیطان تاسې د بې حیایۍ او بدخویۍ لوري ته رابولي او فحشاء تر ټولو کارونو ناوړه کار دی، لکه: د شرابو څښل، زنا، لواطت، غیبت او هره قبیحه کړنه چې په پایله کې د انسان د دنیا او آخرت د تباهۍ لامل ګرځي.

**ج ـ په الله دروغ تړل**: همدارنګه شیطان انسان ته دا وسوسه هم اچوي چې الله ته داسې صفتونه او ویناوې منسوبې کړي چې الله ورڅخه پاک او مبراء دی. انسان پرته له دې چې یقین ولري او یا پوه شي، داسې ویناوې او کړه وړه الله او د الله دین ته منسوبوي او کله هم د شیطان د وسوسو په اثر، حرام حلالوي او حلال حراموي. دغه مهال دا بنده د شیطان په پیروۍ د تشریع او قانون جوړونې په ساحه کې، د الله تعالی د ربوبیت او الوهیت پر سپېڅلي حریم تېری کوي چې دا تر ټولو هغه ناوړه کار دی چې شیطان ورته بلنه ورکوي.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا...﴾: په دې آیت کې الله تعالی د هغې ډلې حالت انځوروي چې خپل عقل او فکر په کار نه اچوي، په خیر او شرکې د خپلو پلرونو له غوښتنو او باطل دین څخه پیروي کوي، په اړه یې داسې فرمايي: که چیرې هغې ډلې ته چې د شیطان د وسوسو په دام کې ګیر راغلي دي، یعنې مشرکانو ته وویل شي، چې د الله (جل جلاله) له دین څخه چې خپل پیغمبرﷺ ته یې رالیږلی، پیروي وکړئ او په ګوماني او بې بنسټه شیانو پسې مه درومئ، په ځواب کې هغوی وايي: "موږ له هغو شیانو پیروي کوو چې په هغو مو خپل رهبران، مشران او پلرونه موندلي دي"، د حال په ژبه یې وویل چې خپل عقل او فکر بندوو او د ړانده تقلید لاره خپلوو. بیا قرآن کریم د دوی په دې ناوړه کار د انکاري استفهام په طریقه تردید کوي او فرمايي: آیا سره له دې صفته چې پلرونه یې په ګمراهۍ کې لویدلي او د اسلام د عقایدو او عباداتو په اړه هېڅ معلومات نه لري، له هغوی څخه پیروي کوي؟! آیا له خپلو پلرونو څخه پیروي کوي، که څه هم هغوی هرڅومره بې عقله، ساده او ناپوهه وي؟ دوی د الله تعالی د قدرت د نښو نښانو په درک کولو کې له خپل عقل او فکر څخه کار نه اخلي، بالکل د څارویو په څېر دي چې نه عقل لري او نه د فکر توان.

الله تعالی په وروستي آیت کې د کافرانو حالت د څارویو له حالت سره تشبیه کوي، چې نه عقل لري او نه مسایل په

سمه توګه درک کولی شي، په اړه یې داسې فرمایي: ﴿وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لاَ يَسْمَعُ إِلاَّ دُعَاء وَنِدَاء...﴾: د کافرانو صفت او حالت د قرآني لاربښوونو او د هغه له روښانه دلایلو څخه په استفاده نه کولو کې داسې دی، لکه د رمې حالت له شپانه سره یې، څکه شپونکی په خپل آواز سره په ټاکلو طریقو خپله رمه د اوبو، پنډغالي او یا څرځای خواته بیايي او څاروي پرته له دې چې د آوازونو په معنا او مفهوم وپوهیږي، د شپونکي ارادې ته تسلیمیږي. په واقعیت کې کافران هم د پلرونو په ړانده تقلید او پیروي سره د څارویو په شان دي چې آواز اوري خو په معنا یې نه پوهیږي، خپل عقل د هغو د معنا د پوهیدنې لپاره نه کاروي او د الله د پیغمبرانو او د خیر په لوري د ټولو داعیانو د دعوت پر وړاندې به یې دا ویل چې موږ له هغه څه، څخه چې زموږ پلرونو په هغه ژوند تیر کړی، پیروي کوو. دوی له هر نوي شي سره که هر څومره د دوی په ګټه هم وي، مخالفت کوي او هرڅه چې د دوی د پلرونو له لارې دوی ته رسیږي که څه هم د دوی هلاکت او تباهي پکې پټه وي، پیروي یې کوي.

بیا الله تعالی د کافرانو بل حالت بیانوي چې کافران د حقې خبرې له اوریدلو کاڼه، د حق له ویلو ګونګیان او د حق او ریښتیا د نښو له لیدلو ړانده دي. کافران د ایمان په لوري د داعیانو پر وړاندې داسې اعراض او شاګرځوي لکه چې خپل حواس یې له لاسه ورکړي وي او نور د اوریدلو، ویلو او لیدلو وس نه لري، له همدې امله د پوهیدلو او ادراک توان نه لري او د څارویو په څېر د نورو پیروي کوي.

**فعالیت**

شیطان د انسان پخوانی او قسم خوړلی دښمن دی او د هغه د ګمراهۍ لپاره هره وسیله کاروي، نو باید څه کار وکړو چې د شیطان له وسوسو څخه ځان وژغورو؟ په دې اړه په خپلو کې بحث او خبرې وکړئ او پایلې یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

☆ له هغه ځایه چې د کفارو اړیکې په خپل منځ کې په مادي مصلحتونو ولاړې دي، نو له دې کبله د دوی په منځ کې مینه او مرسته ترهغه ځایه پاتې وي چې په خطر کې واقع نشي او کله چې له خطر سره مخ شي، نو په هره بیه چې وي کوښښ کوي، ترڅو ځان له خطره وژغوري که څه هم داکار له یوبل څخه د بیزارۍ او یا د هغه د ملګري د قربانۍ په قیمت هم تمام شي.

☆ ړوند تقلید او پیروي د اسلامي دین له نظره ناوړه کړنه ده، مناسبه ده چې هرمسلمان له خپلواک شخصیت څخه برخمن وي. که چا د ښیګڼې کار ترسره کړ، نو له هغه څخه پیروي او تقلید کوي او که دښیګڼې کار یې ترسره نکړ،

نو مناسبه دا ده چې خپل ځان ورځخه وژغوري او له بې ځایه او ناسمې پیروۍ څخه ډډه وکړي، ځکه تقلید او پیروي یو ډول انتخاب دی چې انسان د هغه په وړاندې مسؤولیت لري او په اړه یې ورځخه پوښتنه کېږي.

☆ الله تعالی خلکو ته له پاکو او حلالو خوارو څخه ګټه اخیستل روا او له ناپاکو او حرامو خوارو څخه ګټه اخیستل حرام کړي دي.

☆ له هغه مهاله چې الله تعالی آدم (علیه السلام) پیدا کړی، شیطان ورسره خپله دښمني اعلان کړې ده او تل هلې ځلې کوي چې انسان تېر باسي، له همدې امله باطل او بې حیایی ورته ښایسته او ښه ښکاره کوي.

## پوښتنې

۱. د کافرانو د مشرانو او پیروانو حالت به د قیامت په ورځ څرنګه وي؟

۲. د ﴿وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ﴾ عبارت څرنګه تفسیروئ؟

۳. هغه مهال چې د کافرانو پیروان د قیامت په ورځ ځانونه د الهي عذاب په وړاندې ویني، نو د څه شي هیله به کوي؟ او ولې داسې هیله کوي؟

٤. د انسان لپاره په دنیوي نعمتونو کې له کوم شي څخه ګټه اخیستل روا بلل شوي دي؟

٥. د ﴿خطوات الشیطان﴾ د عبارت معنا او مفهوم څه دی؟ او ولې انسان د هغه له پیروۍ څخه منع شوی دی؟

٦. په قرآن کریم کې ویل شوي دي: (شیطان ستاسې ښکاره دښمن دی)، له انسان سره د شیطان د دښمنۍ نښې او نښانې کومې دي؟

۷. قرآن کریم کافرانو ته بلنه ورکړې ده چې د الله د دین او څه چې الله نازل کړي دي، پیروي وکړي، د کافرانو ځواب د دې بلنې او دعوت په وړاندې څه دی؟

۸. یو قرآني آیت د تقلید کوونکو مشرکانو حالت د دنیوي حالتونو له یوه حالت سره تشبیه کړی، هغه آیت ته په اشارې سره دا تشبیه واضحه کړئ.

# د (البقرة) سورت (۱۷۲ - ۱۷۶) آيتونه

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ
عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ
اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٧٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ مَا
يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾ أُولَئِكَ
الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ نَزَّلَ
الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِي الْكِتَابِ لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿١٧٦﴾ ﴾

## د ځينو کلمو معنا

{ طَيِّبَات } د (طيبة) جمع ده، يعنې: پاک او حلال.

{ حَرَّمَ } حرام گرځولی دی.

{ الْمَيْتَةَ } هغه څاروی چې پرته له ذبحې خپله مړ شوی وي.

{ الدَّمَ } وينه.

{ الْخِنْزِير } خوګ، خنزير.

{ أُهِلَّ } (اهلال) د غږ په پورته کولو اطلاق کيږي او مراد ورڅخه د خدايانو يا معبودانو په نامه(هغوی ته د نژدېوالي لپاره) د څاروي د ذبحې پر مهال د غږ لوړوالی دی.

{ اضْطُرَّ } مجبور شي، اړ شي.

{ بَاغٍ } ظلم کوونکی، مراد ورڅخه هغه څوک دی چې د هغه شي په لټه کې وي چې ورته حلال نه وي.

{ عَادٍ } له حده تيريدونکی.

{ فَلَا إِثْمَ } نوګناه نشته، (اثم) هغو نښو او آثارو ته ويل کيږي چې دګناهونو له وجې پر نفس غلبه کوي، لکه د نفس خړوالی او تياره والی.

{ يَكْتُمُونَ } پټوي او منکريږي.

{ شِقَاقٍ } له يو بل سره دښمني او جګړه.

{ بَعِيدٍ } لرې.

## ژباړه

ای مؤمنانو! که تاسې په ربښتيا سره د الله بنده ګي کوونکي ياست، نو کوم پاک شيان چې موږ درکړي دي، هغه په آزادۍ سره خورئ او د الله شکر باسئ. د الله له لوري که پر تاسې څه بنديز لګول شوی دی، نو هغه دا دی چې مرداره

مه خورئ، د وینې او د خوګ د غوښې له خوړلو نه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ چې پر هغه له الله نه پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي. هو که څوک د اړتیا په وخت کې وي او له دغو شیانو څخه څه شی پرته له دې چې د الهي حکم ماتولو اراده ولري یا له حده تېری وکړي (د ضرورت له اندازې زیات ونه خوري)، نو پر هغه څه وبال نشته، الله بښونکی او رحم کوونکی دی. بیشکه هغه کسان چې د الله له لوري نازل شوی کتاب پټوي او په بدله کې یې لږې غونډې پیسې اخلي، هغوی په اصل کې خپلې ګېډې له اوره ډکوي. د قیامت په ورځ به الله ﷻ هیڅکله له دوی سره خبرې ونه کړي او نه به یې تزکیه کړي او د هغوی لپاره دردوونکی عذاب دی. دا هغه خلك دي چې د سمې لارې په بدل کې یې ګمراهي واخیستله او د بښنې په بدل کې یې عذاب وپیره، څومره حیرانتیا ده د دوی حوصلې ته چې د عذاب زغملو ته تیار دي. دا ټول کارونه ځکه وشول چې الله، خو له حق سره، سر تر پایه برابر کتاب نازل کړی و، مګر کومو خلکو چې په کتاب کې اختلافونه منځته راوړل، هغوی په خپلو لانجو کې له حق نه ډېر لرې لاړل.

**اجمالي تفسیر**

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ...﴾: یوې ډلې مفسرینو ویلي دي چې الله ﷻ د (البقرة) د سورت له پېل څخه تر دې ځایه پورې د توحید او نبوت زیاتره دلیلونه ذکر کړل او په ډېر قوت سره یې په یهودو او نصاراوو رد وکړ او بیا یې له دې ځایه څخه د احکامو په بیانولو پېل وکړ او ویې فرمایل:﴿كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ﴾. دا مبارك آیت دا را په ګوته کوي چې الله تعالی وروسته له دې چې ټول بشریت ته اعلان وکړ چې له هر هغه شي څخه چې په ځمکه کې حلال او پاکیزه پیدا شوي دي، ګټه واخلئ، په دې شرط چې د شیطان د پلونو پیروي ونکړئ، یعنې غیر اخلاقي عملونه ترسره نکړئ، په الله او رسول باندې دروغ ونه تړئ او د خپلو پلرونو ړوند تقلید او پیروي ونکړئ. دلته له الهي امر او نهې څخه د کفارو د منع راوړلو په صورت کې الله تعالی په خاصه او ځانګړې توګه خپلو مؤمنو بنده ګانو ته خطاب کوي او هغوی ته د پاکو او حلالو شیانو خوړل، مباح ګرځوي او له هغوی څخه د نعمت د شکرانې او مننې غوښتنه کوي.

﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ ...﴾: په دې آیت کې الله تعالی مؤمنان په دې خبروي چې کوم شیان پر دوی واقعاً حرام شوي دي، د هغو په اړه دې هیڅکله هم د مشرکانو پیروي ونکړي او د یهودو او نصاراوو په څېر دې له خپله ځانه څه شیان حلال او حرام ونه ګرځوي، الله تعالی فرمایي: پرته له شکه څلور شیان پر تاسو حرام ګرځول شوي دي:

۱ـ په خپله مړ شوی څاروی. ۲ـ بهېدونکې وینه. ۳ـ د خوګ غوښه. ٤ـ او هر هغه څه چې د الله له نامه پرته ذبح او نذر شوی وي.

**له﴿وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللهِ﴾ څخه مراد**

له﴿وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ﴾ څخه مقصد دا دی چې د څاروي د ذبحې په وخت کې د الله له نامه څخه پرته بل نوم، لکه: بتان، پیریان، خبیثه ارواح او یا پیغمبران، پیران، علما او داسې نور پر هغه څاروي یاد شي او یا څاروی د هغوی لپاره نذر وګڼل شي یا هغوی ته د نژدې کېدو لپاره ذبح شي، د داسې نذر شوي څاروي خوړل حرام دي که څه هم

د ذبح په وخت په هغه د الله نوم واخيستل شي.

په کابلي تفسير کې راغلي دي: هغه ځاروی چې د هغه روح له الله نه پرته د بل چا لپاره نذر شي، د هغه ناپاکي او پليتي له هغه ځاروي څخه هم زياته ده چې په خپله مړ شوی وي، په مردار ځاروي کې يو عيب موجود و چې روح يې د الله په نامه نه دی وتلای، خو د دغه ځاروي روح چې پرته د الله له نامه څخه د بل چا په نامه (د هغه د عبادت او قربت په نيت) نذر شوی دی، دا کړنه عيناً شرک دی.

## د يوې پوښتنې ځواب

په دې آيت کې چې د حرمت حکم په څلورو يادو شويو شيانو پورې منحصر شوی دی، دا داسې راښيي چې پرته له دې يادو شويو شيانو څخه بل ځاروی حرام نه دی، حال دا چې د ځيروونکو ژويو خوړل او د سپي، خره او د مردار خورو مرغانو غوښه هم حرامه ده، نو څرنگه کولای شو د دې احکامو په منځ کې توافق راولو؟ د دې شبهې لپاره تر ټولو غوره ځواب دا دی، چې د حرمت د حکم حصروالی په دې شيانو کې په اضافي توگه دی، يعنې د هغو شيانو په مقابل کې دی چې مشرکانو له خپله ځانه حرام کړي وو چې د (بحيره)، (سائبه)، (وسيله) او داسې نورو په نومونو يادېدل. مطلب دا دی چې موږ يوازې په خپله مړ شوی، خنزير او داسې نور پر مشرکانو حرام کړي وو، خو هغوی د دې حرمت په مقابل کې په نورو حرمتونو قايل شول او دا يې د ځانونو لپاره حلال وگڼل او په الله جَلَّ جَلَالُهُ يې دروغ وتړل، نو ای مسلمانانو! تاسو داسې ونه کړئ. له دې پرته نور حل او حرمت په نورو آيتونو او احاديثو ثابتېږي او دا حصر هغو ته شامل نه دی.

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْكِتَابِ....﴾: دا مبارک آيت او وروسته دوه آيتونه د اهل کتابو د علماوو حالت بيانوي چې د دنيوي کم مال په مقابل کې يې هغه علم پټوه چې دوی يې په رسولو او خپرولو گومارل شوي وو، حال دا چې د خپل کتاب له مخې يې د الله رسول ښه پيژانده، خو دوی د خپل مقام، دبدبې او د عوامو خلکو په منځ کې د خپل عزت لپاره د ده له رسالت څخه منکرېدل، ترڅو د خلکو له ډاليو او مرستو څخه محروم پاتې نشي، (دا ډالۍ که په ظاهره ډېرې زياتې هم وي، خو د قرآن له نظره بې قدره او لږه متاع گڼل کيږي، ځکه دنيا او څه چې په دنيا کې دي، دا ټول د آخرت په پرتله بې ارزښته دي).

## د حق پټولو پايله

په دې آيتونو کې د دنيا پرستو، حق پټوونکو د کار پايله داسې انځور شوې ده، لکه څوک چې خپله گېډه له اوره ډکه کړي او سربېره پر دې د الله د قهر او غوسې وړ هم وگرځي، نو ځکه الله پاک له دې ډلې څخه د بيزارۍ اعلان کړی، نه به له دوی سره(د شفقت) خبرې وکړي او نه به دوی تزکيه کړي. د آيتونو په پای کې دې ته اشاره شوې چې الله تعالی پر دوی هيڅ ظلم نه دی کړی، بلکې دوی په خپله گمراهی ته پر هدايت او عذاب ته پرمغفرت ترجيح ورکړې دی. دا کار يوازې تر اهل کتابو پورې ځانگړی نه دی، بلکې هر هغه څوک چې په تېره او اوسنۍ زمانه کې حق پټوي او يا حق ضايع کوي په هغه کې داخل دی.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- پرته له اسرافه د هغو پاکو او حلالو شیانو د خوړلو روا والی چې الله پاک پیرزو کړي دي.
- د الله پر نعمتونو اعتراف او شکر کول او د ګناه په لاروکې د هغو نه کارول.
- د هغه ښاروي چې په خپله مړ شوی وي، د خوګ، بهیدونکې وینې او هغه ښاروي چې له الله نه پرته د نورو لپاره نذر او ذبح شوي وي، د غوښو د خوړلو حراموالی.
- د ضرورت او اړتیا پر مهال، لکه د نفس د هلاکت، وېرې او یا داسې نورو حالاتو کې د یادو شویو شیانو د خوړلو جواز، په دې شرط چې د ﴿غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ﴾ قید پکې مراعات شي.
- د حق د پټولو حراموالی، په ځانګړې توګه چې کله دنیوي ګټه، مال او دبدبه پرې ترلاسه کیږي.
- د اسلامي امت د علماوو وېرول، له دې څخه چې د اهل کتابو کړه وړه خپل نه کړي، یعنې د هغوی په څېر حق پټ نه کړي او یا د یو شي د لاس ته راوړلو لپاره باطله فتوی صادره نه کړي.
- په قرآني آیتونو کې له اختلاف کولو څخه ډډه کول، کوم چې د مسلمانانو ترمنځ د شخړې او دښمنۍ لامل ګرځي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{طیبات}، {المیتة}، {أهل} {اضطر} {باغ}، {عاد}، {الإثم}، {الضلالة}، {الشقاق}.

۲- د (غیر باغ ولاعاد) عبارت وژباړئ.

۳ـ له (الدم) څخه چې حراموالی یې په مبارک آیت سره ثابت شوی دی، کومه وینه مراد ده ؟

٤ـ د﴿ما أهل به لغیر الله﴾ په اړه لازم توضیحات ورکړئ.

٥ـ که د حرمت مسئله په دې څلورو شیانو پورې منحصره شي، په دې اړه پوښتنه رامنځته کیږي، د دې شبهې ځواب څرنګه دی؟

٦ـ دا﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ...﴾مبارک آیت د چا په اړه نازل شوی؟ او کوم کسان پکې شاملیږي؟

۷ـ د لوست آیتونو له زده کړو او پندونو څخه پنځه ټکي ذکر کړئ.

### کورنۍ دنده

د لوست د مبارکو آیتونو په رڼا کې او د عزتمنو علماوو له نظریاتو څخه په ګټه اخیستلو له الله ﷻ نه پرته د نذر کولو په اړه یوه پاڼه معلومات ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۱۷۷ - ۱۸۲) آیتونه

﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ
وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي
الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿۱۷۷﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ
شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ
إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ
﴿۱۸۰﴾ فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۸۱﴾ فَمَنْ خَافَ
مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۱۸۲﴾﴾

## د ځینوکلمو معناوې

{ الْبِرَّ } پر تولو ښېګڼو يې اطلاق کيږي.

{ آتَى } په دې مبارک آیت کې د (أعطى) یعنې ورکړې په معنا ده.

{ذَوِي الْقُرْبَى} خپلوان.

{ ابْنَ السَّبِيلِ } له کور او کورنۍ څخه لرې مسافر.

{ فِي الرِّقَابِ } د (رقبة) جمع ده یعنې غاړه، په رقاب کې له مال لګولو څخه هدف، د مریانو په آزادولو کې د مال لګول دي.

{ الْبَأْسَاءِ والضَّرَّاءِ } (بأساء) شدید فقر ته ویل کیږي او (ضرّاء) شدید رنځ ته.

{ حِينَ الْبَأْسِ } د جنګ پر مهال.

{ الْقَتْلَى } د (قتیل) جمع ده، هغه څوک چې روح يې اخیستل شوی وي او د کومې آلې په واسطه وژل شوی وي.

{ بِالْمَعْرُوفِ } په ښه توګه، د شرعي موافق.

{ بِإِحْسَانٍ } په نیکۍ، پرته له ځنډ او کمۍ څخه.

{ الْقِصَاصِ } په وژنه، ټپونو او د وژنې په آله کې مساوات او برابري.

{خيراً} دلته ورڅخه نغد مال یا دنیوي متاع او ځمکه مراد دي.

{جنفاً أو إثماً} (جنف) د حق پرېښودل په خطايي سره او (إثم) له حق څخه قصداً مخ اړونه.

**ژباړه**

نېکي دا نه ده چې تاسې خپل مخونه ختیځ لوري ته واړوئ یا لویدیځ لوري ته، بلکې نېکي دا ده چې انسان الله او د قیامت ورځ، پرښتې او د الله نازل کړای شوي کتابونه او د هغه پیغمبران د زړه له کومي ومني او د الله په مینه کې خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، پردیسانو، درویزګرو او د مریانو په آزادی کې مصرف کړي، لمونځ قایم کړي، زکات ورکړي او نېکان هغه کسان دي چې کله وعده وکړي، ترسره یې کړي، د تنګسۍ او غمونو په وخت کې، د حق او باطل په جګړه کې صبر وکړي، همدا ریښتیني او همدا پرهیزګار خلک دي. ای مؤمنانو! ستاسې لپاره د قتل په دعواوو کې د قصاص حکم لیکل شویدی، که اصیل قاتل وي له هماغه اصیل نه دې بدله واخیستل شي او که قاتل غلام وي، نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې نه دې قصاص واخیستل شي. هغه څوک چې عفوه وشي ده ته د ده له ورور نه څه شی، نو (په عفوه کوونکي) باندې (له قاتله) د دیت مطالبه په ښه وجه سره لازمه ده او په (عفوه شوي) باندې په ښه وجه سره د دیت ورکول لازم دي، دا ستاسو د رب له خوا آسانتیا او رحمت دی، که له دې نه وروسته څوک تېری وکړي، د هغه لپاره دردوونکی عذاب دی. هوښیارانو! ستاسې لپاره په قصاص کې ژوند دی، په کار ده چې له دې قانون څخه سر ونه غړوئ. پر تاسې باندې فرض کړای شوی دی چې کله له تاسې نه د کوم یو د مرګ وخت رانژدې شي او هغه له ځانه وروسته مال پرېږدي، نو مور او پلار او خپلو خپلوانو ته دې په مناسبه توګه وصیت وکړي، دا حق دی پر پرهیزګارانو. نو چا چې وصیت واورېده او بیا یې بدل کړ، نو د هغه وبال به د بدلوونکي پر غاړه وي، الله د هر څه اوریدونکی او پر هر څه پوهیدونکی دی. البته که له چا سره دا اندیښنه وي چې وصیت کوونکي په ناپوهی یا په قصدي توګه حق تلفي کړېده او هغه د دې موضوع د اړوندو کسانو په منځ کې روغه وکړي، نو پر هغه هیڅ وبال نشته، الله بښونکی او رحم کوونکی دی.

**اجمالي تفسیر**

﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ....﴾: په معتبرو تفاسیرو کې راغلي دي چې دغه مبارك آیت د یهودو او نصاراوو د ناسمې نظریې پر خلاف نازل شوی دی، له دوی څخه هر یو د دې دعوه کوله چې موږ هره ورځ مختلفو لورو ته لمونځ نه اداکوو، بلکې زموږ قبله یوه او د الله د امر موافقه ده؛ ځکه یهودو د مکې مکرمې له افق څخه د لویدیځ په لوري بیت المقدس ته لمونځ کاوه او نصاراوو به د ختیځ لوري ته او هر یوه فضیلت او غوره والی یوازې په خپلې قبلې کې ګڼلو او د هدایت لامل یې باله، له بلې خوا دوی او نورو جاهلانو په اسلامي دین او شریعت لکه د مسلمانانو د قبلې په ګرځیدو یې ملنډې وهلې، نو یوې ډلې مسلمانانو سخت غبرګون ښکاره کړ، نېکي او غوره والی یې خپلې نوې قبلې پورې منحصر کړ، نو ځکه دا مبارك آیت د دا ډول افکارو د اصلاح لپاره نازل شو او ټولو ته یې خبر ورکړ چې حقیقي ښېګڼه دې او یا هغې لوري ته په مخ اړولو کې نه ده، بلکې د نیکۍ بنسټ ایمان او صالح عمل دی، که چېرې تاسو په دې صفاتو موصوف نه اوسئ، نو د الله پر وړاندې قبلې ته ستاسو مخ ګرځول هیڅ کوم ارزښت نه لري.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى...﴾: یهودو او عربو د جاهلیت په زمانه کې داسې قاعده درلوده، چې د هغې پر اساس به د ټولنې آزاد کس کوم چې به له ټیټې طبقې څخه و، د ټولنې د شریفې طبقې

د غلام، سړي به يې د ښځې او دوه آزاد تنه به يې د يوه شريف تن په مقابل کې قصاص کول. الله تعالى دا له ظلم نه ډک قانون لغوه کړ، پر مؤمنانو يې برابري او مساوات فرض کړ، د لوړو او ټيټو ترمنځ يې توپير له منځه يووړ او خبر يې ورکړ چې خلک په ژوندانه کې برابر دي، بډای وي يا فقير، حاکم وي يا محکوم، نو ځکه تاسو هيڅکله نشئ کولای چې قاتل خوشې کړئ او په خپل اختيار د ناروا ويش پر بنسټ هر څوک چې غواړئ قصاص کړئ، په دې ترتيب سره قرآن کريم د بشر حقوق وضع کړل او بشريت ته يې عدل او مساوات وربه برخه کړ.

د يادولو وړ ده چې د حنفي مذهب د علماوو په اند، د دې آيت مفهوم دا نه دی چې کله آزاد کس غلام ووژني او يا سړی ښځه ووژني قصاص دې نشي، ځکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي: (المسلمون تَتكافَأُ دماؤُهم)، يعنې: (مسلمانان په وينوکې سره برابر دي) او دا مبارک آيت په حقيقت کې د جاهليت ځانګړې عقيدې راښيي او مخالف مفهوم ترې مراد کولای نشو. د دې آيت په پای کې د شريعت بل حکم ته اشاره کيږي چې هغه ديت دی، کله چې د مقتول وارثان له قصاص څخه تېرشي او له قاتل څخه د مالي عوض غوښتونکي شي، بايد هغه ورته وسپارل شي. الله تعالى په بنده ګانو باندې د تخفيف لپاره د قاتل سزا په قصاص پورې نه ده منحصره کړې، بلکې وارث يې عفوې او ديت ته چې دا دواړه هم په اسلامي شريعت کې د قتل له احکامو څخه ګڼل کيږي، هڅولي دي.

﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ...﴾: دا مبارک آيت د قرآن مجيد تر ټولو ډېربليغ آيت دی چې په کمو الفاظو کې يې لوېي معناوې او مفاهيم پټ دي. د عربو تر ټولو ډېره فصيحه جمله دا وه چې ويل به يې: (القتلُ أنفى للقتل) يعنې: (د قاتل وژنه د قتل د له منځه وړلو تر ټولو غوره وسيله ده) کله چې ذکر شوی آيت نازل شو، معلومه شوه چې د فصيحو عربو په وينا کې هم د قتل لفظ راغلی دی او هم دوه ځلې تکرار شوی چې دواړه د بشپړ فصاحت پر خلاف دي. د دې مبارک آيت په معنا او تفسير کې راغلي دي، چې کله قاتل يقين ولري چې د چا په وژلو زه هم وژل کيږم، نو له وژلو څخه لاس اخلي، په دې توګه هم په خپله ژوندی پاتې کيږي او هم هغه بل سړی ژوندی پاتې کيږي او د قاتل او مقتول د قوم او قبيلې ترمنځ د اختلاف او وينې تويولو مخه نيول کيږي، چې په پايله کې د ډېرو خلکو د ژوند د بقا او ساتنې لامل ګرځي او د خلکو ژوند خوندي پاتې کيږي.

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ...﴾: په دې مبارک آيت کې الله تعالى يو اخلاقي او ټولنيز اصل ته اشاره کوي او هغه د هغه چا له وصيت کولو څخه عبارت دی، چې د مرګ په رنځ پروت وي او الله تعالى ورته ډېر مال او دولت وربښلی وي، نو د دې لپاره چې د ده له مرګ وروسته د ده مال په عدل او انصاف سره د ده پر مور او پلار او نورو خپلو خپلوانو باندې وويشل شي، بايد وصيت وکړي. دا حکم په لومړي وخت کې پر مسلمانانو باندې فرض و، وروسته د ميراث په آيتونو سره نسخ شو، خو د استحباب په توګه له وارثانو څخه پرته يې حکم باقي دی، په دې شرط چې د مال له دريمې برخې څخه زيات وصيت ونه کړي، لکه څرنګه چې په حديث شريف کې راغلي دي: (الثُّلثُ و الثُّلثُ كثيرٌ...) (رواه البخاري)، يعنې: وصيت بايد د مال له دريمې برخې څخه وي او په حقيقت کې دا هم زياته ده.

﴿فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ...﴾: هغه کسان چې د وصيت امانت دوی ته سپارل کيږي، چې شاهدان، د وصيت ليکونکي يا په خپله هغه کسان دي چې وصيت ورته شوی، په دې مبارک آيت کې د هغوی په اړه ډېر شديد انذار راغلی چې نه

ښايي دا کسان د وصيت هغه واقعي بڼه تغير کړي او په بله طريقه وصيت د خپل ځان يا نورو په ګټه راوګرځوي، په دې حالت کې به لويه ګناه د دوی پر غاړه وي او له کامل باخبره او اوريدونکي ذات څخه به هيڅکله پټ نشي. د لوست وروستنی آيت ﴿فَمَنْ خَافَ مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا...﴾ يوه استثناء بيانوي چې هغه د مداخلې حق د ځينو هغو کسانو لپاره دی چې کله د وصيت کوونکي په وصيت کې څه خلاف ويني، مثلاً که ويني چې وصيت کوونکي له ورثې څخه يو تن له ماله محروم کړی يا يې د خپل مال له دريمې برخې څخه زيات وصيت کړی، په دې حالت کې به يا وصي خپلې سهوې ته متوجه کوي يا به په بله طريقه او په ښه نيت د وصيت په حکم کې ځانګړی تصرف کوي.

**فعاليت**

زده کوونکي دې په دې اړه چې قرآن د نيکۍ او هدايت بنسټ څه ګڼلی دی، بحث او څېړنه وکړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

- د قصاص د حکم بيان او په هغه کې پر مساوات او برابرۍ ټينګار او د قصاص څرنګوالی.
- د قصاص پرځای ديت ته په اجازې سره د اسلام د رحمت، ښېنې او آساني څرګندونه.
- د قرآن کريم فصاحت او بلاغت چې د قرآن د اعجاز يو اړخ دی.
- د وصيت مستحب والی د هغه چا لپاره چې ډېر مال په ميراث پرېږدي.
- په ضررناکه او ناوړه توګه د وصيت د تغيرولو او تبديلولو حراموالی.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{البر}،{ذوي القربى}،{ابن السبيل}،{في الرقاب}،{حين البأس}،{کتب}،{جنفاً أو إثماً}.**

۲ـ دا ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى﴾ مبارک آيت دکوم جاهلي قانون د له منځه وړلو لپاره نازل شو؟

۳ـ په قصاص کې څرنګه ژوندون شتون لري؟

٤ـ د الله په دې ﴿ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ﴾ وينا کې له تخفيف او رحمت څخه مراد څه دی؟

**کورنۍ دنده**

د قصاص د حکم په رڼا کې د اسلام په سپېڅلي دين کې د بشر د حقوقو د رعايتولو او د طبقاتي نظام له منځه وړلو په اړه يوه لنډه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۱۸۳ - ۱۸۵) آیتونه

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾
أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ
طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ شَهْرُ
رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ
فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ
وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٨٥﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{الصِّيَامُ} په لغت کې د امساک (بندولو) په معنا دی، خو دلته ترې مراد له رښتیني سبا څخه د لمر تر ډوبېدو پورې له خوړلو، څښلو او جماع کولو څخه، د نفس بندول دي.

{مَعْدُودَاتٍ} شمېرل شوې (مراد ورځخه د روژې د مبارکې میاشتې (۲۹) یا (۳۰) ورځې دي).

{هُدًى} لارښوونکی.

{بيِّنَاتٍ} روښانه نښې نښانې.

{الْفُرْقَانِ} د حق او باطل توپیر کوونکی (د قرآن کریم له نومونو څخه یو نوم دی).

{شَهِدَ} ومومي، حاضر شي.

{لِتُكَبِّرُوا} ترڅو په لویی سره یاد کړئ.

## ژباړه

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړای شوې دي، لکه څرنګه چې له تاسې نه د مخکینیو پیغمبرانو په پیروانو فرض کړای شوې وې، د دې لپاره چې په تاسې کې د پرهیزګارۍ صفت پیدا شي. د څو ټاکلیو ورځو روژې دي. که له تاسې نه څوک ناروغ وي یا مسافر وي، نو په نورو ورځو کې دې هماغومره شمېر پوره کړي او که کوم خلک د روژې نیولو وسه لري (او وېې نه نیسي)، نو هغه دې فدیه ورکړي، د یوې روژې فدیه یو مسکین ته خواړه ورکول دي او څوک چې په خپله خوښه څه زیاته نېکي وکړي، نو دا د هغه لپاره غوره ده، خو که تاسې پوهیږئ، نو ستاسې لپاره ښه همدا ده چې روژه ونیسئ. رمضان هغه میاشت ده چې په هغې کې قرآن نازل کړای شو، چې د انسانانو لپاره له سره تر پایه هدایت دی او داسې څرګندې لارښودنې پکې دي چې د سمې لارې ښوونکې او د حق او باطل یو له بله په ډاګه بیلوونکې دي، نوڅوک چې دا میاشت ومومي، پر هغه لازمه ده چې دا ټوله میاشت روژه ونیسي او که څوک ناروغ یا مسافر وي، نو هغه دې په نورو ورځو کې د روژو شمېر پوره کړي، الله پر تاسې آسانتیا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي، (له دې امله تاسې ته دا طریقه ښودل کیږي) ترڅو تاسې د خوړلو شویو روژو شمېر پوره کړای شئ او الله په لویی سره یاد کړئ چې هدایت یې درته کړی او شکر یې وباسئ.

## اجمالي تفسیر

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ...﴾: کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ او مدينه منوره اسلامي خاوره وګرځېده، نو د شرعي احکامو نازلېدل پيل شول، لکه څرنګه چې په تېرو شويو مبارکو آيتونو کې د ځينو څارويو د غوښې حرمت، قصاص او وصيت ذکر شو او د هجرت په دويم کال کې د اسلام له مهمو ارکانو څخه يو رکن چې روژه ده، د هغې فرضيت نازل شو. د دې آيت پيل هم لکه د نورو آيتونو په څېر د ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ په خطاب سره راغلی دی، چې يو ډول تشويق او ترغيب ګڼل کيږي، يعنې: ای د ايمان څښتنانو! پاملرنه وکړئ چې دا ځانګړی حکم تاسې لره دی او له تاسې څخه چې مؤمنان ياستئ د اطاعت او پيروۍ هيله کيږي. همدارنګه په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته د دې ډاډ ورکول شوی دی چې دا فريضه له ډېر ارزښت څخه برخمنه ده چې د پخوانيو پيغمبرانو او د هغوی د امتونو وجيبه هم وه. د آيت په پای کې د دې لويې ازموينې او ارزونې له سترې موخې څخه يادونه شوې ده چې هغه تقوی او پرهيزګاری ته رسيدل دي.

## د روژې ځينې فضيلتونه

د روژې مبارکه مياشت له زياتو مادي او معنوي فضيلتونو څخه برخمنه ده، چې د هغو له ډلې څخه په ټولو امتونو د هغې فرضيت دی، که روژه يو لوی عبادت نه وای له داسې عموميت او شموليت څخه به برخمنه نه وای.

د روژې بل غوره والی دا دی چې د ګناهونو د بښنې لامل ګرځي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: **"مَنْ صَامَ رمضان إيماناً واحْتساباً غُفِرَ لَهُ ما تقدَّم مِن ذنبه"** (رواه البخاري) يعنې: چا چې د روژې د مياشتې روژې د ايمان او ثواب په هيله ونيولې، تېر شوي ګناهونه يې ببښل کيږي.

همدارنګه د روژې بل غوره والی دا دی چې اجر يې په يوې خاصې اندازې پورې محدود نه دی، الله تعالی په هره اندازه چې وغواړي، اجر او بدله ورکوي. په صحيح حديث کې راغلي دي: (كُلُّ عَمَلِ ابن آدم لَهُ إلاَّ الصومَ فإنَّه لي وأنا أجزي به) (رواه البخاري)، يعنې: د آدم د اولادونو ټول عملونه هغوی پورې اړه لري، مګر روژه، ځکه روژه زما لپاره ده او زه به خپله د هغې اجر او بدله ورکوم، يعنې په کومه اندازه چې زه پوهيږم زما څخه پرته بل څوك نه پوهيږي.

د روژې بل غوره والی دا دی چې د قيامت په ورځ د روژتي شفاعت کوي، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: **"الصِّيامُ والْقُرآنُ يَشْفَعَان للعبدِ يَوْمَ القِيَامَةِ..."** (رواه أحمد في مسنده)، يعنې روژه او قرآن د بنده لپاره د قيامت په ورځ شفاعت کوي. سربېره پر دې روژه روغتيايي، جسماني او روحي ګټې لري چې تفصيل يې په دې لنډ لوست کې امکان نه لري.

﴿أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ...﴾: يعنې: پر تاسې فرض کړای شوې روژه دومره زياته موده نه ده چې د نيولو وس يې ونه لرئ، بلکې څو شمېرل شوې ورځې دي چې په وروستني آيت کې تصريح پرې شوې ده، (يعنې يوه مياشت ټاکل شوې ده)، سربېره پر دې تاسو له يوې بلې آسانۍ څخه هم برخمن يئ، هغه دا چې که رنځور يا مسافر اوسئ د خوړلو اجازه لرئ، په دې شرط چې بيا يې قضايي راوړئ.

## د ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ د جملې تفسير

مفسرينو د آيت دا جمله په دوه ډوله تفسير کړې ده:

لومړنی تفسير يې دا دی: ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ يعنې: د روژې طاقت او وس لري، لکه په ژباړه کې هم ذکر شوه، فرمايل

شوي کله چې خلک یوه میاشت پرله پسې د روژې په نیولو روږدي نه وو او دا پر هغوی سخته تمامیده، نو د آسانی لپاره حکم وشو چې که تاسې رنځور یا مسافر هم نه وئ، خو روژه نیول درته سخته وه، د خوړلو اجازه لرئ، لاکن د هرې ورځې په بدل به یوه مسکین ته خوراک ورکوئ. وروسته دا حکم د دې ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ آیت په نازلیدو منسوخ شو او د هغو کسانو لپاره چې شرعي عذر ونه لري له روژې نیولو پرته بله لاره نشته.
(د روژې قطعي حکم هم لکه د نورو احکامو په څېر په تدریجي ډول نازل شوی دی). دویم تفسیر یې په دې ډول دی: ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ په تکلیف او ستونزې سره روژه نیسي، یعنې رنځور او یا مسافر نه دی، خو روژه نیول ورته سخت دي، لکه بوډاگان (له نرو او ښځو څخه) یا هغه ښځه چې حامله یا پی ورکوونکې وي، نو دوی ته روا ده چې روژه وخوري او د روژې پر ځای فدیه ورکړي، د دې وینا اساس دا دی چې ﴿يُطِيقُونَهُ﴾ له (تَطَوَقَ) څخه اخیستل شوی چې معنا یې په تکلف او کړاو سره د یو کار ترسره کول دي.
په دې تفسیر سره دویم آیت د لومړي آیت لپاره ناسخ نه دی، بلکې د ذکر شویو افرادو د فدیې ورکولو حکم د پخوا په څېر دوام لري، البته د دې مبارک آیت په تفسیر کې نورې ویناوې هم ذکر شوې دي چې دلته یې د یادولو مجال نشته.
د یادولو وړ ده چې د روژې د فدیې اندازه د احنافو په اند له غنمو څخه نیمه پیمانه (نیم صاع)، له اوربشو او نورودانو څخه یوه پیمانه ټاکل شویده، البته وهبة الزحیلي په خپل کتاب ( الفقه الإسلامي وأدلته) کې د پیمانې(صاع) وزن د امام شافعي او صاحبینو په قول د دې مهال(۲۱۷۶ ) گرام ټاکلی دی، او د امام ابوحنیفه او نورو فقهاوو په وړاندې یې د صاع اندازه (۳۸۰۰ )گرام ټاکلې ده، خو د امام نووي وینا دا ده چې په فدیه کې باید لوړه اندازه په نظر کې ونیول شي او هغه (٤) کیلو یا (٤٠٠٠)گرامه ده.
﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ...﴾: په دې مبارک آیت کې (أيام معدودات) تعین او ټاکل شوې دي چې هغه کومې ورځې دي، یعنې: د هغو ورځو شمېر چې روژه نیول یې پر تاسو فرض کړای شوي دي، په هر کال کې یوه میاشت ده او هغه میاشت د رمضان مبارکه میاشت ده. وروسته د دې میاشتې فضیلت او غوره والي ته اشاره شوې ده چې تر ټولو ستر فضیلت یې د قرآن مجید نزول دی چې د لومړي ځل لپاره له لوح محفوظ څخه د دنیا آسمان ته د قدر په شپه کې په بشپړه توگه نازل شو او بیا له هغه ځایه لږ لږ په تدریجي توگه د ضرورت پر اساس د الله پر رسولﷺ باندې نازل شو او په رسول اللهﷺ لومړني نزول یې هم په دې مبارکه میاشت کې و.
همدارنگه دا مبارک آیت د قرآن کریم ارزښت ته چې د ده د نزول له برکته د رمضان میاشت مبارکه شوه، اشاره کوي او فرمایي: ﴿هدى للناس وبينات من الهدى والفرقان﴾ یعنې: دغه نازل شوی قرآن نه د یو قوم او ځانگړې قبیلې لپاره، بلکې د ټول بشریت لپاره بشپړ هدایت او د حق او باطل ترمنځ یوازني توپیر کوونکی دی. د دې مبارک آیت په پای کې د روژې د فرضیت حکم پر ټولو هغو کسانو چې په رمضان کې حاضر وي بیان شوی دی، یوازې رنځوران او مسافر ورڅخه مستثني کیږي، البته هغوی هم مطلقاً معاف نه دي، بلکې باید همدا ورځې بیا قضایي راوړي او د خپلو روژو شمېر پوره کړي. مسلمان باید په دې وپوهیږي چې الله تعالی خپل بنده گان د داسې عباداتو په مکلف کولو سره چې گټه یې هم بېرته همدوی ته رسیږي، د دوی حالت مراعات کړی، په رنځورانو، مسافرانو او ضعیفانو یې تخفیف راوړی، پرته له شکه الله پاک خپلو بنده گانو لپاره آساني(یسر) غواړي، نه سختي(عسر) او کړاو. همدارنگه دا هم باید هېر نکړو چې د

دين فرضونه، د اسلام حکمونه او د الله د کلام نزول، ټول يو سلسله هدايتونه او لارښودنې دي چې الله خپلو بنده ګانو ته ور ببښلي دي، نو بايد د مُنعِم شکر له ياده و نه باسو: "ولتکبروا الله علی ما هداکم ولعلکم تشکرون".

**فعاليت**

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي او هره ډله دې له بلې ډلې سره د روژې د فضيلت په اړه بحث او څېړنه وکړي، په داسې طريقه چې څو فضيلتونه دې يوه ډله او څو دې بله ډله ذکر کړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کېږي، په لاندې ډول دي:

- د رمضان د مبارکې مياشتې او د قرآن د فضيلتونو بيان.
- په ټولو مکلفو وګړو د رمضان د مياشتې د روژو فرضيت.
- هغه رنځور ته د روژې رخصت چې په روژه نيولو سره يې د رنځ د سختۍ وېره وي، نو د روغتيا تر وخته پورې دې روژه وځنډوي.
- چا چې د شرعي عذر په اساس روژه خوړلې وي، پر هغه د قضا راوړل واجب دي.
- د اسلامي شريعت آساني او له هر ډول سختۍ څخه ځان ژغورنه.
- په عباداتو او طاعاتو سره د الله تعالی د شکر څرګندونه.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{الصيام}،{يطيقونه}،{تطوع}،{بينات}،{الفرقان}.

۲- روژه په کوم کال پر مسلمانانو فرض شوه؟

۳- د روژې له فضيلتونو څخه درې فضيلتونه ذکر کړئ.

٤- علماوو د ﴿عَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ﴾ جمله څرنګه تفسير کړې ده؟

۵- د روژې په مبارکه مياشت کې د قرآن کريم د نزول څرنګوالی واضح کړئ.

٦- په کوم صورت د ﴿فَلْيَصُمْهُ﴾ جمله د مخکينې حکم ناسخ کيدای شي؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې په خپله خوښه له لاندې دوو موضوعګانو څخه د يوې موضوع په اړه يوه لنډه مقاله وليکي:

۱- د روژې، د روژې د مياشتې او د قرآن کريم فضيلتونه.

۲- د اسلام په سپېڅلي دين کې يسر (آساني).

## د (البقرة) سورت (۱۸۶- ۱۸۸) آيتونه

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي
لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ
لَهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا
كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ
أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا
كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا
بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾﴾

### د ځينو کلمو معنا

{الدَّاعِ} سوال کوونکی، حاجت غوښتونکی.

{ فَلْيَسْتَجِيبُوا} نو دوی بايد حکم ومني.

{يَرْشُدُونَ} د خلاصون لاره ومومي(په قرآني اصطلاح کې، په هغه څه علم او عمل ترسره کولوته چې د الله د رضا او مينې لامل ګرځي او له هغو شيانو څخه ځان ژغورل چې د الله د ناخوښۍ ور ګرځي، (رُشد) ويل کيږي.

{الرَّفَثُ} دلته ور څخه جماع کول مراد دي.

{لِبَاسٌ لَكُمْ} د ښځې او سړي له نژدېوالي څخه کنايه ده، لکه د جامې نژدېوالی له بدن سره، همدارنګه ميړه او ښځه يو بل ته ښايست او يود بل د عيب له پټولو څخه کنايه ده.

{بَاشِرُوهُنَّ} له دوی سره يوځای ځملئ (له جماع څخه کنايه ده).

{كَتَبَ اللَّهُ} الله تعالی ليکلای او مقرر کړای دی.

{الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ} سپين تار، د ستنې په څېر (عمودي) سپينوالی دی چې د آسمان په څنډو کې ښکاريږي.

{الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ } هغه تور والی چې وروسته له لومړي سپينوالي څخه پيدا کيږي او هغه له منځه وړي.

{الْفَجْرِ} هغه پراخه رڼايي چې ياده شوې تياره له منځه وړي او په ټولو څنډو خپريږي.

{حُدُودُ اللَّهِ} (حدود) د (حد) جمع ده او له هغو الهي احکامو څخه عبارت دي چې له بنده ګانو څخه يې ترسره کول يا پرېښودل غوښتل شوي وي.

{الْبَاطِلِ} د حق خلاف.

{تُدْلُوا} (ادلاء) د يوه شي غورځولو ته ويل کيږي او دلته ورڅخه، قاضي يا حاکم ته د بډو په توګه د يوه شي ورکړه موخه ده، ترڅو د هغه په واسطه يو تن د نورو پانګه غصب کړي.

**ژباړه**

او کله چې (ای محمده!) له تا څخه زما بنده ګان (له لرېوالي او نژدېوالي) زما پوښتنه وکړي، نو بېشکه زه نژدې يم، قبلوم د غوښتونکي سوال په هغه وخت کې چې ما وبولي، نو دوی دې زما حکم ومني او ټينګ دې اوسي پر ايمان باندې، ښايي، چې دوی په سمه لاره ټينګ پاتې شي. تاسې ته د روژې په شپه کې له خپلو ښځو سره يوځای والی حلال کړای شوی دی، دوی تاسې لره لباس او تاسې دوی لره لباس يئ، الله ته معلوم دي چې تاسې به له خپلو ځانو سره خيانت کاوه، نو (په رحمت سره) در باندې راوګرځېد او عفوه يې وکړه تاسې ته، نو اوس (د روژې په شپو کې) له خپلو ښځو سره جماع کوئ! او وغواړئ هغه شی، چې الله ستاسې لپاره ليکلي (مقرر کړي دی) او خورئ او څښئ ترهغه پورې چې ښکاره شي تاسې ته سپين تار له تور تاره (چې سپين تار) له سبا څخه (دی) بيا (خپله) روژه تر شپې پورې پوره کړئ او ښځو ته (په جماع سره) مه نژدې کېږئ په داسې حال کې چې تاسې په مساجدو کې معتکفان يئ دا د الله احکام او حدود دي، نو (د دې په ماتولو سره) ورته مه نژدې کېږئ (لکه څرنګه چې يې دا احکام درته بيان کړل) همداسې الله د خلکو لپاره خپل آيتونه بيانوي ترڅو دوی ځان (د دې حدودو له مخالفته) وساتي. او مه خورئ خپل مالونه خپلو کې په ناحقه سره او مه رسوئ دا مال ترحاکمانو پورې لپاره د دې چې وخورئ يوڅه د خلکو له مالونو څخې په ظلم (ناحقه سره) او (حال دا چې) تاسې پوهېږئ (چې دا ظلم دی او تاسې په ناحقه ياست).

**اجمالي تفسير**

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ...﴾: يوه ډله صحابه کرام رسول اللهﷺ ته راغلل او پوښتنه يې وکړه:(أقريب ربنا فنُناجيه أم بعيد فنُناديه) يعنې: آيا زموږ الله موږ ته نژدې دی چې په ټيټ آواز هغه ياد کړو يا زموږ څخه لرې دی چې په لوړ آواز يې راوبولو؟ په ځواب کې دا آيت نازل شو، چې الله تعالی تاسو ته نژدې دی ستاسو غوښتنه اوري او قبلوي يې. په دې مبارک آيت کې له دې وروسته يو بل امر ته اشاره شوې ده، چې هغه په بنده ګانو پورې اړه لري، يعنې ايمان او د الهي اوامرو او نواهيو(د الهي شريعت) استجابت او منښه ده، او دا چې د بريا او نېکمرغۍ يوازنۍ لار په اطاعت او ايمان کې منحصره کوي.

﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ...﴾: د روژې د فرضيت په پيل کې حکم دا و چې هر چا به د سبا ورځې د روژې نيولو قصد درلود، نو د شپې په هره ګړۍ کې به چې ويده شو، له همغه شيبې وروسته به هغه ته خوړل، څښل او له خپلې کلې سره مقاربت جواز نه درلود، که څه هم هغه د شپې په لومړۍ برخه کې ويده شوی وي. دا حکم په صحابه وو سخت تمام شو، آن تر دې چې ځينو کسانو له خپلو بيبيانو سره د کوروالي په اړه ځانونه نشوای ايسارولای، کله چې د الله رسول له دې کار څخه خبر شو، نو دا آيت نازل شو چې مسلمانانو ته د شپې په اوږدو کې د سبا تر راختلو پورې خوړل، څښل او جماع کول روا شول.

د ﴿عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ﴾ په جمله کې همغه تقصير او کوتاهۍ ته اشاره ده چې له ځينو څخه صادره شوې ده، چې وروسته له ويده کېدلو يې د خپلو بيبيانو سره جماع کړې وه، لکه څرنګه چې الله تعالی په دې

هم پوهیده، چې خلك به د صحابه وو له زمانې څخه وروسته ډېر ځلې په دې اشتباه کې واقع شي، نو د هغوی د توبې او د رسول اللهﷺ پر وړاندې د خپل اعتراف له برکته، الله تعالی پر ټول امت باندې اساني راوستله.

په دې آیت کې د زیات وضاحت لپاره د روژې حدود ټاکل شوي دي چې له کوم وخت څخه پیل کیږي او تر کوم وخته به دوام مومي، یعني له ربښتیني سبا څخه د لمر تر ډوبیدو پورې دوام لري، همدارنګه د اعتکاف احکام په هغه کې بیانیږي چې د روژتیانو له غوره عملونو څخه دی (البته اعتکاف د حکم له مخې، کفایي مؤکد سنت دی او له روژې پرته سنت اعتکاف نه کیږي). په پای کې اعلان شوی چې بیان شوي واجبات او محرمات د الله حدود او آیتونه دي چې هیڅکله یې ماتول او له هغو څخه تېری کول جواز نه لري.

﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ...﴾: وروسته له دې چې الله تعالی په تېر شوي آیت کې خبر راکړ چې الله تعالی د خپل دین احکام خلکو ته بیانوي، ترڅو خلك د ښو او نېکو کارونو په ترسره کولو او د بدیو په پرېښودلو سره تقوی خپله کړنلاره وګرځوي، په دې آیت کې الله تعالی یو مهم ټولنیز او اخلاقي امر ته اشاره کوي چې هغه په ناحقه او ناروا توګه د مسلمانانو د مالونو خوړل دي، چې پر مسلمان باندې مطلقاً حرام دي.

دا مبارك آیت د دې حکم په ترڅ کې، په ناروا توګه د نورو خلکو مال خوړلو ته اشاره کوي، چې هغه د رشوت په بڼه حاکمانو او قاضیانو ته په لاس ورځي، دا کار د دې لامل ګرځي، ترڅو قاضیان د ظالم په ګټه فیصله وکړي او حاکمان یې له فیصلې څخه ملاتړ وکړي او رشوت ورکوونکي د تور، بهتان او دروغو قسمونو له لارې د نورو مالونه لاس ته راوړي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په ناحقه او ظالمانه توګه د نورو خلکو د مال خوړلو د شدید حرمت په اړه، چې وروستنی آیت ورته اشاره کوي، همدارنګه د هغو بېلابېلو لارو په اړه چې امکان لري د مسلمانانو مالونه او پانګې پکې لوټ شي چې داکار د اسلامي شریعت له مخې حرام دی، بحث او مناقشه وکړي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

☆ بنده ګانو ته د الله تعالی نژدېوالی، ځکه ټول مخلوق د ده له قدرت او واك لاندې دي، الله هر څهویني، هر څه اوري او پر هغو برلاسی دی.

☆ عبادت کولو کې د آواز د لوړوالي کراهیت، مګر په ځینو وختونو کې، لکه: تلبیه، آذان، اقامت، او په جهري لمونځونو کې د قرآن تلاوت مکروه ندی.

- د الله په پیروۍ کې د کمال او رشد اثبات او د هغه په معصیت کې د جهل او گمراهۍ اثبات.
- د روژې په میاشت کې د لمر له ډوبیدو څخه د سبا تر راختلو پورې د خوراک، څښاک او جماع کولو جواز.
- د روژې نیولو د ټاکلي وخت بیان، یعنې له رښتیني سبا څخه د لمر تر ډوبیدو پورې.
- د هغه څه بیان چې روژتي باید له هغه څخه ډډه وکړي، لکه: خوړل، څښل او جماع کول.
- د روژې په میاشت کې د اعتکاف روا والی.
- د خبرو د ادابو ښودنه، په داسې توگه چې قرآن مجید د (جماع) پرځای د (مباشرت) کلمه استعمال کړې ده.
- د شریعت د قوانینو او حدودو د مقصد او هدف ښکاره کول، چې هغه تقوی او پرهیزگارۍ ته رسېدل دي.
- پرته له حقه د مسلمان د مال د خوړلو حرمت، برابره ده که هغه له هرې لارې څخه وي.
- حاکمانو او چارواکو ته د رشوت ورکولو حرمت.

## پوښتنې

١- لاندې کلمې وژباړئ:

**{الداع}، {یرشدون}، {الرفث}، {باشروهن}، {حدود الله}، {الباطل}، {تدلوا}.**

٢- الله تعالی څرنگه خپلو بنده گانو ته نژدې دی؟

٣- د دې ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ﴾ مبارک آیت شان نزول بیان کړئ؟

٤- دا ﴿حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾ جمله وژباړئ او تفسیر یې کړئ؟

٥- د اعتکاف حکم څه دی؟

٦- د مبارک آیت دا ﴿وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ﴾ برخه څه ته اشاره کوي؟

٧- د دې (ولا تأکلوا أموالکم...) مبارک آیت په رڼا کې د خلکو د مالونو حرمت بیان کړئ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هغه احکام چې د دې لوست دریو آیتونو ورته اشاره کړې ده، په ځو کرښو کې ولیکي او د هر حکم د استدلال ځای دې په آیت کې وټاکي.

# د (البقرة) سورت (۱۸۹ - ۱۹۳) آیتونه

﴿یسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ
الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۱۸۹﴾ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ
يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ
حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِنْ
قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿۱۹۱﴾ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۱۹۲﴾ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى
لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿۱۹۳﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{الْأَهِلَّةِ} د (هلال) جمع ده او په عربی کې نوي میاشتې ته وایي (له لومړۍ ورځې نه تر دریمې ورځې پورې).

{ وَاقِيتُ } د (میقاة) جمع ده، یعني: ټاکلي وختونه.

{ سَبِيلِ اللَّهِ } د الله رضامندی ته رسیدونکې لاره چې اسلام دی.

{لَا تَعْتَدُوا} له حده تیری مه کوئ.

{حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ} هر چیرته یې چې ومومئ.

{الْفِتْنَةُ} مراد ترې له الله تعالی سره شرک دی.

{الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} مراد ترې کعبه او شا او خوا حرم دی.

## ژباړه

(ای محمده!) خلک له تا څخه د نویو میاشتو (د نرۍ کېدو او غټېدو) په اړه پوښتنه کوي، دوی ته ووایه چې هغه ټاکلي وختونو دي لپاره د خلکو او د حج او نه ده نېکي (دا) چې کورونو ته د هغو د شا له لوري ننوځئ، خو نېکي دا ده چې څوک له الله څخه وویرېږي او راشئ کورونو ته د هغو د دروازو له لوري او وویرېږئ له الله څخه د دې لپاره چې تاسې (د الله له عذابه) خلاص شئ او په خپل مراد ورسیږئ. او جنګ کوئ (ای مؤمنانو!) په لاره د الله کې له هغو کسانو سره چې له تاسې سره جنګ کوي، خو تیری مه کوئ، بیشکه الله تعالی له حده تیرېدونکي نه خوښوي او ووژنئ دوی هر چیرته یې چې ومومئ او وباسئ دوی له هغه ځایه چې تاسې یې ایستلي یاست او فتنه (شرک او فساد) له وژلو څخه ډېر سخت دی. او له دوی سره مسجد الحرام ته نژدې جنګ مه کوئ تر هغه پورې چې وجنګیږي دوی

له تاسي سره په دغه حرم کې، نو که جنگ وکړي دوی له تاسې سره، نو ووژنئ دوی، همداسې ده جزاء د کافرانو، که چېرې منع شول هغوی (له شرکه)، نو بېشکه الله تعالی ډېر ښښونکی او مهربانه دی او جنګ وکړئ تاسې له دوی سره تر هغه پورې چې فتنه (شرك او فساد) پاتې نشي او دین (حکم) خاص الله لره شي، نو که چېرې دوی (له شرکه) لاس په سر شول، نو نشته هېڅ تېری مګر پر ظالمانو.

## اجمالي تفسير

لکه څرنګه چې په تېرو شویو آیتونو کې د روژې احکام بیان شول، د دې لوست په آیتونو کې د حج احکام بیانیږي، د دې دوارو لویو واجباتو ترمنځ د هلال یادونه ځکه وشوه چې د دوارو ټاکلي وختونه په دې سره معلومیږي.

د دې ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ ...﴾ آیت شان نزول دا و چې ځینو صحابه وو کرامو له نبي کریمﷺ څخه د میاشتې د نریوالي او لویوالي د علت په اړه پوښتنه وکړه، الله تعالی خپل رسول ﷺ ته خبر ورکړ، ترڅو دوی ویوهوي چې دا نریوالی او لویوالی د دې لپاره دی، ترڅو بنده ګان خپل ټاکلي وختونه وپېژني، میاشتې وپېژني، د روژې او حج وختونه هغوی ته څرګند شي، ښځې خپل عدتونه وپېژني او عامو خلکو ته په اخیستلو او پلورلو کې د قرضونو د ادا کولو او داسې نورو معاملو وختونه معلوم شي، چې همدا د میاشتې د کموالي او زیاتوالي حکمتونه دي. نو تاسې باید د الله تعالی د هدایت او لارښوونو پر وړاندې د الله شکر ادا کړئ.

## د آیت له لومړۍ برخې سره د دویمې برخې اړیکه

کله چې په مبارك آیت کې د هلال ذکر وشو او د هغه د یادونې علت د روژې او حج مسئله او د دې دوارو وختونو تعین او ټاکل وو، د دې آیت په دویمې برخې کې داسې خبره بیانیږي چې هغه هم د یو شمېر خلکو د حج په کړنو پورې اړه لري، له اسلام څخه دمخه د جاهلیت په زمانه کې د مدینې منورې خلکو داسې عادت درلود چې کله به يې د حج یا عمرې په نیت احرام وتاړه او له خپله کوره به ووتل، نو بیا به چې د کوم ځانګړي کار او ضرورت لپاره دویم ځلې کور ته ننوتل، نو د دروازې له لارې به نه داخلیدل، بلکې د کور د شا دیوال به يې سورۍ کاوه او د هغه له لارې به کور ته ننوتل او دا کار يې عبادت او طاعت ګاڼه، الله ﷻ دا جاهلي طریقه باطله کړه او ويې فرمایل: نېکي او تقوی په داسې ډول بدعتونو کې نشته، خپلو کورونو ته له دروازې داخل شئ که څه هم د حج یا عمرې لپاره مو احرام تړلی وي او له الله څخه وویریږئ چې ستاسو بریا په همدې کې ده.

﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ ...﴾: دا درې مبارك آیتونه د هغو لومړنیو آیتونو له جملې څخه دي چې له مشرکانو سره د جنګ او جهاد په اړه نازل شوي وو. د الله رسول او مسلمانانو ته پکې د جنګ اجازه شوې ده، ځکه چې مشرکانو به د دوی پر نفسونو او مالونو تېری کاوه. له«سَبِيلِ اللَّهِ» څخه مراد د الله د کلمې او دین لوړوالی

دی، یعنې دا چې له جهاد څخه باید د الله د دین له لوړوالي څخه پرته بل هیڅ شی هدف و نه اوسي، په لومړي او دویم مبارکو آیتونو کې څو شیانو ته اشاره شویده:

لومړی دا چې تاسې له هغو کسانو سره جنګ وکړئ چې تاسو سره جنګ پیل کوي او له هغو کسانو سره چې ستاسې په لوري لاسونه نه اوږدوي، مه جنګیږئ.

دویم دا چې که جنګ کوونکي مو په هر ځای کې ومونډل، ویې څپئ، بلکې له خپلو کورونو څخه یې وشړئ، لکه څرنګه چې یې تاسې له خپلو کورونو او هېواد څخه شړلي یئ.

دریم دا چې تاسو ته د دوی په وژلو کې هیڅ ډول اندیښنه پیدا نشي ، ځکه د دوی فتنه او فساد چې مسلمانان په ډول، ډول عذابونو او دوکو کفر او شرک ته مجبوروي، دا له جنګ او وژنې څخه ډېر سخت او ناوړه عمل دی.

څلورم دا چې که تاسې د پاك حرم یعنې کعبې شریفې او د حرم په چاپېریال کې یاست، نو جنګ ته هڅه مه کوئ او د حرم حرمت وساتئ، مګر په هغه صورت کې چې دوی له تاسو سره په همدې حدودو کې جنګ پیل کړي، بیا د دفاع حق لرئ.

په پای کې دا بیانوي چې دا وژنه او له وطن څخه شړل د هغو کافرانو سزا ده چې د نورو په دین او ځانونو تېری کوي.

په دریم مبارك آیت کې د الله د مهربانۍ پراخۍ ته اشاره شوې ده او فرمايي: که چیرې دا کسان له خپل کفر، شرك او تېرېو څخه راوګرځي او ایمان راوړي، پرته له شکه الله ببښونکی او مهربانه دی، په هغه صورت کې به د دوی ټول پخواني جرمونه معاف او دښمنۍ به یې په دوستۍ بدلې شي.

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ...﴾: دا مبارك آیت د تېرو آیتونو تاکید کوي. په دې آیت کې له مشرکانو سره د تل لپاره جنګ او جهاد اجازه ورکړ شوې ده، ترڅو په مکه مکرمه کې بیا هیڅ مسلمان د دین او عقیدې لپاره په عذاب نشي، بلکې هیڅ ډول شرك او بې دینې شتون ونه لري او دین یوازې د الله دین وي. د آیت په پای کې یو ځل بیا تاکید کیږي چې که دا کسان له خپلو عملونو او عقایدو څخه راوګرځي، نو پوه دې شي چې د اسلام او مسلمانانو دښمني یوازې له ظالمانو سره ده.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په دین کې د بدعت په اړه، له یوبل سره خبرې وکړي او د مبارکو آیتونو او د علماوو د ویناوو په رڼا کې دې، د هغه حکم بیان کړي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

⭐ مسلمان بايد د هغو شيانو په اړه پوښتنه وکړي چې په هغو کې ګټه موجوده وي او د هغه څه په اړه دې پوښتنه و نه کړي چې په دوی پورې اړه نه لري او يا يې د عقل او پوهې له پولې څخه بهر وي.

⭐ د مسلمانانو لپاره قمري مياشتې ډېر ارزښت او اهميت لري، ځکه د هغو په وسيله ډېر عبادتونه پېژندل کيږي.

⭐ د بدعت حرمت او عدم جواز، که څه هم هغه د عبادت او اجر په نيت وي.

⭐ له مسلمانانو سره چې څوک جنګ کوي، له هغوی سره جهاد واجب دی.

⭐ د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو پر ضد جنګ او تېری جواز نه لري، مګر دا چې دوی په جنګ لاس پورې کړي.

⭐ د مکې معظمې د پاک حرم په چاپېريال کې جنګ حرام دی، مګر داچې دښمن جنګ پېل کړي.

⭐ اسلام راوړل ټولې پخوانۍ کړنې له منځه وړي.

⭐ کله چې د يوې سيمې مسلمانان د خپل دين او عقيدې په خاطر له تېري او آزار سره مخ شي، جهاد واجبيږي.

## پوښتنې

١- لاندې کلمې وژباړئ:

**{الأهلة}، {المواقيت}، {ولا تعتدوا}، {ثقفتموهم}، {الفتنة}، {فلا عدوان}.**

٢ـ د مياشتې په اړه د صحابه کرامو د پوښتنې مراد څه و؟

٣ـ د دې لوست آيتونو د مسلمانانو لپاره د جنګ او جهاد د اجازې علت او دليل څه ګڼلی دی؟

٤ـ د جهاد مقصد او موخه بايد څه وي؟

٥ـ په کعبې او حرم شريف کې د جنګ حکم څه دی؟

## کورنۍ دنده

د دې ﴿فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ مبارک آيت په تفسير کې يوه لنډه مقاله وليکئ چې د الله تعالی پراخې عفوې، مهربانۍ او د اسلام لوړتيا او لويۍ ته شامله وي.

# د (البقرة) سورت (۱۹۴ - ۱۹۵) آیتونه

﴿ الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى
عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾ وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى
التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ
مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ
فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ
فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ
حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ ﴾

## د ځینوکلمو معنا

{الشَّهْرُ الْحَرَامُ} هغه میاشت چې جنګ او جګړې پکې حرامې وي، هغه څلور میاشتې دي: ذي القعده، ذي الحجه، محرم او رجب.

{الْحُرُمَاتُ} د (حرمة) جمع ده، یعني هغه شیان چې (پر هغو یا له هغوسره) تیری کول حرام دي، لکه: حرامه میاشت، بلد حرام، احرام او داسې نور.

{التَّهْلُكَةِ} هلاکت.

{أَحْسِنُوا} احسان او نیکي وکړئ.

{وَأَتِمُّوا} او بشپړ کړئ.

{أُحْصِرْتُمْ} له احصار څخه موخه دا ده چې حاجي د دښمن یا سخت رنځ، له کبله حج یا عمرې ته له رسیدو څخه منع شي.

{مَا اسْتَيْسَرَ} هغه څه چې آسانه وي.

## ژباړه

حرامه (د حرمت) میاشت په بدل د حرامې (حرمت) میاشت کې ده او د ټولو حرمتونو مراعاتول یو شان برابر دي؛ نو که څوک پر تاسې تیری وکړي، تاسې هم په هماغه ډول پر هغه تیری وکړئ، البته له الله نه په وېره کې اوسئ او په دې وپوهیږئ چې الله له متقیانو سره (چې د هغه د حدودو له ماتولو نه ډډه کوي) مل دی. د الله په لار کې(مال) ولګوئ او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کې مه غورځوئ. ښیګڼه کوئ چې

الله ښیګڼه کوونکي خوښوي. د الله (د رضا) لپاره حج او عمره ترسره کړئ او که ایسار شئ، نو هر څه قرباني مو چې له لاسه پوره وي، د الله حضور ته یې وړاندې کړئ او خپل سرونه مه خریئ تر هغه پورې چې قرباني خپل ځای ته نه وي رسیدلې؛ خو که څوک ناروغ وي یا یې په سر کې څه تکلیف وي (او له دې امله خپل سر وخریي)، نو هغه ته دا په کار ده چې د فدیې په توګه روژې ونیسي یا خیرات وباسي یا قرباني وکړي. بیا که تاسو ته امنیت په برخه شو، نو چا چې له تاسې څخه له عمرې نه ګټه واخیستله (تر سره یې کړه) له حج سره، هغه دې د خپل وس په اندازه قرباني وکړي او که یې قرباني و نه موندله، نو درې روژې دې د حج په دوران کې ونیسي او اوه روژې له ستنیدو (د حج د کړنو له فراغت څخه) وروسته، چې دا پوره لس (روژې) شوې، (حج تمتع) د هغه چا لپاره دی چې کور، کهول یې مسجد حرام ته نژدې نه وي، د الله د دې حکمتونو له تخلف نه ځان وژغورئ او په دې ښه وپوهیږئ چې الله تعالی ډېر سخت سزا ورکوونکی دی.

**اجمالي تفسیر**

﴿الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ...﴾: د حضرت ابراهیم خلیل الله (علیه السلام) له زمانې څخه مکه مکرمه د امن او امان ځمکه وه، همدارنګه څلور میاشتې ذي القعده، ذي الحجه، محرم او رجب د امن او سلامتیا میاشتې وې، چې په دې میاشتو کې په ټوله عربي خاوره کې جنګ او تېری حرامیده، د هجرت په شپږم کال په ذي القعده کې، رسول اللهﷺ له یوې ډلې صحابه وو سره د عمرې په نیت د کعبې په لور روان شو، کله چې کعبې ته نژدې شول، مشرکانو مسلمانان د کعبې شریفې له زیارت کولو څخه منع کړل، په پایله کې یې د صلحې تړون ولیکه، چې سږ کال به مسلمانان پرته له زیارت کولو بېرته ستنیږي او راتلونکي کال ته به راځي او عمره به کوي، درې ورځې به په ډاډ او اطمینان سره په کعبه کې وي او له دریو ورځو وروسته به بېرته ستنیږي. کله چې د هجرت د اووم کال په ذي القعده، پیغمبرﷺ د کعبې قصد وکړ، نو صحابه کرام په دې فکر کې شول چې که چیرې د مکې خلکو خپل تړون او ژمنه ماته کړي او جنګ ته چمتو شي، نو باید څه وکړو؟ که ورسره جنګیږو حرامه میاشت ده او موږ هم په احرام کې یو او مکان هم د مکې معظمې حرم دی، که ورسره نه جنګیږو عمره به څرنګه ادا شي، نوځکه دا مبارک آیت او له دې څخه مخکې آیتونه چې په هغو کې د جنګ اجازه ورکړل شوې وه، د دې اندیښنې د لرې کولو لپاره نازل شول.
په دې آیت کې دې ته اشاره شوې ده چې د ذي القعدې دا حرامه میاشت د پروسږني ذي القعدې په عوض کې ده، چې کافرانو تاسې له عمرې څخه بند کړي وئ، اوس پرته له اندیښنې او باک څخه، که چیرې مو له هغوی څخه ناسم چلن ولید، نو خپل غچ واخلئ؛ ځکه حرمت د حرمت په مقابل کې او ټول حرمتونه باید په برابره توګه مراعات شي، هر کله چې دوی یو ځل د میاشتې حرمت مات کړ، که دویم ځل یې بیا داسې کار وکړ، نو تاسې هم د هیڅ ډول حرمت خیال مه ساتئ او په ورته عمل لاس پورې کړئ او په خپلو ټولو کارونو کې د الله خوشحالي وغواړئ؛

ځکه چې الله له پرهیزګارانو سره مل دی.

**یادونه**: د حرمت لرونکې میاشتو حرمت د اسلام په دین کې منسوخ شوی دی او دلیل پرې دا دی چې رسول الله ﷺ د هوازن او ثقیف قبیلو سره د شوال او ذي القعدې په میاشتو کې جهاد پیل کړ، چې دواړه حرمت لرونکې میاشتې دي.

﴿وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ...﴾: دا مبارک آیت مسلمانانو ته د جهاد د تجهیز او تیارۍ لپاره د مالونو په لګولو امر کوي او هغوی له دې څخه ویروي چې که چیرې له دې لوی کار څخه غفلت غوره کړي، نو په حقیقت کې خپل ځانونه تباه کوي، ځکه د دوی دښمنان په مورچو کې دي، کله چې د دوی سستي او غفلت وویني، نو فرصت غنیمت ګڼي او پر دوی یرغل کوي، چې په پایله کې به دوی خوار او ذلیل شي.

﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ...﴾: الله تعالی په دې آیت کې خپلو مؤمنو بنده ګانو ته امر کوي چې د الله تعالی لپاره حج او عمره په سمه توګه او په بشپړ اخلاص سره ادا کړي او که کوم مانع پیدا شو او ایسار شوئ، نو هر څه قرباني مو چې له لاسه پوره وي، د الله حضور ته یې وړاندې کړئ او خپل سرونه مه خریئ، تر هغه پورې چې قرباني خپل ځای ته نه وي رسیدلې.

همدارنګه د دې حکم په مناسبت بل حکم هم بیانوي، هغه دا چې که څوک کومه ناروغي ولري یا په سر کې ورته څه ستونزه پیدا شي او د هغه له امله د سر خریلو یا پټولو ته مجبور شي، نو د فدیې په ورکولو سره کولای شي دا کار تر سره کړي او دی اختیار لري چې د فدیې له دریو شیانو څخه یو شی غوره کړي: یا دې درې ورځې روژه ونیسي یا شپږو مسکینانو ته خوراک ورکړي او یا یو پسه حلال کړي. په پای کې دا تعلیم هم ورکوي چې که څوک غواړي د حج په میاشت کې دوه مستقلې ګټې حاصلې کړي، یعنې هم عمره وکړي او بیا احرام وتړي او حج ادا کړي، نو پر ده واجب دي چې یو څاروی ذبح او خیرات کړي او که د څاروي ذبح کولو توان ونه لري، نو د ذی الحجې د میاشتې د دریو لومړیو ورځو روژه دې ونیسي او کله چې د حج له کړنو فارغ شي، بیا دې اوه ورځې روژه ونیسي، البته دا حکم د هغه چا لپاره دی چې په مکه مکرمه کې میشت نه وي.

### فعالیت

زده کوونکي دې د تفسیر د ښوونکي په مرسته د لوست د آیتونو په رڼا کې د جهاد د پریښودلو او د الله ﷻ په لار کې د مال د نه لګولو د ناوړو پایلو په اړه ډلیزه خبرې او مناقشه وکړي.

## د لوست گټې

ځينې هغه گټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

- ☆ له تېرې کوونکو سره د اسلامي شريعت د احکامو پر بنسټ، د ورته کړنې جواز.
- ☆ د ايمان، تقوى او احسان له خاوندانو سره د الله ملاتړ او ملتيا.
- ☆ د احسان کولو فضيلت او ارزښت.
- ☆ د حج او عمرې د ځينو احکامو بيانول.
- ☆ د احصار (د حج او عمرې له ادامې څخه د منع کيدلو) د حکم بيان، يعني د څاروي ذبح کول، له احرام څخه وتل او په بل مناسب وخت کې د حج او عمرې قضايي اداکول.
- ☆ د احرام په حالت کې د سر د خريلو، پټولو يا د گنډل شوي لباس د اغوستلو د فديې بيان (روژه نيول، مسکينانو ته خوراک ورکول يا د څاروي ذبح کول).
- ☆ د تمتع (په دوو بېلو، بېلو احرامونو سره د عمرې او حج ترمنځ يوځايوالى) د حکم بيان چې د پسه حلالول يا لس ورځې روژې نيول دي.

**پوښتنې**

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{الحرمات}، {التهلكة}، {أُحصرتم}، {الهدي}، {ما استيسر}.**

۲- د حرمت مياشتې څو دي، نومونه يې واخلئ؟

۳- د ديني حرمتونو څو بېلگې ذکر کړئ؟

٤- د حج يا عمرې د بشپړولو معنا او مفهوم څه دى؟

۵- د مبارک آيت دا برخه ﴿فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ﴾ تفسير کړئ.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې شرعي احکام؛ لکه: احصار، تمتع او د احرام د ممنوعاتو ارتکاب( لکه، سرخريل، يا د سر پټول، يا د ناروغۍ يا بل عذر په سبب د گنډلو جامو اغوستل) د دې لوست له آيتونو څخه راوباسي او په يوه پاڼه کې دې وليکي.

# د (البقرة) سورت (۱۹۷ - ۲۰۲) آیتونه

﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا
مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ
وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ﴿۱۹۸﴾ ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ
رَحِيمٌ ﴿۱۹۹﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمْ مَنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا
آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ
حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ أُولَئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾﴾

## د ځينو کلمو معنا

{أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ} معلومې او ټاکلې مياشتې (چې د شوال، ذوالقعدې او د ذو الحجې له لسو ورځو څخه عبارت دي).

{فَرَضَ} لازم وګرځاوه.

{رَفَثَ} جماع او د جماع مقدماتو ته ويل کيږي.

{فُسُوقَ} د واجبو په ترک کولو يا د حرام کار په کولو سره، د الله له پيروی څخه وتل دي.

{جِدَالَ} دښمني او جګړې.

{جُنَاحٌ} ګناه.

{فَضْلًا} هغه ګټه چې د سوداګرى له مال څخه لاس ته راځي.

{أَفَضْتُمْ} (افاضه) د ذي الحجې په نهمه د لمر له ډوبيدو وروسته، له عرفات څخه مزدلفې شريفې ته د حاجيانو راکوزيدل دي.

{الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ} موخه ترې مزدلفه ده.

{قَضَيْتُمْ} ادا موکړ او وزګار شوئ.

{الْمَنَاسِك} د (مَنْسَک) جمع، د حج مختلف عبادتونه.

{خَلَاقٍ} حصه او برخه.

## ژباړه

د حج مياشتې ټولو ته څرګندې دي ځوک چې په دې ټاکلو مياشتو کې د حج نيت وکړي، هغه بايد (په دې خبر

اوسي چې) د حج په دوران کې له هغه څخه شهواني عمل، څه ناوړه کړنه او جنګ او جګړه و نشي، او تاسې چې څه نېکي کړنې کوئ، الله يې پوهيږي، د حج د سفر لپاره د لارې توښه درسره واخلئ او تر هر څه د لارې ښه توښه پرهيزګاري ده. نو ای هوښيارانو! زما له نافرمانۍ نه ډډه وکړئ. که (له حج کولو سره، سره) تاسې د خپل رب د فضل(مال ګټلو) په لټه کې هم شئ، نو څه باك نه لري بيا چې کله له عرفات نه څئ، نو په مشعر الحرام(مزدلفه) کې (ايسار شئ) الله ياد کړئ او په هغه شان يې ياد کړئ چې تاسې ته يې لارښوونه کړې ده او بېشکه چې تاسې پخوا له هدايته خامخا له ګمراهانو څخه وئ. بيا له کوم ځای نه چې نور خلك راګرځي له هماغه ځايه تاسې هم راوګرځئ او له الله نه ښښنه وغواړئ، په يقيني توګه هغه ښښونکی او رحم کوونکی دی. نو هر کله چې تاسې د حج افعال اداء کړل، نو يادوئ الله لکه چې يادوئ پلرونه خپل، بلکې ډېر زيات يادول، نو ځينې له خلکو څخه هغه څوك دي، چې وايي: "ای ربه زموږ! راکړه موږ ته په دغه دنيا کې(زموږ برخه مال او جاه)" او نشته ده لره په آخرت کې هېڅ برخه او ځينې له دوی څخه هغه څوك دي چې وايي: "ای زموږ ربه! راکړه موږ ته په دغه دنيا کې نېکي (نعمت) او په آخرت کې نېکي (جنت) او وساته موږ د (دوزخ) د اور له عذابه"، دغه کسان شته دوی لره لويه برخه د هغو ښو اعمالو له سببه چې دوی کړي دي او الله د حساب ژر اخيستونکی دی.

## اجمالي تفسير

﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ...﴾: د حج او عمرې د ذکر شويو احکامو په لړۍ کې دا مبارك آيتونه هم د حج په اړه بحث کوي. څرنګه چې حج د اسلام رکن او له حکمت څخه ډك دی، نوځکه د حج په اړه مختلف هدايتونه او لارښوونې نازلې شوې دي. په دې مبارك آيت کې الله تعالی خبر راکوي چې د حج لپاره معلومې مياشتې دي او يوازې په هغو کې د حج لپاره احرام تړل کيږي، نه په نورو کې. همدارنګه خبر راکوي چې کوم کسان د حج لپاره احرام تړي، په هغو واجب دي چې ښځو سره له جماع، له ګناهونو، له جنګ او جګړې څخه ځان وژغوري، ځکه دا عبادت روزنيز او تزکيوي جنبه لري او په حقيقت کې يوه ازموينه ده چې هر سړی بايد له پېل څخه تر پايه پر خپل نفسي غوښتنو بشپړ کنټرول ولري، ترڅو همدا حالت حج نه وروسته هم دوام ومومي. په پای کې مسلمانان خبروي چې د حج لپاره د ځان سره توښه اخيستل د تقوی خلاف نه دي، بلکې د حج سفر سره لازم دي، ترڅو حاجي د بل په اوږو بار نشي او لاس درويزې ته اوږد نکړي.

﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ...﴾: په دې مبارك آيت کې الله تعالی د حج په سفر کې د سوداګرۍ له لارې د حلالې روزۍ لاس ته راوړل، حاجي ته رواګڼي او د هغو خلکو عادت کاملاً مردودګڼي چې ځانونه به يې واقعي توکل کوونکي بلل او په خالي لاسونو به د حج لپاره روانيدل. دلته قرآن کريم قوي او مالدار مسلمان ته، چې له حلالو لارو څخه پاکه روزي حاصلوي، ترجيح ورکړې او هغه تشويقوي چې د الله له حلالې

روزۍ او ګټو څخه استفاده وکړي، البته د دې یادونه هم کوي او اخطار ورکوي چې سوداګرۍ تاسې د الله له یاده غافل نه کړي. ﴿فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ﴾، یعنې: کله چې له عرفاته راکوز شوئ، په مزدلفه شریفه کې الله یاد کړئ. مفسرینو ویلي دي چې له دې آیت څخه موخه په جمع (یو ځای اداکولو) سره د ماښام او ماسختن د لمونځونو اداکول دي، یعنې په (جمع التأخیر سره) لکه څرنګه چې نبوي حدیث د دې بیان کړی دی. همدارنګه په خپل وخت د سهار د لمانځه اداکول دي، البته د الله ذکر عام دی چې لمانځه، د قرآن کریم تلاوت، تسبیح، تهلیل او نورو ته شاملیږي.

﴿ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ...﴾: اسلام یو داسې دین دی چې ټول قومي، قبیلوي او نژادي اختلافونه له منځه وړي او منسوخ یې ګڼي، هیڅ یوه ته پرته له تقوی او پرهیزګارۍ پر بل ترجیح او غوره والی نه ورکوي، بنا پردې دا مبارک آیت د جاهلیت یو بل عادت ته اشاره کوي او هغه له منځه وړي، هغه دا چې د قریشو قبیله او د هغوی حلیفان چې په (حُمْس) مشهور وو، د مزدلفې په ډګر کې پاتې کېدل او د عرفات غونډۍ ته نه جګیدل او کله به چې نور حاجیان مزدلفې ته را ورسیدل، دوی به ورسره یوځای کېدل او د منی په لوري به یې حرکت کاوه، په دې دلیل سره چې عرفات له حرم څخه بهر دی او موږ باید د حرم نه دباندې نه شو او دا به یې د خپل ځان غوره والی باله، قرآن مجید فرمایي: له هغه ځایه چې عام خلک راکوزیږي، یعنې له عرفات څخه، تاسو هم راکوز شئ او له خپلو تېرو شویو کړو وړو څخه توبه وباسئ چې الله بښونکی او مهربانه دی.

﴿فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ...﴾: دا د حج د احکامو وروستی آیت دی، د جاهلیت په زمانه کې خلکو دا عادت درلود چې کله به د حج له مراسمو وزګار شول، نو یوځای به راټولیدل، خپل پلرونه او دهغوی ویاړنې به یې ډېرې یادولې او په خپلو نسبونو به یې ویاړ کاوه، دې مبارک آیت لومړی مسلمانانو ته دستور ورکړ چې کله د حج له مناسکو، یعنې له جمرو ویشتلو، قرباني او فرضي طواف څخه فارغ شئ، نو باید د خپلو پلرونو د یادولو پر ځای، د الله د نعمتونو شکریه او په ځانګړې توګه د حج د نعمت د پوره کولو شکریه ډېره زیاته یاده کړئ. بیا د مختلفو وګړو د حال حقیقت بیانوي، په ځانګړې توګه هغه کسان چې له اسلام څخه مخکې وو او هغه کسان چې وروسته په اسلام له مشرف کېدو د حج فریضه اداکوي، یو شمېر خلک په خپلو دعاګانو او زاریو کې یوازې د دنیا غوښتنه کوي او بس، نو دا ډول خلک د دې آیت له مخې په آخرت کې برخه نه لري او ځینې نور د دنیا او آخرت دواړو ښیګڼې غواړي او د الله له عذابه د خلاصون دعا کوي. مسلمان باید له دې مبارک آیت څخه په درس اخیستلو داسې په دنیا مین نشي چې ټول فکر او غم یې دنیا واوسي، بلکې آخرت او هغه څه چې په آخرت کې د خلاصون لامل ګرځي هغه ته هم پاملرنه وکړي او د دنیا او آخرت ترمنځ داسې انډول برقرار کړي، ترڅو د ژوندانه په کړو وړو کې یې هم انډول رامنځته شي.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- د احرام په حالت کې د جماع او جنګ کولو د حرمت بیان.
- د حاجي لپاره د حج په وخت کې د نیکو چارو د ترسره کولو فضیلت، ترڅو زیات اجر ترلاسه کړي.
- د حاجي لپاره د حلالې روزۍ پیدا کولو په نیت د سوداګرۍ او کار رواوالی، په دې شرط چې له حج څخه یې موخه یوازې سوداګري نه وي.
- په مزدلفه کې د وقوف واجبوالی.
- په ذکر او اطاعت سره د الله تعالی د هدایت او لارښوونې پر نعمت باندې شکر ایستل.
- د حج د مناسکو په اداکولو کې د ټولو خلکو ترمنځ د مساوات او برابرۍ واجبوالی.
- د الله ډېره یادونه او له ده څخه د ښېګڼې په غوښتلو کې هڅه او هاند.
- له الله تعالی څخه د دنیا او آخرت د ښېګڼو د غوښتلو فضیلت.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې وژباړئ:

{فلا رفث}، {ولا فسوق}، {ولا جدال}، {فضلاً}، {المشعر الحرام}، {المناسك}، {خلاق}.

۲ـ د حج میاشتې کومې دي؟

۳ـ د حج له محرماتو څخه درې شیان ذکر کړئ؟

٤ـ قرآن کریم کومو کسانو ته «تزوّدوا» فرمایلي دي؟

۵ـ په مشعر الحرام کې د الله ذکر، کومو شیانو ته شاملیږي؟

٦ـ د جاهلیت په زمانه کې د پلرونو ذکر څرنګه و او قرآن کریم پدې اړه خپلو پیروانو ته څه هدایت کوي؟

۷ـ د دعاکوونکو هغه دعا چې ذکر شوي آیت ستایلې ده، کومه دعا ده؟

### کورنۍ دنده

یادو شویو آیتونو د جاهلیت له عادتونو څخه درې عادتونه را په ګوته کړي او مردود یې ګڼلي دي، هغه واضح کړئ او په دې اړه د قرآن کریم لارښوونې په لنډه توګه ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۰۳- ۲۰۶) آيتونه

﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَى وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿۲۰۳﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾﴾

## د ځينوکلمو معنا

{مَعْدُودَاتٍ} شمېرل شوي (د اختر له ورځې وروسته د تشريق درې ورځې).

{تَعَجَّلَ} تلوار وکړي.

{تَأَخَّرَ} تأخير وکړي.

{فَلَا إِثْمَ} نو گناه نشته.

{تُحْشَرُونَ} د قيامت په ورځ د حساب لپاره به جمع کړای شي.

{يُعْجِبُكَ} په تعجب کې اچوي تا، او ته هغه ښه گڼې.

{فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} په دنيوي چارو کې.

{أَلَدُّ} سخت او شديد.

{الْخِصَامِ} دښمني.

{الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ} حرث: کښت، نسل: خوځات .

{الْعِزَّةُ} کبر او تعصب.

## ژباړه

او يادوئ! الله (د تشريق د تکبيراتو په ويلو سره) په څو شمېرلو ورځوکې، بيا که څوک تلوار وکړي په دوو ورځو کې(له منى څخه راستون شي)، نو وبال يې نشته او که څوک وځنډېږي (راستنيدل دريمې ورځې ته وځنډوي)، نو هم څه باک نه لري، د هغه چا لپاره چې (دې ورځوکې) يې تقوا غوره کړې وي. د الله له نافرمانى څخه ځان وژغورئ

او ښه پوه شئ چې یوه ورځ د هغه حضور ته ستاسې ورټولېدل دي. او ځینې له خلکو څخه هغه څوک دي، چې تا د هغه خبره (د دې) دنیا د ژوندون (په کارو) کې په تعجب کې اچوي او شاهد ګرځوي الله په هغه شي چې د ده په زړه کې دي، حال دا چې هغه (د حقیقت) ډېر سخت دښمن دی. او کله چې بېرته وګرځي (له تانه ای محمده!) نو (د مدینې) په ځمکه کې د هغه هلې ځلې د دې لپاره وي چې په هغې (ځمکه) کې فساد خپورکړي او هلاك کړي کښت او ساکښان (په سوځولو او وژلوسره)، حال دا چې الله فساد (او معصیت) نه خوښوي او کله چې ده ته وویل شي، چې له الله ووېرېږه، نو ونیسي دی غرور (په کولو) د ګناه، نو ده لره د دوزخ (د اورعذاب) کافي دی او هغه (د دوزخ دا اور) ډېر بد استوګنځی دی.

## اجمالي تفسیر

﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ...﴾: الله تعالی خپلو بنده ګانو ته امر کوي چې د تشریق په ورځو کې د الله د ذکر اهتمام وکړئ، چې د صحابه وو د روایاتو او ویناوو پر بنسټ دا ورځې د ذي الحجې له یوولسمې، دولسمې او دیارلسمې ورځې څخه عبارت دي. د الله تعالی دا ذکر او یادونه باید په ټولو وختونو او په ځانګړې توګه د جمرو ویشتلو په وخت او په جماعت سره د پنځه ګونو لمونځونو له اداکولو څخه وروسته وي. د ذکر دا وجوب یوازې د حاجیانو لپاره نه دی، بلکې د ټولو لمونځ کوونکو لپاره دی او د ذکر کلمات دا دي: الله أکبر، الله أکبر لا إله إلا الله، الله أکبر ولله الحمد. البته کوم ذکر چې د پنځه ګونو لمونځونو لپاره دی، هغه د عرفې ورځې د سهار په لمانځه پسې پېلیږي او د اختر د دریمې ورځې ترمازیګره پورې دوام مومي. د دې آیت په پای کې د کار د آسانتیا لپاره دا حکم نازل شوی، که چیرې څوك غواړي چې د تشریق د دویمې ورځې له جمرو ویشتلو څخه وروسته خپل کور ته ستون شي، نو څه وبال او باك پرې نشته، خو مبارك آیت دا اختیار او رواوالی تقوی پورې تړلی بولي، چې هغه د واجباتو اداکول او د محرماتو پرېښودل دي، نو که څوك کومه بله ګناه ترسره کړي، پرته له شکه پر ده به د هغه وبال وي.

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا...﴾: دلته د حج احکام پای ته ورسیدل او د دې احکامو په ترڅ کې دوه ډوله خلکو ته اشاره وشوه، یو هغه مشرکان چې یوازې د دنیا غوښتونکي وي: ﴿فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا﴾ او بل هغه شمېر مؤمنان دي چې له خپل الله نه د دنیا او آخرت دواړه ښیګڼې غواړي: ﴿وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ...﴾، اوس په دې اړه د منافقانو د حال بیان راځي چې هغه دریمه ډله ګڼل کیږي. الله تعالی په دریو پرله پسې آیتونو کې خپل پیغمبر(او د ده د لارې مؤمنانو ته) خبر ورکوي، چې له خلکو څخه ځینې داسې کسان شته چې کله تا سره خبرې کوي، د دوی د ژبې تیزوالی په هغه کچه دی، چې ته به ورته حیران پاتې شې او په خپلو دروغجنو

قسمونو داسې څرګندوی چې تا ته تر ټولو زيات اخلاص لري، حال دا چې دوی ستا ډېر سر سخت دښمنان دي، داسې کسان چې کله ستا له مجلسه وځي، نو کار يې په ځمکه کې فساد او تخريب دی، آن تر دې چې په کښتونو او څارويو هم رحم نه کوي، که پر هغو برلاسی شي ټول شيان له منځه وړي، خو دوی دې وپوهيږي چې د دوی منافقانه کړه وړه، د الله پر وړاندې ډېر بد او ناوړه دي او الله تعالی نه دوی او نه د دوی کړه وړه خوښوي.

په دريم آيت کې د دې منافقانو يو داخلي صفت ته اشاره شوې ده، که چيرې دوی ته پند او نصيحت وشي چې له الله نه ووېرېږئ او له جرمونو او ګناهونو څخه لاس واخلئ، نو سر تر پايه په تکبر، غرور او ځان ښودنه کې ډوبيږي او هيڅکله يې زړونو ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر لار نه مومي، پرته له شکه د ټولو غبرګونونو لامل هغه ګناهونه دي چې د دوی زړونه يې تور کړي، نو د داسې خلکو ځای جهنم دی چې تر ټولو بد ځای دی.

د دې آيتونو د شان نزول په اړه ويل شوي چې مراد ورڅخه (اخنس بن شريق) و چې ډېره تېزه، چالاکه ژبه او له کينې ډک زړه يې درلود، او کله به چې له رسول الله ﷺ سره يوځای کېده، ځان به يې رښتينی او مخلص معرفي کاوه، خو د پردې تر شا به يې له هيڅ ډول دښمنی څخه ځان نه سپماوه.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د تشريق د ورځو، د تشريق د تکبيرونو او د دې تکبيرونو د مودې په هکله له يو بل سره بحث او مناقشه وکړي، ترڅو د ﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ﴾ مبارک آيت تفسير واضح شي.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

- ☆ د الله له ذکر سره يوځای، په مناکې دوه يا درې ورځې پاتې کيدل او د جمرو ويشتلو واجبوالی.
- ☆ د هغه چا لپاره د سفر کولو اجازه چې د تشريق د دويمې ورځې جمرې يې ويشتلې وي.
- ☆ د حشر او حساب په يادونې سره د تقوی حاصليدل.
- ☆ د هغو تيز ژبو او فصيحو انسانانو له دوکې څخه ځان ژغورل، چې د ايمان او اخلاص څښتنان نه وي.
- ☆ تر ټولو ناوړه خلک هغه دي چې د الله په ځمکه کې فساد کوي، په ځانګړې توګه هغه فساد چې د انسانانو او څارويو د مړينې لامل ګرځي.
- ☆ د دې جملې ويل چې (الله ته علم دی) يا (الله شاهد دی)، قسم نه ګڼل کيږي ، نو هغه مسلمان چې په زړه کې

يې د ژبې پرخلاف خبرې وي، بايد دا جملې ونه کاروي.

☆کله چې مسلمان ته وويل شي: له الله څخه ووېرېږه! بايد بده يې ونه ګڼي او بايد هغه چاته په غوسه نشي چې ده ته پر تقوی امر کوي، بلکې بايد په خپله ګناه اعتراف وکړي او له الله څخه بښنه وغواړي.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې او جملې وژباړئ:

**{تعجّل في يومين}، {ومن تأخر}، {يُعجِبك}، {ألدّ الخصام}، {تولى}، {الحرث والنسل}.**

۲ـ له (أيام معدودات) څخه کومې ورځې مراد دي؟

۳ـ له مبارک آيت نه په منی کې د وقوف حکم څرنګه راوځي؟

٤ـ د دې ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ مبارک آيت شان نزول څه دی؟

٥ـ مبارک آيت په څمکه کې د فساد جزا څه ټاکلې ده؟

٦ـ مسلمان د هغه چا پر وړاندې چې ورته وايي: (له الله نه ووېرېږه او داسې کار مه کوه!) بايد څرنګه غبرګون وښيي؟

## کورنۍ دنده

قرآن کريم د دې لوست په مبارکو آيتونو کې د منافقانو څو صفتونو او نښو ته اشاره کړې ده، چې د هغو له جملې څخه په دروغو قسمونه، په ځمکه کې فساد او د نصيحت پر وړاندې تکبر دی. د دې صفتونو په اړه له قرآني نص څخه په استدلال، يوه لنډه مقاله وليکئ.

## د (البقرة) سورت (۲۰۷- ۲۱۱) آيتونه

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿۲۰۸﴾ فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ
مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۰۹﴾ هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِنَ
الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿۲۱۰﴾ سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَمْ آتَيْنَاهُمْ مِنْ آيَةٍ
بَيِّنَةٍ وَمَنْ يُبَدِّلْ نِعْمَةَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾﴾

### د ځينوکلمو معنا

{يَشْرِي نَفْسَهُ} خپل نفس خرڅوي.

{السِّلْم} اسلام.

{كَافَّةً} په بشپړه توګه.

{خُطُوَاتِ} قدمونه.

{ظُلَلٍ} چترۍ، د (ظلة) جمع ده، يعني: هر هغه شی چې سيوری کوي، لکه وريځ، ونه او داسې نور.

{الْغَمَامِ} سپينه وريځ.

### ژباړه

او ځينې له خلکو څخه هغه څوک دي چې د الله د رضا د طلب لپاره خپل سر قربانوي (له خپل ځان او مال څخه تېرېږي) او الله پر داسې بنده ګانو باندې ډېر مهربان دی. ای هغو کسانو، چې ايمان مو راوړی دی! تاسې په هر اړخيز ډول په اسلام کې ننوځئ او پيروي مه کوئ د شيطان، بېشکه شيطان تاسې لره ښکاره دښمن دی، کومې ښکاره خرګندې لارښوونې چې تاسې ته راغلې دي، که د هغو له رسېدلو نه وروسته بيا هم تاسې وښوئيږئ، نو ښه ويوهيږئ چې الله پر ټولو غالب د حکمت څښتن او پوه دی. انتظار نه کوي دوی مګر دې ته چې راشي دوی ته (عذاب د) الله په سيوروکی له وريځو څخه او (راشي دوی ته) پرښتې (دعذاب) او خلاص شي (د دوی د هلاکولو) کار او خاص الله ته ټول کارونه (په قيامت کې د مجازاتو لپاره) بېرته ګرځول کېږي. (ای محمده!) له بني اسرائيلو څخه پوښتنه وکړه، چې موږ دوی ته له څرګندو معجزاتو نه څومره ورکړي دي او هرڅوک چې بدل کړي د الله نعمت (په ناشکرۍ سره) وروسته له هغه چې ده ته نعمت راغلی و، نو بېشکه د الله عذاب سخت دی.

## اجمالي تفسير

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ...﴾: دلته د منافق په مقابل کې د رښتيني مؤمن يادونه کيږي، يعنې واقعي مؤمن هغه دی چې خپل ځان د الله د رضا حاصلولو لپاره خرڅوي او د الله رضا له خپل ځان څخه ارزښتناکه بولي، نه د هغه دوه مخي منافق په څېر چې په ناحقه قسمونه خوري، فساد کوي او يوازې د خپل ځان او نفس غرور ساتي.

د مبارك آيت د شان نزول په اړه راغلي دي: کله چې د الله د پيغمبرﷺ جليل القدر صحابي، صُهيب روميرضي الله عنه د هجرت په هوډ مديني منورې ته روان شو، مشرکانو ورته په لاره کې کمين نيولی و، غوښتل يې له ده سره جنګ وکړي او يا ورڅخه ټوله پانګه غصب کړي، صهيبرضي الله عنه خپل کور او مالونه په دې شرط دوی ته پرېښودل چې د ده د هجرت مانع نشي، نو کله چې هغه رسول اللهﷺ ته ورسيد، بيا دغه آيت د ده په ستاينه کې نازل شو، خو د آيت عمومي مفهوم ټولو هغو مؤمنانو ته شامليږي چې د الله په لاره کې له خپلو ځانونو او مالونو څخه تېريږي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً...﴾: په دې مبارك آيت کې الله تعالی خپلو مؤمنو بنده ګانو ته امر کوي، چې په بشپړه او هراړخيزه توګه اسلام قبول کړئ او په اسلام کې دننه شئ، په دې معنا چې د ژوند په ټولو اړخونو کې د اسلام پيروي وکړئ، هم مو عبادت بايد له اسلامي احکامو سره سم وي او هم مو معاملات، سياست، حکومت او ټولنيز مسايل او داسې نه وي چې له اسلامي قوانينو او لارښوونو څخه مو چې هرڅه له نفساني خواهشاتو سره برابر وي، هغه قبول کړئ او څه چې مو خوښ نه وي هغه پرېږدئ.

همدارنګه مؤمنان له دې څخه منع کوي چې نه ښايي د منکراتو په پيروی کې د شيطان په لمسون کار وکړي، ځکه همدا شيطان و چې يهودو او نصاراوو ته يې ډېر هغه څه چې په دين کې نه وو، ښايسته او ځلانده څرګند کړل، ترڅو هغوی ګمراه او له دين څخه يې منحرف کړي. په يو روايت کې راغلي دي چې څو تنو يهوديانو اسلام قبول کړ او د دې غوښتونکي وو چې د اسلامي احکامو د مراعاتولو ترڅنګ، پر تورات هم عمل وکړي، لکه د خالي(شنبې) د ورځې تعظيم او احترام، د اوښې شيدې او غوښه حرام ګڼل، د تورات تلاوت او داسې نور، نو دا آيت نازل شو چې اسلام کامل او هر اړخيز دين دی او د نورو اديانو قوانينو، مقرراتو او بدعاتو ته هيڅ ضرورت نه لري.

﴿فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ...﴾: په دې مبارك آيت کې د هغو خلکو لپاره ډېر سخت او شديد وعيد دی، چې شيطان يې دوکه کوي، د اسلام د سپېڅلي دين ځينې قوانين او احکام مني او ځينې نور يې نه مني، سره له دې چې ښه پوهيږي چې اسلام حق دی او د هرې زمانې له غوښتنو سره مناسب دی، الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: که چيرې تاسې د قرآن او سنت له واضحو دلايلو څخه وروسته بيا هم له سمې لارې وښويدئ ، نو خبر اوسئ چې

الله تعالی له تاسې څخه غچ اخلي، ځکه هغه برلاسی او پر هر څه قادر دی.

﴿هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ...﴾: دا مبارك آيت په دين کې د شك کوونکو او له دين څخه د غافلو خلکو د ناوړو پايلو د بيان تر څنګ د مخاطبو عقل او احساس ته خطاب کوي او خلکو ته ورښيي چې د هغو خلکو راتلونکی چې له آسماني آيتونو او دليلونو سره، سره د الله دين په ښه او سمه توګه نه قبلوي او په هغه کې نه داخليږي، تياره او خطرناك دی، ځکه د الله پر وړاندې هيڅ عذر نه لري، دوی انتظار نه کوي، مګر د الله د سخت او شديد عذاب چې د هغه عذاب په ليدلو به ايمان راوړي، خو هغه وخت ايمان هيڅ ګټه نه ورکوي او د الله حکم او قضا به د دوی په باره کې جاري کيږي: ﴿وَقُضِيَ الْأَمْرُ﴾، نو تاسې ای د عقل څښتنانو! مخکې د داسې شيبو له رارسيدو څخه په اخلاص ايمان راوړئ او د دين په احکامو ملنډې مه وهئ.

﴿سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَمْ آتَيْنَاهُمْ مِنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ...﴾: دا مبارك آيت د هغو کسانو مثال او بېلګه يادوي، چې هغوی ته د الله آيتونه او ښکاره نښې نښانې راغلې، خو هغوی پند او عبرت حاصل نکړ او د الله د نيونې مستحق وګرځېدل.

هو! دوی د يعقوب عليه السلام اولاده وه چې په بني اسرائيلو باندې مشهور وو او دوی ته اهل کتاب(يهود او نصاری) ويل کيږي، دې ډلې د الله پر آيتونو کفر غوره کړ، خو دوی ته يې هيڅ ګټه ونه رسوله، ځکه هرڅوك چې د الله له آيتونو څخه منکر شي، الله تعالی هغه ته سخت عذاب ورکوي او همداسې حالت به وي د هرې هغې ډلې چې د الله آيتونه نه مني.

## د لوست ګټې

ځينې هغه ګټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه کيږي، په لاندې ډول دي:

- نفس او مال سره جهاد ته ترغيب ورکول او په ټوله پانګه او شتمنۍ سره د الله په لارکې د يوه مسلمان د وتلو جواز.
- د فرايضو پريښودل او د حرامو حلال ګڼل، د شيطان د پيروۍ ښکارندې نښې دي.
- د لويو ګناهونو د کولو پر مهال د الله تعالی له عذابونو څخه د ويرې او ډار واجبوالی (ځکه د الله له عذاب څخه ډاډه کېدل کفر ګڼل کيږي).
- په توبه کې د ځنډ کولو حراموالی.
- د قرآن مجيد سخته رټنه د هغو انسانانو لپاره چې د الله تعالی پر نعمتونو، چې تر ټولو لوی نعمت يې اسلام دی، کفر غوره کوي؛ ځکه دا ډول ناشکري د دردناك عذاب د نازليدو لامل ګرځي.
- اسلام د ژوندانه هر اړخيز او بشپړ دين او نظام دی.

## پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{السِّلم}، {كافّة}، {فإن زَلَلْتم}، {البيِّنات}، {ظُلَل}، {الغَمَام}.

٢ـ د دې ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ...﴾ مبارك آيت د نازليدو شان نزول بيان کړئ.

٣ـ په قرآني الفاظو کې اعتبار عموم د لفظ ته دی يا ځانګړي سبب ته؟

٤ـ د ﴿كَافَّةً﴾ کلمه تفسير او واضحه کړئ.

٥ـ د شيطان د پيروی بېلګې څرګندې کړئ.

٦ـ د يهودو د ډلې هغه نظريه بيان کړئ چې د ﴿ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ مبارك آيت يې ردوي؟

٧ـ د دې لوست آيتونه د شيطان د پيروی سزا، وروسته له دې چې د الله په ښکاره آيتونو پوهه حاصله شي، څه ګڼي؟

## کورنۍ دنده

د دې ﴿هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ...﴾ مبارك آيت د تفسير په اړه ځو کرښې وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۱۲ - ۲۱۴) آیتونه

﴿زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ
مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾ كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ
الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ
الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ
مُسْتَقِيمٍ ﴿۲۱۳﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ
وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿۲۱۴﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{أُمَّةً وَاحِدَةً} یو امت.

{الْكِتَابَ} اسم جنس دی، چې ټولو آسماني کتابونو ته شاملیږي.

{بَغْيًا} د ظلم او تېرې له لارې .

{صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} نیغه لار (مراد ترې اسلام دی، څکه خپل پیروان د دارینو نیکمرغیو ته رسوي).

{أَمْ حَسِبْتُمْ} آیا گومان مو وکړ.

{مَثَلُ} صفت او حال.

{الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ } بأسا: هغه سختۍ چې د فقر او نورو شیانو له امله انسان پرې اخته کیږي. ضرّاء: د رنځونو، ټپونو او وژنو معنا ورکوي.

## زباره

کومو خلکو چې د کفر لار غوره کړې ده، هغو ته د دنیا ژوند ډېر خوږ او په زړه پورې گرځولای شوای دی. دوی په مؤمنانو پورې ملنډې وهي خو د قیامت په ورځ به همدا پرهیزگاران د دوی په پرتله د لوړ مقام څښتنان وي او الله هغه چا ته، چې اراده وکړي، بې حسابه (پراخه) روزي ورکوي. په لومړي وخت کې ټول خلک یو امت (په یوه حق دین) وو (بیا ځینې کافران او ځینې مسلمانان شول او اختلافونه رامنځته شول)، نو الله تعالی انبیاء (علیهم السلام) (مؤمنانو ته په نعیم سره) زیرې ورکوونکي او (کافرانو ته په جحیم سره) وېروونکي ولېږل او له هغو سره يې يوځای حق کتاب ولیږه، ترڅو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو ترمنځ راغلي وو، فیصله کړي او اختلاف نه دی

کړي په هغه (کتاب) کې، مگر هغو کسانو چې (د) حق (په برخه کې معلومات) ورکړل شوي وو (او دا هم) وروسته له دې چې روښانه دليلونه ورته راغلي وو، (دا هرڅه) د خپلې منځي کينې له وجهې، نو الله هغو کسانو ته چې په پيغمبرانو يې ايمان راووړ، په خپل اذن د حق هغه لار وښودله، چې خلکو په کې اختلاف کړی و، د الله تعالی چې چا ته خو ښه شي سمه لاره ورښيي. (ای مؤمنانو!)آيا تاسې دا انگيرئ چې همداسې به جنت ته ننوځئ، په داسې حال کې چې لا تر اوسه پر تاسې هغه څه نه دي تېر شوي، چې له تاسې نه پر مخکينيو (مؤمنانو) راغلي دي، پر هغو ستونزې (فقر، رنځ او سختی)راغلې، کړاوونه ورته ورسيدل، ولړزول شول، آن تر دې چې د وخت رسول او د هغه مؤمنو ملگرو فريادونه وکړل، چې د الله مرسته به کله راشي؟ (په هغه وخت کې هغو ته ډاډينه ورکړلای شوه، چې) خبر شئ! بيشکه د الله مرسته نژدې ده.

## اجمالي تفسير

﴿زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا...﴾: الله تعالی خبر ورکوي چې شيطان د هغو خلکو لپاره چې پر الله او شريعت کفر غوره کوي، د دنيا ژوند ډېر ښايسته کړی دی، نو دوی له دنيا سره بې حده مينه لري. دې دنيا پرستو خلکو يوازې په دې بسنه نه ده کړې، بلکې په هغو مؤمنانو پورې چې په دنيا پرستۍ کې د دوی په څېر ډوب نه دي، ملنډې وهي.
الله پاک د دوی د ملنډو په رد سره دا خبر هم ورکوي چې ډېر ژر به خپلو پرهيزگارو بنده‌گانو ته د جنت په لوړو ماڼيو کې استوگنه ورکړي او ملنډې وهونکو ته به سزا ورکړي.
﴿كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ...﴾: دا آيت پر مؤمن او غير مؤمن باندې د انسانانو د ويشل کېدلو تاريخ ته اشاره کوي او فرمايي: خلک له يوې اوږدې زمانې څخه (د تفسير د رواياتو پر مبنی، دلته د آدم عليه السلام له زمانې څخه د نوح عليه السلام تر زمانې پورې وخت مراد دی، چې لس پيړۍ وخت نيسي) ټول يو واحد امت گڼل کېدل او يوازې د يو الله عبادت يې کاوه، تر دې چې شيطان په چل او دوکې سره خلکو ته د غير الله عبادت ښايسته کړ او شرک او گمراهي يې رامنځته کړه، وروسته له هغه وخت څخه الله تعالی د خلکو د لارښوونې لپاره خپل پيغمبران راوليږل (يعني کله چې گمراهي منځته راغله، نو دې ته اړتيا پيدا شوه چې څه کسان د هدايت بيرغ په اوږو واخلي)، نو لومړنی پيغمبر يې نوح عليه السلام و، د هغه دنده دا وه چې خلکو ته يې د جنت او د الله د رضامندۍ زيری ورکاوه او د هغه تعالی له سخت عذاب څخه به يې وېرول، نو يو شمېر خلکو دا دعوت قبول کړ او يو شمېر نورو ترې انکار وکړ، د مؤمن او کافر، موحّد او مشرک ترمنځ اختلاف پيل شو او د دې جگړې او اختلاف د لرې کيدو او د حق د وضاحت لپاره، الله تعالی له آسمانه کتابونه راوليږل. په حقيقت کې د دې کتابونو په نازليدو سره بايد اختلاف له منځه تللای وای، خو هغه کسان چې هغوی ته روښانه دليلونه هم ورسيدل، خپل اختلاف ته يې ادامه

ورکړه، بغض او کینه پر دوی غالبه شوه او د دې ډلې تر ټولو ښکاره مثال یهود او نصارا دي، چې ډېر پیغمبران په دوی کې راغلل او تورات او انجیل پر دوی نازل شول، خو دوی په ډېرو الهي احکامو کې اختلاف وکړ، هغه یې تحریف کړل او د پیغمبرانو له رسالت څخه منکر شول، بلکې ځینې یې ووژل. د آیت په پای کې هغه هدایت ته اشاره شوې چې هغه د محمدي امت په برخه شو: ﴿فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ﴾: الله په خپل فضل او کرم مؤمنانو ته د هغو خلکو په پرتله، چې په احکامو کې یې اختلاف وکړ، هدایت ورپه برخه کړ، نو دوی د خپلو هلوځلو په پایله کې په حق پسې لاړل او کله چې یې حق وموند، نو نه یې عناد وکړ، نه د الله له احکامو څخه منکر شول او نه یې په احکامو کې تحریف او تبدیل راووړ، بیشکه چاته چې الله وغواړي، هغه ته د نیغې (سمې) لارې ښوونه کوي.

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ...﴾: پر یوه ډله مؤمنانو به چې کله سختۍ او ستونزې راغلې، نو هغه یې سختې ګڼلې او دا وسوسه به ورسره پیدا شوه، چې ولې دا دین په تیزۍ سره نه خپرېږي، هر اړخیزه مرسته مو نه په برخه کېږي او پر موږ سوکالي او ارامي نه راځي؟ دې مبارک آیت ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه بیړه کوونکو ته لوی درس ورکړ، چې حقیقت داسې نه دی، تاسو چې ترڅو د الله تعالی له لوري ونه ازمایل شئ او له هغه څخه بریالي راونه وځئ، د جنت مستحق نه ګرځئ، تر اوسه لا پر تاسې هغه څه نه دي تېر شوي، چې له تاسې نه پر مخکینیو مؤمنانو راغلي دي، پر هغوی ډول، ډول رنځونه او ستونزې راغلې، هغوی دې حد ته ورسیدل چې نه یوازې دوی، بلکې پیغمبرانو یې هم د مرستې له وروسته والي څخه د الله دربار ته زارۍ کولې، ترڅو چې دوی ته زیری ورکړل شو چې د الله مرسته نژدې ده. البته د دوی دا اظهار د شك له امله نه و، بلکې د بشري طبیعت پر مقتضا و، پر هغو ستونزې فقر، رنځ او سختۍ راغلې، کړاوونه ورته ورسیدل، نو تاسې هم باید د ستونزو او کړاوونو په زغملو کې صابر او ثابت قدم اوسئ، ځکه چې الهي مرسته ډېره ژر راتلونکې ده.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کېږي، په لاندې ډول دي:

- د دنیوي نعمتونو د لاس ته راوړلو او د آخرت له هیرولو څخه وېره ورکول.
- هغو بلونکو او دعوتګرو ته ډاډ، چې بې عقلان او جاهلان ورپورې ملنډې وهي.
- د دین اصل او د بشریت د فطرت بنسټ پر توحید ولاړ دی، خو شرك وروسته رامنځته شو چې د شیطان دوکه وه.
- د پیغمبرانو ستره دنده پرهیزګارانو ته زیری او فاجرانو ته وېره ورکول دي. دې موخې ته د رسیدو لپاره کله د هغو کسانو پر وړاندې جنګ او جهاد روا کیږي، چې د دعوت د خپریدلو مخه نیسي.

☆ په آسماني کتاب او دين کې اختلاف، د يو امت د ذلت، ماتې او تاوان له نښو او عواملو څخه دی، نو مسلمانان بايد له هغه څخه ځانونه وژغوري.

☆ په شرعي ستونزمنو تکاليفو، لکه په نفس او مال جهاد او نورو امورو سره ازمېښت، د جنت د داخليدو لپاره ضروري شرط ګڼل کېږي.

☆ مسلمان انسان بايد د الله نېک او صالحه بنده ګان، د هغوی صبر او زغم د ځان لپاره يوه غوره نمونه او بېلګه وګرځوي.

## پوښتنې

١- لاندنی کلمې معنا کړئ:

**{أُمَّة واحدة}، {أُوتوه}، {بغياً}، {أم حسِبْتم}، {مَثَل}، {البأسَاء والضَّراء}.**

٢ـ د هغو کسانو نښه څه ده چې دنيا د خپل ژوندانه موخه ګرځوي؟

٣ـ له هغو امتونو څخه چې په خپلو کتابونو کې يې اختلاف وکړ، د څو امتونو نومونه واخلئ؟

٤ـ دا جمله: ﴿فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ﴾ تفسير او بيان کړئ، چې مراد له دې هدايت څخه دی؟

٥ـ له (صراط مستقيم) څخه چې په مبارک آيت کې راغلی، کومه لار موخه ده؟

## کورنی دنده

د پيغمبرانو د رالېږنې او د کتابونو د نازلېدو د حکمت په اړه، لکه څرنګه چې د دې لوست مبارک آيتونه ورته اشاره کوي، يوه لنډه مقاله وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۱۵ - ۲۱۸) آیتونه

﴿يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ
السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿۲۱۵﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ
تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۲۱۶﴾
يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ
إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ
وَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۱۷﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ
اللَّهِ أُولَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَةَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۲۱۸﴾ ﴾

## د ځینوکلمو معنا

{مِنْ خَيْرٍ} له مال څخه (د (خير) اطلاق په ډېرو ځايونوکې پرمال کيږي).

{كُرْهٌ} نا خوښ.

{عَسَى} شايد (دا فعل د هيلې او اميد معنا ورکوي، پر هر څه چې داخل شي، د هغه شي د حاصليدلو هيله کيږي، نه دا چې حاصليدنه يې حتمي وي، مګر په هغه صورت کې چې د الله له پلوه وي، هلته بيا د يقين معنا ورکوي).

{صَدٌّ} منع کول.

{الْفِتْنَةُ} شرک او له ايمان راوړلو څخه د مؤمنانو منع کول.

{حَبِطَتْ} باطل شو، له منځه لاړ.

## ژباړه

(اى محمده!) له تا څخه (مؤمنان) پوښتنه کوي، چې (د الله په لار کې) څه شى مصرف کړي؟ ووايه (اى محمده): هر شى (لږ يا ډېر) چې يې له مالونو څخه لګوئ، نو د مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو لپاره يې ولګوئ او تاسې چې هره ښيګڼه کوئ، نو ښېکه چې الله پرې پوهيږي. فرض کړاى شوى دى پرتاسې باندې جنګ کول (له کفارو سره)، حال دا چې دغه (جنګ) ناخوښ ښکاري تاسې ته، کيداى شي چې يو شى تاسې بد ګڼئ او هغه بهتر وي تاسې لره او کيداى شي چې تاسې يو شى خوښوئ او هغه ستاسې لپاره بد وي، الله ستاسې په خير ښه پوهيږي او تاسې (په خپل خير) نه پوهيږئ. (اى محمده!) خلک له تا څخه پوښتنه کوي چې په حرامه (د حرمت

میاشت کې جنګېدل څرنګه دي (روا دي که ناروا)؟ ووایه: په دې کې جنګ کول لویه ګناه ده، خو د الله له لارې نه د خلکو منع کول، پر الله کافر کېدل او (له) مسجدالحرام نه د خلکو(منع کول) او د حرم اوسیدونکي له هغه څخه اېستل او فتنه (له الله سره شرک کول) له جنګ نه هم ډېره لویه (ګناه) ده. هغوی به له تاسې سره تل په جنګ کې اخته وي، آن تر دې چې که یې وس ورسیږي، نو تاسې به له دې دین څخه واړوي، (او په دې ښه پوه شئ) له تاسې نه چې هر څوک له دې دین څخه واوړي او د کفر په حالت کې ومري، د هغه عملونه به په دنیا او آخرت دواړو کې بابیزه او ضایع شي. داسې خلک ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ کې اوسیږي. (د دې پرخلاف) کومو خلکو چې ایمان راوړی دی او چا چې د الله په لارکې خپل کور او وطن پرېښی او جهاد یې کړی دی، هغوی حق لري چې د الله د رحمت هیله من وي او الله (د هغوی د خطاوو) ښونکی (او پر هغوی) رحم کوونکی دی.

## اجمالي تفسیر

﴿يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ...﴾: د لویو صحابه وو له ډلې څخه یو تن چې د (عَمرو بن الجُموح) په نامه و او ډېر مال او شته یې درلودل، پوښتنه وکړه: یا رسول الله! له څه شي څخه باید انفاق وشي؟ په ځواب کې یې دا مبارک آیت نازل شو، چې په دې کې څو شیانو ته اشاره شویده: لومړی دا چې انفاق له مال څخه کیږي. دویم دا چې د انفاق مستحقین په لومړي قدم کې د بیوزلۍ او فقر په صورت کې د انسان مور او پلار او بیا خپلوان، یتیمان، مسکینان او مسافر دي. دریم دا چې که هر خیر ترسره کوئ، باید پوه شئ چې هغه له الله تعالی سره خوندي دی، الله پرې خبر دی او بدله یې درکوي. د آیت په وروستی برخه کې د نېکو کارونو ترسره کولو ته ترغیب ورکول شوی دی.

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ...﴾: دا مبارک آیت د جهاد له فرضیت څخه خبر راکوي او د دې په ترڅ کې دې ته اشاره کوي، چې الله تعالی ښه پوهیږي چې ستاسو انساني طبیعت جنګ او جهاد نه خوښوي، ځکه په هغه کې ډېر زحمتونه، ستونزې او حتی د نفس او مال هلاکت او ضیاع شتون لري، خو په جهاد کې ډېر داسې حکمتونه نغښتي دي چې شاید ژر مو هغو ته پاملرنه ونشي، اصلاً ډېر داسې شیان شته چې ظاهراً تاسو ته ناخوښه برېښي، حال دا چې په هغه کې ستاسو خیر نغښتی دی او بالعکس ډېر داسې کارونه دي چې ظاهراً تاسې ته ښه ښکاري، خو په هغو کې پرته له شره بل څه نه وي. د دې کارونو حقیقت یوازې الله ته معلوم دی، نو د الله په لارکې جهاد د لومړۍ ډلې او د جهاد پرېښودل له دویمې ډلې څخه دی، یعنې جهادکول که څه هم ظاهراً تاسې ته ناخوښ معلومیږي، خو د دنیا عزت، د دین برلاسي او اخروي اجر او ثواب پکې شتون لري او د دې تر څنګ د جهاد پرېښودل که څه هم ظاهراً نفس او طبیعت یې خوښوي، خو د دنیا ذلت، د دین ضیاع او د آخرت بده سزا پکې نغښتې ده.

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ...﴾: کله چې الله تعالی د جهاد له فرضیت څخه خبر ورکړ او رسول الله ﷺ یو وړوکی لښکر د (عبد الله بن جحش) په مشرۍ یوه لوري ته ولیږه، ترڅو د کفارو څارنه او له حال څخه یې خبر شي، د الله تقدیر داسې و چې دا ډله د قریشو له کاروان سره مخامخ کیږي او د دوی په منځ کې جګړه پېښیږي. په دې جګړه کې یو تن د (عمرو بن الحَضرمي) په نوم وژل کیږي، دوه نور له قریشوڅخه بندیان ونیول شول او قافله د

مسلمانانو لاس ته ورغله، دا واقعه د (رجب) په لومړۍ شپه چې له حرامو میاشتو څخه ده، پېښه شوه، نو قریشو لویه غوغا جوړه کړه چې محمدﷺ د حرامو میاشتو عزت او حرمت نه ساتي، همدارنګه د مدینې یهودو او منافقینو هم دا خبر خپور کړ او د مسلمانانو په ضد یې پروپاګندې کولې، تردې چې رسول اللهﷺ کاروان او بندیان پرته له دې چې په اړه یې کومه فیصله وکړي، په خپل حال پرېښودل او عبد الله بن جحش او ملګري یې د خلکو له سختې ملامتۍ سره مخامخ شول، دې ناوړه حالت دوام وکړ، ترڅو د دې لوست وروستي دوه آیتونه نازل شول، په لومړي آیت کې مشرکانو ته څرګند ځواب ورکړ شو، چې دا خبره سمه ده چې جنګ کول په حرامه میاشت کې لویه ګناه ده، خو ستاسې ګناه د دې ګناه په پرتله ډېره لویه ده، تاسې خلک د الله له دین څخه منع کوئ، له الله څخه انکار کوئ، له مسجد الحرام څخه چې د هغه حرمت د حرامو میاشتو په څېر دی، خلک بندوئ، بلکې اوسیدونکي یې ورڅخه شړئ، دا ټولې ګناوې د الله په نزد له هغې ګناه څخه ډېرې لویې دي چې مسلمانانو ترسره کړې ده، پر دې سربېره کومه فتنه چې تاسې پرې اخته یئ، یعنې له الله سره شرک او د ایمان راوړو په وجه د مؤمنانو عذابول، په حرامه میاشت کې له قتل نه ډېر دروند جرم ګڼل کیږي. له دې غاښ ماتوونکي ځواب څخه وروسته دغه مبارک آیت، مسلمانان له یو بل مهم کار څخه خبروي، چې متوجه او بیدار اوسئ دا ستاسو قسم خوړلي دښمنان تل له تاسو سره په مبارزه کې دي، ترڅو تاسې له خپل دین څخه وګرځوي، خو هر څوک چې له دین څخه وګرځي او په کفر کې مړ شي، ودې پوهیږي چې ټول کړه وړه یې له خاورو سره یو برابر کړل او د تل لپاره به په دوزخ کې وي.

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا...﴾ دا مبارک آیت په ځانګړې توګه عبد الله بن جحش او د ده ملګري تزکیه کوي او هغوی ته ډاډ ورکوي چې دوی د الله پر وړاندې ګنهګار نه ګڼل کیږي، ځکه دوی په لومړي قدم کې ایمان راوړ، له هغه وروسته یې هجرت وکړ او بیا یې د الله په لار کې جهاد وکړ، نو پر دې اساس دوی د الله رحمت ته هیله من دي او الله ښښونکی او مهربان دی، خو د «العبرة بعموم اللفظ لا بخصوص السبب» د قاعدې پر بنسټ، دا آیت په ټولیزه توګه ټولو هغو کسانو ته چې په یادو شویو اوصافو ستایل شوي وي، شاملیږي.

**فعالیت**

قرآن کریم د مشرکانو د دې نیوکې په ردکې، چې مسلمانان د حرامو میاشتو عزت او درناوی نه ساتي، کوم امور مطرح کړل، چې د هغو حرمت د حرامو میاشتو د جنګ له حرمت څخه ډېر لوی دی؟ په دې اړه بحث او څېړنه وکړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- د پوښتنې کولو ارزښت د هغو کسانو لپاره چې نه پوهیږي، ترڅو علم حاصل کړي(سوال کول نیم علم دی).
- په آیت کې یادو شویو خلکو باندې د انفاق او مال لګولو فضیلت، په داسې حال کې چې نفقه کوونکی بدای

او هغوی فقیر وي.

د خیر کار ته ترغیب او په لویه بدله ورکولو، د الله تعالی وعده.

☆ د اسلام د خپریدو، د هغه له مقدساتو څخه د دفاع او د مسلمانانو د عزت لپاره د جهاد د فریضې د اداکولو واجبوالی.

☆ د چارو پرعواقبو د انسان ناپوهي او بې خبري د دې لامل ګرځي، ترڅو ناسم کارونه خوښ کړي او ښه کارونه ناوړه وګڼي.

☆ د الله تعالی اوامر له خیر او حکمت څخه او منهیات یې له شر او زیان څخه ډک دي، نو د اوامرو پر ځای کول او د نواهیو پرېښودل واجب دي.

☆ د کافرانو د ناوړو هیلو څرګندیدل او د مسلمانانو پر ضد د هغوی مبارزه، ترڅو هغوی له خپل دین او لارې څخه وګرځوي.

☆ له دین څخه مرتد کیدل، ټولې نېکې کړنې له منځه وړي، که مرتد توبه وباسي عملونه یې دویم ځلې پېلیږي او که مخکې له توبې څخه ومري، نو د دوزخیانو له ډلې څخه به وي .

☆ د ایمان او د الله په لار کې د هجرت او جهاد غوره والی.

## پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{من خیر}، {كُرْهٌ}، {عسی}، {کبیر}، {صَدّ}، {أکبر}، {الفتنة}، {حبِطت}.**

۲ـ د (الاقربین) کلمه کومو کسانو ته شاملیږي؟

۳ـ د جهاد په کولو کې چې کوم ارزښتونه او په پرېښودلو کې یې چې کوم زیانونه نغښتي دي، د دې موضوع څو ټکو ته اشاره وکړئ.

٤ـ ﴿وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ﴾ جمله وژباړئ او تفسیر یې کړئ.

٥ـ د ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ...﴾ له آیت څخه په عامه او ځانګړې توګه کوم کسان مراد دي؟

## کورنۍ دنده

د ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ...﴾ د آیت د نازلېدلو د سبب په اړه او د هغه د جزئیاتو په نظر کې نیولو سره، خپل یوه پاڼه معلومات ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۱۹ - ۲۲۱) آیتونه

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا وَيَسْأَلُونَكَ
مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿۲۱۹﴾ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَيَسْأَلُونَكَ
عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ
لَأَعْنَتَكُمْ إِنَّ اللهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ
أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ
إِلَى النَّارِ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿۲۲۱﴾

## د ځینوکلمو معنا

{الْخَمْرِ} شراب، هر هغه څه چې عقل مختل کوي په داسې توګه چې شښونکی يې د ښه او بد ترمنځ توپير نشي کولای. د (خمر) د لفظ اطلاق د انګورو، خرما او اوربشو په اوبو هغه مهال کيږي چې کله يې څښنل مستي او نشه رامنځ ته کړي.

{الْمَيْسِرِ} قمار(جواري)، قمار ته ځکه (ميسر) ويل کيږي، چې مرتکب يې په يُسر او اسانی سره مال لاس ته راوړي.

{مَنَافِعُ} د (منفعة) جمع ده، يعنې ګټې.

{الْعَفْوَ} دلته ورڅخه مراد د انسان له حاجت څخه زيات ځيزونه دي.

{تُخَالِطُوهُمْ} چې د دوی مالونه د خپلو مالونو سره خلط او يوځای کړي.

{لَأَعْنَتَكُمْ} تاسې په تکليف او کړاو اخته کوي.

{الأَمَةَ} غير ازاده ښځه (وينځه).

{يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ} د اور لوري ته يې رابولي.

{آيَاتِهِ} د خپل دين احکام، د شريعت مسئلې.

## ژباړه

(ای محمده!) پوښتنه کوي خلک له تا څخه د شرابو (دڅښلو) او د قمار وهلو(له حکم) څخه، ووايه (ای محمده! دوی ته): په دې دواړو کې لويه ګناه ده او د خلکو لپاره ګټې دي او د دواړو ګناه د هغو له ګټې نه ډېره لويه ده او خلک له تانه پوښتنه کوي، چې هغوی د الله په لارکې څه مصرف (انفاق) کړو؟ ووايه: هغه څه چې ستاسو له اړتيا نه زيات وي، په دې ډول الله تاسې ته خپل احکام په څرګنده توګه بيانوي، ترڅو تاسې (د دنيا او آخرت دواړو د چارو په اړه) فکر وکړئ او خلک له تانه پوښتنه کوي د يتيمانو په هکله (چې څه ډول چلن (معامله) ورسره وشي؟) ووايه: د هغوی

(مال او ځان) سمول غوره دي او که تاسې خپل او د هغوی خرڅ او لګښت سره ګډ کړئ، نو هغوی ستاسې ورونه دي او الله فساد کوونکي له اصلاح کوونکي څخه پېژني. که د الله خوښه شوې وای، نو په دې کار کې به يې تاسې له ستونزو سره مخامخ کړي وای، بېشکه هغه برلاسی د حکمت څښتن دی. تاسې له مشرکو ښځو سره هيڅکله نکاح مه کوئ، ترڅو يې چې ايمان نه وي راوړی، يوه مسلمانه وينځه له اصيلې مشرکې نه ډېره ښه ده که څه هم چې ستاسې هغه ډېره خوښه وي او مسلمانې ښځې مشرکانو ته هيڅکله په نکاح مه ورکوئ، ترڅو چې هغوی ايمان نه وي راوړی، يو مسلمان مريی له اصيل مشرک نه ډېر ښه دی که څه هم چې هغه ستاسې ډېر خوښ وي، دا کسان تاسې د اور خواته دعوت کوي، الله په خپل اذن سره تاسې ته د جنت او بښنې بلنه درکوي او هغه خلکو ته په څرګنده خپل حکمونه بيانوي، کيدای شي چې هغوی درس واخلي او نصيحت ومني.

## اجمالي تفسير

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ...﴾: د جاهليت په زمانه کې خلکو د شراب څښلو او قمار وهلو عادت درلود، د الهي حکمت دا غوښتنه وه چې د اسلام په لومړي پړاوکې د توحيد، آخرت او بيا را ژوندي کېدلو په عقيده باندې کار وشي، ځکه ايمان د استقامت او د بديو د پرېښودلو لامل ګرځي، بيا چې کله صحابه وو مدينې منورې ته هجرت وکړ او اسلامي ټولنې په ورو ورو جوړښت وموند، نو د دې ټولنې لپاره د اسلامي احکامو او قوانينو بنسټ هم په تدريجي بڼه پېل شو. يوه ورځ داسې پېښه شوه چې يوه صحابي په داسې حال کې چې مخکې يې شراب څښلي و، يوې ډلې ته امامت ورکړ، نو د قرآن کريم آيت يې په ناسمه توګه ولوست، همدا وجه وه چې د شرابو په اړه لومړنی حکم نازل شو چې ﴿لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى حَتَّىَ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ﴾ [النساء: ٤٣]، يعنې: کله چې مو شراب څښلي وي، نو لمانځه ته مه نژدې کيږئ، ترڅو پوه شئ چې څه شی تلاوت کوئ.
دا حکم د شرابو د تحريم لپاره لومړنی قدم و، ځکه په ځينو وختونو کې يې د هغه څښل منع کړل او د هغه پر اساس به مؤمنانو د لمانځه په وخت کې د شرابو له څښلو څخه ډډه کوله، تر دې چې ځينې صحابه د شراب او قمار په اړه له رسول اللهﷺ څخه د معلوماتو غوښتونکي شول، هماغه و چې دا ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ﴾ آيت نازل شو، دا د تحريم د دويم قدم حکم و، ځکه د دې په ترڅ کې د شرابو او جوارۍ له معمولي ګټو څخه منکر نشو، خو ويې فرمايل چې دا دوه شيان ګناه او لوی ضررونه لري، نو ځکه ډېرو صحابه کرامو د شرابو څښل او د قمار وهل پرېښودل، څرنګه چې شراب په دې آيت کې هم مطلقاً نه وو حرام شوي، نو لږ شمېر صحابه وو به کله، کله شرابو ته مخه کوله، د صحابه وو له ډلې څخه حضرت عمر بن الخطابؓ ډېر هيله من و چې د شرابو په اړه وروستی حکم نازل شي او تل به يې له ځانه سره ويل: (اللّهم بيّن لنا في الخمر بياناً شافياً)، يعنې: "ای الله! زموږ لپاره د شرابو په اړه وروستنی بيان راوليږه"، تردې چې الله تعالی د هغه دعا قبوله کړه او د ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ آيت نازل شو او حضرت عمرؓ په ډېره مينه وويل: "انتهينا ربنا"، يعنې: ای پروردګاره! له دې عمل څخه راوګرځيدلو او ستا امر مو پر ځان او زړه سره قبول کړ. نو په دې دربمه مرحله کې په قطعي او نهايي توګه شراب څښل او قمار وهل حرام شول او رسول اللهﷺ پر شرابي باندې شرعي حد مقرر کړ، چې اتيا دُرې دي او هغه ته يې د (أم الخبائث) يعنې د ټولو پليتيو د مور نوم ورکړ او ويې فرمايل: (مُدمن الخمر لا يُكلّمه الله يوم القيامة ولا يُزكّيه)، يعنې: د قيامت په ورځ الله تعالی له شراب خور انسان سره نه خبرې کوي او نه هغه تزکيه کوي.

د یادولو وړ ده چې د شرابو او قمار د ګناه لویوالی لکه څرنګه چې په مائده سورت کې راغلی دی، دا دی چې دا دواړه د مسلمانانو په منځ کې د دښمنۍ او تاوتریخوالي لامل ګرځي، د الله له ذکر او لمانځه څخه انسانان بندوي، خو د لږو ګټو اشاره چې ورته شویده هغه دا ده چې دوی ته د هغه په سوداګرۍ او جوړولو کې څه دنیوي ګټه شته چې څه موقتي خوشحالي ورپه برخه کوي، په قمار وهلو کې، ورته پرته له تکلیف او زحمت څخه، څه دنیوي مال په لاس ورځي. په عربو کې دا عادت هم و چې کله به یې په خپلو اوښانو قمار واهه، نو له ګټلو وروسته به ګټونکي څه اوښان د مسکینانو لپاره ذبح کول. په دې مبارک آیت کې سربېره پردې چې آسماني ځواب د شرابو او قمار په هکله راغی، یوې پوښتنې ته هم ځواب ورکړل شو، هغه دا چې د ﴿وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ﴾ آیت له نازلېدو وروسته څه کسانو غوښتل، ترڅو ښه وپوهېږي چې کومه برخه مال باید د الله په لاره کې ولګوي، الله تعالی په اسلامي امت د آسانۍ لپاره وفرمایل: ﴿قُلِ الْعَفْوَ﴾ ووایه: هر څه چې ستاسو له حاجت او نفقې څخه زیات وي، یعنې: تاسې مکلف نه یئ چې له خپل حاجت سره، سره خپل مالونه ولګوئ.

﴿فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى...﴾: د دې مبارک آیت لومړۍ برخه د مخکیني آیت په وروستۍ جملې پورې تړاو لري، یعنې الله تعالی خپل احکام تاسو ته بیانوي، ترڅو تاسې د خپلې دنیا او آخرت په اړه فکر وکړئ، نو د دنیا لپاره د حاجت په کچه کار وکړئ او خپل آخرت هیڅکله له یاده مه باسئ. خو د دې آیت د وروستۍ برخې د نزول سبب دا و چې هر کله د نساء سورت دا ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾ آیت نازل شو، نو مسلمانان له دې شدید وعید څخه ووېریدل او هر هغه چا چې په کور کې یتیم درلود، هغه دې ته مجبور شو ترڅو د یتیم خوراک او څښاک بېل کړي، چې په پایله کې له یو لوی مشکل سره مخامخ شول، له دې ستونزې څخه د خلاصون په لټه کې شول، همغه و چې دا آیت نازل شو، چې موخه یې د یتیم د مال ساتنه ده، ترڅو ضایع نشي. که د دوی مال له خپل مال سره د ساتنې او ودې لپاره یوځای کړئ، نو مخلوط کول او ګډوالی یې څه باک او ستونزه نه لري، ځکه هغوی ستاسو وروڼه دي، خو په وېره کې اوسئ چې الله تعالی په هغو کسانو چې په زړه کې فاسد نیت لري، ښه خبر دی. ﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ﴾: او که الله وغواړي کولای شي تاسې په همغو ستونزو کې پرېږدي، خو داسې اراده ستاسو په اړه نه لري، هغه په خپلو کارونو برلاسی او حکیم دی. ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ...﴾ د دې لپاره چې مسلمانان خپل اسلامي شخصیت وساتي، نو په دې مبارک آیت کې د مسلمان سړي لپاره له مشرکې ښځې سره د نکاح کولو منع راغلې ده، همدارنګه مسلمانه ښځه به له مشرک سړي سره نکاح نکوي، مګر په هغه وخت کې چې ایمان راوړي، که څه هم د هغوی ښایست یا بډایي او مال، مسلمان په حیرت کې واچوي او د ډېر تاکید لپاره یې وفرمایل: ښه پاملرنه وکړئ چې یوه مسلمانه وینځه یا مسلمان غلام له آزاد کافر نه غوره دی، ځکه مشرکان تاسې او ستاسو راتلونکي اولاده جهنم ته غواړي او د مسلمان لپاره تر دې لوی خطر به څه وي؟

**یادونه**: د دې مبارک آیت حکم په هغه وخت کې چې د هغه مفهوم عام او اهل کتابو ته شامل وګڼل شي، په نورو آیتونو سره ځانګړی شوی دی، ځکه د اهل کتابو نکاح په دې شرط چې پاک لمنې وي، په دې ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ مبارک آیت روا شوې ده، البته ځینې مفسرین اهل کتاب (یهود او نصارا) په هغه وخت کې

چې د خپل کتاب پر اساساتو التزام ولري او شرك غوره نكړي، د مشركينو له ډلې څخه نه شمېري، نو پر دې اساس په آيت کې تخصيصي رايه نشته او له مشركينو، مشركاتو، كافرانو او ملحدينو سره نكاح، په بشپړه توگه حرامه او ناروا ده.

**فعاليت**

زده‌کوونکي دې د شرابو ضررونه او د هغې گناه، د آيتونو او حديثونو په رڼا کې، په يوه آزاد بحث کې بيان او څرگند کړي.

## د لوست گټې

ځينې هغه گټې چې د لوست له آيتونو څخه ترلاسه كيږي، په لاندې ډول دي:

- شراب او قمار لويې گناوې دي.
- د صدقې وركولو فضيلت.
- د دنيا او آخرت په چارو کې د تفكر فضيلت، ترڅو د هر يوه لپاره د هغه د ارزښت په اندازه كار او عمل وشي.
- د يتيم د سرپرست له مال سره، د يتيم د مال د گډولو حرمت، په هغه صورت کې چې د يتيم د مال د نقصان او ضياع لامل شي.
- د يتيم د سرپرست له مال سره، د يتيم د مال د گډولو جواز، كله چې د يتيم لپاره گټور وي.
- له مشركاتو سره د مسلمان د نكاح حرمت.
- له مشركانو سره له گډ ژوند څخه نفرت او بيزاري، له دوى څخه د لرې اوسيدو ترغيب، څكه له دوى سره ملگرتيا پر مسلمان ناوړه اغېزه لري.

**پوښتنې**

١- لاندې كلمې معنا كړئ:

{الخمر}، {الميسر}، {المنافع}، {العفو}، {لَأَعنتكم}، {ولو أعجبتكم}، {آياته}.

٢- د شراب او قمار د تدريجي حرمت حكمت بيان كړئ.

٣- د آيت مطابق، په كومه اندازه چې مسلمان مالدار وي، انفاق پرې لازميږي؟

٤- د دنيا او آخرت په چارو کې تفكر څه گټه لري؟

٥- د دې ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ﴾ مبارك آيت د نازلېدو لامل بيان كړئ.

٦- له مشركانو سره د نكاح په حراموالي کې چې كوم حكمت نغښتى دى، هغه كوم دى؟

٧- د دې ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ﴾ مبارك آيت حكم د مفسرينو د تفسير په رڼا کې بيان كړئ.

**كورنۍ دنده**

د شرابو په حرمت کې د درې گونو تدريجي مرحلو د حكمت په اړه يوه مقاله وليكئ، چې له لسو كرښو څخه كمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۲۲۲ - ۲۲۵) آيتونه

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا
تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿۲۲۲﴾ نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ
لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲۲۳﴾
وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ أَنْ تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۲٤﴾ لَا
يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿۲۲۵﴾﴾

## د ځينوکلمو معنا

{الْمَحِيض} د (حيض) ځای او وخت، (حيض) هغې وينې ته ويل کيږي چې د ښځې له رحم څخه روانيږي.

{أَذًى} پليتي او ضرر.

{فَاعْتَزِلُوا} نو لرې اوسئ.

{تَطَهَّرْنَ} چې ښې پاکې شوې (يعني د حيض وينې بندې شوې او غسل يې وکړ).

{حَرْثٌ} کرونده (يعني ستاسو د اولاد پيداکيدو ځای دی).

{أَنَّى شِئْتُمْ} څرنگه چې غواړئ (کيفيت) په دې شرط چې په روا شوي ځای کې وي او دوی د حيض او نفاس ستونزه ونه لري.

{قَدِّمُوا} مخکې ولېږئ (د ځانونو لپاره نېکې کړنې)

{عُرْضَةً} هدف، نښانه، د يوه شي د منعې وسيله.

{أَيْمَان} د (يمين) جمع ده، د قسم په معنا.

{اللَّغْو} (لغو) اصلاً باطل شي ته ويل کيږي.

## ژباړه

او دوی له تانه پوښتنه کوي چې د حيض څه حکم دی؟ ووايه: هغه د پليتی حالت دی. په هغه کې له ښځو نه بېل اوسئ او هغو ته مه نژدې کيږئ، ترڅو هغوی پاکې او ستره شوې نه وي، بيا چې کله هغوی پاکې شي، نو له هغو سره هغه شان يوځای شئ چې الله درته امر کړی دی. بېشکه الله له گناهونو څخه توبه ايستونکي او له پليتو څخه ځان ساتونکي خوښوي. ستاسو ښځې ستاسو کښتونه دي، ستاسې خپله خوښه ده، څرنگه چې مو زړه غواړي، هغه شان په خپل کښت کې تصرف وکړئ او د خپلو ځانونو لپاره زيرمه ولېږئ او ووېرېږئ له الله څخه او وپوهېږئ چې بېشکه تاسې له الله سره ملاقات کوونکي يې او (ای محمده!) مؤمنانو ته (د جنت) زيری ورکړه. د الله نوم په داسې قسمونو خوړلو کې مه يادوئ چې په هغو کې هدف له نيکی، پرهيزگاری او د الله د بنده گانو د ښېگڼې له کارونو څخه منع

کول وي. الله ستاسې ټولې خبرې اوري او په هر څه پوهيږي. کوم بې معنا قسمونه چې تاسې بې ارادې خوړلي وي، په هغو مو الله نه نيسي، خو کوم قسمونه چې تاسې د زړه له کومې خوړلي وي، پر هغو به مو ارومرو نيسي، الله ډېر بښونکی او تېريدونکی دی.

## اجمالي تفسير

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ...﴾: د يهوديانو له ناوړو عادتونو څخه يو دا و چې کله به ښځه حايضه شوه، نو له هغې سره به يې خوراک، څښاک، ناسته ولاړه په ټوليزه توگه پرېښوده، يعنې هغه به يې يوازې پرېښودله، نو په دې اړه ځينو صحابه وو پوښتنه وکړه چې آيا له ښځو سره د حيض په ورځو کې همداسې کړنه وشي او که څرنگه؟ نو ذکر شوی آيت نازل شو او په هغه کې يې مسلمانان دوو مهمو مسايلو ته متوجه کړل: لومړی دا چې د اسلام مقدس دين د معاشرت او عاطفې دين دی، بايد مسلمان هيڅکله له ښځې سره د حيض په ورځو کې داسې معامله او کړنه ونه کړي، کوم چې يهودو او جاهلانو کوله، نو له هغې سره ناسته ولاړه، پرېښودل او هغه په گوښه کې يوازې ساتل د مسلمان کار نه دی. دويم دا چې اسلام د معاشرت او مهربانۍ په ترڅ کې د مېړه او ښځې تر منځ د پاکۍ او سپېڅلتيا اړيکې ټينگوي او په پليتيو کې د هغوی د لويدلو مخه نيسي، چې يو له هغه پليتيو څخه د حيض وينه ده، نو بايد دا ناسته ولاړه هغې پولې ته ونه رسيږي چې د حيض په ورځو کې ورسره يوځای والی وشي، ځکه دا کار ناروا دی او په حديث کې هم له دې څخه منع راغلې چې دغه مهال نبايد يو خاوند د ښځې د حيض له محل(فرج) څخه گټه واخلي، آن تردې چې په ځينو روايتونو کې د حرمت اندازه له نامه څخه لاندې تر گونډو پورې راغلې ده او مقصد له اعتزال څخه په ﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ﴾ کې همدا توجيهات دي. البته کله چې ښځه له حيض څخه پاکه شوه او غسل يې وکړ، نو يوځای والی(جماع) ورسره روا دی. مفسرينو له ﴿حَتَّى يَطْهُرْنَ﴾ څخه د حيض بنديدل او له ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ څخه غسل کول مراد کړي دي. د آيت په پای کې دې ته اشاره ده چې د نژديوالي(جماع) روا کېدل هم ځانگړې کچه لري او په هغه کې هم بايد پاکي او سپيڅلتيا مراعات شي، يعنې د نژديوالي محل بايد هغه ځای وي چې د الله له لوري روا شوی دی، نه هغه بل ناروا محل چې (دبر) دی. پرته له شکه د دې معيار مطابق عمل کول پاکي او د الله لوري ته د رجوع کولو نښه ده، چې الله تعالی دا توبه کوونکې او پاک صفته ډله خوښوي.

﴿نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ...﴾: دا مبارک آيت چې د مخکني آيت له احکامو څخه د يوه حکم يعنې د جماع د محل پر تخصيص باندې د دليل او حکمت حيثيت لري، د هغې پوښتنې په ځواب کې چې له ښځو سره د شا له لوري د جماع په روا والي يا نه روا والي نازل شوی دی، ځکه يهودو عقيده درلوده چې که څوک له خپلې ښځې سره د شا له لوري (که څه هم په روا محل کې وي) جماع وکړي، نو دا کار ناروا دی او کوم ماشوم چې له دې لارې پيدا شي، احول(کوږ سترگی) دنيا ته راځي. په دې اړه له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه، په ځواب کې دا آيت نازل شو، چې په هغه کې ښځې د کښت يا د کښت او کرنې له ځای سره تشبيه شوې دي؛ لکه څرنگه چې ځمکه د شنه کيدو او د حاصل ورکولو په نيت کرل کيږي او له هغې څخه حاصل لاس ته راځي، همدارنگه د ښځې په رحم کې هم د انسان نطفه کرل کيږي چې حاصل يې اولاد دی، له دې تشبيه څخه په ښه توگه معلوميږي

چې ولې د جماع ځای ځانګړی شو او له هغه څخه تېرې، لکه څرنګه چې په احادیثو سره ثابت شوی دی، لواطت او لویه ګناه ګڼل کیږي او په فاعل یې لعنت ویل شوی دی. د یو مسلمان هر کار باید له ښک هدف او موخې څخه پرته بل څه نه وي او هغه ځای چې ښکه موخه (د اولاد کښت) په هغه کې ممکن دی، معلوم او څرګند دی. له بلې خوا اوسني طب ثابته کړې ده چې له ښځو او نرانو سره لواطت کول ډول، ډول رنځونه رامنځته کوي، چې علاج یې ناشوني دی. مبارک آیت د دې موضوع له اثبات څخه وروسته، یو بل کار ته اشاره کوي چې هغه د یهودو پر نظریو او عاداتو رد دی، الله تعالی فرمایي ﴿فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ﴾، یعنې: په هره توګه چې غواړئ د خپل کښت ځای ته نژدې شئ، یعنې په ناسته، په اړخ، له مخې، له شا او په نورو حالاتو کې کوم ممانعت، قید او شرط نشته، خو چې د جماع محل هماغه روا شوی ځای وي. په پای کې دې ته اشاره شوې چې داسې نشي چې غفلت پر تاسې غلبه وکړي او له الله تعالی سره مخامخ کېدل درنه هېر کړي ﴿وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ﴾، یعنې: د خپلو ځانونو لپاره نېکې کړنې مخکې ولیږئ او پوه شئ چې ډېر ژر به له خپل الله سره مخامخ شئ او دا لیدنه یوازې د مؤمنانو لپاره زیری دی.

﴿وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ...﴾: دا مبارک آیت او وروسته آیت دواړه د قسم خوړلو په اړه ځانګړي حکمونه بیانوي: لومړی دا چې پر الله تعالی باندې قسم ستاسو د نېکو کارونو د ترسره کولو مانع نشي، لکه چې قسم وکړي چې صدقه به نه ورکوم، له فلاني سړي سره به خبرې نه کوم، د دوو تنو ترمنځ به سوله نه راولم او همدارنګه نورې د خیر چارې. مفسرینو د ﴿عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ﴾ جمله د وروستې جملې په رڼا کې داسې ژباړلې ده: «مانعاً لكم من فعل خير أو ترك إثم أو إصلاح بين الناس»، یعنې: په الله قسم د خیر کار له کولو یا د ګناه د پرېښودلو یا د خلکو په منځ کې د سولې کولو مانع مه ګرځوئ، که چا داسې قسم یاد کړ، هغه ته غوره دا ده چې کفاره ورکړي او د کفارې په ورکولو خپله کړنه له هغه قسم څخه راوباسي او وروستې جمله ﴿أَنْ تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ﴾ علماوو (عطف بیان) یا له «أَيْمَانِكُمْ» څخه (بدل) ګڼلې چې په حقیقت کې هغه تفسیر او توضیح کوي.

دویم دا چې په ځینو قسمونو کې نیوکه نشته او په ځینو کې شته: ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ﴾، یعنې: الله پاک تاسې په لغو قسمونو نه نیسي. (لغو قسم) هغه دی چې انسان په خپل ګومان د یو کار د واقع کېدو په اړه قسم وکړي، خو له واقع کېدلو څخه یې بې خبره وي، یا پرته له قصده د یوه سړي د خبرو په ترڅ کې د (والله) او (بالله) کلمې یادې شي.

﴿وَلَكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾: خو تاسې په هغو قسمونو نیول کیږئ چې ستاسو زړونه یې په قصدي توګه ترسره کوي. څوک چې په دروغو او ناحقه په قصدي توګه قسم وخوري، چې له هغه لارې څخه ورته ګټه رسیږي، دې ته (غموس) قسم ویل کیږي، ځکه د غموس معنا ده ډوبېدل او دا رنګه قسم خپل څښتن په ګناه او الهي عذاب کې ډوبوي. د دې دواړو قسمونو ترمنځ یو بل قسم هم شتون لري، چې د (منعقده) یا (معقوده) قسم په نامه یادیږي او هغه په راتلونکې زمانه کې د یوه شي په ترسره کولو یا پرېښودلو قسم خوړل دي، نو که هغه کار ترسره نشي او یا د نه ترسره کیدو کار تر سره شي، نو په دې صورت کې باید کفاره ورکړي، چې په دې ﴿وَلَـٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ...﴾ (المائده: ۸۹) مبارک آیت، کې ذکر شوی دی.

### فعالیت

د دې لوست د لومړي آیت په پای کې راغلي دي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾ او د دې لوست د دویم آیت په پای کې راغلي دي: ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ﴾، د دې دواړو آیتونو د بېل موضوع ګانو او دغو جملو ترمنځ څه اړیکې شتون لري؟ د تفسیر د ښوونکي په مرسته په دې اړه له یو بل سره بحث او مناقشه وکړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- ☆ د حیض او نفاس پر مهال د هغو ضررونو له امله چې ورځنې منځته راځي، د جماع حراموالی.
- ☆ له ښځې سره په دبر (شا طرف) کې د وطي حرمت .
- ☆ په توبې سره له ګناهونو او په اوبو سره له پلیتیو څخه د پاکی واجبوالی.
- ☆ د نېکو عملونو د مخکې لیږلو واجبوالی، ترڅو د مسلمان لپاره په آخرت کې توښه واوسي.
- ☆ د نېک عملو مسلمانو سړیو او ښځو لپاره الهي زیری.
- ☆ د نېکو عملونو په پرېښودلو د قسم خوړلو عدم جواز.
- ☆ که چا د نېک کار په نه کولو قسم یاد کړ، باید د قسم کفاره ورکړي .
- ☆ الله پاک مسلمان پر لغو قسم باندې نه نیسي.
- ☆ د دروغو په قسم چې په قصدي توګه وي، مسلمان نیول کیږي.

### پوښتنې

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{أذىً}، {فاعتزلوا}، {فإذا تطهَّرن}، {حرث لكم}، {عُرضة}، {أَيْمان}، {اللغو}.

٢- د دې لوست د لومړي آیت د نازلیدو لامل بیان کړئ؟

٣- د (يَطْهُرْن) او (تَطَهَّرن) معناوې څه دي؟

٤- په آیت شریف کې ولې ښځې د کښت له ځای سره تشبیه شوې دي؟

٥- دا تشبیه کوم حکمت ته اشاره کوي؟

٦- که څوک د نېکوکړنو په پرېښودلو قسم یاد کړي، څه باید وکړي؟

٧- د دې لوست له ګټو څخه څلور ګټې بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

ګران زده کوونکي دې، د قسم د ډولونو او د هغو د حکمونو په اړه، لکه څرنګه چې د لوست آیتونو ورته اشاره کړې ده، یو مخ معلومات ولیکي.

## د (البقرة) سورت (۲۲۶ - ۲۲۸) آيتونه

﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَإِنْ عَزَمُوا
الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۲۷﴾ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ
مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُوا
إِصْلَاحًا وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۲۸﴾﴾

### د ځينو کلمو معنا

{يُؤْلُونَ} ايلاء کوي (څوک چې قسم ياد کړي چې له خپلې ښځې سره به جماع ونکړم، دې قسم ته (ايلاء) ويل کيږي).

{تَرَبُّص} انتظار .

{فَاءُوا} راوګرځېدل (وروسته له قسم کولو، له خپلو ښځو سره يوځای شول).

{عَزَمُوا} له زړه يې قصد او هوډ وکړ.

{الْمُطَلَّقَاتُ} د (مطلقة) جمع ده او په هغو ښځو يې اطلاق کيږي، چې مېړونو يې طلاق ورکړی وي يا يې قاضي د طلاق حکم صادر کړی وي.

{يَتَرَبَّصْنَ} انتظار دې وباسي.

{قُرُوءٍ} له حيض څخه د ښځې د پاکۍ مودې او همدارنګه د حيض مودې ته (قرء) ويل کيږي.

{بُعُولَتُهُنَّ} د دوی مېړونه.

{فِي ذَلِكَ} (ذَلِکَ) د انتظار مودې ته اشاره ده.

{وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ} او ښځو ته هم پر سړيو هماغسې حقوق دي لکه څرنګه چې سړيو ته پر ښځو باندې دي.

### ژباړه

کوم خلک چې له خپلو ښځو سره د جماع نه کولو لوړې کوي، هغوی ته څلور مياشتې وخت دی، که يې ورته رجوع وکړه، نو الله ښښونکی او رحيم دی. او که د طلاق قصد يې وکړ (او رجوع يې ونه کړه)، نو ښېښکه چې الله (د ګردو اقوالو) ښه اورېدونکی (پر ټولو احوالو) ښه عالم دی. کومو ښځو ته چې طلاق ورکړای شوی وي، هغوی دې په خپلو ځانونو د دريو حيضونو موده انتظار تېر کړي او دا ورته روا نه ده چې هغه څه چې الله د دوی په رحم کې پيدا کړی وي، هغه پټ کړي (هغوی ته هيڅکله نه ښايي چې داسې وکړي) که پر خدای او د آخرت پر ورځ ايمان لري. د دوی مېړونه په دې موده کې د دې ښځو د بيا رجوع کولو ښه لايق (وړ) دي، که چېرې دوی (په خپلو منځو کې) د جوړښت اراده ولري. د ښځو لپاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه څرنګه چې د نارينه وو پر هغو دي، البته نارينه پر هغوی يوه درجه فضيلت لري او الله پر ټولو غالب، مقتدر او د حکمت او پوهې څښتن دی.

### اجمالي تفسير

﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ...﴾: څرنګه چې په مخکيني آيت کې د قسم خوړلو ذکر وشو او دا چې قسم بايد له

نېک کار څخه مانع نشي، په دې دوو مبارکو آيتونو کې په همدې مناسبت د هغه قسم حکم بيانيږي، چې ښځې ته د نه نژدې کېدو يعنې له هغې سره د جماع نه کولو لپاره وکړای شي، چې دې ته (ايلاء) ويل کيږي او (ايلاء) په عربي ژبه کې قسم ته وايي، خو اصطلاحاً په همدې ذکر شوي قسم پورې ځانګړې شوی دی.

د جاهليت په وخت کې خلکو داسې دود درلود چې پر ښځو باندې د فشار راوړلو لپاره به يې قسم ياداوه چې يو کال يا له يو کال څخه زيات وخت به خپلې ښځې ته نه نژدې کيږي، نو هغه به يې په دې موده کې پرېښودله. هغې ښځې به نه له بل چا سره نکاح کولای شواې او نه به ده ښځه ګڼله. له اسلام نه وروسته هم ځينې خلک د دې ناوړه عمل مرتکب شول، نو دا مبارک آيتونه نازل شول چې ايلاء کوونکو ته يې ځانګړې وخت يعنې څلور مياشتې مهلت ورکړ، ترڅو ښه فکر وکړي، که غواړي چې دې ضرر ته د پای ټکی کيږدي، نو خپلې ښځې ته دې راوګرځي او خپل قسم دې په کفاره ورکولو مات کړي او که د رجوع نيت نه لري، نو طلاق دې ورکړي.د ټاکلې مودې په تېريدو طلاق واقع کيږي او د اسلام شريعت اجازه نه ورکوي چې د ښځو په حق کې تېری وشي.

د اسلام مبين دين نه غواړي، چې په آسانۍ د يوې کورنۍ ګډ ژوند له منځه لاړ شي، نو له همدې وجې د فکر کولو لپاره کافي موده ورکوي، ترڅو که چيرې ښځه ناشکري کوي او ستونزې جوړوي، په دې موده کې ځان اصلاح کړي او هم مېړه فکر وکړي، د ځان او ښځې مصلحت او ښېګڼې په نظر کې ونيسي. الله پاک رجوع کولو ته د تشويق او ترغيب لپاره د آيت په پای کې فرمايي: ﴿فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾: که چيرې له خپلو قسمونو راوګرځېدل او خپل ګډ ژوندانه ته يې رجوع وکړه، نو الله ښښونکی او مهربانه دی، يعنې: هغوی ببښي او مهرباني پرې کوي. په وروسته آيت کې خبر ورکوي چې که مېړه واقعاً د طلاق هوډ لري، نو ودې پوهيږي چې الله تعالی اوريدونکی او پوه دی، بايد خپلو ښځو ته د ضرر رسولو په فکر کې ونه اوسي.

﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ ...﴾: له دې آيت څخه تر پنځو راتلونکو آيتونو پورې، په مفصله توګه د طلاق احکام په داسې توګه بيانيږي چې د اسلام د سپېڅلي دين ټولنيز عدالت او مساوات په نظر کې نيسي. د دې آيت او مخکني آيت ترمنځ مناسبت دا دی، لکه څرنګه چې د ايلاء په مسئله کې انتظار کولو ته اشاره وشوه، په دې آيت کې يو بل ډول انتظار ايستلو ته اشاره کيږي، چې هغه د طلاقې شوې ښځې انتظار دی. په دې آيت کې له (مطلقات) څخه هغه ښځې مراد دي، چې مېړونه ورسره يوځای شوي وي، حمل ونه لري او حيض ويني، ځکه هره يوه له دوی څخه ځانګړي حکمونه لري چې په نورو آيتونو کې راغلي، خو د دې ډول ښځو حکم د دې قرآني آيت پر اساس دا دی، چې بايد درې قرء انتظار وباسي او د دې مودې پوره کېدو پورې له چا سره نکاح ونه کړي.

## د (قرء) معنا او مفهوم

علماء د (قرء) اطلاق هم په حيض کوي او هم په طهر(پاکی)، يعنې د صحابه وو له پيرۍ څخه تر اوسه پورې په دې اړه دوه نظريې وړاندې شوې دي، حضرت عمر، حضرت علي او حضرت عبد الله بن مسعود (رضي الله عنهم) او د دوی په پيروۍ احنافو او حنابله وو له (قرء) څخه په دې مبارک آيت کې، حيض مراد کړی، يعنې طلاقې شوې ښځې بايد درې حيضه تېر کړي، خو أم المؤمنين عائشه (رضي الله عنها)، عبد الله بن عمر، زيد بن ثابت (رضي الله عنهم) او د دوی په پيروۍ شوافع او مالکيان له (قرء) څخه طهر مرادوي، يعنې هغه ورځې چې د دوو حيضونو ترمنځ دي، نو د دوی په نزد

معنا داسې کیږي چې طلاقې شوې ښځې باید درې طهره(یعنې درې پاکی) تېرې کړي. د دواړو ډلو دلایل په فقه او اصول فقه کې ذکر شوي دي او دا لوست د دې تفصیل جوګه نه دی، خو دومره باید پوه شو چې دا اختلاف د آیت اصلي هدف او موخې ته څه ځانګړی تغیر نه ورکوي، ځکه مراد ترې دا دی چې د ښځې رحم د لومړني مېړه له نطفې څخه ښه پاک شي او داکار هم په دریو حیضونو سره څرګندیږي او هم په دریو طهرونو، په هر صورت کې دا موده چې درې میاشتې نیسي باید تېره کړي، البته څوک باید دا شبهه ونه کړي، چې مقصد د ښځې د رحم خالي والی دی، نو داکار د اوسني طبي وسایلو په واسطه په یوه ورځ کې معلومیږي، نو دریو حیضونو یا دریو طهرونو تېرولو ته څه ضرورت دی؟ لومړی دا چې په دې کې لس ګونه حکمتونه اوګټې نغښتې دي او دویم دا چې کله آسماني امر په څه شي صراحت کړی وي، نو په هغه کې چا ته د فلسفې بیانولو حق نشته او واقعي مسلمان باید د زړه له کومې د هغه پیروي وکړي. د عدت په موده کې د انتظار ترټولو غوره حکمت اوګټه دا ده، ترڅو مېړه او ښځه د فکر کولو او هوډ نیولو لپاره ښه کافي وخت ولري او د طلاق د پړاو په پای ته رسولو کې له بیړې څخه کار وانخلي، ترڅو د هغوی کورنۍ له منځه لاړه نشي.

## د ژوندانه د ادابو په اړه څو ټکي

هېر مو نشي چې دا مبارک آیت څو اړینو ټکو ته اشاره کوي، له هغو څخه یو دا دی چې کله ښځه طلاقه شي، نو له روحي نظره غواړي چې ډېر ژر ثابته کړي چې د هغې طلاق د کومې نیمګړتیا او یا ضعف له وجې نه و او هغه د نوي کورني ژوند له جوړولو څخه بېوسې نه ده، نو باید وروسته له طلاق څخه سمدستي له بل سړي سره نکاح وکړي، خو قرآن کریم په ځانګړي حکمت سره، ښځه متوجه کوي، چې د نوې کورنۍ جوړول عیب نه دی، خو د یوې شریفې او پتمنې ښځې لپاره هره ورځ له یوه مېړه څخه بل مېړه ته نقلېدل عیب دی. باید یوه موده تېره شي، ډېر په بیړه هوډ ونه نیسي او لالهانده په بل مېړه پسې ونه ګرځي، ترڅو خلک وریسې راشي او له ښه فکر او ډېر سوچ وروسته ښه سړی غوره کړي. بل ټکی دا دی چې ښځه ویروي ترڅو داسې نشي چې هغه له بیړې کار واخلي او حقایق پټ کړي او څه چې الله د دې په رحم کې د لومړي مېړه له نطفې څخه پیدا کړي، هغه پټ کړي، چې داکار د نسبونو د ورکېدلو لامل ګرځي او ټولنیزې ستونزې را منځته کوي.

همدارنګه د﴿وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾ جمله، یو بل حکمت ته اشاره کوي او هغه مخکې له دې چې د دوی ژوند سره ګډوډ شي، دویم ځلې ژوندانه ته د دواړو خواوو ترغیب او تشویق دی او دا هغه وخت کیږي چې سړی ښځې ته رجعي طلاق ورکړی وي، یعنې له یو طلاق ورکولو وروسته غوره دا دی چې سړی د بېلېدلو مثبت او منفي اړخونه پرتله کړي او پوه شي چې منفي اړخونه په مراتبو له مثبتو اړخونو څخه ډېر دي، نو باید په خپلو کړو وړو کې غوره اصلاحات راولي چې د ﴿إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا﴾ قید د همدې دواړو خواوو پښیمانیو او پخوانیو اشتباهاتو ته د پاملرنې اشاره ده، ترڅو په راتلونکي وخت کې غوره ژوند ولري.

په ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ جمله کې د دواړو خواوو مساوي حقوقو ته اشاره ده، یعنې څرنګه چې مېړونه پر ښځو حقوق لري، همدارنګه ښځې هم پر مېړونو باندې د حقوقو لرونکې دي، هو! مماثلت او برابري په وجوب کې مراد دی نه په اعمالو کې، یعنې لازمه نه ده چې ښځه د سړي جامې ووینځي، نو مېړه هم د ښځې جامې ووینځي، بلکې مېړه باید هغه کړنې ترسره کړي چې د ده له حال سره مناسب وي او مراد له﴿بِالْمَعْرُوفِ﴾ څخه هغه څه دي چې سالم طبیعت یې خوښوي او عرف پرې جاري وي. د آیت په پای کې د مېړه د قیمومیت او اداري ځانګړې مرتبې ته، چې په حقیقت کې یو ټولنیز مسؤولیت دی، اشاره شوې ده، فرمایي: ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾: څرګنده ده

چې ښځه او مېړه دواړه يوځای له اولادونو سره يوه وړه ټولنه جوړوي او هيڅ ټولنه پرته له قوانينو او تدبير کوونکي شخصه په مخکې نه ځي، نو ځکه په کورنۍ کې دا مسؤوليت سړي ته سپارل شوی او د هغو هلو، ځلو په اساس چې په دې لار کې يې ګالي او لګښتونو ته غاړه ږدي، د برلاسی او غوره والي درجه، ده ته په نظر کې نيول شوې ده.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د مضمون د ښوونکي په مرسته، د ايلاء د لغوي او اصطلاحي تعريف او د اړوندو شرعي احکامو په اړه بحث او څېړنه وکړي.

## د لوست ګټې

د لوست په مبارکو آيتونو کې ډېرې زده کړې او پندونه نغښتي دي، چې ځينو ته يې په لاندې ډول اشاره کېږي:

- د ايلاء د حکم او پر ښځو باندې له ظلم څخه د ممانعت په اړه، د اسلامي عدالت بيان.
- د کورني نظام له کمزورېدلو نه د مخنيوي لپاره، د اسلام د سپېڅلي دين پاملرنه.
- د طلاقې شوې ښځې د عدت تېرولو بيان، په هغه حالت کې چې د مياشتني حيض وينه يې نه وي بنده شوې.
- د عدت په ورځو کې خپلې ښځې ته د مېړه د راګرځېدلو او رجعت مستحقوالی او د عدت په ورځو کې له بل سره د نکاح کولو حراموالی.
- د مېړه او ښځې پر يو بل باندې د حقوقو ثبوت.
- د کورني ژوند په چارو کې د مېړه لپاره د قيادت او مشرۍ ثابتوالی.

**پوښتنې**

١- لاندې کلمې معنا کړئ:

{يُؤلون}، {تربّص}، {فإن فاءوا}، {عَزَمُواْ}، {المطلّقات}، {يتربَّصن}، {بعُولتهن}.

٢- د دې ﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ﴾ مبارک آيت د نازلېدو لامل بيان کړئ.

٣-د پورتني آيت اړيکه له مخکني آيت سره واضح کړئ.

٤- ايلاء د جاهليت په وخت کې څرنګه وه؟

٥- په دې ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ﴾ مبارک آيت کې له مطلقاتو څخه کومې ښځې مراد دي؟

٦- د ښځو او سړيو د حقوقو له برابرۍ څخه کوم مماثلت مراد دی؟

٧- دا ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ جمله تفسير او شرحه کړئ؟

**کورنۍ دنده**

له لوست څخه په ګټې اخيستلو، د ژوندانه د آدابو د څلورو ټکو په اړه، چې د لوست وروستي آيت ورته اشاره کړې ده، يوه لنډه مقاله وليکئ .

# د (البقرة) سورت (۲۲۹ - ۲۳۰) آيتونه

﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿۲۲۹﴾ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿۲۳۰﴾﴾

## د ځينوکلماتو معنا

| | |
|---|---|
| {الطَّلَاقُ} | هغه طلاق مراد دی، چې طلاق ورکوونکی يعنې مېړه خپلې ښځې ته د راګرځېدو حق ولري (رجعي طلاق). |
| {مَرَّتَانِ} | دوه ځلې. |
| { إِمْسَاكٌ } | ساتنه. |
| {تَسْرِيحٌ} | پرېښودل. |
| {حُدُودَ اللَّهِ} | د الله احکام (د مېړه او ښځې ترمنځ له غوره ژوندون څخه عبارت دي). |
| {افْتَدَتْ} | دا چې ښځه خپل عوض مېړه ته ورکړي (يعنې خلع وکړي). |
| {فَلَا جُنَاحَ} | نو ګناه او تکليف نشته. |
| {أَنْ يَتَرَاجَعَا} | دا چې هر يو له مېړه او ښځې، يو بل ته په نوي ترون سره رجوع وکړي. |

## ژباړه

طلاق دوه ځلې دی، بيا دې يا په سمه توګه (ښځه) وساتله شي يا دې په ښه توګه پرېښودله شي او روا نه دي (په داسې شان رخصتول) تاسې ته چې څه شی (مهر) مو هغوی ته ورکړی وي، له هغو نه يو څه بېرته واخلئ، مګر دا چې دوی دواړه (مېړه او ښځه) وېرېدل، چې د الله احکام (په زوجيه امورو کې) ونشي ساتلای، نو که تاسو وېرېدلای چې دوی دواړه، د الله احکام ساتلای نشي، نو پر هغوی باندې هېڅ ګناه په دې کې نشته، چې ښځه فديه ورکړي (او طلاق واخلي) او دا د الله ټاکلې پولې دي، له دې نه مه اوړئ او څوک چې د الله له پولو نه واوړي، هماغه ظالمان دي. بيا که له دوه ځلې طلاق ورکولو نه وروسته ښځې ته دريم ځل طلاق ورکړي، نو هغه ښځه بيا د هغه لپاره روا نه ده، مګر دا چې له بل چا سره د هغې نکاح وشي او هغه يې طلاقه کړي، که له هغه وروسته لومړي مېړه او دې ښځې دواړو دا فکر وکړ چې پر الهي حدودو به ودرېږي، نو که دوی يو او بل ته رجوع وکړي، څه باک نشته. دا د الله ټاکلي حدود دي، د هغو خلکو د لارموندنې لپاره يې څرګندوي، چې د هغه(د حدودو د ماتولو پر عاقبت) پوهيږي.

## اجمالي تفسير

﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ...﴾: د عربو دا عادت او دود و، چې که سړي به خپلې ښځې ته لسګونه طلاقونه ورکول بيا يې هم هغې ته د رجوع کولو حق درلود، ترڅو چې به ښځه په عدت کې وه، خوکله چې په دې کار کې ښځو ته ضرر او بې عزتي وه، نو الله تعالى دا مبارک آيت نازل کړ او په هغه کې مېړه ته يوازې په دوو طلاقو کې د مراجعت حق ورکړ شوی دی، هغه هم په هغه موده کې چې ښځه په عدت کې وي، نو بيا که د ښځې عدت تېر شي يا مېړه خپلې ښځې ته درې طلاقونه ورکړل، په دې سره د ده د رجعت حق سلبېږي او ښځه پر ده حرامېږي، نو د مبارک آيت معنا داسې کېږي: رجعي طلاق دوه ځلې دی چې له هغه وروسته سړي ته دوه اختياره شته، يا رجعت(امساک) يا پرېښودل او حرمت، دا حرمت يا په دريم طلاق ثابتېږي او يا د ښځې د عدت په تېرېدلو، البته رجعت هم بايد په نېکه او ښه توګه وي، يعنې د ګډ ژوندانه د ارامۍ او ښه تعامل په نيت او پرېښودل هم بايد په نېکه او ښه توګه وي، يعنې پرته له ظلم، تېري او د ښځې د حقوقو په اداء کولو سره، لکه څرنګه چې وروستۍ جمله ﴿وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا﴾ همدې مطلوب احسان ته اشاره کوي، يعنې: تاسې ته روا نه ده چې د دوی له مهرونو څخه چې کله مو اداء کړي وي، يوڅه بيرته واخلئ يا په هغه صورت کې چې غوښتي مو وي چې اداء يې کړئ، نو څه ترې کم کړئ، چې دا کار د احسان خلاف دی.

## د آيت شان نزول

که څه هم په عامه توګه د آيت د نازليدو سبب د جاهليت د هماغه دود او عادت چې مخکې ورته اشاره وشوه، له منځه وړل ګڼل کيږي، خو د صحيحو روايتونو پر اساس د ياد شوي آيت د نازليدو سبب داسې راغلی دی: يوه سړي خپلې ښځې ته ويلي و، چې له تاسره به داسې کار وکړم چې نه به ته د تل لپاره طلاقه شې او نه به زما ښځه شې، هغې ښځې پوښتنه وکړه څرنګه؟ سړي ځواب ورکړ چې طلاق درکوم او کله چې دې د عدت وروستۍ ورځ راشي، رجوع درته کوم او د ژوند تر پايه به درسره داسې کار کوم، د عربو له عادت سره سم له اسلام نه مخکې دا کار د دوی لپاره روا و، بيا هغې ښځې خپل عرض رسول اللهﷺ ته وړاندې کړ او دا مبارک آيت نازل شو چې په دې سره پر ښځو باندې د تېري مخنيوی وشو.

## ارزښتناکه څرګندونه

دا مبارک آيت د ډېرو مفسرينو په نزد د رجعي طلاق د شمېر بيانوونکی دی چې هغه دوه طلاقه دي. برابره ده چې دا دوه طلاقه بېل، بېل ورکړلای شي يا يوځای په يوه لفظ يا په دوو الفاظو سره، په دې صورت کې له (مرتان) څخه مراد د تثنيه حقيقت دی او له ﴿أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ څخه مراد دا دی چې ښځې ته رجعت ونشي او د عدت په تېرېدلو سره هغه بائنه او پر مېړه باندې حرامه کيږي.

خو د ځينو مفسرينو په وړاندې دا د شرعي طلاق د عدد بيانوونکی دی چې درې طلاقه دي او په دريو بېلو، بېلو وختونو ورکول کيږي، نه په يوځل او يو وخت، چې په دې صورت کې له (مرّتان) څخه تکرار مراد دی، يعنې يو د

بل پسې او له ﴿أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ څخه مراد دریم طلاق دی، لکه څرنګه چې په حدیث شریف کې راغلي چې چا له نبي کریمﷺ څخه پوښتنه وکړه چې الله تعالی په قرآن کریم کې دوه طلاقه ذکر کړي دی، نو دریم طلاق چیرې دی؟ ده وفرمایل: ﴿أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾، نو تسریح یعنې طلاق.

## خلع کول

د مبارک آیت دغه ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ برخه خلعې ته اشاره کوي او (خلع) په لغت کې ایستلو او بهر کولو ته وايي او په اصطلاح کې خلع دا ده چې یوه ښځه خپل مېړه ته د خپل مهر یا بل څه په ورکولوسره، ځان د نکاح له قیده وباسي، البته دا خلع کول د دې مبارک آیت په لاربنوونه، په هغه صورت کې روا ده چې سړی د ښځې په وړاندې څه نیمګړتیا او تقصیر ونه لري، خو ښځه په طبعي توګه له دې سړي سره جوړه رانشي او وېره له دې څخه وي چې د سړي او ښځې ترمنځ الهي احکام او حدود مراعات نشي، نو په داسې حالت کې سړی کولای شي چې د ګډ ترتیب شوي ژوندانه د خرابېدلو په مقابل کې، یو څه له ښځې څخه واخلي، که نه نو د سړي لپاره له ښځې څخه د طلاق په مقابل کې د څه شي اخیستل روا نه دي.

﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ...﴾: په دې مبارک آیت کې دریم طلاق او د هغه حکم ته اشاره ده، یعنې: که چیرې له دوه تېر شویوطلاقو وروسته چې مېړه په هغو کې د رجعت حق درلود، بل طلاق یې هم ورکړ، په دې صورت کې مېړه ته دا ښځه په رجوع کولو نه روا کیږي، مګر په یو صورت کې رواکیږي او هغه دا چې ښځه له بل مېړه سره نکاح وکړي او هغه مېړه له دې سره جماع هم ترسره کړي، نو بیا که د دوی دواړو ترمنځ طلاق منځته راشي، نو د عدت له تېریدلو وروسته لومړنی مېړه کولای شي له دې ښځې سره دویم ځلې نکاح وکړي، لکه څرنګه چې په صحیح حدیث کې د نکاح او جماع قیدونه دواړه راغلي، چې د دې آیت لپاره تفسیر ګڼل کیږي.

﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ﴾: که چیرې دویم مېړه ښځې ته طلاق ورکړي، په دې صورت کې په دواړو خواوو (لومړني مېړه او ښځې) څه ګناه نشته چې بیا یو او بل ته مراجعه وکړي، چې دا مراجعه په نوې نکاح سره کیږي، ځکه دا ښځه د پردی ښځې په څېر په لومړني مېړه حرامه شوې وه او اوس کولای شي دویم ځل ورسره نکاح وتړي.

د الله د حدود د قایمیدلو موضوع په دې آیتونو کې څو ځلې تکرار شوې ده او موخه ورځنې په ښه توګه ژوند کول، یو پر بل ظلم نه کول، د شرعي او ټولنیزو حقوقو مراعاتول دي. دا تکرار د دې نښه ده چې په حقیقت کې اسلامي دین د ښځو حقوقو او د دوی انساني کرامت ته ډېر ارزښت ورکوي او د اسلام د دښمنانو د ناسمو تورونو پر خلاف، په هره ممکنه توګه هلې ځلې کوي، ترڅو د ښځو په حقوقو کې کمی رانشي، بلکې ټول هغه احکام چې موږ په دې لوستونو کې ولوستل، په ښه توګه دا څرګندوی چې د اسلام پر ضد دروغ جوړونکي څومره بې انصافه او له حقیقت څخه لرې دي.

### فعالیت

د طلاق او د جاهلیت د زماني د عاداتو په اړه بحث وکړئ او د ښځو پر ژوندانه د دغو ناوړو عاداتو اغېزې په ټولګي کې وڅېړئ.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارکو آیتونو ډېر غوره پندونه او نصیحتونه په ځان کې رانغښتي، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- د طلاق د سمې او شرعي طریقې بیان.
- پر لومړني مېړه باندې د درې طلاقه ورکړل شوې ښځې حرمت، مګر وروسته له بلې صحیح نکاح او طلاق، یا د دویم مېړه له وفات څخه.
- د خلع روا والی.
- د الهي حدودو او احکامو د مراعاتولو واجبوالی او له هغو څخه د تېرې حرمت.
- د ظلم حرمت او هغه په درې ډوله دی: لومړی : له الله سره شریک نیول او دا ظلم له توبې او رجوع څخه پرته نه بښل کیږي. دویم: د الله پر بنده ګانو ظلم کول او دا ظلم د حقوقو په مستردولو او یا د بنده ګانو په معاف کولو بښل کیږي. دریم: د الله له حدودو څخه په تېری کولو، پرخپل نفس ظلم کول او د دې ظلم بښل او نه بښل الله پورې اړه لري.
- د دویم مېړه مړینه د هغه د طلاق په شان ده، چې ښځه د لومړني مېړه لپاره حلالوي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

**{فإمساك}، {أو تسريح}، {حدودُ الله}، {فيما افتدت به}، {فلا جناح}، {أن يترَاجعا}.**

۲- رجعي طلاق کوم طلاق ته ویل کیږي؟

۳- د هغو طلاقونو شمېر چې مېړه پکې د رجعت حق لري، څو دی؟

٤- له {إمساك بمعروف} او {تسريح بإحسان} څخه مراد څه دی؟

۵- د ﴿الطلاق مرتان﴾ د مبارک آیت د نازلیدو لامل بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

د کورنۍ د جوړښت د ارزښت او له هغو څیزونو څخه د ځان ژغورلو په اړه، چې د مېړه او ښځې د اړیکو ترمنځ د ستونزو د راپیدا کېدلو او په پای کې د طلاق ورکولو لامل ګرځي، یوه مقاله ولیکئ چې له یوې پاڼې څخه کمه نه وي.

# د (البقرة) سورت (۲۳۱ - ۲۳۲) آیتونه

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۲۳۱﴾ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوفِ ذَلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكُمْ أَزْكَى لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۲۳۲﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{أَجَلَهُنَّ} له (أجل) څخه مراد د عدت د مودې پای ته رسیدل دي.

{ضِرَارًا} د ضرر رسولو لپاره.

{هُزُوًا} ټوکې او مسخرې.

{نِعْمَةَ اللَّهِ} د الله تعالی نعمت (مراد ورڅخه اسلام دی).

{الْحِكْمَةِ} علم (مراد ورڅخه نبوي سنت دی).

{لَا تَعْضُلُوهُنَّ} دوی مه ایساروئ، مه منع کوئ.

{إِذَا تَرَاضَوْا} کله چې دواړه خواوې راضي شوې.

{أَزْكَى لَكُمْ} ستاسو لپاره غوره او ګټوره ده.

{أَطْهَرُ} ډېر پاکیزه.

## ژباړه

او کله چې تاسې ښځو ته طلاق ورکړئ او د هغو عدت په پوره کېدو شي، نو یا یې په ښه توګه وساتئ (یعني رجوع ورته وکړئ) یا یې په ښه شان رخصت کړئ، د ربړولو لپاره یې مه ایساروئ، چې دا به تېرى او زیاتی وي او څوک چې دا کار وکړي، هغه به په حقیقت کې خپله پر خپل ځان ظلم کړای وي. د الله پر آیتونو ملنډې مه وهئ، او یاد کړئ د الله نعمت پر تاسې باندې (چې اسلام دی) او (یاد کړئ) هغه چې نازل کړی دی (الله) پر تاسې باندې، چې کتاب او حکمت دی، الله تاسې ته پند درکوي په هغه سره او وویرېږئ له الله څخه او پوه شئ، چې بېشکه الله پرهرشي باندې ښه پوه دی. کله چې تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغوی خپل عدت پوره کړ، نو تاسې دوی مه منع کوئ له دې څخه چې د خپلې خوښې مېړونه غوره کړي که د دواړو خواوو په دې موافقه راغله چې سره نکاح وکړي، دا (حکم

د نه منع کولو) پند ورکول کېږي، په دې سره هغه چاته چې وي له تاسې څخه چې په الله او د آخرت په ورځې باندې ایمان لري، دا (نه منع کول او د ضرر ترک) تاسې (او دوی ته) ډېر غوره او ښه پاکیزه دی او الله (پرهرشي) عالم دی او تاسې (په خپل خیر هم) نه پوهېږئ.

### اجمالي تفسیر

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ ...﴾: دا مبارك آیت یو ځل بیا مؤمنو بنده گانو ته امر کوي چې که چیرې د دوی او د دوی د ښځو ترمنځ طلاق واقع شو او دوی په شرعي طلاق سره (یعنې په مختلفو وختونو کې نه په یو وخت کې او له حیض نه د پاکۍ په وخت کې) خپلو ښځو ته طلاق ورکړ، نو کله چې ښځه د خپل عدت وروستیو ورځو ته ورسیده، نو په دې وخت کې نباید د جاهلیت د وختونو په څېر اعمال ترسره شي، یا به یې په ښه نیت د نیکمرغه ژوند لپاره راگرځوي یعنې رجعت به ورته کوي، یا به یې پرېږدي، ترڅو یې عدت پوره شي او په دې وخت کې دې هم ښیگڼه او احسان نه هېروي، خپل حق به ورکوي او په ټولنه کې به یې نه بدناموي.
بل ټکی چې مبارك آیت ورته اشاره کوي، هغه دا دی چې د غچ اخیستلو په نیت به ښځې ته مراجعه نه کوي، ترڅو ضرر او تاوان ور ورسوي، په داسې توگه چې طلاق ورکوي او نه ورسره ښه ژوند او معامله کوي، ترڅو مظلومه ښځه دې ته مجبوره شي چې څه شی مېړه ته ورکړي او خلع ورسره وکړي، نو داکار داسې لویه گناه ده چې یو خوا د الله له حدودو څخه تېری دی او بل خوا الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ﴾، یعنې: چا چې قصداً داکار وکړ، نو پوه دې شي چې ده په ځان ظلم کړی دی او په دې پسې پیوسته فرمایي: ﴿وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا﴾، یعنې: دا د الله آیتونه (الهي احکام، اوامر او نواهي ور څخه هدف دي) په ټوکو او ملنډو مه نیسئ او هغو ته په سپکه سترگه مه گورئ، چې سزا به یې ډېره سخته او درنه وي.
د مبارك آیت په پای کې مؤمنانو ته، د الله تعالی د نعمتونو یادونه ده چې تر ټولو لوی نعمت یې اسلام دی او د نورو نعمتونو له ډلې څخه په ځانگړې توگه د کتاب او حکمت رالېږلو نعمت وریادوي. مفسرین له (حکمت) څخه نبوي سنت مرادوي او دا څرگندوي چې کتاب او سنت سر تر پایه ستاسو لپاره نصیحت دی، نو د دې نعمتونو له شکر څخه غفلت مه کوئ او پرهیزگاري او د الله وېره خپله کړنه وگرځوئ.
﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ...﴾: دا خطاب د ښځې اولیاوو او هغو کسانو ته دی، چې خبرې یې په ښځه نیغه اغېزه لري او دوی ته لارښوونه کوي چې هرکله ښځه له خپل مېړه څخه طلاقه شوه او عدت یې تېر شو، نو په دې صورت کې که سړی د دویم ځلي نکاح غوښتونکی وي او ښځه هم

موافقه وي او دواړو د ښه ژوند تېرولو هوډ کړی وي، نو د ښځې اولیا باید د دې مانع نشي. (عضل) د لغت له مخې، په ستونزو کې اچولو ته ویل کیږي، لکه چې په عربي کې وایي: "عَضلتُ علیه أی ضَیَّقتُ علیه" یعنې پر هغه مې تنګسیا او ستونزه راوستله، نو له همدې امله د منع کولو معنا هم ورکوي، ځکه چې همدا فشار او تنګي د مخنیوي لامل ګرځي، له همدې وجې ځینو مفسرینو خطاب میړونو ته متوجه کړی، په دې معنا چې کله مو خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او د عدت په ورځو کې مو مراجعه هم ونکړه، نو ښځه وروسته له باین کیدلو (جدا کیدلو) څخه مه تنګوئ، د ښځې خوښه ده چې له هر چا سره نکاح کوي دا د ځان لپاره ننګ او شرم مه ګڼئ. په دې تفسیر سره د ﴿طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ﴾ ضمیر میړونو ته راجع دی، نو دا خطاب د ﴿فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ﴾ له خطاب سره توافق پیدا کوي او دې توجیه ته ترجیح ورکوي.

که د آیت شان نزول ته وګورو، نو لومړنی تفسیر یعنې اولیاوو ته خطاب راجح په نظر راځي، ځکه د آیت د نازلېدو په اړه داسې راغلي دي: یوه صحابي د معقل بن یسار رضي الله عنه په نامه، یوه خور درلوده چې مېړه یې طلاق ورکړی و او عدت یې تېر شوی و، هغې غوښتل چې له پخواني مېړه سره دویم ځلي نکاح وکړي او دواړه راضي هم وو، خو حضرت معقل له دې کار څخه مخالفت کاوه، هماغه و چې دا آیت نازل شو او حضرت معقل دې آسماني پیغام ته لبیک ووایه او اطاعت یې وکړ.

﴿ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ ... ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ﴾: (ذلک) یادې شوې منعې ته اشاره ده (له منعې څخه نهې) او په (ذلکم) کې د هغه څه پرېښودلو ته اشاره ده چې له هغه څخه نهې راغلې ده، یعنې د منع پرېښودل. خو (کاف) په دواړو کې د خطاب لپاره دی چې په لومړي صورت کې مفرد (لک: ستا لپاره) او په دویم ځای کې جمع (لکم: ستاسو لپاره) راغلی دی او دا دوړل خطاب (چې یو ډول مخاطب لپاره په مفرد، تثنیه او جمع ضمیر سره خطاب دی) په قرآن کریم کې ډېر ځایونه استعمال شوی دی، البته تفصیل یې په لویو تفسیرونو کې شته. الله تعالی فرمایي: له دې منع څخه هغه کسان پند او نصیحت اخلي چې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري، بیا فرمایي: د دې منع پرېښودل تاسو او ستاسو ټولنې ته ډېر غوره او سپېځلی دی؛ ځکه الله تعالی ستاسو پر نفسونو له تاسو څخه زیات خبر دی.

**فعالیت**

د هغو خلکو د ګناه په اړه، چې د الله پر احکامو ملنډې وهي، له یو بل سره بحث او خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

ځینې هغه ګټې چې د لوست له آیتونو څخه ترلاسه کیږي، په لاندې ډول دي:

- ښځې ته د ضرر رسولو او فشار راوړلو په نیت، ترڅو هغه خلع ته اړه شي، د رجوع کولو حراموالی.
- د شریعت له احکامو څخه د بې پروایۍ او د هغو د نه مراعاتولو حرمت.
- د الله تعالی د نعمتونو یادونه، پر ژبه او زړه د هغو د شکر اداکولو واجبوالی.
- مسلمان باید پر دې باوري وي چې الله د ده پر ټولو کړو وړو خبردی: ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾.
- ټولې ښیګڼې او پاکي د الله په اوامرو او نواهیو کې نغښتې دي.

### پوښتنې

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:

{ضِراراً}، {هُزواً}، {الحكمة}، {تَراضوا}، {أَزْكى لكم}، {أَطْهَر}.

۲- د مبارک آیت د دې ﴿فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ﴾ جملې معنا او مفهوم څه دی؟

۳- طلاقې شوې ښځې ته که څوک د ضرر رسولو په نیت رجوع کوي، په مبارک آیت کې یې جزا څه بیان شوې ده؟

٤- د دې لوست په مبارک آیت کې له ﴿آيَاتِ اللَّهِ﴾ څخه موخه څه ده؟

٥- د {لَا تَعْضُلُوهُنَّ} لغوي معنا بیان کړئ؟

### کورنۍ دنده

د دې لوست درسونه او عبرتونه، په یوه پاڼه کې ولیکئ او پر هغو خپل معلومات ورزیات کړئ.

# د (البقرة) سورت (۲۳۳ - ۲۳۴) آیتونه

﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ
﴿۲۳۳﴾ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۲۳٤﴾﴾

## د ځینو کلمو معنا

{حَوْلَيْنِ} دوه کاله.

{الْمَوْلُودِلَهُ} مراد ورڅخه پلار دی.

{بِالْمَعْرُوفِ} په ښه توګه .

{وُسْعَهَا} د هغه د وس او طاقت په پرتله.

{لَاتُضَارَّ} ضرر دې ونه رسول شي.

{الْوَارِثِ} د پلار وارث یا د ماشوم وارث.

{فِصَالا} له شیدو بېلول.

{يُتَوَفَّوْنَ} عمر يې پوره کيږي، مري.

{يَذَرُونَ} پرېږدي.

{يَتَرَبَّصْنَ} ځنډ دې وکړي، انتظار دې وباسي.

## ژباړه

او مېندې دې خپلو اولادونو ته پوره دوه کاله تی ورکړي، دا (حکم) هغه چالره دی، چې غواړي (د) تي ورکولو (موده) پوره کړي او پر هغه چا (پلار) چې ماشوم ورته زېږول شوی دی، روزي د دوی (د مېندو) او کالي د دوی ( د مېندو) په ښه او نېکه توګه لازم دي. پر هیچا باندې د هغه له وس څخه پورته پېټی نشي اېښودل کېدای، نه به مور ته د هغې د ماشوم له امله ضرر رسول کېږي او نه هم د ماشوم پلار ته د هغه د ماشوم له امله او پر وارث باندې لازمه ده په مثل د دې (نفقې، چې په پلار ده)، نو که وغواړي دوی دواړه (مور او پلار) د دواړو په خوښې او سلا سره، له تي څخه د ماشوم بېلول (مخکې له دوو کلونو څخه) نو په دې کې پر دوی باندې هېڅ ګناه نشته او که ستاسې غوښتنه دا وي چې کومه بله ښځه دې ستاسو ماشوم ته تی ورکړي، نو په دې کې هم څه وبال نشته، خو په دې شرط چې تي ورکوونکې سره مو په کومه اندازه اجوره پرېکړه کړې ده، هغه په ښه توګه اداء کړئ. له الله نه ووېرېږئ او وپوهېږئ تاسې چې هر څه کوئ، الله هغه ويني او هغه کسان چې مره شي له تاسې څخه او ښځې پرېږدي، انتظار دې کوي دا ښځې په خپلو ځانونو څلور مياشتې او لس ورځې، نو کله چې دوی د خپل عدت موده پوره کړي، نو نشته پر تاسې باندې هېڅ ګناه په هغه کارکې چې کوی يې دا ښځې په حق د خپلو نفسونو کې په ښه توګه (له شرعي اصولو سره سمه نکاح کوي) او الله پر هغو شیانو چې تاسې (یې) کوئ ښه خبر دی.

## اجمالي تفسير

﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ...﴾: په دې مبارك آيت كې د طلاق د حكمونو او مسئلو په اړه يو بل حكم بيان شوى او هغه د رضاعت يعني د تي وركولو مسئله ده، چې كله ښځه طلاقه شي او تى خور ماشوم ولري، الله تعالى په دې اړه فرمايي: مېندې حق لري چې خپلو ماشومانو ته دوه كاله تى وركړي، كه چيرې مېندې او پلرونه وغواړي چې د خپلو ماشومانو د تي رودلو موده بشپړه كړي، خو په دې موده كې د مور نفقه او لګښت چې خوراك او پوښاك دي، پر پلار باندې په ښه توګه لازم دي، يعني د پلار له وس سره سم كه هغه فقير وي او كه بډاى، ځكه د اسلام مقدس دين هيڅوك د هغه له وس او توان پورته په څه نه مجبوروي.

له ﴿الْوَالِدَاتُ﴾ څخه مراد لكه څرنګه چې يې تفسير تېر شو، طلاقې شوې مورګانې دي، ځكه چې د آيتونو سياق د طلاق او د طلاق د احكامو په اړه دى، خو يو شمېر مفسرين ﴿الْوَالِدَاتُ﴾ عام ګڼي چې ټولو هغو ميندو ته شامليږي چې د مېړه تر نكاح لاندې دي او يا نه دي، هر كله چې لفظ عام راغلى او د مبارك آيت په نص كې كوم تخصيص نشته، نو حكم يې هم عام دى او په ټولو حالاتو كې پر سړي باندې د ښځې د نفقې وجوب ته اشاره ده، په ځانګړې توګه كله چې ښځه د سړي ماشوم ته تى وركوي.

د ﴿حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ له جملې څخه ډېر فقها دليل نيسي چې د ماشوم د تي وركولو آخري موده دوه كاله ده، خو امام ابوحنيفه (رحمه الله) دا موده دوه كاله او شپږ مياشتې ګڼلې ده او د قرآن كريم په بل آيت: ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ [الاحقاف: ١٥] استدلال نيسي، چې تفصيل يې د فقهې په كتابونو كې شتون لري.

بيا مبارك آيت دې لورې ته اشاره كوي چې نه ښايي هيڅ مور د خپل ماشوم په وجه ربړ او آزار ووينې، هغه دا چې د خپل ماشوم له تي وركولو څخه محرومه شي يا په هغه صورت كې چې هغه نه غواړي تى وركړي، پر تي وركولو مجبوره كړاى شي، يا لګښت او نفقه نه وركول كيږي، يا ډېره لږه وركول كيږي، لنډه دا چې په هيڅ ډول بايد مور ته ضرر ونه رسول شي. وروسته متصل همدا حكم د پلار په حق كې هم څرګنديږي، چې هيڅ پلار دې هم د ماشوم په وجه نه آزاريږي، هغه دا چې ډېره زياته نفقه ورځنې واخيستل شي او يا په نورو ډولونو وربړول شي، چې تر ټولو مهم ضرر دا دى چې يو له مور او پلار ځنې د ماشوم له ليدلو او مينې كولو څخه محروم شي، ځكه دا كار پر مور او هم په پلار سخت تماميږي.

﴿وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ﴾ دا جمله پر ﴿وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ﴾ باندې عطف ده، يعني د پلار په وارث يا د ماشوم په وارث او مراد له (وارث) څخه هغه كس دى چې د ميراث حكم د ده او د پلار يا د ماشوم ترمنځ ثابت وي، لكه نيكه، ورونه او داسې نور، نو كله چې پلار وفات شي يا فقير او بېوزلى شي او له نفقې اداء كولو څخه عاجز شي، نو پر وارث نفقه لازمه ده. په خپله ماشوم هم د وارث په مفهوم كې داخليږي، نوكه چيرې ده ته له پلاره څخه څه پانګه په ميراث كې پاتې شوې وي، نو د تي وركوونكې لګښتونه، كه د ده مور وي يا بله ښځه، د همدې ماشوم له

ماله څخه ورکول کیږي. د مبارک آیت دا جمله په یوې اسلامي کورنۍ کې د ورورګلوۍ او مینې پیاوړتیا را په ګوته کوي، څکه د کورنۍ هر وګړی د هغه په پالنه کې بشپړه ونډه اخلي او نه پرېږدي چې ماشوم د غربي ټولنو په څېر بې څوکه او د دولت دارالایتام کې لوی شي.

دغه مبارک آیت وروسته له دې دوه نورو حکمونو ته اشاره کوي: لومړی دا چې که چیرې د مور او پلار مشوره داسې شوه چې خپل ماشوم مخکې له دوو کلونو څخه له تې څخه بېل کړي: ﴿فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ...﴾، امام قرطبي په خپل تفسیر کې لیکي: فصال: په اصل کې د بېلوالي او جلاوالي په معنا دی او د تې ورکولو وروستي پړاو ته هم ویل کیږي، څکه چې دغه مهال ماشوم د مور له سینې څخه بېلیږي. الله تعالی فرمايي: که چیرې د مور او پلار مشوره دا شوه چې د دوو کلونو له بشپړیدو څخه مخکې ماشوم له تې څخه بېل کړي، نو ګناه پرې نشته، البته د مشورې مقصد دا دی چې د ماشوم ګټه په نظر کې ونیول شي چې هغه ته ضرر متوجه نشي، څکه د ماشوم لپاره تر ټولو غوره او ګټور خواړه د مور شیدې دي.

په پای کې آیت یو بل رخصت ته اشاره کوي، هغه دا چې که چیرې مور او پلار وغوښتل چې د خپل ماشوم لپاره بله ښځه د مرضعې (دایه) په توګه ونیسي، دا کار ورته روا دی، خو په دې شرط چې د هغې اجوره په ښه توګه اداء کړي. په دې پسې جوخت مور او پلار ته د تقوی او پرهیزګارۍ بلنه ورکوي، ترڅو یاد شوي حکمونه د زړه له کومې ومني، په هغو عمل وکړي او په دې ویوهیږي چې الله په ټولو شیانو خبر دی.

﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا...﴾: دا مبارک آیت د هغو ښځو د عدت په اړه څرګندونه کوي چې مېړونه یې مړه شوي وي، فرمايي: د کومو کسانو د ژوند موده چې په دې دنیا کې پوره کیږي او روح یې په داسې حال کې قبض کیږي چې نکاح یې کړې وي، نو په ښځو یې لازمه ده چې څلور میاشتې او لس ورځې انتظار وباسي، په دې موده کې دې دوی له ډول او سینګار څخه ډډه وکړي او څوک دې له دوی څخه د نکاح غوښتنه هم نه کوي، دا عدت د مېړه په حق کې د وفادارۍ نښه او له اولاد څخه د ښځې د رحم د تشوالي د معلوملو لپاره دی.

البته که چیرې ښځه حامله وي، نو د دې ﴿وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [الطلاق: ٤] مبارک آیت په اساس د هغې عدت یوازې د ماشوم په زیږیدلو تمامیږي. د آیت په پای کې، په اسلام کې د ښځو د حقوقو مراعاتولو ته اشاره شوې ده، فرمايي: کله چې عدت پای ته ورسیږي، نو د سرې په خپلوانو یا د ښځې په خپلوانو هیڅ ډول حرج او تکلیف نشته چې ښځه له قیوداتو څخه راووځي او د شریعت له قوانینو سره سم خپل ځان ته مېړه غوره کړي.

مفسرینوکرامو ویلي دي، چې د﴿يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ﴾ په جمله کې د (نفس) قید د ښځې د ترغیب او هڅونې لپاره دی، ترڅو هغه پر خپل نفس په بشپړه توګه واک او ټینګ هوډ ولري، پرې نږدي چې شیطان ورته دوکه ورکړي او د بېلارۍ او انحراف لوري ته یې واړوي.

## فعالیت

د لوست وروستي آیت په رڼا کې ښځې ته د مېړه په غوره کولو کې د شرعي واک په اړه د اسلام پاملرنه تر بحث او څېړنې لاندې ونیسئ.

## د لوست ګټې

د دې لوست په دوو مبارکو آیتونو کې ډېر نصیحتونه شتون لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کوو:

- ماشوم ته په تي ورکولو کې تر ټولو زیاته حقداره مور ده، که دا له طلاق څخه مخکې وي او که وروسته.
- د رضاعت (تي ورکولو) د مودې بیان چې دوه کلونه دي(دا د هغه چا په نزد چې دې رایې ته ترجیح ورکوي).
- ماشوم ته د تي ورکولو په بدل کې د اجورې اخیستلو روا والی.
- که څوک ډېر اړ او محتاج وي، نو د ده پر خپلوانو او میراث اخېستونکو باندې د ده نفقه واجبه ده.
- له مور پرته که بله ښځه ماشوم ته تی ورکوي، هغې ته هم د اجورې اخیستل روا دي.
- د هغې ښځې د عدت بیان چې مېړه یې مړ شوی وي.
- د کومې ښځې چې مېړه مړ شوی وي، پرهغې لازم دي چې د عدت پر مهال له ډول او سینګار څخه ډډه وکړي، پرته له ضرورت څخه له کوره ونه وځي او چاته اجازه ورنکړي چې دې ته د نکاح بلنه ورکړي.

## پوښتنې

۱-په مبارک آیت کې له ﴿الْوَالِدَاتُ﴾ څخه کومې میندې مراد دي؟

۲-د تي ورکولو د مودې په اړه د فقهاوو کرامو دوه نظریې په لنډه توګه بیان کړئ.

۳-له (المولود له) څخه څوک مراد دی؟

٤- د ﴿وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ﴾ جمله تفسیر کړئ؟

٥-کومه ښځه چې د مېړه د مړینې په عدت کې وي، څه باید پرېږدي؟

٦-د ﴿بِأَنْفُسِهِنَّ﴾ قید څه افاده کوي؟

## کورنۍ دنده

د دې لوست د فقهي احکامو لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## د (البقرة) سورت (۲۳۵ - ۲۳۷) آيتونه

﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي أَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ
وَلَكِنْ لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ
وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿۲۳۵﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ
إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ
قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿۲۳۶﴾ وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ
لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى
وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۲۳۷﴾﴾

### د ځينوکلمو معنا

| | |
|---|---|
| {عَرَّضْتُمْ} | كنايه او اشاره مو وكړه. |
| {خِطْبَةِ النِّسَاءِ} | د نكاح په نيت د ښځو غوښتنه. |
| {أَكْنَنْتُمْ } | پټ مو كړل. |
| {وَلَا تَعْزِمُوا} | او قصد مه كوئ، مه خرګندوئ. |
| {عُقْدَةَ النِّكَاحِ} | د نكاح ترل. |
| {مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ} | ترڅو چې مو هغوی نه وي مسه كړي (كنايه له جماع څخه ده). |
| {فَرِيضَةً} | د مهر لپاره ټاكلې كچه. |
| {وَمَتِّعُوهُنَّ} | او دوی ته څه نا څه شي وركړئ. |
| {الْمُوسِعِ} | وس لرونكی (بډای). |
| {الْمُقْتِرِ} | تنګ لاسی (غريب). |
| {الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ} | هغه څوک چې د نكاح عقد يې په لاس كې وی (مراد مېړه دی). |
| {الْفَضْلَ} | دوستي او ښېګڼه. |

### ژباړه

او نشته پر تاسې باندې هېڅ ګناه كه تاسې (د عدت په موده كې) له (كونډو) ښځو سره د نكاح هيله په كنايه سره كوئ او كه يې په زړونو كې پټه وساتئ، الله ته معلوم دی چې بېشكه تاسې به دا ښځې يادوئ، خو په پټه ورسره د نكاح ژمنه او ترون مه كوئ، البته كه كومه خبره كول وي، نو په روا ډول دې وي او د نكاح كولو پرېكړه تر هغه وخته مكوئ،

ترڅو پورې چې يې عدت تېر شوی نه وي، ښه ويوهيږئ چې الله آن ستاسو د زړونو په رازونو پوهيږي، نو له هغه نه وويريږئ او په دې هم ويوهيږئ چې الله ښه بښونکی ډېر زغمونکی دی. پرتاسې هيڅ ګناه نشته که خپلو ښځو ته مخکې له هغه طلاق ورکړئ چې لاس مو نه وي وروړئ او يا مو مهر ورته نه وي ټاکلی، په دې صورت کې هغو ته څه نا څه ورکول ضروري دي. شتمن دې د خپلې وسې او بيوزلی دې د خپلې وسې په کچه په ښه توګه څه ورکړي، دا پر نېکانو حق دی. او که طلاق کړئ دوی (ښځې) پخوا د مسه کولو د دوی او د دوی لپاره مو مهر ټاکلی وو، نو (لازم) دی پر (تاسې باندې) نيمايي د هغه څه چې ټاکلی مو دی، مګر که دا ښځې عفو وکړي (يعنې ټول مهر مېړه ته ورپرېږدي) يا عفوه وکړي هغه سړی (مېړه) چې د نکاح غوټه د ده په لاس کې ده (چې کامل مهر ورکړي) او دا چې عفوه وکړئ تاسو (ای ښځو او مېړو دغه عفوه) ډېره نژدې ده پرهېزګاري ته او مه هېروئ په خپلو منځو کې فضل (احسان کول)، بېشکه چې الله پر هغه څه چې تاسې (يې) کوی، ښه لېدونکی (په پټه او ښکاره عالم) دی.

## اجمالي تفسير

﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ...﴾: دا مبارک آيت د هغو ښځو د نکاح او غوښتنې تحريم بيانوي چې هغوی د طلاق او يا د مېړه د وفات په عدت کې وي؛ ځکه که طلاق رجعي وي، نو ښځه دغه مهال هم د مېړه له نکاح څخه نه ده وتلې، نو د نکاح غوښتنې په قصد هيڅ ډول عمل روا نه دی او که طلاق باين وي بيا هم مېړه لکه څرنګه چې په مخکنيو آيتونو کې ذکر شول، له دې ښځې سره د نکاح کولو ډېره ورتيا لري او که د وفات عدت وي، نو سليم عقل دا کار نه مني چې د مېړه له مرګ وروسته سمدستي د دې ښځې د نکاح غوښتنه وکړي. سربېره پر دې دا احتمال هم لري چې د داسې کار د رواجولو په صورت کې، که کوم مناسب يا بدهای سړی په مطلقې پسې راشي، نو دغه ښځه د دې لپاره چې نوموړی سړی له لاسه ورنکړي، نو که حامله وي ښايي خپل حمل پټ کړي، حال دا چې دا کار ډېرې ستونزې رامنځته کوي.

له دې منع څخه دوه حالتونه استثنا شوي دي: يو تعريض په نکاح يعنې د کنايې يا اشارې په توګه څه ويل، ترڅو ښځه پوهه شي او پاملرنه وکړي چې فلاني سړی د عدت له تېريدو وروسته زما سره د نکاح نيت لري. (تعريض) د (تصريح) ضد دی او هغو خبرو ته ويل کيږي، چې په مقصود او غير مقصود دواړو باندې د دلالت صلاحيت ولري. دويم دې کار ته په زړه کې ځای ورکول يعنې دا چې يوازې د نکاح په اراده وي، څرګندونه يې ونه کړي او هغه نيت او اراده د عمل جامه وانه غوندي، په خپل ضمير کې د يو شي ځای ورکولو ته (اکنان) وايي.

د مبارک آيت ورپسې برخه د انسانانو له نفسي حالتونو څخه خبر راکوي، چې الله ښه خبر دی چې تاسې ډېر ژر د نکاح مسئله مطرح کوئ، نو د هغه يادول ستاسو لپاره ګناه نه ګڼل کيږي، خو ستاسو د مصلحت لپاره تاسو له دې څخه منع کوي چې پټې ژمنې وکړئ يا دا چې د عدت د ټاکلې او وروستي وخت نه مخکې نکاح وتړئ.

له دې ﴿إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا﴾ مبارکې جملې څخه موخه، هغه کنايه يا اشاره ده چې په لومړي آيت کې بيان شوې ده، خو دلته بيا دويم ځلې د تاکيد او ټينګار لپاره له ذکر شوې منعې څخه د استثناء په توګه په دې ﴿لَا

﴿تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا﴾ جمله کې راغلې ده.

﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ ...﴾: د طلاق د احکامو په اړه د خبرو لړۍ همدارنګه ادامه لري، په دې مبارک آیت کې الله تعالی خپل بنده ګان د يوې بلې مسئلې په بهير کې اچوي او فرمايي: د مسلمان لپاره څه ګناه نشته چې کله خپلې ښځې ته مخکې له جماع او مخکې د مهر له ټاکلو څخه طلاق ورکړي، البته د ښځې د خوشحالولو لپاره په داسې صورت کې بايد سړی څه مال يا سامان ښځې ته د ډالۍ په توګه ورکړي او هغه هم څه ټاکلې اندازه نه لري، بلکې هر څوک د خپل وس په کچه، يعنې فقير د خپل وس او بډای د خپل وس په اندازه څه ورکړي او يا دا چې قاضي ورته د وخت له مصلحت سره سم او د سړي د حالت په مراعاتولو سره څه اندازه مال وټاکي، د دې مال ورکول ډېر علماء د دې آيت په استدلال فرض ګڼي او ځينې يې مستحب بولي؛ ځکه چې د احسان په ډول تعبير ورځنې شوی. په هر حال دا کار په حقيقت کې د ښځې د زړه ماتيدو مخنيوی کوي، له دې امله په نېکو انسانانو لازم شوی دی.

**مَسّ**: په عربي کې د (لمس) په معنا دی، يعنې لاس وروړل او په ذکر شوي آيت کې له جماع او هر هغه څه چې جماع ته نژدې دي، له هغه څخه کنايه ده. دا قرآني تعبير انسان ته په خبرو کولو کې د ښه ادب لارښوونه کوي، ترڅو د خبرو عفت مراعات کړي. له (فَرِيضَةً) څخه مراد همغه مهر دی چې اسلام په سړي واجب کړی دی او د هغه په اندازه کې يې خلکو ته اختيار ورکړی دی، خو د ښځې اوليا يې دې ته هڅولي دي، ترڅو ډېر زيات مهر ونه ټاکي. په هر صورت دا مهر کيدای شي چې له نکاح څخه وړاندې وټاکل شي، او يا له نکاح څخه وروسته وټاکل شي او يا هيڅ ونه ټاکل شي، خو علماء په دې صورت کې مهر مثل واجبوي (يعنې د ښځې د سيالو خپلوانو د مهر په اندازه به د دې مهر هم وي). پاسنی آيت همغه صورت ته اشاره کوي چې مهر نه وي ټاکل شوی او نکاح تړل شوې وي.

﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً...﴾: دا مبارک آيت د طلاق له احکامو څخه د يوه بل صورت بيانوونکی دی او هغه دا چې طلاق په داسې حالت کې منځته راشي چې سړي ښځه نه وي لمس کړې، خو مهر يې ټاکل شوی وي، نو په دې صورت کې فرمايي: ﴿فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾، يعنې: بايد نيم د هغه څه چې تاسو ټاکلی، ښځې ته ورکړئ، يعنې د دې اندازې اداء پر تاسو فرض ده. له دې وروسته د احکامو د آسانۍ او د کورنيو ترمنځ د مينې او محبت د فضا د رامنځته کولو په اړه فرمايي: ﴿إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ﴾، يعنې: ښځه خپل حق وبښي يا سړی خپل حق ورووبښي، ممکنه ده چې په مبارک آيت کې دوو توپير لرونکو حالتونو ته اشاره وي: لومړی حالت دا چې د طلاق په رامنځته کيدو کې رغبت د ښځې له لوري وي، نو مناسبه ده چې نيم ټاکل شوی مهر چې د دې، حق دی سړي ته وبښي. دويم حالت دا چې که په طلاق کې رغبت د سړي له خوا وي، نو مناسبه ده چې پر نيم مهر سربېره چې د هغه ورکړه د ده پر ذمه واجب ده، نيم نور مهر هم ښځې ته د ډالۍ په توګه ورکړي.

دوه وروستي جملې مهرباني او عفوې ته تشويق او ترغيب ورکوي، فرمايي: ﴿وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ﴾ په دې معنا که چېرې تاسو دوه ښځونه په نظر کې ونيسئ، حتما عفوې او بښنې ته غوره والی ورکوئ، يو دا چې عفوه تقوی ته ډېره نژدې ده، دويم دا چې تاسو بايد يو د بل پر وړاندې فضل او احسان هېر نه کړئ، هر مسلمان د احسان او ښېګڼې وړ دی، په ځانګړې توګه هغه څوک چې نکاح يې ورسره تړل شوې وي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارکو آيتونو يو زيات شمېر نصيحتونه او پندونه رانغښتي دي، چې ځينې يې دا دي:

- ✫ د طلاق د احکامو بيان.
- ✫ په عدت کې ناستې ښځې سره د نکاح غوښتنې حراموالی(هغه ښځه چې د طلاق يا د مېړه د وفات په عدت کې وي).
- ✫ د کنايې او اشارې په الفاظو سره له معتدې ښځې څخه د نکاح غوښتنې جواز.
- ✫ په پټه او ښکاره د الله تعالی د حاضر او ناظر ګڼلو واجبوالی.
- ✫ له مېړه سره له يوځای والي مخکې او د مهر له ټاکلو وروسته، د طلاقې شوې ښځې د طلاق د حکم بيانول.
- ✫ د دوو مسلمانو کورنيو ترمنځ د مينې او محبت ساتلو په اړه، د اسلام لخوا زمينه برابرول.

## پوښتنې

۱-لاندې کلمې معنا کړئ.

{أَكْنَنْتُمْ }، {عُقْدَةَ النِّكَاحِ}، {أَوْ تَفْرِضُوا}، {وَمَتِّعُوهُنَّ}، {الْمُوسِعِ}، {الْمُقْتِرِ}، {الْفَضْلَ}.

۲-د عدت په ورځو کې له ښځې څخه د نکاح غوښتلو په اړه چې کومه منع راغلې ده،کوم صورتونه له هغه څخه مستثنا دي؟

۳-کومه ښځه چې له مېړه سره له يوځای کېدلو او د مهر له ټاکلو مخکې طلاقه شي، په دې اړه د قرآن کريم حکم څه دی؟

٤-په مبارک آيت کې ولې د (جماع) په عوض د (مساس) کلمه ذکر شوې ده؟

٥-د هغې ښځې د مهر په اړه چې له مېړه سره د يوځای والي نه مخکې او د مهر له ټاکلو وروسته طلاقه شوې وي، قرآني حکم څه دی؟

## کورنۍ دنده

د دې لوست د مبارکو آيتونو ژباړه د جملو په بڼه، چې هره جمله بېله، بېله وي، وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۳۸ - ۲۴۲) آیتونه

﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴿۲۳۸﴾ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿۲۳۹﴾ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۴۰﴾ وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿۲۴۱﴾ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۲۴۲﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{حَافِظُوا} ساتنه وکړئ، پابندي وکړئ.

{الصَّلَاةِ الْوُسْطَى} منځنی لمونځ (مراد ورځني د مازدیگر لمونځ دی).

{قَانِتِينَ} عاجزي کوونکي، فرمان وړونکي.

{فَرِجَالًا} پلي تلونکي.

{ رُكْبَانًا} سپاره (په خارویو یا بل هر شي).

{الْحَوْلِ} کال.

{مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ} (متعه) یعني څه متاع چې نه ډېره زیاته او نه ډېره کمه وي.

{حَقًّا} لازم شوی امر.

## ژباړه

د خپلو لمونځونو ساتنه وکړئ په تېره بیا د منځني (مازیگر) لمانځه او ودرېږئ الله ته وېرېدونکي (په ادب سره)، نوکه وېرېدئ (له دښمنه یا له بل شي څخه) نوکه پلي یئ اوکه سپاره په هر شان چې کولای شئ لمونځ وکړئ اوکله چې په امن شئ، نو الله په هغه شان یاد کړئ چې څرنگه یې تاسو ته ښوونه کړې ده چې پخوا پرې نه پوهیدئ. له تاسي نه چې څوک مري او کونډې ترې پاتې کیږي، هغوی باید د خپلو کونډو په اړه دا وصیت وکړي چې تر یو کال پورې دې، هغوی ته خوراک او پوښاک ورکړای شي او له کورونو څخه دې نه ایستل کیږي، بیا که هغوی په خپله خوښه ووځي، نو د خپل ځان په برخه کې چې په ښه توگه څه کوي، پر تاسې باندې هیڅ گناه (مسؤولیت) نشته، الله پر ټولو برلاسی او د حکمت او پوهې څښتن دی. او شته طلاق کړای شویو ښځو ته خرڅ ورکول په معروفې (ښکې طریقې) سره، چې لازم کړای شوي دي پر پرهېزگارانو باندې، همداسې (لکه، چې دا احکام یې بیان کړل) الله تاسې ته خپل آیتونه (احکام) بیانوي، د دې لپاره چې تاسې و پوهېږئ (او شرعي احکامو ته عقل متوجه کړئ).

**اجمالي تفسير**

﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى...﴾: په دې مبارك آيت كې الله تعالى خپلو بنده‌گانو ته امر كوي چې پر شرعي احكامو، اسلامي آدابو او لمانځه، په ځانګړې توګه په منځني لمانځه التزام او پابندي ولري. مفسرين فرمايي: دا مبارك آيت د احكامو په ترڅ كې ذكر شوی، لومړنی راز پكې دا دی چې په احكامو او مسايلو كې ستاسو ژوره مطالعه او څېړنه تاسو له لمانځه څخه منع نكړي، او دويم دا چې كله چې په ټولو يادو شويو احكامو كې د عدل او انصاف مراعاتول لازم دي؛ نو د لمانځه اداء كول په سمه توګه د عدل ترسره كولو لپاره تر ټولو غوره وسيله ده، لكه څرنګه چې قرآن كريم په بل ځای كې فرمايي:﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾[البقرة: ٤٥]، يعني: تاسو د ستونزمنو كارونو د پرمختيا لپاره په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ. همدارنګه لمونځ د ناوړو پديدو او د بې حيايې د غريزو د يرغل پر وړاندې يو ډېر ټينګ او محكم ديوال دی، الله تعالى په دې اړه فرمايي: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾[العنكبوت: ٤٥]، يعني: لمونځ انسان له ټولو بې حياييو او ناوړو كارونو څخه منع كوي.

په (محافظت) سره تعبير دې ته اشاره ده چې لمونځ په خپل ذات كې يو ډېر با ارزښته عمل دی، ځكه معمولاً د يوه ارزښتناكه شي محافظت او ساتنه كيږي او د «حافظوا» كلمه لكه څرنګه چې په اداء كولو او قايمولو دلالت كوي، له يوه شي څخه په څارنه هم دلالت كوي.

علماوو د«وسطى» لمانځه په تفسير كې مختلفې نظريې وړاندې كړې دي، زياتره علماء ورځنی د مازيګر لمونځ مرادوي، ځكه دا لمونځ د پنځه‌ګونو لمونځونو په منځ كې دی چې په يوه خوا كې يې دوه ورځني لمونځونه او په بل اړخ كې يې دوه د شپې لمونځونه دي، دا ډله د خپلې رآيې د ټينګار لپاره د رسول اللهﷺ احاديث راوړي چې په هغو كې منځنی لمونځ د مازيګر په لمانځه تفسير شوی دی.

يو له هغو احاديثو څخه، امام احمد د سُمره په روايت، له نبي كريمﷺ څخه روايت كوي، فرمايي: (الصلوة الوسطى صلاة العصر)، يعني: منځنی لمونځ د مازيګر لمونځ دی.

يو شمېر نورو علماوو په ترتيب سره د سهار، ماسپښين، ماښام، ماسختن او جمعې لمونځونه وسطى ګڼلي دي او هرې يوې په دې اړه خپله ځانګړې توجيه څرګنده كړې ده، خو غوره وينا همغه لومړنۍ وينا ده.

د آيت په پای كې يو ځل بيا ټينګار كوي چې ستاسو لمونځونه بايد په خشوع او عاجزۍ اداء شي، ځكه د«قنوت» لفظ هغه تل پاتې التزامي عبادت ته ويل كيږي چې د بشپړې عاجزۍ او د زړه په ډاډينه اداء شي.

﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا...﴾: څرنګه چې قنوت په آرامتيا او سكون دلالت كاوه او د دې بيانوونكی و، چې لمونځ د تحرك او خوځيدو په حالت كې ناروا دی، نو دا مبارك آيت سره له تحركه په ځانګړي حالت كې د لمانځه جواز بيانوي، چې هغه له دښمن څخه يا له بل شي څخه د وېرې حالت دی، فرمايي: كه چيرې د وېرې او ډار په حالت كې وئ، نو اجازه شته چې خپل لمونځ په پلې تګ يا سپرلۍ اداء كړئ (په داسې حالت كې مخ قبلې ته اړول هم شرط نه دي)، خو چې كله ستونزه لرې شوه، بيا په سمه توګه د لمانځه اداء كول لازم دي. ځينو مفسرينو د

﴿فَاذْكُرُوا اللَّهَ﴾ جمله په مبارك آيت كې، په همغه مطلوبه هيئت د لمانځه په اداء كولو تفسير كړې ده.
﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ...﴾: دلته د مبارك آيت سياق بېرته د طلاق او وفات احكامو ته راګرځېدلاى دى، خو دا ځل د بل حكم په بيانولو سره، هغه دا چې كه څوك د مرګ په رنځ پروت وي، پر هغه لازم دي چې د خپلو ښځو په اړه وصيت وكړي، ترڅو تر يوه كاله د مېړه په كور كې پاتې شي(د څلورو مياشتو او لس ورځو په ګډون) او په دې موده كې د دوى لګښت هم د متوفى له مال څخه وركول كيږي او څوك بايد دوى له كوره ونه باسي، مګر دا چې دوى په خپله خوښه بهر شي، نو كه له كوره ووتله او د شرعي قوانينو سره سم يې ځان ته مېړه خوښ كړ، نو د متوفى او د دې خپلوانو ته څه ګناه نشته.
علماء د دې آيت په اړه دوه نظرېې لري: لومړى دا چې دا آيت منسوخ دى، ځكه هغه ځانګړى وصيت چې د يوه كال له نفقې او د ښځې له اوسيدو څخه عبارت دى، پر هغه چا چې د مرګ په حالت كې وي، واجبوي او ښځې ته اختيار وركوي چې تر يوه كاله په ټاكلي كور كې پاتې شي او له نفقې او خرڅې څخه ګټه واخلي يا دا چې له كوره ووځي او له نفقې څخه محرومه شي، چې د توافق په صورت كې د دې ښځې لپاره د مېړه په كور كې د يوكال تېرولو موده ټاكي، نو ځكه دې ډلې مفسرينو ويلي دي چې دا حكم د اسلام په پېل كې و، وروسته بيا د مواريث په هغه آيت سره چې په هغه كې د ميراث وړونكو او د هغوى د حقوقو اندازه معلومه شوه او په ﴿يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ آيت سره، د هغې ښځې عدت چې مېړه يې مړ شوى وي او رحم يې خالي وي، څلور مياشتې او لس ورځې وټاكل شو او د "ألا لا وصية لوارث"حديث ته په كتلو سره چې د هغه په رڼاكې څوك د خپل مال په هكله كوم وارث ته وصيت نشي كولاى او ښځه د سړي د ميراث وړونكو له ډلې څخه ده، د بل وصيت ضرورت پاتې نه شو، نو دا حكم منسوخ شو او دا نظريه د مفسرينو د امام عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) قول تاييد وي، چې په هغه كې د آيت پر منسوخوالي تصريح شوې ده.
دويمه نظريه دا ده چې د مبارك آيت حكم منسوخ نه دى، بلكې مخكيني آيت د فرضي عدت بيانوونكى دى، چې له څلور مياشتو او لس ورځو څخه عبارت دى او دا آيت د غير فرضي امر بيانوونكى دى، يعنې كه د استحباب او ثواب حاصلولو په نيت له ټاكلي عدت سربيره داسې وصيت وكړي او د سړي خپلوان تر يوه كاله پورې د ښځې د حال مراعات ولري، دا عمل روا دى، نو كه ښځه د مړ شوي مېړه په كور كې په پاتې كېدو خوښه وه، بايد هغه له كوره په وتلو مجبوره نه كړي، په دې صورت كې«فَإِنْ خَرَجْنَ» جمله د مفروضه عدت ما بعد ته اشاره كوي، ځكه په هغو ورځو كې ښځه پرته له ضرورته د بهر وتلو حق نه لري.
﴿وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ...﴾: دا مبارك آيت هغه متاع او سامان چې مطلقه ښځه ورته تر يوې مودې پورې اړتيا لري، پر مېړه لازموي، چې ښځې ته يې وركړي او دا متاع او سامان هر هغه شى كيداى شي چې عقل يې مناسب وبولي، او دا كار ځكه روا شوى، ترڅو د ښځې په زړه كې چې د مېړه په بيلتون كومه وېره پيدا شوې ده، هغه لرې شي. يوه ډله علماء په دې آيت دليل نيسي او پر طلاق وركوونكي باندې د متعې په توګه ښځې ته څه وركول فرض ګڼي، خو نور علماء په دې نظر دي چې مراد له (متاع) څخه هغه نفقه ده چې د عدت په ورځو كې د سړي په اوږه

اېښودل شوې ده، په هغې سربېره د نور څه ورکول واجب او ضروري نه دي.

**فعالیت**

د مسلمان په ژوندکې د لمانځه د ارزښت او پر جماعت باندې د التزام کولو د مثبتو اغېزو په اړه له یو بل سره بحث او مناقشه وکړئ.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آيتونه یو شمېر نصیحتونه او پندونه لري، چې ځینې یې دا دي :

- پر ټولو لمونځونو باندې د ټینګار وجوب، په ځانګړې توګه د مازیګر پر لمانځه.
- په لمانځه کې د خبرو کولو او بې ضرورته خوځېدلو ممانعت.
- په لمانځه کې د خشوع او عاجزۍ لازموالی.
- د وېرې د لمانځه بیان او په پلي تګ یا په سپرلۍ د هغه د اداء کولو روا والی.
- د الله په ذکر د همیشوالي امر او د هغه د نعمتونو شکر اداء کول.
- طلاقې شوې ښځې ته د متعې په نامه د یوه شي ورکولو ثابتوالی.
- كه انسان پوهه ولري، نو د الله له طرفه د احکامو نازلېدل د بشر لپاره الهي فضل او کرم دی.

**پوښتنې**

١- لاندې كلمې معنا كړئ:

{قَانِتِينَ}، {فَرِجَالا}، {رُكْبَانًا}، {الْحَوْلِ}، {فَإِنْ خَرَجْنَ}، {حَقًّا}.

٢- د فقهي احکامو په منځ کې د لمانځه په یادولو سره، علماوو نور څه حکمتونه یا رازونه ښودلي دي؟

٣- ولې مبارك آیت د لمانځه د اداء پر ځای ﴿حافظُوا عَلَى الصَّلواتِ﴾ لفظ ویلی، دا تعبیر څه افاده کوي؟

٤- دا ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا...﴾ مبارك آیت په لنډه توګه تفسیر کړئ.

٥- طلاقې شوې ښځې ته د متعې په وجوب یا نه وجوب، د علماوو رایه څه ده؟

**کورنۍ دنده**

له نورو ماخذونو څخه په ګټه اخیستلو د دې ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ﴾ مبارك آیت د منسوخېدلو، یا نه منسوخېدلو موضوع، په لنډه توګه په یوه صفحه کې څرګنده کړئ.

# د (البقرة) سورت (۲۴۳ - ۲۴۵) آیتونه

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾﴾

## د ځینوکلماتو معنا

{أَلَمْ تَرَ} دلته له (رؤیت) څخه قلبي رؤیت مراد دی، یعني: آیا ستا علم ته نه ده رسېدلي او خبر شوای نه یې؟

{أُلُوفٌ} زرګونه (د (أَلْف) جمع ده او په زیاتوالي دلالت کوي).

{حَذَرَ الْمَوْتِ} د مرګ له وېرې.

{ذُو فَضْلٍ} د ښېنې خښتن.

{فِي سَبِيلِ اللَّهِ} د الله د رضا په لار کې.

{يُقْرِضُ اللَّهَ} الله تعالی ته قرض ورکوي (یعني د جهاد او د ښېګڼو په نورو کارونو کې مال لګوي).

{يَقْبِضُ} روزي یې تنګوي.

{يَبْسُطُ} روزي یې پراخوي.

## ژباړه

آیا ستا علم ته نه ده رسېدلي (خبر شوای نه یې په کیسه) د هغو خلکو چې د مرګ له وېرې له خپلو کورونو څخه وتلي وو او د هغو شمېر زرګونو ته رسیده؟ نو الله هغو ته وفرمایل چې مړه شئ (نو مړه شول)، بیا یې هغوی بېرته راژوندي کړل. بېشکه الله خامخا پر خلکو باندې د فضل (مهرباني) څښتن دی، خو زیاتره خلک شکر نه اداء کوي. او جنګ کوئ (ای مؤمنانو!) د الله په لار کې ( د دین د پرمختګ لپاره) او پوه شئ چې بېشکه الله (د ګردو اقوالو) ښه اورېدونکی (په ټولو احوالو ) ښه عالم دی. څوک دی له تاسې نه چې الله ته قرض حسنه ورکوي (د جهاد او ښېګڼو په کارونو کې څه مال ورکوي)، نو زیات به کړي الله ( ثواب د) قرض ده لره په څو چنده زیاتوالي او الله تنګوي (رزق) او پراخوي( رزق) او بیا همده ته ستاسې ورګرځېدل دي.

## اجمالي تفسیر

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ...﴾: د (ألم تر) کلمه لکه څرنګه چې آلوسي (رحمه الله) وايي: دا کلمه کله د هغه مخاطب لپاره ویل کیږي چې د موضوع نه خبر ولري یا یې پېښنه لېدلې وي، نو په هغه صورت کې موخه ورڅخه تعجب او یادونه ده، یعنې سره له دې چې مخاطب خبر دی، دویم ځلې هغه ته وریادوي، ترڅو د خبر په اړه د هغه حیرانتیا راوپاروي، کله هغه مخاطب ته ویل کیږي چې له موضوع نه خبر نه وي، نو په هغه صورت کې مراد ورڅخه د هغه خبرول دي. کله هغه موضوع چې ورڅخه خبر ورکول کېږي، یوه عجیبه او د لوی ارزښت لرونکې وي، نو ځکه د هغه چا حال چې څه شی یې لیدلای نه وي، له هغه چا سره تشبیه کیږي چې هغه یې لیدلای وي، ګواکې د هغې موضوع مشهورتیا او حیرانتیا په هغې کچه ده چې د مخاطب له لیدلو څخه پټه پاتې نه ده.

دا مبارک آیت د هغې پیښې په اړه خبر راکوي چې د بني اسرائیلو په یوه ښارکې رامنځته شوې وه، هغوی غوښتل چې د طاعون (وبا) له رنځ نه، چې د دوی په ښار کې راپیدا شوی و، وتښتي، نو زرګونه کسان د مرګ له ویرې له ښار څخه ووتل، الله تعالی وغوښتل چې دوی ته دا وښیي چې که چیرې زموږ اراده وشي، نو څوک له مرګه نشي خلاصیدای. هماغه و چې د سترګو په رپ کې یې دوی ټول هلاک کړل، بیا یې د خپل پیغمبر دعا د دوی په اړه قبوله کړه او دوی یې بیرته راژوندي کړل. د دې خبر له یادونې څخه دلته موخه دا ده چې ترڅو مؤمنان هغه څه ته راوهڅوي چې په وروسته آیت کې ذکر کیږي، یعنې مؤمنان دې د دین له دښمنانو سره د جهاد او مبارزې په لوري حرکت وکړي او څوک دا ګومان ونکړي چې د جهاد په ډګر کې برخه اخیستل د مرګ سبب ګرځي او که څوک جهاد ته حاضر نشي، نو له مرګه به خلاصون ومومي.

جمهور علماء په دې عقیده دي چې د دې کسانو مړینه حقیقي مړینه ده او دا مړینه له هغې مشهورې عقیدې سره چې په آسماني کتابونو کې راغلې، او پر دې مبنا ده چې د دنیوي ژوندانه مرګ یوځلې دی او بیا له هغه وروسته راګرځېدل نشته، مخالفه نه ده، ځکه امکان لري دا مرګ د عذاب او جزا په توګه وي او د دوی حقیقي اجل نه وي رارسیدلای، خو ځینې مفسرین وايي چې مراد له دې مرګ څخه حقیقي مرګ نه دی، بلکې مراد ورڅخه ذلت او سپکاوی دی، چې الله تعالی د بني اسرائیلو دې ډلې ته، چې له جهاد څخه یې ډډه کړې وه، ورپه برخه کړ، کله چې د دښمن په لاس کې پرېوتل او ټول ویاړونه یې له لاسه ورکړل، دا په دې معنا لکه چې هلاک شول او بیا چې کله بېرته په هغوکې همت پیدا شو، خپل عزت او خپلواکي یې په لاس راوړه، نو لکه بېرته چې راژوندي شول.

﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾: د پورتنی کیسې له بیانولو وروسته د الله په لار کې د جهاد حکم راغلی، چې: ای مسلمانانو! تاسې د الله په لار کې او د الله د دین لپاره جهاد وکړئ او ښه وپوهیږئ چې الله

ستاسو ویناوې اورې او ستاسو په کړو وړو پوه دی، نو نه ښايي چې څوک دا خبره ياده کړي چې د الله په لار کې جهاد کول د مرګ لامل ګرځي او که چیرې فلاني په جهاد کې برخه نه وای اخیستې، نو مړ شوی به نه وای، یا که څوک په جهاد کې عملاً برخه وانخلي، نو هغه نه مري. آیا د بني اسرائیلو هغه ډله چې له مرګه وتښتیدله، څه ګټه یې وکړه؟ مطلب دا دی چې کله د ژوند موده پوره شي، نو انسان چې په هرځای کې وي، هغه ته خامخا مرګ رسیږي.

﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا...﴾: د الله په لار کې په حقیقي توګه جهاد کول، لویو وسیلو او امکاناتو ته اړتیا لري او هغه ته د چمتووالي لپاره ډېر مال او پانګې ته ضرورت دی. یوازنۍ لار یې دا ده چې مسلمانان یو او بل ته لاس ورکړي او په اتفاق او یووالي سره دا اړتیا بشپړه او د الله د دین دفاع وکړي.

په دې مبارک آیت کې د الله په لار کې د انفاق او مال لګولو غوره والی، یو چاته د قرض حسنه له ورکولو سره تشبیه شوی او قرض اخیستونکی یې الهي سپیڅلی ذات را په ګوته کړی، لکه څرنګه چې د قرض حسنه ورکړه په ستونزو اخته سړي خوشحاله کوي، نو تاسې په خپل انفاق سره الله تعالی راضي کوئ او هغه خوشحالوئ، لکه څرنګه چې قرض ورکیدونکی شی نه دی، نو ستاسو دا انفاق او مال لګول هم نه ورکیږي، بلکې الله تعالی یې څو چنده درکوي؛ ځکه ټولې خزانې د الله په قدرت کې دي، که وغواړي پراخي راولي او که وغواړي تنګسیا راولي. امام قرطبي (رحمه الله) ویلي دي: قرض د هر هغه شي لپاره یو نوم دی چې د هغه نه د اجر او بدلې هیله کیږي، دا چې ویل کیږي: «فلاني، فلاني ته قرض ورکړ»، یعنې هغه ته یې هغه څه ورکړل چې بدله به یې بېرته په لاس راوړي، خو هغه تعبیر چې په دې مبارک آیت کې له انفاق څخه، په قرض شوی دی، د خلکو د ښې پوهیدنې لپاره دی، که نه نو الله تعالی قرض اخیستلو ته څه اړتیا نه لري، نو د بنده ورکړه په دنیا کې او په بدل کې یې د اخروي اجر او ثواب هیله په قرض سره تشبیه شوې ده. له (قرض حسنه) څخه مراد د نیت اخلاص دی چې په هغه کې هیڅ ډول ریا او ځان ښودنه نه وي او یا له حرام مال څخه نه وي.

له ﴿فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا﴾ څخه مقصد څو برابره اجر ورکول یا د انفاق ډولونه دي، په دې معنا چې ثواب او یا بدیل به یې الله تعالی په هغه کچه ورکړي چې په خپله پوهیږي، ځکه د (تضعیف) کلمه د دوه برابرو معنا ورکوي او بیا دا کلمه په(کثیرة) سره هم ستایله شوې ده.

### فعالیت

زده کوونکي دې د الله په لار کې د مال لګولو، په مدرنو امکاناتو او په بېلابېلو اسلحو د اسلامي لښکرو د چمتو کولو د ارزښت په اړه له یو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

مبارک آيتونه يو شمېر پندونه او نصيحتونه لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- د نعمت د يادونې واجبوالى او د هغه شکر اداء کول.
- د الله په لار کې د جهاد واجبوالى، کله چې د مسلمانانو امير يې لازم وګڼي.
- د الله په لار کې د مال لګولو غوره والى، په ځانګړې توګه د جهاد په لار کې.
- د دې خبرې بيانول چې په ژوندانه کې تنګسيا او پراخي د الله له لورې ده او هغه پرې د بنده ګانو ارزونه کوي، ترڅو معلومه شي چې څوک صبر او زغم لري او څوک شکر باسي.

## پوښتنې

١- د ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ لغوي معنا او بلاغي ګټه بيانه کړئ.

٢- مشهوره عقيده دا ده چې انسان په دنيا کې يو ځل ژوندى کيږي او يو ځل مړکيږي، نو د هغو کسانو ژوندي کېدل چې قرآن کريم ورځنې خبر راکړى، څرنګه توجيه کيږي؟

٣- د يادې شوې ډلې مرګ حقيقي و که له بل څه څخه کنايه ده؟

٤- د لوست په آيتونو کې له وبا څخه د تښتيدونکو کسانو د کيسې له يادولو څخه هدف څه و؟

٥- په قرض سره د انفاق فى سبيل الله تشبيه کول، د کومو شيانو افاده کوي؟

٦- د قرض ستاينه په (حسنه) سره څه مطلب لري؟

## کورنۍ دنده

د هغو عبرتونو په اړه چې د بني اسرائيلو له پېښې څخه لاس ته راځي او همدارنګه د دې لوست د نورو حکمتونو په اړه يو مخ مقاله وليکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۴۶- ۲۴۸) آیتونه

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿۲۴۶﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۲۴۸﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| {الْمَلأُ} | مشران (مطلق ډلې او ټولې ته هم وايي). | {آيَةَ مُلْكِهِ} | د هغه د پاچاهي نښه. |
| {عَسَى} | هغه کلمه ده چې د هیلې او امید معنا ورکوي. | {التَّابُوتُ} | د لرګي صندوق. |
| {اِصْطَفَاهُ} | هغه يې غوره کړې دی. | {سَكِينَةٌ} | د زړه سکون. |
| {بَسْطَةً} | پراخي او وسعت. | | |

## ژباړه

آیا تا ته د بني اسرائیلو د هغې ډلې حال نه دی معلوم، چې له موسی نه وروسته یې خپل نبي ته وویل: "زموږ لپاره یو پاچا وټاکه، چې موږ د الله په لار کې جنګ وکړو"؟ نبي وویل: نږدې ده چې که پر تاسو باندې جنګ فرض کړای شي او بیا تاسې ونه جنګیږئ؟ هغوی وویل: موږ لره څه مانع دی چې د الله په لارکې به جنګ ونه کړو؟ حال دا چې په تحقیق سره ایستلي شوي یو، موږ له خپلو کورونو او خپلو زامنو (په ظلم سره او دا سبب د جنګ دی)، نوکله چې پر دوی باندی جنګ فرض کړای شو، دوی (ټول له جنګ څخه) په شا لاړل، مګر لږ له دوی څخه او الله ښه عالم دی پر ظالمانو باندې (نو جزاء ورکوي دوی ته) او وویل دوی ته د دوی نبي: بېشکه الله تاسې ته طالوت د پاچا په حیث مقرر کړی دی، دوی (یعني بني اسرائیلو) وویل: څرنګه به ده لره پرموږ باندې پاچاهي وي، حال دا چې موږ له ده څخه په پاچاهي سره ډیر ور یو او نه ده ورکړ شوې (ده ته) پراخي د مال، نبي وویل: په تحقیق سره چې الله دی (طالوت) په تاسې باندې غوره کړی دی او زیات کړی یې دی هغه له جهته د پراخي په علم او (په) جسم کې او الله خپل ملک (سلطنت) ورکوي، هر چاته چې (د ورکولو) اراده (یې) وکړي او الله پراخ دی (احسان، فضل رحمت د ده) ښه عالم دی (د هر چا په استعداد او مرتبې) او دوی (بني اسرائیلو) ته د دوی نبي وویل: بېشکه د ده (د طالوت)

د پاچاهۍ علامه دا ده چې تاسې ته به ستاسې د رب له طرفه يو صندوق راشي، چې په هغه کې به د زړه آرامي وي او باقي پاتې شوي له هغو شيانو چې د موسی او هارون اولادې پرېښې وو، بار کړی به وي هغه صندوق پرښتو، نو که چيرې تاسې مؤمنان يئ دا ستاسې لپاره (د طالوت پر پاچاهۍ) ډېرهستره نښه ده.

## اجمالي تفسير

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى...﴾: دا مبارك آيت دويم ځلې د بني اسرائيلو حال ذکر کوي، د دوی يوه بله پېښه بيانوي او ټولېز مقصد يې د مؤمنانو د همت او غيرت راپارول دي، ترڅو په هغه څه کې چې د دوی ژوند او عزت ورپورې تړلی، غفلت او بې پروايي ونه کړي. دا مبارك آيت هغه وخت نازل شو چې د جګړې سنګرونه د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ ډېر ګرم و او د مؤمنانو له کموالي سره، سره د جهاد بيرغ د هر هغه يرغلګر پر وړاندې، چې خلك يې د الله له دين څخه منع کول، جګ شوی و. په داسې حال کې اسلام ځواکمنو او زړورو خلکو ته ضرورت درلود، چې له ډګر څخه په شا نشي او له مرګ نه ونه ويرېږي، نو د هر ډول ويرې او بې زړه توب د منځه وړلو او د نفسونو د پياوړتيا لپاره، لومړی د يادې شوې ډلې کيسه بيان شوه او وروسته له دې چې د الله په لار کې په جهاد او انفاق امر وشو، بيا يې د بلې کيسې يادونه په تفصيل سره وکړه، ترڅو د اسلام د لومړۍ پيړۍ مؤمنانو او وروستيو لپاره د سبق حيثيت ولري.

کيسه او پېښه داسې وه چې د موسی (عليه السلام) له وفات وروسته د بني اسرائيلو يوه ډله مشران د خپل وخت پيغمبر ته لاړل او د دې غوښتونکي شول، ترڅو د جهادي چارو د پرمختيا لپاره ورته مشر وټاکي او په دې کې شك نشته چې پيغمبر د خپل امت حقيقی لارښود او مشر وي، خو دوی د دې لپاره چې له جهاد سره خپل شوق او مينه څرګنده کړي، د يوه امير او قوماندان غوښتونکي شول، ترڅو د جنګ مشري په غاړه واخلي، نو د دوی نبي چې دوی يې ښه پېژندل او د دوی د ډېرو د نفسونو له ضعف او کمزورۍ څخه خبر و، نو له دوی څخه يې د اقرار اخيستلو په توګه پوښتنه وکړه: "آيا داسې خو به نه وي چې که چېرې جهاد پر تاسې فرض شي، نو تاسې به له دې فريضې څخه سرغړونه وکړئ؟" په ځواب کې هغوی د دې پوښتنې په اړه د خپل تعجب څرګندولو په بڼه وويل: "په موږ څه شوي دي چې د الله په لار کې جهاد ونه کړو؟ حال دا چې دښمنانو موږ له خپلو کورونو څخه شړلي يو، زموږ او زموږ د اولادونو ترمنځ يې بيلتون راوستی دی".

وروسته له دې چې د بني اسرائيلو فسق آخري پړاو ته رسيدلی و، په کتاب يې عمل پرېښی و او اخلاقي فسادونو ته يې مخه کړې وه، نو د جالوت پيروانو (عمالقه وو) د بني اسرائيلو له دې کمزورۍ او سستۍ څخه ګټه واخيسته او د فلسطين خاوره يې په خپله ولکه کې راوسته، د هغه اوسيدونکي يې په خوارۍ او سپکاوي سره له ښاره وشړل، د الله پر امر يو تن د (طالوت) په نامه د امير او قوماندان په توګه وټاکل شو او جهاد پر دې خلکو فرض شو. دوی لومړی څه پلمې وکړې چې ولې دا دنده طالوت ته وسپارل شوه، تر دې چې الله تعالی د ده د مشرۍ د تاييد لپاره څه ځانګړې نښنه راوليږله، نو له دې څخه معلوميږي چې دوی د خپل نبي په خبره پوره باور نه درلود، بيا يې د جهاد په اړه د ده له مشرۍ نه سر غړونې کولې، خو لږ شمېر خلکو نافرماني ونه کړه، چې د دې پېښې تفصيل به د لوست په وروستيو آيتونو کې راشي.

﴿مِنْ بَعْدِ مُوسَى﴾ دا جمله په لنډه توګه د هغه وخت بیان کوونکې ده چې د بني اسرائیلو دې ډلې په هغه کې ژوند کاوه، یعنې د زمانې له مخې دا پیښه له موسی (علیه السلام) څخه وروسته رامنځته شوې ده او په راجح قول د دې قوم پیغمبر (شَمویل بن حنة) و او دا چې په آیت کې یې نوم نه دی ذکر شوی، احتمالاً حکمت به دا وي چې دلته اصلي مقصد د دې قوم د حال پیژندنه ده، نه د نبي پیژندنه، لکه څرنګه چې د کیسو په بیانولو کې د قرآن کریم طریقه دا ده چې افرادو، تاریخونو او نورو جزئیاتو ته پام نه را اړوي، بلکې د کیسې هغه ځای ته پاملرنه کوي چې په هغه کې د انسانانو لپاره پند او عبرت نغښتی وي.

«عسی» د دې ترڅنګ چې د هیلې معنا ورکوي د نژدېوالي معنا هم لري؛ نو د﴿هَلْ عَسَيْتُمْ﴾ معنا داسې کیږي: "هل قاربتم ألّا تقاتلوا؟". د آیت په پای کې قرآن مجید د دې قوم د نبي هیله د دوی په شان کې تصدیقوي: ﴿فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ القتال تَوَلَّوْاْ إِلاَّ قَلِيلاً مِنْهُمْ﴾، یعنې په حقیقت کې داسې وشو، لکه څرنګه چې شمویل عليه‌السلام هیله من و، دوی له جنګ څخه شاته شول او پرته له لږ شمېر خلکو چې له هغه سره پاتې شول.

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا...﴾: په دې مبارک آیت کې څو شیانو ته اشاره کیږي: لومړی دا چې د پاچا او مشر ټاکنه د نبي له لوري نه وه، بلکې د الهي وحې په واسطه وه، څکه د دې قوم نبي وایي: الله په تاسې طالوت پاچا ټاکلی دی. دویم دا چې بني اسرائیلو د فضیلت او غوره والي مقیاس یوازې د دنیا مال او شته ګڼل، څکه یې د الله په ټاکنه نیوکه لرله او یو دلیل یې دا و چې:﴿وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ﴾، یعنې: طالوت له ډېرې پانګې او مال څخه برخمن نه دی، نوڅرنګه پر موږ امیر او پاچا ټاکل کیږي؟ دریم دا چې د هغه وخت پیغمبر دا باطله کړنلاره اصلاح کړه او دا یې څرګنده کړه چې د الله تعالی فضیلت، غوره والی او پاچاهي هغه چاته ورکول کیږي چې هغه یې وړ او لایق وګڼي او ورسره یې علمي قوت چې پر دښمن د برلاسی تر ټولو مهمه وسیله ده او جسمي قوت چې د جهاد د چارو د پرمختګ لپاره اړین دی، لازم وګڼل.

﴿وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ....﴾: مبارک آیت دا را په ګوته کوي چې د دې قوم نبي یوازې په یادو شوو دلایلو بسنه ونکړه، بلکې د الله په غوښتنه یې هغه مهمې نښې نښانې چې د طالوت د پاچاهی په رښتینولی او حقیقت یې دلالت کاوه او هر ډول شک او شبهه یې لرې کوله، هم راوړې، له دغو نښو څخه یوه دا وه چې بني اسرائیلو د وختونو په اوږدو کې هغه صندوق چې په هغه کې پر حضرت موسی (علیه السلام) د تورات نازلې شوې لوحې او له ده څخه وروسته نور موروثه شیان وو، له ځانونو سره ساتلی و او هغه به یې د جنګ ډګرونو ته د تبرک او د جنګیالیو د روحیې او جذبې د لوړولو لپاره له ځان سره وړل، خو کله چې دښمنان پر دوی برلاسي شول نو دا صندوق له دوی څخه واخیستل شو، یا دا چې الله د دوی له منځه پورته کړی و، پیغمبر دوی ته وویل: هغه مبارک صندوق بېرته تاسې ته درکول کیږي، د الله پرښتې یې تاسې ته راوړي، نو که تاسې مؤمن اوسئ دا لویه نښه ستاسې لپاره کافي ده.

دا چې په هغه صندوق کې څه وو د آیت په نص کې څه نه دي ذکر شوي، په هر حال مشهوره دا ده چې په هغه کې یادې شوې تختې، د موسی (علیه السلام) امسا، د هغه جامې او څه د تورات نسخې موجودې وې او له (آل موسی)

او (آل هارون) څخه همدوی حضرات مراد دي او د (آل) لفظ د دوی د تعظیم او درناوي لپاره راغلی. خو ځینې مفسرین وايي: ممکن موسی، هارون او له دوی نه وروسته انبیاوو (علیهم السلام) ته اشاره وي.

**فعالیت**

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته او د قرآن کریم د لارښوونو پر بنسټ، د علم او پوهې د غوره والي په اړه او دا چې علم د امتونو د پرمختیا او بریالیتوب لامل دی، له یو بل سره بحث او مناقشه وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست مبارك آیتونه یو شمېر پندونه او نصیحتونه لري، چې ځینو ته یې داسې اشاره کیږي:

- ☆ د جهاد د لارښوونې اومشرۍ لپاره د امام شتون ته اړتیا.
- ☆ د امارت او مشرۍ لپاره وړتیا شرط ده، چې تر ټولو مهمه ځانګړتیا یې علم، د عقل او بدن سلامتیا ده.
- ☆ د ډېرو بني اسرائیلو د ناوړو کړنو بیان، چې له هغې ډلې څخه د جهاد له ډګر څخه تیښته، د ژمنې ماتول او د پیغمبرانو په خبرو کې شکونه پیدا کول دي.
- ☆ د دې بیانول چې د جهاد پرېښودل او فسق او فساد ته مخه کول، خواري او ذلت رامنځته کوي.

**پوښتنې**

۱) لاندې کلمې معنا کړئ:

{الْمَلأ}، {اِصْطَفَاهُ}، {بَسْطَةً}، {التَّابُوتُ}، {سَكِينَةٌ}، {وَبَقِيَّةٌ}.

۲) په قرآن کریم کې د بني اسرائیلو کیسې له بیانولو څخه ټولیز مقصد څه دی؟

۳) هغه پېښه چې د دې لوست په آیتونه کې ورته اشاره شوې، په لنډه توګه بیان کړئ.

٤) د دې قوم د پیغمبر نوم څه و او په آیت کې یې د نه یادولو حکمت څه دی؟

٥) د (عسی) معنا څه ده؟

٦) د تابوت(صندوق) کیسه څرنګه وه او په هغه کې څه و؟

۷) له آل موسی او آل هارون څخه څوك مراد دي؟

**کورنۍ دنده**

د دې لوست او د مخکنیو لوستونو له آیتونو څخه په ګټه اخیستلو سره، د بني اسرائیلو صفتونه په یوه پاڼه کې ولیکئ.

# د (البقرة) سورت (۲۴۹ - ۲۵۲) آیتونه

﴿فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ
فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا
لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً
بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿۲۴۹﴾ وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ
أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿۲۵۰﴾ فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ
وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ
عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۲۵۱﴾ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۲۵۲﴾﴾

## د ځینوکلمو معنا

{فَصَلَ} بېل شو، راووت.

{الْجُنُودِ} عساکر، لښکرې.

{مُبْتَلِيكُمْ} ستاسې ازموېونکی دی.

{غُرْفَةً} یوه لپه اوبه.

{فِئَةٍ قَلِيلَةٍ} وړه ډله.

{بَرَزُوا} د جهاد په ډګر کې څرګند شول.

{أَفْرِغْ} رانازل کړه.

{هَزَمُوهُمْ} هغوی ته یې ماتې ورکړه.

{آتَاهُ اللَّهُ} الله هغه ته ورکړ.

## ژباړه

بیا چې کله طالوت له لښکرو سره راووت، نو ویې ویل: بېشکه الله په یوې ویالې (سیند) سره ستاسې ازمېښت کوي، څوک چې له هغې څخه اوبه وڅښي، هغه زما ملګری نه دی، مګر هغه څوک، چې یوه لپه اوبه په خپل لاس سره اخلي، نو ټولو له هغې (ویالې اوبه) وڅښلې، مګر لږو له دوی څخه (له یوې لپې څخه زیات ونه څښلې)، نو کله چې (طالوت) او هغه کسان چې ایمان لرونکي وو، له هغې ویالې څخه تېر شول (متخلفینو) وویل: نن ورځ له جالوت او د ده له لښکرو سره زموږ د جنګ کولو طاقت نشته. خو د چا چې په دې باور و، چې یوه ورځ له الله سره یوځای کېدونکي

دي، هغوی ووېل: ډېرځله داسې شوي دي چې يو وړوکی ټولګی د الله په امر پر يوې لويې ډلې برلاسی شوی دی او الله د صبر کوونکو ملګری دی. کله چې هغوی د جالوت او د هغه د لښکرو مقابلې ته ووتل، نو دعا يې وکړه: ای زموږ ربه! موږ ته صبر راکړه، زموږ قدمونه ټينګ کړه او موږ پر دې کافرې ډلې برلاسې کړه، نو مؤمنانو دوی (کافران) د الله په (حکم) سره مات کړل، داود، جالوت مړ کړ او الله هغه ته سلطنت او حکمت ورپه برخه کړ او هر هغه څه يې ورزده کړل چې د الله خوښه وه، که دغه شان الله د يوې ډلې مخنيوی په بلې ډلې سره نه کولای، نو خامخا به ځمکه (په ظلم سره) خرابه شوې وه، خو الله تعالی پر خلکو باندې د فضل (احسان) خښتن دی، (نو ځينې په ځينو نورو سره له فساد څخه منع کوي) دا د الله آيتونه دي، چې موږ يې په حقه پر تا لولو او بيشکه ته (ای محمده) له رسولانو څخه يې.

**اجمالي تفسير**

﴿فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ...﴾: دا مبارک آيت د دې کيسې ورپسې پړاوونه بيانوي چې د طالوت له ټاکل کيدو نه وروسته په ده او لښکرو يې څه تېر شول، فرمايي: کله چې دوی له سيمې نه د جهاد په هوډ ووتل او په دوی کې هغه ضعيف الايمانه ډله هم وه، د الله اراده داسې شوې وه چې طالوت او ملګري يې په يو سيند، چې ځينو مفسرينو او تاريخ ليکونکو په احتمالي توګه د ننني اردن سيند ګڼلی دی، وازمايل، نو ځکه يې طالوت ته د دې ازموينې خبر ورکړ او هغه خپل قوم ته هم دا خبره ورسوله چې تاسو به ډېر ژر په يو سيند سره وازمايل شئ، يعني کله چې د سختې تندې په وخت کې هغه سيند ته ورسيږئ، نو بايد اوبه ونه څښئ او پام کوئ هر څوک چې له هغو څخه ونه څښي هغه زما څخه دی. هماغه وه چې آزموينه تر سره شوه، خو له بده مرغه د قوم زياترو خلکو له مخکنی خبرتيا سره، سره له دغو اوبو څخه وڅښلې، نو دغه ناکامه ډله د خپلو دښمنانو په وړاندې چې جالوتيان وو او شمېر يې زرګونو تنو ته رسيده، ودريدل، چغې يې کړې چې موږ سره د دې قوي دښمن د مقابلې وس نشته او له ډګره وتښتيدل، خو ډېره وړه ډله چې له الهي آزموينې څخه بريالی راوتلې وه او ځينو مفسرينو يې شمېر د بدر د مجاهدينو په کچه يعني (۳۱۳) تنه ښودلی، هغوی يو د بل روحيه پياوړې کړه او غږ يې وکړ چې ډېر ځله الله پاک وړوکې ډلې په لويو جماعتونو برلاسې کړې دي، نو موږ د خپل شمېر له کموالي او د يارانو له تېښتې څخه نه ويريږو، بيا له الله پاک نه د قدمونو د ټينګښت او استقامت غوښتونکي شول. قادر او پياوړي الله (جل جلا له) د دوی دعا ومنله، نصرت او بری يې ورپه برخه کړ او د لښکر مشر يې چې جالوت نوميده، د يوه مخلص بنده په مټ چې په دې وړوکې ډله کې و، يعني داود (عليه السلام)، چې وروسته د پېغمبرۍ مقام ورپه برخه شو، هلاک کړ.

**طعم**: د يوه شي څکلو ته وايي، که دا شی د خوړلو وي يا د څښلو، خو د کلام له قرينې څخه معلوميږي چې مقصود ورڅخه څښل دي.

**غُرفة**: د غين په پيښ سره، د هغه څه لپاره نوم دی چې په لپه پورته کيږي او د غين په زور يعني فتحې سره د لاس په ورغوي د يو شي يوځل نيولو ته ويل کيږي.

﴿وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ . . ﴾: (بروز) څرګندېدو او ښکاره کېدو ته ويل کېږي، مراد دا دی چې کله دواړه لښکرې پراخې ځمکې ته ورسيدې، په داسې توګه چې يو بل ته څرګندېدل او ښکاره کېدل، چې له همدې اصل او معنا څخه د (مبارزه) کلمه اخيستل شوې ده.

دا مبارک آيت دا را په ګوته کوي چې د حق او باطل په مبارزه کې بايد يوازې په زور، انساني قوت او پياوړتيا بسنه ونشي او مسلمان بايد هيڅکله په مادياتو مغرور نشي، بلکې تر ټولو مهم شی چې مسلمان بايد هغه ته پاملرنه ولري، هغه د الله نصرت او مرسته ده چې د الله د رضا، د دعا او زاريو په وسيله لاس ته راځي، البته ماديات او نور امکانات بايد له پامه ونه غورځول شي او دا د الله امر دی چې فرمايي: (د دښمن د مقابلې لپاره له دښمن سره چې هر څه کولای شئ، چمتو والی ونيسئ)، خو مسلمان ته نه ښايي چې په مادياتو مغرور او دوکه شي، نو ځکه کله چې دا مؤمنه ډله هم له دښمن سره مخامخ شوه، نو له الله څخه يې د صبر او د قدمونو د ټينګښت غوښتنه وکړه.

**أَفْرِغْ**: (إفراغ) لکه څرنګه چې امام رازي (رحمه الله) ويلي دي، د يو شي تويولو ته ويل کيږي او په دعاکې د دې کلمې استعمال په صبر او زغم کې د دوی د ډېرې مبالغې څرګندوونکی دی، ځکه په عربي کې د هغه شي بشپړې تويېدنې ته، چې په يوه لوښي کې وي (إِفْرَاغُ الإناء) ويل کيږي، نو معنا يې داسې کيږي چې ای الله! په بشپړه او کامله توګه له خپلو خزانو څخه صبر او ثابت قدمي پر موږ را توی کړه. په دې مبارکه جمله کې﴿وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا﴾ له (کل) څخه په (جزء) تعبير شوی دی، څرنګه چې قدم د بدن د ثبات يا ټينګښت وسيله ده، که چيرې ثابت پاتې شي، ټول بدن ثابت پاتې کيږي او که ټينګښته وکړي، نو بدن له ځانه سره کشوي، نو ځکه يې په دعاکې ځانګړې يادونه شوې ده.

﴿فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ...﴾: د هغې دعا او اخلاص په پايله کې، الهي نصرت او فتحه نازله شوه او د دښمنانو ماتې د الله په اجازه او حکم حتمي شوه.(فا) په﴿فَهَزَمُوهُمْ﴾کې سببيه ده او (هزم) د ماتې په معنا راځي، يعني بالاخره د دوی مخلصانه دعا او پياوړی ايمان، د الله په ارادې سره د دښمن د لښکر د ماتې لامل شو، داود بن ايشا د دښمن مشر جالوت وواژه او د ده په وژنه يې لښکر له ماتې سره مخامخ شو.

مبارک آيت د هغو نعمتونو په ځنګ کې چې الله تعالی داود (عليه السلام) ته ور پيرزو کړي وو، اشاره کوي چې يو له هغو څخه د پاچاهۍ نعمت او له هغه څخه ډېره غوره د رسالت نعمت دی چې په آيت کې ترې په (حکمت) سره تعبير شوی. د علم نعمت مختلفو فنونو ته شامليږي او په پای کې الهي سنتو ته اشاره کوي چې د ځينو خلکو سرکشي چې کله له حده تېره شي، نو د ځينو نورو په واسطه له منځه ځي او شر يې له بنده ګانو څخه دفعه کيږي.

که چيرې د الله تعالی له لوري داسې طريقه نه وای، نو په يقيني توګه ځمکه به فتنو او فسادونو نيولې وای.

﴿تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾: د «تلك» کلمه دې کيسې او مخکينی کيسې ته اشاره ده، فرمايي: په صحيحه او عبرتناکه توګه د دې کيسو بيانول د الله له آيتونو څخه دي چې په تا يې ای محمده ﷺ!

په داسې توګه لولو چې هيڅ ډول باطل ورته لار نه مومي او دا چې ته له دې تېرو شويو کيسو څخه خبر نه وې، ځکه چې ته په لوستلو او ليکلو نه پوهېږې، ترڅو په پخوانيو کتابونو کې دې لوستي وای او سربېره پر دې په تېرو شوو کتابونو کې داکيسې په غلطه توګه راغلې دي، نو په تا د دې آيتونو لوستل او نورو ته د دې غيبي خبرونو ورکول ستا د واقعي رسالت نښه ده: ﴿وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾: او په يقيني توګه ته د پيغمبرانو له ډلې څخه يې.

**فعاليت**

زده کوونکي دې د دين په چارو کې د ثبات او استقامت د ارزښت په اړه له يو بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د لوست ګټې

د دې لوست آيتونه ډېر پندونه او نصيحتونه لري، چې ځينو ته يې داسې اشاره کيږي:

- ☆ د لښکر د مجاهدينو د ازميښت روا والی، ترڅو معلومه شي چې دوی په کومه کچه چمتووالی، صبر او زغم لري.
- ☆ له الله سره په لقا او مخ کېدلو د ايمان درلودلو بيان، او د جهاد په ډګر کې د صبر او زغم غوره والی.
- ☆ د جهاد د رواوالي د حکمت بيان، چې د کفر او ظلم دفع کول او پرځای يې د ايمان او عدالت ځای پر ځای کول دي، ترڅو د الله ځمکه په مادي او معنوي بڼه آباده شي.
- ☆ د الله دربار ته د دعا او زاريو ارزښت، په فتحې او برلاسی کې د هغې ارزښت او ونډه لرل.
- ☆ په ځمکه کې د الله د تکويني سنتو او کړنلارو بيانول، چې د ځينو په وسيله د ځينو نورو لرې کول دي.
- ☆ د حضرت محمدﷺ د رسالت ثابتوالی.

**پوښتنې**

۱) لاندې کلمې معنا کړئ:

{فَصَلَ}، {الْجُنُودِ}، {مُبْتَلِيكُمْ}، {فِئَةٍ قَلِيلَةٍ}، {بَرَزُوا}، {فَهَزَمُوهُمْ}.

۲) الله تعالی د طالوت لښکر څرنګه تر ازموينې لاندې راوست؟

۳) د «غرفة» کلمه مفسرينو څرنګه تفسير کړې ده؟

٤) د «بروز» معنا څه ده او د هغه مطابق مبارك آيت څرنګه تفسيريږي؟

٥) په برياکې د مسلمان تکيه او باور په مادياتو ډېر وي که په معنوياتو؟

٦) د بيان له مخې، د افرغ کلمه په ﴿أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا﴾ جمله کې څه افاده کوي؟

۷) د هغو نعمتونو له ډلې څخه چې الله تعالی په داود (عليه السلام) پيرزو کړي وو، د څو نعمتونو نومونه واخلئ.